دادیم ترا زگنج مقصود نشان // گر ما نہ رسیدیم تو شاید برسی

# هدية الطلباء والطالبات

مؤلف


## ابو حماد عبد السبحان ظہیر

فاضل جامعۃ دار العلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوڑ ایجنسی

خادم الدرس والافتاء فی جامعۃ ہذہ

المتخصص: جامعۃ یٰسین القرآن نیو کراچی پاکستان

فاضل وفاق المدارس العربیہ پاکستان






ناشر

جامعۃ دار العلوم تعلیم القرآن

توحید آباد ترخو باجوڑ ایجنسی



جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی
تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ میں
علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور
محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ
WhatsApp Group
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر انتظام
ابو معاذ خٹک
منتظم اعلیٰ: ابو معاذ خٹک
معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابو عتبان فداء الرحمان عابد
رابطہ نمبر:
03149958550

# هدیة الطلباء والطالبات

په خپله موضوع باندے په پښتوژبه کښې منفرد او ښائسته تحریر او یوه ښکلے غُنچه چه پکښې اهمیتِ اخلاص، فضیلتِ علم، اهمیتِ علم، شرائطِ علم، موانعِ علم، دعلمی انحطاط اسباب د استعداد پیدا کولو طریقے، دمطالعه اهمیت او طریقه، دتصنیف وتالیف په میدان کښې کارآمد خبرے، دتقریرو تحریر اهمیت او طریقه، فرض عین وفرض کفایه علوم، عصری علوم، داستاذانو آداب، دکتابونو آداب، ددرسگاه او جمات آداب، په حصول علم کښې داکابرو مشقتونه، دسبق پابندی، دتکرار او دامتحان متعلق ښکلی هدایات، دصحت حفاظت او مفیدے جسمانی او روحانی نسخے، دمدرسے متعلق کارآمد خبرے، دتدریس اهمیت او طریقے، تکبر، عُجب، تواضع، تقوی او شرعی لباس متعلق روح پرور هدایات او ددے پشان نورقیمتی نصیحتونه ولوله انگیزمثالونه او عبرتونه داسلافِ امت دمبارک ژوندایمان افزا واقعات او دنوی نسل دپاره ددوی هدایات، وجدافرین نادرحکمتونه الغرض کتاب څه دے؟ دنصیحتونو یو دفتر او دحکایاتو، واقعاتو، حقائقِ علم یو مؤثر ذریعه ده چه په سونو کتابونو کښې تار پُتار او خورے ورے قیمتی ملغلرے او علمی گوهرو جواهر دتجرباتو مشاهداتو په رنړا کښې دهر مکتب دپاره عموماً او داهل علم، اساتذه او شوقِ علم نه لبریز طلباؤ او طالباتو دپاره دیو عظیم رهنمایه توگه ډیرپه محبت لیکلے شوے یوه ښکلے گلدسته او عظیم علمی تحفه


مؤلف

## ابوحماد عبدالسبحان ظهیر

فاضل جامعه دارالعلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی، خادم الدرس والافتاء فی جامعه هٰذه

المتخصص: جامعه یٰسین القرآن نیو کراچی پاکستان



ناشر

جامعه دارالعلوم تعلیم القرآن توحید آباد ترخو باجوړ ایجنسی

tول حقوق په حق دمؤلف محفوظ دی

# دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم : هدية الطلباء والطالبات

دمؤلف نوم : ابو حمّاد عبدالسبحان "ظهير"
خادم الدرس والافتاء فی جامعة هذه
0301-4054855

طبع سوم : شوال المكرم ۱۴۴۰ھ بمطابق جولائی 2019ء

کمپوزنگ : ازمؤلف

تعداد : ۱۱۰۰ (يولس سو)

پرنټنګ : الفلاح پرنټرز محله جنگی پیښور

ناشر : مکتبة جامعة تعلیم القرآن ترخو باجوړ

## دمیلاویدو پتے

- ☆ مكتبة القرآن اسلامی کیسټ هاؤس خار باجوړ
- ☆ مرکزی کتب خانه لغړئ بازار باجوړ
- ☆ مكتبة الخير عنايت كلے باجوړ
- ☆ مكتبة اليمان خار باجوړ ایجنسی
- ☆ مکتبه انوار العلوم خار باجوړ ایجنسی
- ☆ مکتبه أم القرآن خار باجوړ ایجنسی
- ☆ مکتبه اسلامی پهاټک باجوړ ایجنسی
- ☆ مکتبه عمر فاروق عنایت کلے باجوړ
- ☆ العلم کتب خانه عنایت کلے باجوړ
- ☆ ايوب کتب خانه پشاور
- ☆ زاهد کتب خانه پشاور
- ☆ اسلامی کتب خانه صوابی
- ☆ دینی کتب خانه تیمرګره
- ☆ مکتبه محمدیه تیمرګره
- ☆ مکتبه حمادیه خال

كِتابٌ فِيْهِ آدابٌ جَمِيْلَةٌ :تَسُرُّ بِهَا الْبَصَائِرُ وَالْعُقُوْلُ
مُفِيْدَاتٌ لِإِرْشادِالطِّلاَب :يَفُوْزُبِهَا الْجَهَابِذَةُ الْفُحُوْلُ

(علامه فضل حق مدظله)

حاصل کړه داجواهر ددے کتاب دظهير
پوره بـه داکتاب کړی ستامطالِب حبيبى

☆

ولـــيّ کـــولے نشی پوره تعريف دکتاب
اشرف کتاب مؤلف، دے ډيرشريف دکتاب

(مولاناولي محمدصاحب)

# فهرست مضامین



| صفحه | عنـــوان | |
|---|---|---|
| ۱۵ | تـقریظ شیخ القرآن والحدیث مولاناعبد الجبارسلّمه | ☆ |
| ۱۷ | تـقریظ العلامة الفهامة مولانافضل حق صاحب | ☆ |
| ۱۹ | تـقریظ حضرت مولاناعبیداللهصاحب | ☆ |
| ۲۲ | اظهارعقیدت شاعرانقلاب مولانا ولی محمدصاحب | ☆ |
| ۲۴ | عرض اوغرض | ☆ |
| ۳۲ | فرض عین اوفرض کفایه علم | ☆ |
| ۳۴ | عصری علوم | ☆ |
| ۳۷ | تصحیح نیت | ☆ |
| ۳۹ | اخلاص او حقیقتِ اِخلاص | ☆ |
| ۴۲ | آیات قرانیه دراخلاص نیت | ☆ |
| ۴۴ | آحادیث نبویه دراخلاص نیت | ☆ |
| ۴۵ | اخلاص اواهل اخلاص دصحابهؓ کرامو، تابعینؒ، تبع تابعینؒ اوعلماءِ کرامو په نظرکښ | ☆ |
| ۴۶ | دعدم اِخلاص علامات | ☆ |
| ۴۷ | داخلاص پیداکیدوطریقه | ☆ |
| ۴۷. | دِ اخلاص برکت | ☆ |

| | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | دمستشرقینو خدمات | ۴۸ |
| ☆ | ددوست مشغولتیا هم عبادت دے بشرط اخلاص | ۵۰ |
| ☆ | لطیفه | ۵۰ |
| ☆ | شرائطِ تحصیل عِلم | ۵۱ |
| ☆ | عِلم دشپږ څیزونو نه بغیر نشے حاصلولے | ۵۲ |
| ☆ | دومره علم دے څنګه حاصل کړو؟ | ۵۲ |
| ☆ | کوم طالب به عالِم جوړیږی؟ | ۵۳ |
| ☆ | په تحصیل علم کښې اُوچت همت | ۵۴ |
| ☆ | په کم عمرئ کښې تحصیل علم | ۵۵ |
| ☆ | په پوخ عمر کښې علم حاصلول په جهالت باندے برقرار پاتی کیدلو نه بهتردی | ۵۹ |
| ☆ | فضیلت علم دقرآن په رنړا کښې | ۶۳ |
| ☆ | فائده | ۶۴ |
| ☆ | فضیلت علم د احادیثو په رنړا کښې | ۶۶ |
| ☆ | فضیلت علم دصحابهؓ، تابعینؒ او تبع تابعینؒ په نظر کښې | ۷۱ |
| ☆ | دعلی رضی الله تعالی عنه اقوال په شان دعلم کښې | ۷۶ |
| ☆ | د ادب اهمیت | ۷۷ |
| ☆ | ادب دصحابه کرامؓ په نظر کښې | ۷۸ |

| | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | اداب دعلماؤپه نظرکښ | ۷۸ |
| ☆ | ادب دشعراء په نظرکښ | ۷۸ |
| ☆ | د اُستاذانو ادب | ۸۰ |
| ☆ | احادیث کریمه در آداب اُستاذ | ۸۱ |
| ☆ | اقوال صحابه ؓ،تابعین اوتبع تابعین درحقوق اُستاذ | ۸۳ |
| ☆ | زړه رابیدارونکی متفرق آداب اُستاذ | ۸۵ |
| ☆ | دمشهور اُستاذ ادب اکثر بوجه شهرت کیږی | ۹۱ |
| ☆ | اُستاذته دځه ورکولو،اخستلواوورسره په لاره د تللو آداب | ۹۱ |
| ☆ | اُستاذانوته دعاء | ۹۳ |
| ☆ | دأستاذانو دمتعلقینو تعظیم اوادب | ۹۴ |
| ☆ | دأستاذانو خدمت | ۹۴ |
| ☆ | دخدمت فضیلت | ۹۶ |
| ☆ | د اکابرينو علماؤ دخپلو اُستاذانو خدمت | ۹۷ |
| ☆ | دفراغت نه بعدهم دأستاذانوپه خدمت کښ حاضریدل | ۹۹ |
| ☆ | دفراغت نه بعد د اُستاذحق اوپه دے کښ کوتاهی | ۱۰۲ |
| ☆ | پنځم مه جوړیږه! | ۱۰۳ |
| ☆ | دطلباؤ عام مرض | ۱۰۳ |
| ☆ | د اُستاذ مقام اومرتبه باره کښ اشعار | ۱۰۴ |

| | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | د مدرسه بدلولو بے برکتی | ۱۰۴ |
| ☆ | د کتابونو ادب و احترام | ۱۰۵ |
| ☆ | د الاتِ علم باره کښې داکابرو، واقعات | ۱۰۸ |
| ☆ | څنګه ملګرے به اختیاره وے؟ | ۱۱۲ |
| ☆ | دملګرو حقوق | ۱۱۴ |
| ☆ | کتاب واپس کولو کښې داهل علمُ عام مرض | ۱۱۸ |
| ☆ | د درسګاه فضیلت اوآداب | ۱۱۹ |
| ☆ | د جُمات آداب | ۱۲۲ |
| ☆ | دعلم مطابق عمل کولَ لویه عقلمندی ده | ۱۲۳ |
| ☆ | اهمیت عمل دقرآن او حدیث په رنړا کښې | ۱۲۴ |
| ☆ | د عمل اهمیت باره کښې صحابهؓ، تابعینؒ او تبع تابعینؒ څه وائی؟ | ۱۲۷ |
| ☆ | د حصول علم دپاره دسفرمشقتونه برداشت کول | ۱۳۲ |
| ☆ | د اکابرین علم دحصول علم دپاره مشقتونه | ۱۳۴ |
| ☆ | دیو حدیث دپاره دمدینے نه دِمشق ته تلل | ۱۳۴ |
| ☆ | د ابن عباسؓ یو انصاریؓ ته ورتلل اونُور متفرق واقعات | ۱۳۵ |
| ☆ | د تحصیل علم په زمانه کښې د تکالیفو په راتللو کښې ثابت قدمی | ۱۴۲ |

| | عنــوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | د وخت قدر وقیمت | ۱۴۶ |
| ☆ | وخت د اکابرینو په نظر کښې | ۱۵۲ |
| ☆ | د اوقاتو محفوظ کولو دپاره نِظامُ الاوقات جُوړول | ۱۵۵ |
| ☆ | هرعمل په خپل مناسب وقت کول | ۱۵۶ |
| ☆ | د ابن جوزیؒ نصیحت | ۱۵۸ |
| ☆ | د چټیانو دپاره لائحه عمل | ۱۵۹ |
| ☆ | د سبق پابندئ او دغیر حاضرئ نحُوست | ۱۶۱ |
| ☆ | د اسلافو د سبق پابندی | ۱۶۲ |
| ☆ | د مطالعه کولو اهمیت، فوائد او طریقه | ۱۶۶ |
| ☆ | د تجرباتو په نچوړ کښې دمطالعه کولو طریقه | ۱۶۹ |
| ☆ | خارجي مطالعه مه هیروئ | ۱۷۳ |
| ☆ | په خارجي مطالعه کښې د شیطان تلبیس | ۱۷۵ |
| ☆ | د کتاب د مطالعے نه بعد! | ۱۷۶ |
| ☆ | دکومو کتابونو مطالعه پکار ده | ۱۷۶ |
| ☆ | لږ خود خپلو اکابرینو دمطالعے ذوق شوق او گوره | ۱۷۸ |
| ☆ | دعبارت وئیلو متعلق هِدایات | ۱۸۲ |
| ☆ | د مطالعے متعلق زړه راښکونکی اشعار | ۱۸۳ |
| ☆ | مطالعه کتب باندے یو اُوږد عربي نظم | ۱۸۵ |

| | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | د مولانا اسعدالله صاحب د مطالعه متعلق اردو نظم | ۱۸۶ |
| ☆ | د تکرار تاکید، اهمیت او فوائد | ۱۸۷ |
| ☆ | د رهبرانِ شریعت تکراراو دِ باره کښې دهغوی تاکید | ۱۸۸ |
| ☆ | د پورا هفتے د تکرار طریقه | ۱۹۱ |
| ☆ | د علمی استعداد پیدا کولو طریقه | ۱۹۲ |
| ☆ | په تکرار کښې به څنګه کینے؟ | ۱۹۳ |
| ☆ | تکرار به څنګه کوے؟ | ۱۹۳ |
| ☆ | علم د سوال او جواب نوم دے | ۱۹۵ |
| ☆ | د سوال افادیت باره کښې د علماءِ کرامو ترغیب او حالات | ۱۹۷ |
| ☆ | په ښه انداز سره سوال کول | ۲۰۱ |
| ☆ | د تحریر یادولو اهتمام | ۲۰۲ |
| ☆ | د تحریر اهمیت د قرآن او حدیث په رنړا کښې | ۲۰۳ |
| ☆ | خط و کتابت د الله تعالیٰ لوئ نعمت دے | ۲۰۵ |
| ☆ | په دنیا کښې اول کاتب | ۲۰۶ |
| ☆ | د عربئ ژبے اول کاتب | ۲۰۷ |
| ☆ | ښائسته او خوشخط خط سعادت دے | ۲۰۷ |
| ☆ | د زنانو د پاره د تحریر یادولو شرعی حیثیت | ۲۰۹ |
| ☆ | د علماء سلف و خلف د خپل مسفرځانو د لیکلو اهتمام | ۲۱۰ |

| صفحه | عنوان | |
|---|---|---|
| ۲۱۲ | دخپلو مکتوباتو دیادولو اهتمام | ☆ |
| ۲۱۳ | دتقریر ملکه حاصلول | ☆ |
| ۲۱۴ | طلباؤ ته دتقریریادولو اسانه طریقه | ☆ |
| ۲۱۵ | طالبئ دورکښې د تصنیف او تالیف په میدان کښې محنت کول | ☆ |
| ۲۱۷ | مزید د تصنیف او تالیف اهمیت | ☆ |
| ۲۱۹ | په تصنیفی، تالیفی (وغیره) میدان کښې خپل یو مُشاور نیول | ☆ |
| ۲۲۰ | دتصنیف اوتالیف په میدان کښې یو څو کارامدخبرے | ☆ |
| ۲۲۱ | دعلماءِ سلف په طالبئ کښې دتصنیف وتالیف اهتمام | ☆ |
| ۲۲۲ | دعلماء سلف گرانقدر تصنیفی، تالیفی او متفرق عِلمی خدمات | ☆ |
| ۲۳۳ | دکتابونو راجمع کولو طریقه او دے باره کښې د اکابرینو شوق | ☆ |
| ۲۳۶ | په علم کښې تدریجی ترقی، توپ نه وهل | ☆ |
| ۲۳۷ | آخری درجے ته توپ وهلو سره سند حاصلونکو طلباؤ مثال | ☆ |
| ۲۳۸ | ته به امتحان څنګه ورکوے؟ | ☆ |
| ۲۳۹ | امتحان هال کښې داخله | ☆ |

| | عنـــوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | د نشست گاه انتخاب | ۲۴۰ |
| ☆ | د ناستے انداز | ۲۴۰ |
| ☆ | د نقل دمُمکِنه صورتونو نه اجتناب | ۲۴۱ |
| ☆ | دګټے استعمال | ۲۴۱ |
| ☆ | د سواليه پرچه وصولولو طريقه | ۲۴۲ |
| ☆ | د پرچه ليکلو طريقه | ۲۴۲ |
| ☆ | د قلم نيولو طريقه | ۲۴۴ |
| ☆ | کوم يو قلم استعمالول مناسب دی | ۲۴۵ |
| ☆ | صاف او خوشخط ليکل | ۲۴۵ |
| ☆ | د سياهی استعمال | ۲۴۶ |
| ☆ | علاماتُ الترقِيم | ۲۴۷ |
| ☆ | نظرثانی | ۲۴۷ |
| ☆ | امتحان نه مخکښ او روستو او د امتحان په وخت څه کول پکار دی | ۲۴۸ |
| ☆ | په امتحان وغيره د کاميابئ دپاره مُجرب عمل | ۲۵۰ |
| ☆ | دصحت دحفاظت نه مه غافله کيږه! | ۲۵۰ |
| ☆ | دحفاظت صحت تدبيراختيارول دمستحب نه مقدم دے | ۲۵۲ |
| ☆ | د صحت فارموله | ۲۵۲ |

| | عنــوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | د جسماني صحت دپاره صفائي نهايت ضروري ده | ۲۵۳ |
| ☆ | د صحت دپاره ورزش | ۲۵۴ |
| ☆ | د صحت دارُومدار په دوه څیزونو باندے دے | ۲۵۲ |
| ☆ | د حافظه تیزولو اسباب او مفید ے نسخے | ۲۵۷ |
| ☆ | د حافظے، قوت باه او بدني طاقت دپاره مُجرّبه نسخه | ۲۶۱ |
| ☆ | يو كامياب ترين نسخه | ۲۶۲ |
| ☆ | دكثرت جماع او بوقت تقاضا دمتيازو حِصارولو نقصانات | ۲۶۲ |
| ☆ | د نسيان او دحافظے دکمزوريدو اسباب | ۲۶۳ |
| ☆ | د اڅیزونه باعث غم دی | ۲۶۵ |
| ☆ | تيزه ياكمه رنړا او دلائين استعمال دسترګو دپاره مضر دے | ۲۶۵ |
| ☆ | د محنت په دوران كښ نفس لره لګ راحت وركول | ۲۶۶ |
| ☆ | په يو فن كښ مهارت حاصلول | ۲۶۷ |
| ☆ | تكبر دفهم قرآن نه مانع دے | ۲۶۸ |
| ☆ | د تكبر درجات | ۲۶۹ |
| ☆ | په كبر او عجب كښ فرق | ۲۷۰ |
| ☆ | حقيقي بالغ | ۲۷۰ |
| ☆ | كه خليدل غواړے نو تواضع اختيار كړه | ۲۷۱ |
| ☆ | د تواضع حقيقت | ۲۷۲ |

| | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | دحضورؐ دخشوع اوتواضع حالت | ۲۷۳ |
| ☆ | د حضرت ابوبکرصدیقؓ او حسن بصریؒ تواضع اوخوف الٰهی | ۲۷۴ |
| ☆ | ضروت تقویٰ وعمل او دے کښې دطلباؤ کوتاهی | ۲۷۶ |
| ☆ | دتقویٰ پیدا کولو طریقه | ۲۷۷ |
| ☆ | یو قلم د واپس کولو د پاره ابن مبارکؒ په سوُنو میله سفر اوکړو | ۲۷۷ |
| ☆ | د مدرسے دشیزونو متعلق کارآمدخبرے | ۲۷۸ |
| ☆ | دمدرسے دخوراک څکاک متعلق مفیدے خبرے | ۲۸۱ |
| ☆ | طالب علم د پاره دنیادارو نه کناره کشی اوسادګی اختیارول | ۲۸۲ |
| ☆ | طالب علم لره سادګی پکارده | ۲۸۴ |
| ☆ | دتصنّع، تکلُّف نه احتراز | ۲۸۵ |
| ☆ | علم په ښائسته جامونه دے | ۲۸۶ |
| ☆ | د سپینو جامواغوستلو فضیلت | ۲۸۸ |
| ☆ | د پړکو نه پینځے خکته کول حرام دی | ۲۸۹ |
| ☆ | د ښځو دپاره دنرئ جامواغوستلو ممانعت | ۲۹۰ |
| ☆ | بدنظری یو خوفناک مرض | ۲۹۰ |
| ☆ | د بدنظرئ روحانی اوجسمانی ډیرنقصانات دی | ۲۹۱ |
| ☆ | د بدنظرئ علاج | ۲۹۳ |

| | عنـــوان | صفحه |
|---|---|---|
| ☆ | دلایعنی خبرونه احتراز | ۲۹۳ |
| ☆ | دخبرے په وخت دپنځه خیزونو لحاظ! | ۲۹۵ |
| ☆ | د فرائضو ،سنتواو مستحباتو اهتمام | ۲۹۵ |
| ☆ | د سنتو داهتمام برکت | ۲۹۷ |
| ☆ | صلوة التهجد | ۲۹۷ |
| ☆ | اصلاحی تعلق | ۳۰۰ |
| ☆ | تعلیم،تبلیغ اوتدریس دقرآن په نظرکښ | ۳۰۴ |
| ☆ | تعلیم،تبلیغ اوتدریس دآحادیثوپه رنړاکښ | ۳۰۶ |
| ☆ | تعلیم،تبلیغ اوتدریس دصحابهؓ تابعینو دآقوالوپه رنړاکښ | ۳۰۷ |
| ☆ | دسلف واکابرودتدریس طرزوطریقه | ۳۰۹ |
| ☆ | د انشاء عربی /اُردو اهمیت اوطریقه | ۳۱۰ |
| ☆ | د دینی مدارسو دفُضلاؤ یو څو ذمه دارینے | ۳۱۲ |


☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆

☆☆

☆

# تقریظ وتصدیق

## اُستاذالعلماء رأس الاتقیاء نمونۂ اسلاف الاُستاذ الجلیل شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد عبد الجبار صاحب مداللہظلاله و کثر فینا امثاله

## مدیر: جامعة تعلیم القرآن توحید آباد تر خو باجوړ ایجنسی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ مٰلِکِ یَوْمِ الدِّیْنِ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الطَّیِّبِیْنَ الطَّاهِرِیْنَ وَعَلَی الْعُلَمَاءِ الَّذِیْنَ بَذَلُوْا جُهْدَهُمْ لِاشَاعَةِ الدِّیْنِ الْمَتِیْنِ.

اما بعد: بنده حقیر پُرتقصیر د جناب مولوی مفتی عبدالسبحان صاحب سلّمه المنان تالیف شده کتاب "هدیة الطلباء والطالبات" بلکه هدیة العلماء والطلباء والفاضلات والطالبات" مطالعه کړو، ماشاء الله په خپله موضوع کښې ډیر بهترین کتاب دے او مضمون یے ډیر اعلیٰ قابل تحسین او صد آفرین دے او ولے به نه وی چه مُرتّب یے

صاحبُ العِلم والقلم دے۔ په خپله هغوی داسے لیکلی دی "څکه په دے کتاب کښې اهمیتِ اخلاص، فضلیتِ علم، شرائطِ علم، موانعِ علم، دعلمی انحطاط اسباب، د استعداد پیداکولو طریقے، د مطالعه اهمیت او طریقه، دتصنیف وتالیف په میدان کښې کارآمد خبرے دتقریروتحریر اهمیت او داسے نور قیمتی نصائح، بیش بها او عمده معلومات په دے کتاب کښې راجمع شوی دی" دست په دعاء یم چه الله تعالیٰ دِ ددوی په عمر، علم وعمل، تحریروتقریر، تصنیف وتالیف او دعوت وتبلیغ کښې خیر او برکت واچوی او دا تالیف شده کتاب ده دوی دپاره صدقه جاریه او دتول امت مُسلمه د پاره عموماً او دطالب علمانو او طالباتو د پاره خصوصاً د هدایت ذریعه اُو گرځوی۔

امین ثم امین

رحِم اللهُ منْ قال امِیْنا

لیلة الثلثاء ۲۱ شعبان ۱۴۳۱ هـ

الاحقر محمد عبدالجبار الباجوری غفرله ولوالدیه ولمشائخه ولتلامذته

ولاهل بیته حالاً، نزیل بلدة القرآن فنجفیر صوابی

# تقریظ

## الادیب العلامة الجلیل والفهامة النبیل صاحب الحق
## حضرت مولانا فضل حق صاحب (حفظه الله ورعاه)
## مدیر: کوثر القرآن ڈبر باجوڑ ایجنسی

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله الذی جعل علم الشریعة مصباحًا

منجیا من ظلمات الجهل وغیاهب الطغیان

ومفتاحا یفتح به سبیل الفوز والنجاة عن الخسران

والصلوة والسلام علی محمدن المبعوث الی جمیع الجن والانسان، معلّمًا للمعارف الالٰهیة مبلّغا لسبیل الهدایة والایمان وعلی آله واصحابه الذین هم خدام الدین وحملة القرآن.

امابعد: فقدطالعت کتاب " هدیة الطلباء والطالبات" لاخینا الکریم مولناعبدالسبحان فوجدته مفیدالطلبة وهادیا للاخوان جزاه الله خیرا واکرمه بالعفو والغفران.

شعر:

کتابٌ فیه آداب جمیلة: تسُرّبهــا البصائر والعقــــولُ
مفیداتٌ لِإرشاد الطِّلاب: یفوزبهــا الجهابـــذة الفحول

وبقافیة اخریٰ ☆

جـرت مــنها المنابع والبحارُ: مزیلات لـعطـش الشائقین
شفــاءٌ للصّدورمــن السقــام: دواءٌ لـلـکـرام الطالبـین
شرابٌ سائغ یَـروِی القلـوبا: مـفیـداتٌ لسقـی الشاربـین
وانشدهــا فقیرفـضل حـقٍّ: مـحِبٌّ ناصِحٌ للخادمین

☆

رقمها الاحقرالافقرابوالاحسان
رمضان ۱۴۳۱ھ الموافق ۲۴ اگست ۲۰۱۰ء

# تقریظ وتصدیق

## العلامة الجلیل حضرت مولانا عبیدالله صاحب

## صدرمدرس جامعة تعلیم القرآن ترخوباجوړ ایجنسی.

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْکِتَابَ وَلَمْ یَجْعَلْهٗ عِوَجًا قَیِّمًا لِیُنْذِرَبأْسًا شَدِیْدًامِنْ لَدُنْهُ ویُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِیْن،وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ علٰی مَنْ بَعَثَ نَبِیًّا دَاعِیًا وَاِمامًا شَاهِداًوَرَحْمَةً لِلْعَالَمِیْنَ وَعَلٰی اٰلِهِ الطَّاهِرِیْنَ وَاَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ هُمْ یَنَابِیْعُ الْعُلُوْمِ وَخَیْرُ الْخَلائِقِ بَعْدَالنَّبِیِّیْن.

امابعد: احقربنده ده مولنا مفتی محمدعبدالسبحان صاحب کتاب چه نام داردے په "هدیة الطلباء والطالبات" مطالعه کړوماشاء الله بلامبالغه وایم چه مولناصاحب ډیرمحنت کړے دے اوده طلباءِ کراموده طالب علمئ ده دورصحیح راهنمائی یے په دے کتاب کښ کړیده۔

ده ډیروقت نه بلکه ده خپلے طالب علمئ دوران کښ هم څما دا آرزو او تمنیٰ وه چه کاش! ده طلباؤ داوقت نه ضائع کیدلے، اګرچه بفضله تعالیٰ وکرمه زمونږه ده شیو خو درسونه داسے دی چه ده سړی

ده باطن اوظاهر اصلاح پکښې به کیږی خو بیا هم ده "خُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا" (النساء۲۸) په بنیاد باندے ده صفوة الامة چه ده قرآن او حدیثو طالبان او طالبات دی ده داسے تالیفاتو نه ورله فائده اُوچتول لازم دی۔

اکثر طلباءِ کرام په دوران د طلبِ دعلم کښې ده مطالعے هیڅ شوق نه لری بلکه داسے وائی چه داکتاب به راتلونکی کال کښې بیا اُووائم او بیا به یے یاد کړم او اینده کال کښې ده "وَلِلْعِلْمِ آفَاتٌ" په وجه طالب علم وائی یره اوس ده سبقونو دورنه دے نُورمُهم کارونه دی هغه کول غواړی، نو عاجز ده علم نه محرومه پاتی شی حالانکه اسلام کښې چه کوم مُهم کارونه دی مثلاً دعوت وتبلیغ، جهاد فی سبیل الله، قضاوت، درس وتدریس اوتحریروتقریر په غیر ده بنه علم نه ډیرمشکل دی۔

زمونږه طلباءِ کرام چه دِزمانه کښې فارغ شی نو ده عدم کوشش په وجه نفس ده عربی عبارت هم نشی وئیلے، فضل لا ده صحیح تطبیق اومعنٰی نه۔

لهذا! عزیز طلباء کراموته درخواست دے چه ده ټولو اُستاذانو او شیوخو کتابونه اول پیداکوئ ځکه ده بیش بهاملغلرونه ډک وی ډیره فائده به ئے تاسو ته رسی۔

اوخصوصًا دمفتی صاحب کتاب "هدیة الطلباء والطالبات" چه په نوجوانئ کښې یے زمونږه ده زړه تمنٰی پوره کړه، دعلم ده فضائلونه دا کتاب هم یوواضح دلیل دے چه سړی نه بنه قابل سړے جوړه وی۔

داکتاب ضرورساتئ اومطالعه ئے کوئ الله پاک دِدده داسعی، کوشش په خپل دربارعالی کښ قبول کړی په قبولِ حسن سره او دده په عِلم وعمل اوعمرکښ دِ الله پاک برکت واچوی او دغسے دِالله پاک زمونږه ده زنده شیو خوژوندمبارک کړی او الله پاک دِطلباءِ کرام اوطالباتو ته ده قرآن او سنت علم نصیب کړی۔

اَقُوْلُ قَوْلِیْ هٰذا وَاَسْتَغْفِرُ اللهَ لِیْ وَلَکُمْ وَلِسَائِرِ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ آمِیْن یَارَبَّ الْعٰلَمِیْنَ وَصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی خَیْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّ آلِهٖ وصَحْبِهٖ اجْمَعِیْن.

بقلم

احقرعبیدالله الترابی الباجوری

حالاساکن ومدرس مانیرئ بالاصوابی

۳۰ شعبان المعظم ۱۴۳۱ھ الموافق ۱۰ اگست سنه ۲۰۱۰ء

# اظهار عقیدت

برائے کتاب گران ورور مفتی عبدالسبحان ظهیرزادهُ اللهُ سَعَادةً

از

(صاحب الفضل والکمال الغواص فی بحار المدارك والعرفان

الشاعرمولانا) ولی محمد (صاحب)

خادم جامعة الرحمانية ومسجد الرحمٰن ترنول اسلام آباد

﴿نظم﴾

جوړ د قرآن شه عالِم یا شه طالب حبیبی
جوړ شه خادم د دوئی یا شه مُحب حبیبی

دغـــه مفهومِ کلام د نبی فخرالرسل
نشے پـنځم هلاک بشے غالِب حبیبی

علمِ دین فرض کوره په هرمسلم مسلمه
عالم عالمه جوړ شه هریومؤمن مــؤمنه
دغـــه بیان د سنت مونږ ته دے یار رفیقی
جوړ شه پتنګ د دین ځان کړه راغب حبیبی

علم قرآن وسنت وراثت صـــدیقی
علمِ ممدوح د قرآن و د سنت صدیقی

لاردجنت آسانې دغه طالب تــــه الله
ډیردظهیرکتاب کښې ستامأرب حبیبي

تحصیلِ علم لره أصول آداب دي واوره
مـقاصدهم فضائل دهریوباب دي‌واوره

حاصـل کړه داجواهرددے کتاب دظهیر
پوره بـــه داکتاب کړی‌ستامطالِب حبیبي

ولـــيّ کـــولے نشي پوره تعریف دکـتاب
اشرف کتاب مؤلف، دے ډیرشریف دکتاب

ته یے قبول کړے الله پـــه خپل رحمت ورحم
دي‌ملغلرے منظومه داکتاب داغرائب حبیبي

☆☆☆

ابوعامرولی‌محمد

۱۵رمضان۱۴۳۱ھ الموافق ۲۶ اگست ۲۰۱۰ء

جس کے ناموں کی نہیں ہے انتہا : ابتدا کرتا ہوں اس کے نام سے

# عرض اوغرض

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، اَلَّذِیْ لَا اُحْصِیْ نِعَمَهُ وَلَا اَقْدِرُ عَلٰی شُکْرِهٖ اِلَّا بِمَعُوْنَتِهٖ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنْ بَعَثَهُ مُعَلِّمًا کَافَّةً لِلنَّاسِ وَدَاعِیًا اِلَی اللّٰهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ کَانُوْا اَفْضَلَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِخْتَارَهُمُ اللّٰهُ لِصُحْبَةِ نَبِیِّهٖ وَعَلٰی مَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰی یَوْمِ الدِّیْنِ.

اَمَّا بَعْدُ:

یارب التجا ہے کہ کرم تو کردے : وہ بات دے قلم کو جو دل پر اثر کردے

دطالب علم دالله تعالیٰ په نیز ډیر لوئ مقام او مرتبه ده دالله تعالیٰ تابعدار مخلوق ملائک دطالب علم دخپو لاندے وزرے خوروی، نبی کریم ﷺ ددوی سره دښه سلوک وصیت کړے وو، ددے شعبے سره منسلک خوش قسمت خلقو له ددے نعمت ډیر قدر او شکر پکار دے چه تاحیات ددوی سره حساب کړے شی۔

د الله تعالیٰ بے انتهاء شکر اداکوم چه کله موږ په دے دنیا کښ سترگے کولاؤ کړی دی نو ددوی سره تعلق او نسبت دے او دالله تعالیٰ نه ددوی سره حشر غواړم۔

دکومے شعبے سره چه دانسان تعلق وی دهغے په ترقئ سره انسان خوشحالیږی او دهغوی په پستئ سره ورته خفگان رسی۔

داهلِ علم سره دتعلق په بناباندے چه کله مخے ته ددوی یوه کارنامه ذکرشی نو سرمو دفخرنه اوچت شی او دپیغوراوریدلو په صورت کښې زړه ته نهایت دردناک غم رسی۔

نودتدریس دشعبے سره دمنسلک کیدونه بعددمتلاشیان علم په سبق یادولو، تکرارمطالعه کولو او حاضرئ کښې سستی کولوسره ډیرحسرت وافسوس اوپریشانی رارسیدله نودخپل بساط مطابق ترغیب وترهیب ورکولوسره په زړه کښې ددے خبرے تحریک پیداشو چه دمشاهدے اوتجربے اودرهبرانِ شریعت دهدایاتو په رڼاکښې یو بیدارونکی بنائسته گلدسته پیش کړم څکه چه

ع عمر گزری ہے اسی دشت کی سیاحی میں

اوهغه خامیانے چه عزیزطلبه وطالبات دهغوپه ارتکاب سره د حقیقت علم نه لاشعوری طورباندے محرومه کیږی اوهغه شرائط، صفات اوطریقے چه دهغه په حِرزِجان جوړولو سره طُلابِ علم دحقیقت علم دزیورسره آراسته کیږی دخپل دردو غم مطابق تذکره وکړم۔ ع اضطراب دل نظر آنے لگا تحریر میں

څه وجه ده چه نن عزیزطلبه اوطالبات دخپل مقام اومرتبے نه ناخبر دی او په احساس کمترئ کښې مبتلادی ددنیازیب وزینت او د نورو دُنیاوی شعبونه متاثره دی چه په دے وجه په خپله شعبه کښې دترقئ نه محرومه دی۔

؎ وَنَفسَکَ اَکرِمهَا فَاِنَّکَ اِن تَهُن
عَلَیکَ فَلَن تَلقٰی مِنَ النَّاسِ مُکرِما

حالانکه دِعلم شُعبے په مقابله کښې ددنیاتولے شعبے هیچ دی، خو دد ے احساس پیداکول ضروری دی چه انسان په خپله ځان ذلیله وګڼړی نوالله تعالیٰ هم دهغه دګمان مطابق فیصله کوی ځکه خوحالیؔ فرمائی۔

گاہک کی قدر سے کچھ قیمت نہ پاؤ گے تم : اپنی نظر میں ہوگا گر وزن کم تمھارا

اُمید دے چه دد ے اوراقو په کتلو سره عزیزطلبه وطالبات خپل عظمت شرافت او خپل منزلِ مقصود اُوپیژنی چه زه خو ددنیااوآخرت شهسواریم۔

؎ اور اگر باخبر اپنی شرافت سے ہو : تیری سپہ انس وجن، تو ہے امیر جنود

نن الحمدلله د الله تعالیٰ احسان دے پاکستان بلخ اوبخارئ ګرځیدلے دے په هر ښار، کلی، علاقه او کوڅه کښې مدارس قائم دی او په ډیر تعداد سره پکښې طلباء اوطالبات علومِ نبوت په خپلو سینو کښې محفوظه وی ځکه چه څومره مدارس زیات وی نو هغومره به طُلاب علم هم په ډیر تعداد سره وی لیکن زمونږه دخپل مینځ خبره ده چه هر کال څومره طلبه وطالبات فارغیږی خو هغه جزبه هغه ولوله هغه اخلاص واحساس، دعلم او عمل په میدان کښې هغه صلاحیت، صالحیت او استعداد، هغه انقلابانه ذهن، دهرباطل سره دټکراؤ قوت او حوصله، زمونږاودهغه قابل فخر اکابرینو په طورطریق کښې دکومو د وراثت چه مونږه دعوی کووبُون بعیدوی۔

؎ باپ کا علم نہ بیٹے کو اگر ازبر ہو : پھر پسر قابل میراث پدر کیونکر ہو

اگرچه زمونږه مشرانو هم په دے مدارسو کښې دغه نصاب لوستلے دے لیکن بیاهم دهغوی په مقابله کښې زمونږه علمی انحطاط دچانه پټ نه دے۔ کله چه طالب علم دمدرسے نه فارغ شی او خپل قیمتی اوقات یے هسے ضائع کړی وی نو بزبان حال داسے وائی۔

؎ اٹھا میں مدرسہ وخانقاہ سے غمناک : نہ زندگی نہ محبت نہ معرفت نہ نگاہ

او کوم طلباؤ چه داموقع غنیمت کنړلی وی او داُستاذانو دهدایت مطابق نے داقیمتی وخت صرف کړے وی نو هغوی ته بنظر افسوس گوری او بیا په خپل ضیاع وقت باندے ماتم کوی۔

؎ منزل کو جالیا یاران تیز گام نے : ہم محو نالہ جرس کاروان رہے

ددے کتاب مُحرک هم څنګه چه ماأونیل هغه غم دردحرص ووچه دطلباؤ دکوتاهئ په وخت به راپښیدو، دسبق دپابندئ په اعتبارسره، دمطالعه اوتکرارپه اعتبارسره او دآلاتِ علم دآدابو په لحاظ سره او داسے نور قسم دمحرومئ اسباب، نوپه زړه کښې مِ داداعیه په شدت سره پیداشوه چه دطلباؤ دذهن، مزاج او ماحول مطابق دمشرانو د هدایاتو مطابق یو کتاب معرض وجود ته راشی نو بیاڅه وو

ع ہاتھ میں آیا قلم اور شوق کا دفتر کھلا

اگرچه په دے موضوع باندے په عربئ ژبه کښې "تعلیم المتعلم" او اُردو ژبه کښې دمشرانو بهترین مختصراو اوګده کتابونه موجود دی لیکن په پښتوژبه کښې یو جامع کتاب زما دنظرنه نووتیرشوے او

داسے دپښتنو علاقے او داسے طلباء او طالبات شته چه دهغوی دکم همتئ په وجه په اُردوژبه پوره عُبورنه لری نو هغوی ته داُردو کتابونو نه استفاده هم مشکله وی۔

په دے کتاب کښ په مختلف موضوعاتو باندے ډیر قیمتی لیک شوے دے که طالب علم داخپل دلارے مشال جوړکړی او دعمل په نیت سره یے باربار مطالعه کړی نو ان شاء الله هغه ته به نوے حوصله نوے یقین نوے جزبه نوے احساس ژوندئ ولوله جوشِ علم وعمل دوقت دا همیت احساس، ذوق مطالعه او دقلم قرطاس سره آشنائی نصیب شی۔

؎ خدا تجھے کسی طوفان سے آشنا کردے : کہ تیرے بحر کی موجوں میں اضطراب نہیں

تجھے کتاب سے ممکن نہیں فراغ : کہ تو کتاب خواں ہے مگر صاحب کتاب نہیں (اقبال)

ځکه په دِ کتاب کښ اهمیتِ اخلاص ،فضلیتِ علم،شرائطِ علم، موانعِ علم،دعلمی انحطاط اسباب، داستعداد پیداکولو طریقے، د مطالعه اهمیت او طریقه،دتصنیف وتالیف په میدان کښ کارآمد خبرے دتقریروتحریراهمیت او داسے نورقیمتی نصائح،بیش بها او عمده معلومات په دے کتاب کښ راجمع کړی شوی دی۔

اګرچه دا موضوع یو داسے سمندر دے چه دد ے دپاره کناره نشته ځکه دے کتاب کښ چه څومره موضوعات راغلی دی په دے ځانله ځانله مستقل کتابونه لیکلی شوی دی،داخوبس دخپل ذوق مطابق او دوران تدریس نوټ کړے شوے او دأستاذانو نه اوریدلے شوے

خبرے اود زرګاؤ صفحاتو نه څه منتخب ملغلرے دي بقول کسے

؎ ہم اپنے آشیانے کیلئے : جو چُبھے دل میں، وہی تنکے لئے

او دا خبره ملحوظ ساتل پکار دي چه دبهترئ ګنجائش په هرځائے کښ موجود وي د دے موضوع پوره احاطه کول دبنده دبس کار نه وو ان شاء الله د دے په کتلو او مطالعه کولو سره به نورے اهمے خبرے د تحصیلِ علم تدبیرونه او حیلے پخپله ذهن ته راځي، په دے وجه د اهل علم په خدمت کښ درخواست دے چه کومے خبرے ضروري وي او هغه د دے کتاب حصه نوي جوړے شوي یا کومے خامیانے او لغزشات وي د هغے د اطلاع او مشورے دپاره به مونږه ستاسے منتظر یو۔

؎ گمان مبر که بپایان رسید کار مُغاں : ہزار بادۂ ناخوردہ دررگ تاک است

الله تعالیٰ دِ او کړي چه دا علمي کاوش په متلاشیانِ علم کښ یو نوے شعور نوے تعمیر نوے بیداري، علمي اطمینان قلبي انشراح، د استفادے او مطالعے او زیات نه زیات د نفع حاصلولو او د اکابرین امت د طرفه یو انقلاب افرین پیغام او فعال مُحرک او په دے موضوع یوه قیمتي اضافه او ګرځوي که د دے کتاب په وجه یو طالب، طالبه علم خپل منزل مقصود ته ورسي نو دا زما دپاره لویه خبره ده۔

ع شادم از زندگی خویش، که کارے کردم

د کتاب دتیارئ په سلسله کښ زه د خپل مُشفِق اُستاذ شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد عبدالجبار صاحب دپاره لاس په دعاء یم چه هغوي د ډیر مصروفیت باوجود شفقةً په کتاب نظر ثاني او کړه او

دخپل رائے پیش کولو سره یے دبنده حوصله افزائی او کړه اودفضیلة الشیخ حضرت مولانا فضل حق صاحب اودیرمُشفِق حضرت مولانا عبیدالله صاحب اودمخلص دوست حضرت مولانا ولی محمد صاحب هم ډیرممنون یم چه هغوی دکثرة مشاغل باوجود په کتاب نظرثانی اوتقریظ کولو سره کتاب نورهم خائسته کړولیکن ددے سره سره د ابوعمیر محمدایوب صاحب تذکره نه کول دناشکرئ مترادف ده چه هغوی ډیرپه جورنظرکتلو سره دکتاب ادبی غلطیانے حتی الوسع په ګوته کړے اودغه شان دتولو مینه کونکوډیراحسان مندیم چه هغوی زماسره په دے کتاب کښ څه قسم همکاری کړے ده۔

دقارئینوپه خدمت کښ درخواست دے چه کتاب کښ عنوانات کم دی لیکن دیوعنوان لاندے نورے اهمے خبرے هم ضمنًا ذکر شوی وی، حتی الوسع دعربی اشعاروترجمه شوے ده اودڅه اشعارو ترجمه تمرینًا پرېخودلے شوے ده۔ دلوستونکوپه خدمت کښ درخواست دے چه داکتاب په یوځل مطالعه کولو سره مه پرېږدئ بلکه د اُوبواودساه اهمیت ورکړئ اوهره ورځ ترینه څه حصه لُولئ او د هرعمل نه مخکښ دهغه عمل متعلق مضمون باندے نظر اچوئ چه دهغے هدایاتو مطابق عمل کوئ مثلاً دمطالعے نه مخکښ دمطالعے مضمون کتل اودتکرارنه مخکښ تکرار، په دے طریقے سره به دا مضامین ستاسوازبرشی اوپه عملی ژوندکښ به ډیرپه آسانئ سره راشی۔

دا خبره رسمی اونه ګنړئ چه دمؤلف دده والدین، خپلوان، اُستاذان،

دوستان او ټول امت مسلمه په دعاګانو کښې هیرنکړئ۔ که په کتاب کښې یوه خبره داصلاح په نیت داسې نقل کړی شوی یادمشاهدے مطابق لیکلی شوی وی چه هغه ستاسو په نظر غیرمناسب وی نوزه دهغے دپاره ستاسو نه دمعافئ درخواست کوم ځکه ستاسو د مرتبې مخے ته زه هیڅ یم بلکه په دِخبرو دے او لاًالله تعالیٰ ماته دعمل کولو توفیق راکړی۔

۔دا خبره زه ځان ته کړم اے یاره
دلګیرمه شه که مِ نُوم واخست د ستا
نوم دستا او دبل آخلم ځان ته وایم
نه مِ کار نه مِ غرض شته په بل چا
که مِ ځائے دد ے غمونو وے په زړه کښې
مابه څه لره کوله دا اِنشا
رحمٰن څه دے چه به پندو چاته وائی
هدایت دهر بنده په کردګار شی

او داجُهدالمقل دے الله تعالیٰ دبنده دپاره دوالدینو، اُستاذانو، مشائخو، خپلوانو، دوستانو او مینه کونکو او دټول امت مسلمه دپاره ذخیره دآخرت او نجات ابدی او ګرځوی۔

۔ کہاں میں اور کہاں یہ فضل ربانی: میرے اللہ تیری مہربانی

ابو حمّاد عبدالسبحان ظهیر
ابن الحاج عبدالصمد سلمه الصمد
۱۶ رمضان ۱۴۳۱ھ الموافق ۲۷/۸/۲۰۱۰ پیښور

## فرض عين او فرض کفایه علم

شریعت په مسلمانانو باندے داندی فرض کړی چه هرمسلمان دِ عالم او حافظ جوړشی او په دینی علومو کښې دِ مهارت او پوهه حاصله کړی، ځکه که تول خلق علم حاصلول شروع کړی، نو ددوی نِظامِ حیات به درهم برهم شی، تجارت به ټپ شی، جهاد وغیره به معطّل شی۔

بے شکه دا خبره مسلّمه ده چه بعض علوم داسے دی چه دهغے ایزده کول په هر مسلمان باندے فرض عین دی، دحضوراکرم ﷺ ارشاددے "طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ" (ابن ماجه باب فضل العلماء والحث على طلب العلم رقم الحديث ۲۲۴ رقم الباب ۱۷ حديث حسن بطرقه) چه دعلم حاصلول په هرمسلمان باندے فرض دی او ددینه مراد هغه علم دے چه انسان ته په روزمره ژوند کښې راپیښې شوے وی، یاراپیښیږی مثلاً دعقیدے مسائل، دطهارت مسائل، د مونځ مسائل، دروژے مسائل او که حج پرے فرض وی نو دحج مسائل او که تاجروی نو دتجارت مسائل، دنکاح مسائل

الغرض کوم کارونه چه په ده باندے فرض دی نو دهغے علم حاصلول هم فرض دی او کوم کارونه چه واجب، سنت، یامستحب دی نو دهغو علم حاصلول هم واجب، سنت، یامستحب دی او هغه کارونه چه دهغه نه شریعت منع کړے ده یعنی نواهی وغیره انسان ته خطره وی چه زه به په دِکښې مبتلاشم یامبتلاشوے وی مثلا شراب، زنا، نامحرمو ښځوته کتل، دخنزیر غوښه، دریښم جامه دسرودپاره، سود

وغیره ګناهونه په دغه ښارکښې په عمومي توګه رائج شوي وي، یا عنقریب رائج کیدونکي وي، نو ددینه دبچکیدو علم زده کول هم فرض عین دی۔

ددے سره دهغه احوالوعلم حاصلول هم فرض عین دی چه د اصلاح باطن سره تعلق ساتي، بعضے هغه دي چه دهغواختیارول ضروري دي لکه صبر، شکر، رجاء یعني امید، خوف یعني ویره د الله تعالیٰ نه، تقوی، توکل، سخاوت، دخلقو سره ښه معامله کول، اخلاص، رښتیا وئیل، تول اخلاق حسنه اوبعضے هغه دي چه دهغونه بچکیدل ضروري دي لکه حُبّ جاه، حُبّ دنیا، حسد، بُغض، نفاق، تکبر، ریاء کاري، غُصه، دشمني، لالچ، بخل، حرص، دحق خبرے نه انکار، په دین کښې سستي، دهوکه، خیانت وغیره اودغه رنګے نور مذموم افعال، نو ددے علم حاصلول هم فرض دي او که څه ترڈد وي نو علماؤ ته رجوع کول چه دهغوی نه ځان پوهه کړي او عمل پرے اوکړي۔

البته په مسلمانانو کښې په هرکلي اوښارکښې داسے علماء هم ضروري دي چه په مشکل مسائلو کښې عوام هغوي ته رجوع کوي او هغوي دمسلمانانو اصلاح کوي، دبدعاتو، رسوماتو، شرکیاتو او د دین خلاف چه هره فتنه سراُوچت کړي نو دهغے فتنے مقابله کول او ختمول که په کلي، علاقه کښې داسے عالم نه وي نو هغوي تول ګنهګار دي اوهغوي لره پکار دي چه خپل ماشومان عالمان کړي او د

هغه پورے دبهرنه یو عالم راوُغواړی چه دهغوی وقتاًفوقتاًدینی
راهنمائی کوی، نوپه علم کښې پورا مهارت حاصلول فرض کفایه
دے او ډیرثواب لری لیکن داپه هر چا باندے فرض نه دی،بس چاته
چه اللہ تعالیٰ علم نصیب کړی نو هغه ډیر خوش قسمته دے۔

## عصری علوم

دعلم په فضیلت کښې چه کوم آیاتونه،آحادیث،اقوال صحابہؓ او
تابعینؒ واردی،نو ددینه مرادمطلق علوم نه دی،خواه فلسفه وی،
منطق وی او که انگریزی علوم وی بلکه ددینه علوم نافعه مراددی کوم
چه په دنیا او آخرت کښې په کارراځی۔

؎ علم دین فقہست وتفسیر وحدیث : ہر کہ خواند غیر ازین گردد خبیث

دیو بزرګ مقوله ده "اَلنِّجَاةُ فِیْ عُلُوْمِ الْمُصْطَفٰی "چه نجات په علوم ده
مصطفیٰ کښې دے،نو ددینه هغه علوم مراددی چه هغه په آخرت
کښې سبب دنجات ګرځی او عصری علوم فلسفه، منطق، فزکس
کیمیا وغیره دی چه دا صرف دغېږدلوسترګو پورے کارکوی او که
چه سترګے دمرګ په خوب اُودے شی نو ورسره دغه عصری علوم
هم همیشه همیشه دپاره اُوده شی۔ بعض خلق په دِ دهوکه کښې
مبتلا دی چه هغوی دفضیلتِ علم، آیاتونه او حدیث په نن صبا رائج
عصری او انګریزی علوم باندے د منطبق کولو کوشش کوی او ددے
افضلیت اوبهتری ثابتوی، په سائنس بورډ او دغه رنګ په دیوالونو آیات

قرانیه او حدیث دخپل مدعیٰ دپاره لیکی ،نو داتحریف معنوی دے ،
حالانکه دوی خودد ے ایت مصداق دی '' وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَايَضُرُّهُمْ
وَلَايَنفَعُهُمْ وَلَقَدْعَلِمُوْا لَمَنِ اشْترٰهُ مَالَهُ فِيْ الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ'' (البقرة ۱۰۲)

ے جزیاددوست ہرچہ کنی عمر ضائع ست : جز سر عشق ہر چہ بخوانی بطالت ست
سعدی بشوی لوح دل ازنقش غیرحق : علمے کہ رہ حق نہ نماید جہالت ست

دنیاوی علوم صرف دیوفن حیثیت لری اوپه فن ایزده کولوسره ځیزونه وجودته راځی ،دخوراک څکاک اودپیسو ګټلو طریقے ته فن وئیلے شی ،که ته سائکل ،موټرسائکل یاجهازجوړکړے یانورذرائع و اسباب نودیته فن وئیلے شی نه چه علم ۔ عصری علوم وفنون دعام دُنیاوی کاروبارپشان ضروری به وی خوددے هغه فضائل نه دی کوم چه په قرآن اوحدیث کښں راغلی دی ۔په دے باره کښں که مونږ څه وایونوکیدے شی څوک یے په تعصّب محمول کړی لیکن ددے اِداروسره تعلق لرونکے شخصیت ''اکبراله ابادی'' چه پخپله جج وو دخپلے زمانے دینی اوعصری اِداروبا ره کښں څه داسے وائی :

ے ہے دل روشن مثال دیوبند : اور ندوہ ہے زبان ہوش مند
اب علی گڑھ کی بھی تم تشبیہ لو : ایک معزز پیٹ اس کو مان لو

ے یہ بات تو کھری ہے ہرگز نہیں کھوٹی : عربی میں نظم ملت ، بی اے میں صرف روٹی
کیا کہیں احباب کیا کارنمایاں کر گئے : بی اے کیا نوکر ہوئے پنشن ملی اور مر گئے

بیاوائی ـ

انھوں نے دین کب سیکھا ہے جا کر شیخ کے گھر میں
پلے کالج کے چکر میں مرے صاحب کے دفتر میں

اوددے علومو نقشه علامه اقبال داسے راښکلے دہ

یہ علم یہ حکمت یہ تدبر یہ حکومت : پیتے ہیں لہو دیتے ہیں تعلیم مساوات
بیکاری وعریانی ومیخواری وافلاس
کیا کم ہیں فرنگی مدنیت کی فتوحات
وہ قوم کہ فیضان سماوی سے ہو محروم

اللهتعالیٰ دِ اونکړی چه دپورته ذکرشوی مضمون دوجے نه څوک خفه شی یاپه ماباندے دتنګ نظرئ طعنه ولګوی بلکه زماددے خبرونه هرګزدا مطلب نه دے چه دُنیاوی علوم اوعصری علوم بالکل مضردی اوددے حاصلولول حرام دی ځکه علم خواه که دنیوی ولے نوی نویقینًا دځه نه څه اهمیت حامل ضروروی، مثلاً ډاکټری، انجنیئری، جدیدترقیاتی، اقتصادی ومعاشی سائنس اودغه رنګے نورعلوم،دابے کاره اولغوه نه دی بلکه داهم دژوندضروریاتونه دی،په کلی علاقه کښ ددے علوم یوحامل هم پکاردے چه هغه دخلقوضروریات په احسن طریقے سره پوره کوی، نودے حیثیت سره دا هم ډیراهمیت لری،چاله چه اللهتعالیٰ داطاقت اوقوت ورکړے وی نودا علوم دِ هم زده کړی، لیکن ددے دزده کولوسره داخبره ملحوظ ساتل پکاردی چه داعلوم یومسلمان په دِنیت سره حاصل کړی چه زه

د اسلام خدمت او کړم دمسلمانانو او انسانیت په کارراشم او هغوی ته آسانی ورسوم او ملک او ملت ته فائده ورسوم او دمسلمانو غلبه یې مقصد وی مادی څیزونه یې نه وی نو په دې نیت سره بیا هیڅ حرج نشته بلکه دداسې عِلم او فن ایزدکړه عبادت دې۔ بقول اکبر

تم شوق سے کالج میں پڑھو پارک میں پھولو: جائز کہ غباروں پہ اڑو چرخ پہ جھولو
پر ایک سخن بندہ عاجز کی رہے یاد : اللہ کو اور دین حقیقت کو نہ بھولو

او په دې نیت سره حاصلول چه ماته به بیالویٔ لویٔ تنخواګانې مِلاویږی او صرف دهغه پیش نظرخپل ذاتی مفادات وی نو بیا دا علوم هیڅ حقیقت نه لری او کله چه دالله تعالیٰ رضا او دهغه ویره نه وی نو بیا به ډاکټروی او مقصدبه ئې خدمت خلق نه وی بلکه سرهٔ اوسپین راجمع کول خواکه په هره طریقه سره وی، بیا به داسې واقعات هم راپښیږی چه یوانسان ته به په ځائې دصحیح انجکشن دحیواناتوانجکشن لګوی او دروپو دپاره به دانسان قیمتی اعضاء په غلاخرڅوی۔

## تصحیحِ نیت

ـ د رواج ورسم عمرمدام نه وی : لکه عمرچه مدام دې داخلاص

ـ اُطْلُبْ بِعِلْمِکَ وَجْهَ اللّٰهِ خَالِقِنَا : اِنَّ الصِّرَاطَ عَلَى النِّيْرانِ مَمْدُوْدُ

عزیز طلبه وطالبات!

الله تعالیٰ مونږه دې دنیاته دیو مختصر وقت دپاره رالیګلی یو چه په دې کښې مونږه د الله تعالیٰ رضا حاصله کړو "اَلْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابٌ

وَغداً حِسَابٌ وَلَاعَمَلٌ" (قاله علیؓ،جامع العلوم والحکم لابن رجب الحنبلی،
الناشر:دارالمعرفه بیروت الطبعه الاولی ۱۴۰۸ھ) نن دعمل ورځ ده حساب
نشته او صبا دقیامت په ورځ حساب به وی عمل به نوی ویلے
کیږی "الدُّنْيَامَزْرَعَةُ الْاٰخِرَةِ" دنیاد آخرت کرونده ده" الدُّنيا خُلِقَتْ لَكُمْ
وَاَنْتُمْ خُلِقْتُمْ لِلْاٰخِرَةِ" (اخرجه البیهقی فی الشعب من حدیث الحسن عن رجل
من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم) دنیا تاسو دپاره پیدا کړے شوے ده
او تاسو دآخرت دپاره پیدا کړی شوی یئ- نو هربنده له پکاردی چه هغه
خپله یو لمحه هم ضائع نه کړی او په هرفکر،خیال،قدم،حرکت
او سکون کښ خپل نیت صحیح کړی او دنیت نه غافله نه شی چه
خپل مباح افعال داسے نه کوی لکه څنګه چه حیوانات ئے انجامه
وی ځکه دقیامت په ورځ به دهرشی په باره کښ سوال کیږی چه
فلانے کاردے ولے کړے وو؟دغه کاردے په څه ارادے سره کړے
وو؟دا احتساب به په مباح کارونو کښ هم وی لکه دنبی صلی الله علیه وسلم
ارشاد دے "حَلَالُهَا حِسَابٌ وَحَرَامُهَا عِقَابٌ" (اخرجه ابن ابی الدنیاوالبیهقی فی
الشعب من طریقه) چه ددے په حلالو کښ حساب دے او په حرامو کښ
عذاب دے او حضرت معاذبن جبلؓ نه روایت دے چه نبی
صلی الله علیه وسلم فرمائی "اِنَّ الْعَبْدَيُسْاَلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَنْ كُلِّ شَيْئٍ حَتّٰى عَنْ
كُحْلِ عَيْنِهِ وَعَنْ فَتَاتِ الطِّيْنَةِ بِاِصْبَعَيْهِ وَعَنْ لَمْسِهِ ثَوْبَ اَخِيْهِ" (احیاء العلوم،
قال الحافظ العراقی:لم اجده له اسنادا) دقیامت په ورځ به دبنده نه د هر
چیز په باره کښ تپوس کولے شی ترد پورے چه دسترګے دتورولو په

بـاره کښې هم او په ګوتو سره دخاورے راګرولو په باره کښې هم او دخپل وروروجـامـے مسـح کـولو باره کښې هم، په يو حديث کښې دي چه " مَنْ تَـطَيَّبَ لله تعـالـى جَاءَ يَومَ القِيمَةِ وَرِيحُهُ اَطيَبُ مِن المِسكِ ومَنْ تطيب لِغَيرِ الله جَاءَ يَومَ القيمة وريحه اَنْتَنُ مِنَ الجِيفَةِ (اخرجه ابوالوليد الصفار فى كتاب الصلوٰة من حديث اسحٰق بن ابى طلحة مرسلا، كتاب الصبر والشكر) کوم سړے د الله دپـاره خـوشبـو اولـګـوی دقيـامت په ورځ به په داسے حال کښې راشـی چه دهـغـه خـوشبـوبه دمشک نه زياته کړه وی اوچه څوک د غيـرالله د پـاره خـوشبـو اولګوی نو دهغه خوشبوبه دمردارشی دبدبو نه هـم زيـاتـه بـده وی" ۔ګـوره خوشبولګول يومباح عمل دے مګرپه دے کـښې هـم نيت ضروری دے ،نولهذامونږه له خپل نيت خالص کـول پکاردی ځکه چه اخلاص دټولواعمالودپاره داسے دے لکه چه دبـدن دپـاره روح دے،کـلـه چـه انسـان کښې روح وی نو هغه قابل دافـادے اواستفادے وی اوچه روح ترينه لاړه شی نو قابل دافادے او استـفـادے پـاتی نشی، دغه رنګ کوم يو عمل کښې چه اخلاص وی نوهغه دالله دطرفه باعث دآجراوثواب ګرځی اوچه کله پکښې دنُياوی اغراض مينځ ته راشی نوپه ځائے دثواب به وبالِ جان شی،مثلاپه علم سره مـقـصـود داوی چـه خـلـق مِ بياعزت کوی ،شهرت به مِ وشی مـدرسـه، جـمـات اواسـکـول کښې به أستاذيا امام شم نوتنخوا به راته مِلاويږی، يـابه دعلما ؤسره مناظرے مباحثے کوم اويابه په اوچت ځائے ناست يم او خلق به رانه چاپيره ناست وی اوزه به ورته وعظ کوم،

يا حصول سندوی۔

ولنعم ماقيل فی هذاالمعنٰی ۔

تعلّمْ مااستطعت لِقصْدِ وجْهِي :فاِنّ الْعِلْم مِنْ سُفنِ النِّجاةِ

ولَيس الْعِلْمُ فِيْ الدُّنيا بِفخْرٍ :اذامـــاحلّ فِيْ غيْرِ الثِّقاتِ

ومنْ طلب الْعُلُوْم لِغيْرِ وجْهِي :بعِيْــدٌانْ تــراهُ مِــن الْهُداةِ

امام حمّادبن ابراهيم صفّاربه دامام ابوحنيفهؒ دا شعر شاګردانوته ويلو۔

۔منْ طلب الْعِلْم لِلْمعادِ، فازبِفضْلٍ مِن الرّشادِ

فيالِخُسْرانِ طالِبِــيْهِ،لِنيْلِ فضلٍ مِّن الْعِبادِ

چاچه دآخرت دپاره علم طلب کړو،نوهغه دهدايت کاميابی حاصله کړه،نو کوم طالبان علـم چـه دبـندګانونـه دهغوی دمال طمع داروی هغوی ګومره په تاوان کښې دی۔

غرض که دحصول علم نه مقصود الله تعالیٰ ته رسيدل نه وی نودابه په ځائـے داجراوثـواب د الله تـعـالیٰ دعذاب دمستحق کيدوسبب اوګرځی۔

لکه عبدالرحمٰن بابافرمائی۔

عبادت درياء کارځه په کارنــــه دے

لکه غُـوک هسے په بحرکښې مردارشی

نوهرطالب علـم لره صرف دانه چه په علم کښې بلکه په خپل هرقول، فعل حرکت اوسکون کښې تصحيح نيت ضروری دے اوپه خلوص نيت سره صرف دانه چه آخرت به ئے ښائسته شی بلکه دنيا

به ورله هم الله‌تعالی دبل نه بنه ورکړی "مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهٗ" اوپه خلوص نیت سره الله‌تعالیٰ صلاحیت، صالحیت او دهغه کارتوفیق هم ورکوی ، لکه الله‌تعالیٰ فرمائی "اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا" (النساء،۳۵) که دے دواړو ته اصلاح منظوروی نوالله به په دے بنځه او خاوند کښې اتفاق پیداکړی۔

که له زمکے نه اسمان ته خاته گران دی

داسفرپه یوگام دے داخلاص

(عبدالرحمٰن بابا)

## اخلاص اوحقیقت اخلاص

"اَلْاِخْلَاصُ حَقِيْقَتُهٗ،تَصْفِيَةُ الْفِعْلِ عَنْ مُلَاحِظَةِ الْمَخْلُوْقِيْنَ" (تفسیر القرطبیؒ، سوره البقره ایت ۱۳۹) خپل عمل او کارمخلوق ته دښودنے نه ساتل "اَلْاِخْلَاصُ سِرٌّبَيْنَ الْعَبْدِوَبَيْنَ اللّٰهِ لَايَعْلَمُهٗ مَلَكٌ فَيَكْتُبُهٗ وَلَاشَيْطَانٌ فَيُفْسِدُهٗ وَلَاهَوٰى فَيُمِيْلُهٗ" (قاله الجنیدؒ حوالاباﻻ) اخلاص دبنده او دالله‌په مینځ کښې رازدے فرشته پرے نه پوهیږی چه اولیکی اونه شیطان چه خراب ئے کړی اونه نفسانی خواهش چه بل طرف ته ئے واړوی۔ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ "اَنَّهٗ قَالَ سَاَلْتُ جِبْرَئِيْلَ عَنِ الْاِخْلَاصِ مَاهُوَ؟فَقَالَ سَاَلْتُ اللّٰهَ عَنِ الْاِخْلَاصِ مَاهُوَ؟قَالَ سِرٌّمِنْ سِرِّیْ اسْتَوْدَعْتُهٗ قَلْبَ مَنْ اَحْبَبْتُهٗ مِنْ عِبَادِیْ "(ذکره ابوالقاسم القشیریؒ حوالاباﻻ) حضور ﷺ فرمائی: ما دجبریلؑ نه داخلاص باره کښې تپوس اوکړو هغه اوفرمائیل چه ما د

الله تعالی نه پوښتنه اوکړه چه اخلاص څه دے؟ الله تعالی اوفرمایل چه زما دارازونو نه یو راز دے چه د بندګانو نه د محبوب بنده په زړه کښې نے ودیعت کړم۔

بهر حال دا یو څو حوالے د تنشیط ذهن د پاره ذکر کړے شوے نورو علماؤ پکښې هم د خپل علم مطابق لب کشائی کړے ده لیکن اخلاص یو اختیاری عمل دے لهذا دُعاء او دواء په ذریعه سره به یو سالک د علم به په هر قول، فعل، حرکت او سکون کښې ځان په دے سره بنائسته کوی۔

## آیات قرانیه دراخلاص نیت

☆ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ (الزمر۲)، نو عبادت کوه الله تعالیٰ لره، خالص کونکے هغه لره ده بندګی ☆ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ (الزمر۱۱) ووایه یقینًا زه چه یم امر کړے شوے دے ما ته چه بندګی کوم الله تعالیٰ لره خالص کونکے هغه لره ده بلنے ☆ قُلِ اللّٰهَ اَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ دِيْنِيْ (الزمر۱۴) ووایه صرف د الله تعالیٰ عبادت کوم خالص کونکے هغه لره بندګی خپله ☆ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ (البقرة۱۳۹) او مونږه لره خپل عملونه دی او تاسے لره خپل عملونه او مونږه خاص هغه لره اخلاص کونکی یو ☆ وَاَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (الاعراف ۲۹) او برابر کړئ مخونه خپل په نزد د هر جمات او بلئ الله تعالیٰ لره خالص کونکی هغه لره

دبلنے ☆ وَاِذَاغَشِيَهُمْ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُااللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (القمن ۳۲، يونس ۲۲، العنكبوت ۶۵) او كله چه گير كړى دوى لره چپے پشان دغتو وريځو، بلى دوى الله تعالىٰ لره خالص كونكى هغه لره دبلنے ☆ وَمَآاُمِرُوْٓا اِلَّالِيَعْبُدُوااللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ (البينه ۵) اونه دے امر كړے شوے دوى ته، مگر ددے چه بندگئ او كړئ دالله تعالىٰ خالص كونكى هغه لره دبندگئ ☆ اِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا (مريم ۵۱) يقيناً هغه وو غوره كړے شوے او وو رسول نبى ﷺ ☆ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ اِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَاالْمُخْلَصِيْنَ (يوسف ۲۴) دغه رنگے چه واړوُ دده نه بدكارى او بے حيائى، يقينا دے وو دبنديگانو زمونږه نه، چه خالص كړى شوى وى ☆ وَلَاُغْوِيَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ، اِلَّاعِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ (الحجر ۴۰) او خامخا گمراه كوم به دوى تولو لره، مگر بندگان ستا دوى نه چه خالص كړے شوى وى ☆ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ، اِلَّاعِبَادَاللهِ الْمُخْلَصِيْنَ (الصفت ۴۰، ۷۴، ۱۲۸، ۱۶۰، ۱۶۹) پس او گوره څرنگ وو انجام دويره ولو شوو مگر بندگان دالله تعالىٰ خالص كړے شوى ☆ اِلَّاالَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ (النساء ۱۴۶) مگر هغه كسان چه توبه او څكى او اصلاح دعمل او كړى او منگلے اولگوى په دين دالله تعالىٰ او خالص كړى دين خپل الله تعالىٰ لره (نو دا د ايماندارو ملگرى دى) ☆ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَايُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا (الكهف ۱۱۰) پس هغه څوك چه

وی امیدلری دپیشی درب خپل پس عمل دِ کوی عمل نیک اونه دِشریکوی په عبادت درب خپل کښی هیچاره☆ لَنْ یَنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَادِمَاؤُهَا وَلٰکِنْ یَنَالُهُ التَّقْوٰی مِنْکُمْ (الحج،۳۷)هیچرے نه رسیږی اللّٰه‌تعالیٰ ته،غوښے دهغواونه وینے دهغواولکن رسیږی اللّٰه‌تعالیٰ ته تقویٰ(اخلاص) ستاسے نه۔

## احادیث نبویه دراخلاص نیت

"ثَلاثٌ لایُغِلُّ عَلَیْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ اِخْلاصُ الْعَمَلِ لِلّٰهِ وَمُنَاصَحَةُ ائِمَةِ الْمُسْلِمِیْنَ وَلُزُوْمِ جَمَاعَتِهِمْ"(ترمذی نعمان بن بشیرؓ باب ماجاء فی الحث علی تبلیغ السماع) درے څیزونه داسے دی چه دمسلمان زړه په هغه کښی خیانت نکوی عمل دالله دپاره خالص کول،حکام ته نصیحت کول اودجماعت سره پاتی کیدل۔

ده نبی علیه السلام ارشاددے:مَامِنْ عَبْدٍیَخْلُصُ لِلّٰهِ اَرْبَعِیْنَ یَوْمًااِلَّاظَهَرَتْ یَنَابِیْعُ الْحِکْمَةِ مِنْ قَلْبِهٖ عَلٰی لِسَانِهٖ(ابن عدی، ابوموسیٰ ،ضعیف ،رقم الحدیث: ۵۳۶۹، صحیح وضعیف الجامع الصغیر) چه کوم بنده دڅلویښت ورځو پورے خپل عمل داللّٰه‌تعالیٰ دپاره خالص کړی نو دهغه دزړه نه دهغه په ژبه دحکمت چینے راخوټ کیږی۔

نبی کریم ﷺ معاذ ابن جبلؓ ته اُوفرمائیل: اَخْلِصِ الْعَمَلَ یُجْزِکَ مِنْهُ الْقَلِیْلُ (اخرجه ابومنصوردیلمی فی مسند الفردوس من حدیث معاذوالترغیب فی الاخلاص واسناده منقطع) په عمل کښی اخلاص

پیداکړه نو لک عمل به تاله کافی شي۔

## اخلاص او اهل اخلاص د صحابه کرامؓ، تابعینؒ، تبع تابعینؒ او علماءِ کرامو په نظر کښې۔

حضرت علیؓ اوفرمائیل: چه دلږ عمل فکرمه کوه دقبولیت دعمل فکر کوه، قال حذیفة المرعشیؒ: "اَنْ تَسْتَوِیَ اَفْعَالُ الْعَبْدِ فِی الْبَاطِنِ وَالظَّاهِرِ" چه دبنده کارونه په ظاهراوباطن کښې یورنګ وی، وقال ابویعقوب المکفوفؒ "اَنْ یَکْتُمَ الْعَبْدُ حَسَنَاتِهٖ کَمَا یَکْتُمُ سَیِّاٰتِهٖ" مخلص هغه دے چه خپلے نیکیانے داسے پټه وی څرنګ چه خپل ګناهونه پټوی(روح المعانی ۳۹۹ ج ۱ مکتبه امدادیه ملتان) ابوسلیمانؒ وائی: هرهغه سړی له زیرے دے چه دخپل هرصحیح قدم نه دالله د رضا طالب وی۔ ایوب سختیانیؒ فرمائی: چه دعمل کونکو دپاره دتولو نه زیات ګران دنیتونو خالص کول دی، عمربن الخطابؓ ابوموسی اشعریؓ ته ولیکل چه دچانیت خالص وی نوالله تعالی دده دهغه کارونو دپاره کافی کیږی کوم چه دده اودبنده په مینځ کښې دی، بنده به دشیطان نه داخلاص په ذریعے خلاصیږی، په دے وجه به معروف کرخیؒ خپل ځان وهلواووئیل به ئے اے نفسه! اخلاص پیداکړه چه ماته خلاصے مِلاؤشی۔ یحی بن معاذؒ وائی: چه اخلاص عمل د عیبونونه داسے صفاکوی څنګه چه شُوده دخوشانواووینے نه صفاوی۔ سري سقطيؒ فرمائی: په تنهائی کښې داخلاص سره دوه رکعت

مونږ د عالی اسناد حامل او یا یا اُوسوه روایات نقل کولو نه افضل دی، یو
بزرګ فرمائی: چه دیو لمحے اخلاص کښې د ابد نجات دے مګر
اخلاص مِلاویدل مشکل دی، ویلې شوی دی: علم تخم دے عمل
فصل دے او اخلاص ددے اُوبه دی ۔ سوسیؒ فرمائی چه اخلاص
دادے چه په اخلاص نظر نه وی (ځکه په اخلاص نظر خو عُجب
دے)۔ سهل تستریؒ فرمائی: اخلاص دادے چه دبنده هر حرکت او
سکون دالله تعالی دپاره وی۔ ابراهیم بن ادهمؒ وائی: اخلاص دادے چه
د الله سره صدق نیت وی۔ ابو عثمانؒ وائی: اخلاص دادے چه
دمخلوق نه نظرواړے او همیشه دپاره خالق دخپل نظر مرکز جوړ
کړے۔ محاسبیؒ فرمائی: اخلاص دادے چه دځان او رب په مینځ
کښې دمخلوق دمداخلت لاره بنده کړے ۔

## دعَدَمِ اِخلاص علامات

سلیمان دارانیؒ دعدم اخلاص درے نښے ذکر کړی دی اَلْكَسْلُ عِنْدَ
الْعِبَادَةِ فِيْ الْوَحْدَةِ ،وَالنِّشَاطُ فِيْ الْكَثْرَةِ،وَحُبَّ الثَّنَاءِ عَلٰى الْعَمَلِ ۔(۱) کله
چه ځانله وی نو په عمل کښې سستی (۲) او چه ګنړه ګوره وی نو ښه
چست وی (۳) او په عمل باندے دخلقو صفت خوښه وی۔
(روح المعانی ۳۹۹ ج۱)

دعلیؓ نه منقول دی: چه دریاء کار څلور علامات دی (۱) په تنهائی کښې
سست وی (۲) دخلقو په مجمع کښې هوښیار او چست وی (۳) تعریف ئے

اوشي نو بنه محنت كوي(۴) او كه بدنے اُوئيلی شی نو كار برباد كړی
(تنبیه الغافلین اردو ص ۲۰ مکتبه امدادیه ملتان)

## داخلاص پیدا کیدو طریقه

شقیق ابن ابراهیمؒ فرمائی: چه داعمالو قلادرے څیزونه دی(۱) یو دا عقیده ساتل چه کوم یو عمل ما او کړو، دالله تعالیٰ په توفیق سره اوشو چه عُجب پیدانشی(۲) دویم چه دعمل نه مقصود دالله رضا وی خپل خواهش مغلوب وی(۳) دریم چه ددغه عملِ ثواب امید صرف دالله نه ساتل چه څه طمع ریا مقصود نه وی په دِ خبرو سره به په اعمالو کښې اخلاص راځی ان شاء الله (تنبیه الغافلین ۲۸)

## داخلاص برکت

هرم بن حیانؒ فرمائی: چه کله بنده په زړه سره الله طرفته متوجه وی نو الله د ایمان دارو زړونه ددے طرف ته متوجه کوی، تردے چه ددے خلقو محبت او همدردی دے سړی ته نصیب شی
(تنبیه الغافلین ص ۲۲)

انسان چه کوم یو عمل داخلاص په جزبے سره او کړی نو الله تعالیٰ دهغه اثرات تولے دنیا ته رسوی۔ داخبره په مونږه او تاسو او هر ذی شعور باندے څه پټه نه ده، چه په دنیا کښې صرف دهغو عالمانو تعلیم، تبلیغ، تصانیف او داصلاح او تربیت اثار باقی دی، د کومو په زړه کښې چه تقویٰ، دالله تعالیٰ نه ویره او اخلاص وو رنه

ددغو مخلصینو عالمانو په زمانه کښې ددوی نه لوئ لوئ عالمان موجو دوو، چه دوی نه په علم کښې هم زیات وولیکن ددغه خلوص په وجه دهغوی اٰثار الله تعالیٰ په دنیا کښې باقی پاتې کړل۔

## دمستشرقینو خدمات

او کوم عمل چه بغیر د اخلاص نه وشي نو هغے کښې دِانسان خپل ټول عمر ولے نه وي صرف کړے خو هغه ده ته څه فائده نه رسوي، لکه دے درے څلورو صدو کښې مستشرقینو څومره ددین خدمات کړي دي۔ الله تعالیٰ دخپل دین کار دیو فاجر او کافر نه هم اخلي۔ دوی دعلم حدیث ډیر زیات خدمات کړي دي او دِ دباره کښې دهغوی خدمات کافي وسیع دي، نور کارونه خو پریګده دپروفیسرونسنک په طباعتي نګرانئ کښې چه دمستشرقینو جماعت دحدیث دنهو کتابونو، صحاح سته، مسند احمد، مؤطا امام مالک او سنن دارمي فهرست د"معجم مفهرس الحدیث" په نوم سره په اوه ضخیم جلدونو کښې مرتب کړے دے، دے محنت ته انسان او ګوري نو عقل حیرانیږي او س خو کمپیوتر رائج شو، دفهرست جوړول څه مشکل کار پاتې نشو لیکن دا کار د کمپیوتر د رواج نه مخکښې شوے دے او دا کار دومره معیاري دے چه نن صباهم دتحقیقي کارکونکو دپاره دیو حدیث په موندلو کښې دبنیادي معاون حیثیت لري، دا هغه خلق دي چه هغوی په علم حدیث کښې دمهارت حاصلولو دپاره خپل ټول ژوند وقف کړے وولیکن ددے دومره محنت باوجود دوی ته دایمان

هغه ابدي سعادت نصيب نشو، دکوم د حاصلولو دغرض دپاره چه نبي كريم ﷺ انسانانو طرفته ليکلے شوے وو، وجه هم دغه ده چه ددوی نيت صحيح نه وواو ددوی په زړه کښې د نبي ﷺ محبت نه وو، ددوی مقصد تعميري نه وو بلکه تخريبي وو، دوی په علم حديث کښې ددے دپاره مهارت حاصلولو که په دے کښې د اعتراضاتو ځاينه ښکاره کړي او د حديث دويونکو په زړونو کښې شکوک او شبهات پيدا کړي، نتيجه هم دغه راووتله چه په هريو حيثيت سره خو دوی د فن ماهر او خدمت گار او گرځيدل ليکن سعادت مند نشو (کرنيں، ابن الحسن عباسی)

د اخلاص او محبت په وجه په هر ديني کار او هر اصلاحي کوشش کښې روح غورځيږي او هغه ژوندے او طاقت ورشي، ددے وجے نه په عباداتو کښې روحانيت، په علم کښې نورانيت، په تعليم وتدريس کښې برکت او قوت، په وعظ او ارشاد کښې اثر، په دعوت وتبليغ کښې قبوليت او قوت، تصنيف او تاليف کښې استواري، په جماعتونو کښې اتحاد، په افرادو کښې ايثار و محبت پيدا کيږي (ابوالحسن ندویؒ، الفاروق)

د حضرت ولی اعظمؒ خوی چه کله د علوم ظاهرؤ تکميل او کړو او وطن ته واپس راغلو نو حضرتؒ ورته خلقو ته د وعظ د کولو حکم او کړو، هغه په وعظ کښې لوئ لوئ مضامين د ترهيب او ترغيب بيان کړل مګر په مجمع باندے خاورے اثر هم ونشو

؎ واعظ کا ہر ارشاد بجا تقرير بہت دلچسپ مگر : آنکھوں ميں سرور عشق نہيں چہرے پہ يقيں کا نور نہيں

چه کله نے بیان ختم کړو، نو حضرتؒ ممبرته وختواو يو معمولي قصه ئے ددغے شپے بیان کړه، چه دشپے مونږه دروژے نیت کړے ووا و دچرباتګی دپاره مولک شُوده پرېخی وو، یو پیشوراغله او هغه شُوده ئے وڅکل، بس دومره ئے اُوئیل چه دمجمعے حالت بدل شو، چا ژړلے، چاچغے وهلے، صاحبزاده ته ډیر تعجب وشو، چه داهم څه بیان وو چه خلق دومره متاثرشول، نو حضرتؒ ورته اوفرمائیل چه خوږه! اوسه پورے ستاعلم دژبے پورے دے دازړه ته ورسوه، نوبیابه ادنیٰ خبره هم په زړونواثر کوی (خطبات حکیم الامت، علم وعمل ۳/ ۲۳۳)

په زړه اثردزړه خبره کوی : دځلے خبره چرته زړه ته رسی

## د دوست مشغولتیاهم عبادتؔ دے بشرط اخلاص

حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی چه دحضرت حاجی صاحبؒ دامذاق ووفرمائیل به ئے چه د دوستانوسره خبرے کول هم عبادت دے مګرشرط هم دغه دے چه خلوص وی اونیت به وی۔

## لطیفه

یواعرابی جمات ته داخل شو، زرزر ئے مونځ وکړونو علیؓ ورپاڅیدو او په دُره ئے اُووهلواوورته ئے اُوفرمائیل چه مونځ دوباره او کړه، نو هغه اعرابی ډیرپه قلاره مونځ او کړو، علیؓ ورته اُوفرمائیل چه دامونځ بهتروو که هغه مخکښ؟

نو اعرابي اُونيل چه اولنے څکه "لِاَنِّیْ صَلَّيْتُهَا لِلّٰهِ" چه هغه ماداللهٔ تعالیٰ
درضادپاره کړے وو "وَالثَّانِيَةُ صَلَّيْتُهَا خَوْفًامِنَ الدُّرَّةِ" اوروستومونځ مِ د
دُرے د ویرے د وجے نه اوکړو۔

(نزهة المجالس ومنتخب النفائس ص ۹ لعبدالرحمٰن بن عبدالسلام)

## شرائطِ تحصيلِ علم

په دے کتاب کښې چه څه ليکلي شوي دي داټول دتحصيل علم
شرائط دي ليکن دلته دحکيم سقراط قول پيش کولے شي چه پکښې
اجمالاًدا ټول شرطونه راغلي دي۔

يَنْبَغِیْ اَنْ يَكُوْنَ الطَّالِبُ شَابًّا فَارِغَ الْبَالِ غَيْرَمُلْتَفِتٍ اِلَى الدُّنْيَا صَحِيْحَ
الْمِزَاجِ مُحِبًّا لِلْعِلْمِ بِحَيْثُ لَايَخْتَارُعَلَى الْعِلْمِ شَيْئاً مِنَ الْاَشْيَاءِ
صَدُوْقًامُنْصِفًا بِالطَّبْعِ مُتَدَيِّنًااَمِيْنًا عَالِمًابِالْوَظَائِفِ الشَّرْعِيَّةِ وَالْاَعْمَالِ
الدِّيْنِيَّةِ غَيْرَمُخِلٍّ بِوَاجِبٍ فِيْهَا وَيَحْرُمُ عَلٰى نَفْسِهٖ مَايَحْرُمُ فِیْ مِلَّةِ نَبِيِّهٖ
وَيُوَافِقُ الْجَمْهُوْرَفِی الرُّسُوْمِ وَالْعَادَاتِ وَلَايَكُوْنُ فَظًّا سَیِّئُ الْخُلُقِ وَيَرْحَمُ مَنْ
دُوْنَه فِی الْمَرْتَبَةِ وَلَايَكُوْنُ اَكُوْلًاوَلَامُتَهَتِّكًا وَلَاخَاشِعاً مِنَ الْمَوْتِ وَلَاجَامِعاً
لِلْمَالِ اِلَّابِقَدْرِالْحَاجَةِ فَاِنَّ الْاِشْتِغَالَ بِطَلَبِ اَسْبَابِ الْمَعِيْشَةِ مَانِعٌ عَنِ
التَّعْلِيْمِ

مناسب دي چه طالب علم ځوان وي، فارغ القلب وي، دنيانه کناره
کش وي، صحيح المزاج وي، علم دوست وي چه دعلم په مقابله
کښې بل شي ته ترجيح نه ورکوي، رښتوني اومُنْصِف مِزاج وي، دين دار

او امانت داروی، افعال شرعیه او احکام دینیه نه واقف وی او دد ے په ادا کولو کښ هیڅ قسم کوتاهي نه کوی، په خپل ځان هرهغه شے حرام کړی چه دد ے دنبی ﷺ په شریعت کښ حرام وی، په اخلاقو او عاداتو کښ دجمهورو پیروکاروی، بداخلاقه نه وی، دخپل ځان نه کم مرتبے والو باند ے رحم دل وی، خیټه ورنه وی، بے عزته او لاپرواه نه وی، هروقت دمرګ نه خائف نه وی، مال جمع کونکے نه وی، مګر بقدرضرورت، ځکه اسباب معیشت کښ مشغولیدل دتحصیلِ علم نه مانع د ے۔

## علم دشپږ څیزونو نه بغیرنشے حاصلولے

اَلَالَاتَنَالُ الْعِلْمَ اِلَّابِسِتَّةٍ: سَأُنْبِئُکَ عَنْ مَجْمُوْعِهَابِبَیَانٍ

ذَکَاءٌ وَحِرْصٌ وَاصْطِبَارٌ وَبُلْغَةٌ: وَاِرْشَادُاُسْتَاذٍوَطُوْلُ زَمَانٍ (علیؓ)

کوره! علم دشپږ څیزونو نه بغیرنشے حاصلولے، زه تاته ټول په واضح طریقے سره بیانوم، زیرکتیا، دعلم طلب کولو حرص، صبر او صرف قُوت لایموت داُستاذ راهنمائی او تراُورد ے مود ے پور ے علم حاصلول۔

## دومره علم د ے څنګه حاصل کړو؟

ابن المدینیؒ فرمائی چه شعبیؒ ته اُوئیلے شو "مِنْ اَیْنَ لَکَ هٰذَاالْعِلْمُ کُلُّهٗ" دومره علم د ے څنګه حاصل کړو، نوهغه ورته اوئیل "بِنَفْیِ الْاِعْتِمَادِ، وَالسَّیْرِفِیْ الْبِلَادِ، وَصَبْرٍ کَصَبْرِ الْحِمَارِ، وَبُکُوْرٍ کَبُکُوْرِ

الْغُرَابِ" (صفحات من صبر العلماء على شدائد العلم والتحصيل ۱۵، عبدالفتاح ابوغدة) دخپل خان نه علاوه په بل چاباندے اعتمادنه کولوسره (په لیکلووغیره کښې) اودعلم دپاره دښارونوسفرکولوسره اوپه تحصیل علم کښې په تکلیفونوباندے دخپشان صبرکولوسره اودکارغه پرنګ وختی پاڅیدلوسره۔

## کوم طالب به عالِم جوړیږی؟

ابواحمد نصربن احمدعیاضیؒ فقیه سمرقندفرمائی "لایَنَالُ هٰذَاالْعِلْمَ اِلَّامَنْ عَطَّلَ دُکَانَهُ، وَخَرَّبَ بُسْتَانَهُ، وَهَجَرَاِخْوَانَهُ، وَمَاتَ اَقْرَبُ اَهْلِهِ اِلَیْهِ فَلَمْ یَشْهَدْجَنَازَتَهُ" (صفحات من صبرالعلماء ۱۱) داعلم نشی حاصلولے مګر هغه طالب چه دوکان شړکړی اوباغ ویران کړی اوخپل ورونه عزیزان پریږدی اونزدے اومحبوب کس یے وفات شی اوجنازے ته ئے دسبق دقضاکیدو په وجه حاضرنشی۔

قاضی بدرالدین بن جماعةؒ ددے په وضاحت کښې فرمائی چه داخبره اګرچه مبالغه ده لیکن ددے مقصددادے چه حصولِ علم کښې دزړه اوذهن فارغول ضروری دی۔ امام شافعیؒ فرمائی:

ـ وَلایَنَالُ هٰذَاالْعِلْمَ اِلَّافَتًی: خَالٍ مِـــنَ الْاَفْکَارِوَالشُّغْلِ
لَوْاَنَّ لُقْمَانَ الْحَکِیْمَ الَّذِیْ: سَارتْ بِهِ الرُّکْبَانُ بِالْفَضْلِ
بُلِیَ بِفَقْرٍوَعِیَالٍ لَمَا: فَرَّقَ بَیْنَ التِّبْنِ وَالْبَقْلِ

یوعالم طالب ته نصحیت اوکړونوپه آخرکښې یے ورته

او فرمائیل "اُصْبُغْ ثَوْبَکَ کَیْلَایَشْغَلُکَ فِکْرُ غَسْلِهٖ" خپلو جامو له دے رنګ ورکړه چه دد ے وینځل دے مشغوله نه کړی۔

## په تحصیل علم کښ اوچت همت

دطلب علم دپاره اوچت او بلند همت ډیر ضروری دے ځکه علم اوچته مرتبه ده

ع "عُلُوُّ الْکَعْبِ بِالْهِمَمِ الْعَوَالِیْ"

دشان اوچتوالے خوپه اوچتو همتو نو سره راځی، بیا داکله دماشوم والی نه الله تعالیٰ چاته ودیعت کړی چه بیا لوئ لوئ کارونه خوښوی لکه حدیث کښ راځی دحضرت عبدالمطلب یو بستره په مقام حجر کښ غوړیدلے وه، حضورﷺ چه ماشوم والی کښ دلته راغے نوپه دے به کیناستو (چه دنورچا همت نه وو) حضرت عبدالمطلب چه داولیدو نو وبه یے وئیل چه په مستقبل کښ به زماددے خوی لوئ حیثیت وی۔

او یا کله چه انسان داوچتے حوصلے نه کار اخلی نو الله تعالیٰ دیته توفیق ورکوی، دعلم په حاصلولو کښ اُوچت همت او حوصلے ته ضرورت دے ځکه چه په دِ لار کښ مختلف قسمه رکاوټونه راځی چه دهغے نه انسان متاثره نشی او علم ترینه نیمګړے پاتی نشی۔

ابو الطیب مُتَنَبِّی وائی

ے وَلَمْ اَرَفِیْ عُیُوْبِ النَّاسِ عَیْبًا: کَنَقْصِ الْقَادِرِیْنَ عَلَی التَّمَامِ

ماپه خلقو کښې ددېنه لوئ عیب بل نه دے لیدلے چه سړے سره

ددے چه په اتمام قدرت لری او بیا یو کار نیمګړے پریږدي۔

؎ فَکُنْ رَجُلاً رِجْلُهُ فِی الثَّرٰی: وَهَامَةُ هِمَّتِهِ فِی الثُّرَیَّا

ته داسے سړے شه چه خپې یے دزمکے په لاندے حصه کښې وی

او دهغه دهمت او چتوالے دثریا ستوری پورے وی۔

نو دصحت دخیال ساتلو سره په تحصیل علم کښې دهمت نه کار

اخستل پکاردی۔

؎ ضعف ہمت ہے، ورنہ اے نادان! ابن ادم سے کیا کچھ نہیں ہوتا

او په زبان حال داوئیل پکاردی۔

ع یا تن رسد با جانان : یا جان زتن براید

او په دے لار کښې مزے چرچے راحتونه دومره نشته څومره چه

مشقتونه دی او که څوک ددے مشقتونو نه ویریږی نو بیا خپل وخت

ضائع کول نه دی پکار!

ع جس کو ہو دل و جان عزیز اس کی گلی میں جائے کیوں؟

حضرت مفتی صدرالدین فرمائی:

؎ اے دل تمام نفع ہے سودائے عشق میں: اک جان کا زیاں ہے سوایسا زیاں نہیں۔

## په کم عمرئ کښې تحصیلِ علم

؎ وَاَیَّامَ الْحَدَاثَةِ فَاغْتَنِمْهَا : اَلَا اِنَّ الْحَدَاثَةَ لَا تَدُوْمُ

هلکوالی او ابتدائی زمانه غنیمت او ګڼړه، خبردار! ځوانی همیشه نه وی۔

په ماشوم والي کښې تحصل علم ډیرښه وي،مروان بن سالم داسماعیل بن ابودرداءؓ نه روایت کوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "مَثَلُ الَّذِيْ يَتَعَلَّمُ فِيْ صِغَرِهِ كَالنَّقْشِ عَلَى الصَّخْرِوَالَّذِيْ يَتَعَلَّمُ فِيْ كِبَرِهِ كَالَّذِيْ يَكْتُبُ عَلَى الْمَاءِ"هغه چه په ماشوم والي کښې علم حاصلوي دهغه مثال پشان دکربنې په کټه باندې وي په پوخ عمر کښې علم حاصلونکي مثال پشان دخط دې په اُوبو باندې۔

(ادب الدنیاوالدین للماوردی ص۳۸)

ددې حدیث دامطلب نه دې چه پوخ عمروالا علم نشي حاصلولې بلکه دکم عمرئ په وخت کښې دعلم حاصلولو اهمیت بیانول مقصددې چه په پوخ عمرکښې یې هغه اهمیت پاتې نشي په کومې طریقې سره چه په ماشوم والي کښې حاصلیږي،ځکه بیادانسان زړه په نورو کارونو کښې مشغول اومصروف شي، دکارکسب، بچواونورداسې مختلف کارونو سره ، نوبیادتحصیل موقع ډیرپه لوئ قسمت سره میلاویږي ځکه دعلم دموانعونه لوئ مانع شرم اوحیاء ده نوبیاشرم کوي چه زه اوس څنګه دیو کشرنه علم حاصل کړم لکه خلیل بن احمدفرمائي "يَرْتَعُ الْجَهْلُ بَيْنَ الْحَيَاءِ وَالْكِبْرِفِي الْعِلْمِ" چه په علم کښې تکبراوحیاء کولومینځ کښې جهل څریږي،نولوئ مانع بیاحیاء وي اوددنیاکارونه یې بیانه پریږدي اوزړه هم دغه طرفته متوجې وي لکه بعض بُلغاء فرمائي "إِنَّ الْقَلْبَ إِذَاعَلِقَ كَالرَّهْنِ إِذَاغَلِقَ" چه زړه کله ددنیاپه کارونوپسې اُونخلي نوداپشان دګانړه

شي چه کله پسے دروازه بنده کړے شي او مالک ترینه بیافائده نشي اخستلے او هوښیاران وائي "اَلْهَمُّ قَيْدُ الْحَوَاسِ" د دنيا فکرونه، سوچونه او غمونه دانسان د حواسو دپاره قید دے نو چه کله تول حواس قید شي نو دا به څه علم حاصل کړي.

نو په بوډاتوب کښ علم حاصلول ناممکن نه دي بلکه ښه خبره ده خو صرف دا چه مصروفیات او مشغولتیا زیاته وي. احنف بن قیس دیو سړي نه واوریدل چه وائي "اَلْعِلْمُ فِيْ الصِّغْرِ كَالنَّقْشِ عَلَى الْحَجَرِ" نو احنف اوئیل "اَلْكَبِيْرُ اَكْثَرُ عَقْلًا" چه دلوئ عمروالا عقل زیات وي "وَلٰكِنَّهٗ اَشْغَلُ قَلْبًا" لیکن دزړه په اعتبار سره ډیر مشغوله وي.

دحضرت ابوامامه باهلي نه مروي دي چه حضورؐ او فرمائیل: چه کوم هلک په طلب علم او عبادت کښ لګیا وي تردے چه غټ شي او هم په دے حالت برقرار وي نو دیته دا و یا صدیقینو ثواب مِلاویږي.

(جامع بیان العلم وفضله ص ۴۷)

عليؓ فرمائي "قَلْبُ الْحَدَثِ كَالْاَرَاضِيْ الْخَالِيَةِ" چه دماشوم زړه په شان دخالي زمکه وي چه څه پکښ واچولے شي قبلوي يے ځکه چه دده زړه فارغ دکم شغل او ډیر تواضع والا وي (ادب الدنیا والدین) حضرت حسنؓ به خپلو بچو او وریرونو ته نصیحت کولو چه علم حاصل کړئ چه نن تاسو دقوم کشران یئ نو صبا به مشران شئ چا ته چه نه یادیږي نو هغه دِ لیکي. علقمةؒ وائي ما چه کم عمرئ کښ څه یاد کړي دي دا سے راته یاد دي لکه چه کتاب کښ یے ګورم. نفطویه به لاندے اشعار ځان ته

زمزمه کول۔

اَرَانِیْ اَنْسٰی مَاتَعَلَّمْتُ فِی الْکِبَرِ: وَلَسْتُ بِنَاسٍ مَاتَعَلَّمْتُ فِی الصِّغَرِ

وَمَاالْعِلْمُ اِلَّا بِالتَّعَلُّمِ فِی الصِّبَا: وَمَاالْحِلْمُ اِلَّا بِالتَّحَلُّمِ فِی الْکِبَرِ

وَمَاالْعِلْمُ بَعْدَالشَّیْبِ اِلَّاتَعَسُّفٌ: اِذَاکَلَّ قَلْبُ الْمَرْءِ وَالسَّمْعُ وَالْبَصَرُ

ولوفَلَقَ الْقَلْبَ الْمُعَلِّمُ فِی الصِّبَا: لَابْصَرَفِیْهِ الْعِلْمَ کَالنَّقْشِ فِی الْحَجَرِ

زه خپل ځان وینم چه دپوخ عمرعلم هیروم اودوړو کوالئ علم نه هیروم، علم خوهغه دے چه په هلکوالئ کښې ایزده شی اوبردباری خوهغه ده چه په پوخ عمرکښې وی، علم دبوډاتوب نه بعدصرف حسرت اوافسوس دے، چه دسړی زړه، غوږونه اوسترګے سترے شوی وی، که اُستاذپه هلکوالئ کښې زړه څیری کړی، وے کوری نوعلم به داسے کوری لکه په کڼے باندے کربنے۔ په دے اشعاروکښې شاعرصرف په هلکوالئ کښې دعلم په حاصلولو تیزی ورکړے ده۔

عروه بن الزبیرؓ به خپلوبچوته وئیل راشئ مانه علم حاصل کړئ ځکه عنقریب تاسے به دقوم مشران شئ زه هم چه وړوکے اُوم چابه زما پرواه نه کوله لیکن چه ځوان شوم نوخلقوبه رامنډے وهلے اوزمانه به یے فتوے اخستلے ددینه به لوئ عیب څه وی چه دسړی نه دده ددین متعلق تپوس اوشی اوداهغه نه جاهل وی۔ دیوسف بن یعقوب الماجشونؒ بیان دے چه مونږه به دابن شهابؒ نه دمسئلو تپوس کولویوورځ هغه مونږه ته اُوئیل دکم عمرئ په وجه خپل ځان سپک

مه کنړئ ځکه دحضرت عمر فاروق دستور وو چه کله به څه مشکل معامله راغله نوځوانان به يې راوُغوارستل او دهغوی سره به يې مشوره کوله او دهغوی دتيزعقلونو نه به يې فائده اخسته.
(جامع بيان العلم وفضله ۷۲)

داځوانی ده چه څه اوری يا څه وينی
نه ليدے نه آوريدے شی په پيرئ کښ

## په پوخ عمر کښ علم حاصلول په جهالت باندے برقرارپاتې کيدلونه بهتردی.

دلوئ جهالت ناپوهی او دسستئ نښه داده چه يو انسان دعلم د طلب کولونه په دِ وجه ځان محروم کړی چه اوس بوډاشوے يم يا مِ عمر زيات شوے دے ځکه چه کله علم يو مرغوب او د فضيلت کاردے نو دپوخ عمروالِه لره خوډيرمناسب دی چه دا اختيارکړی او چه ته بوډاشاګردشے داخوډيره بهتره ده چه ته بوډا جاهل پاتې شے.

يو حکيم يو بوډاسړے وليدو چه علم حاصلولو سره يې محبت دے مګرشرميږی نو ورته يې اُوئيل اے سړيه! "اَتَسْتَحْيْ اَنْ تَكُوْنَ فِيْ آخِرِ عُمُرِكَ اَفْضَلُ مِمَّا كُنْتَ فِيْ اَوَّلِهٖ" ته ددے خبرے نه حياکوے چه ته په آخرعمرکښ بهترشے دهغه حالت نه چه ته په اول کښ وے.

ابراهيم بن مهدی دمامون خواله راغلواودے سره دفقهاؤيو جماعت ناست وو چه دفقهے متعلق يې بحث کولونو مامون اوئيل چه اے تره !ته هم څه وايه کنه، نو دِ اُوئيل ياامير المؤمنين په ماشوم والی کښ

نو رڅا مشغوله کړي وو نو اوس په پوخ عمر کښې مونږه ځان مشغوله کړو، نو مامون ورته اُوئيل "لِمَ لَاتَتَعَلَّمُهُ الْيَوْم؟"[۱] وس ولې علم نه حاصلوې؟ نو ابراهيم اوئيل چه اوس به زما سره طالبي ښه ښکاري؟ نو مهدي اُوئيل ولې نه "وَاللهِ لَانْ تَمُوْتَ طَالِبًالِلْعِلْمِ خَيْرٌمِنْ اَنْ تَعِيْشَ قَانِعًا بِالْجَهْلِ" والله چه ته دطلب علم په حالت کښې مړشې بهتره ده ددينه چه ژوندې يې او په خپل جهل صبر کونکې يې، نو ابراهيم بيا اوئيل چه څوپورې به زما سره طالبي ښه وي؟ نو مهدي ورته اوئيل څو پورې چه تاسره ژوند ښه وي۔

وئيلې کيږي چه کله يو انسان په خپل عمر کښې علم حاصل نکړي او ورځې شپې يې په جهالت کښې تيرې شي او دعلم نه خالي وي نو ماشوم هم ددينه بهتر دې ځکه چه دهغه په باره کښې اُميدشته چه علم به حاصل کړي نو وايه چه ستا دپاره دانقص کافي نه دې چه هغه ماشوم چه ستا سره په جهالت کښې برابر دې ستانه افضل شو۔

اِذالَمْ يَكُنْ مَرُّالسِنِيْن مُتَرْجِماً: عَنِ الْفَضْلِ فِيْ الاِنْسَانِ سَمَّيتَهُ طِفْلاً

وَمَــــاتنفَعُ الاعْوَامُ حِيْنَ تَعُدُّهَا: وَلَمْ تَسْتَفِدْفِيْهِنّ عِلْماًوَ لَافَضْلاً

اَرَىٰ الدَّهْرَمِنْ سُوْءِ التَّصَرُّفِ مَائِلاً: اِلَى كُلِّ ذِىْ جَهْلٍ كَانَ بِهِ جَهْلاً

کله دپوخ عمروالا داعذر بيانوي چه اوس کاروبار دې مور پلار ښځه او بچي ورونه اجازت نه راکوي ليکن داعذرهم قوي نه دې ځکه تول عمر او هروخت خوانسان کارکسب نه کوي بلکه دهر کار کونکي دآرام

وقت مقرروي چې تې پکښې کوي او چه څوک تول عمر د نیاله ورکړي او هیڅ قسم آرام وراحت یې نه وي او نور کارونه بالکل شاته واچوي نو دا خو بیا د دُنیا غلام دے او د حریصانو سردار دے، نو چه کله تول وخت انسان کار کسب نکوي نو د حصول علم د پاره هم لک وخت فارغ کول پکار دي، نبي کریمؐ فرمائي "لِكُلِّ شَيْءٍ فَتْرَةٌ فَمَنْ كَانَتْ فَتْرَتُهُ إِلَى الْعِلْمِ فَقَدْ نَجَا" د هر شي د پاره دمه وي چا چه دا دمه علم ته اُویستله نو دا کامیاب شو، او نبي ﷺ فرمائي "كُونُوا عُلَمَاءَ صَالِحِيْنَ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا عُلَمَاءَ صَالِحِيْنَ فَجَالِسُوا الْعُلَمَاءَ وَاسْمَعُوا عِلْمًا يَدُلُّكُمْ عَلَى الْهُدَى وَيَرُدُّكُمْ عَنِ الرَّدَى" (ادب الدنیا والدین للماوردی ۳۱) نیکان علماء شئ که داسې نشئ جوړیدے نو د علماؤ سره کینئ او علم واؤرئ چه ستاسو رهنمائي او کړي هدایت ته او د هلاکت نه موبچ کړي او علماء فرمائي "مَنْ اَحَبَّ الْعِلْمَ اَحَاطَتْ بِهِ فَضَائِلُهُ" چا چه علم سره مینه او کړه د علم فضائل به دده نه تاؤ شي او بعض حکیمان فرمائي "مَنْ صَاحَبَ الْعُلَمَاءَ وُقِّرَ وَمَنْ جَالَسَ السُّفَهَاءَ حُقِّرَ" چه د علماء سره څوک کینی نو عزت مند به شي او د بې وقوفو سره ناستے سره به سپک شي۔

او کله دا عذر بیانوي چه اوس په دے عمر کښې علم حاصلول مشکل دي ځکه حافظه مو کمزوره دے ده څه راته نه یادیږي او دومره ډیر کتابونه او مشکل کتابونه وئیل راته گران دي خو دا هم د کم همتو خلقو عذر دے، ځکه "اَلْاِخْبَارُ قَبْلَ الْاِخْتِبَارِ جَهْلٌ" چه دیوشي د ازمیښت نه

مخکښې دهغه باره کښې خبرورکول جهالت دے او "وَالْخَشْيَةُ قَبْلَ الْاِبْتِلَاءِ عِجْزٌ" اوپه يو کار کښې دمبتلا کيدونه مخکښې ويريدل کم همتي او بزدلي ده ته خوشروع او کړه نو بيادا سے خبرے کوه۔

ابو هريرةؓ ته يو سړي اوئيل چه زه مِ غواړي چه علم ايزده کړم ليکن بيائے دضائع کيدونه ويريږم،نو ابو هريرةؓ ورته او فرمائيل "كَفٰى بِتَرْكِ الْعِلْمِ اِضَاعَةً" دعلم نه حاصلول خود علم ضائع کول دی۔

ټهيک ده چه ذهنونه مختلف دی دچاذهن تيزوي او دچا کم ليکن بيا هم همت نه دی بيلل پکارځکه که ډيرعلم حاصل نکړے نو لګ خوبه حاصل کړے چه تابه دجهالت دتورتم نه راوباسي ځکه داُوبو څاڅکے که نرم اولګ وي خوآخرپه لويه ګټه کښې سُورے اوکړي۔

نوکم ازکم په طالب عِلمانو کښې چه دکومو دخپو لاندے ملائک وزرے خوروي په ذُمره کښې خوبه راشے ،لهذادا مذکوره اعذارځه عذرونه نه دی بلکه همت نه کاراخستل پکاردی۔دمکحولؒ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاداو فرمائيلو چه بوډاسړے دے دځوان نه په علم حاصلولو کښې شرم نه کوی(جامع بيان العلم وفضله ۷۳)

منصوربن مهدي دمامون الرشيدنه تپوس اوکړوچه بوډاګانوله هم علم حاصلول پکاردي نومامون جواب ورکړو که جهل دبوډاګانو په حق کښې معيوب وي نو ضرورعلم حاصلول پکاردی۔

(جامع بيان العلم وفضله ۸۰)

## فضیلتِ عِلم دقرآن په رنړا کښې

دعلم فضیلت په قرآن پاک کښې په مختلفو طریقو سره الله تعالیٰ بیان کړے دے، کله الله تعالیٰ دعلماؤ مقام بیان کړی چه " اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰہَ مِنْ عِبَادِہِ الْعُلَمٰٓؤُا "یقیناً ویریږی دالله تعالیٰ نه په بندګانو دهغه کښې علماء، کله خپل محبوب ته حکم کوی چه دعلم دزیادت سوال کوه "وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا"بعض مفسرینؒ فرمائی:چه دبل شی دزیادت دپاره ددعاء حکم نبی ﷺ ته نه دے شوے سِوٰی دعلم نه ، کله په طریقه داستفهام سره فرمائی چه آیا علم والا او بے علم برابر دی او کله دعلم دمقام بیانولو دپاره دخپل برګزیده بندګانو انبیاء کرامؑ تذکره کوی، لکه " وَلُوْطًا اٰتَیْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا"او لوط علیه السلام ورکړے وومونږ هغه ته حکمت او علم، اوله وحی چه نبی علیه السلام ته شوے وه نو په هغه کښې هم اول دوئیلو حکم دے،چه "اقرأ"ولوله دغه شان موسیٰ دعلم دزیاتوالی طلب کړے وو، موسیٰ علیه السلام خضرعلیه السلام ته او فرمائیل" هَلْ اَتَّبِعُکَ عَلٰٓی اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا"آیا تابعداری او کړم ستا په دے شرط چه ښائے به ما ته دهغه نه چه ښودلی شوی تا ته دهدایت خبرے۔

دتمام انبیاء کرامو علیهم السلام عموماً او د نبی کریم ﷺ بالخصوص دبعثت مقصددعلم خودنه وه۔علم داسے صفت دے چه انسان یے مسجودِ ملائکه او ګرځوو۔

دعلم اهمیت، ضرورت او شرافت دقرآن کریم دبیشماره آیتونونه صراحةً او ضمناً معلومیږی، دلته بطورنمونه یو څو ایتونه پیش کولے شی ۔ وبالله التوفیق

☆يَرْفَعِ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ (پ۲۸، مجادله۱۱)

پورته به کړی الله تعالیٰ هغه کسانولره چه ایمان ئے راوړے ستاسے نه او هغه کسانولره چه ورکړے شوے هغوی ته علم ډیرے درجے۔

☆شَهِدَ اللهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ

(العمران، پ۳، ایت۱۸) گواهی کوی الله تعالیٰ چه یقیناً شان دادے نشته مددگار مگر یو الله او ملائکو او خاوندان دعلم په دے حال کښ چه ولاړدی په انصاف ۔

فائده: په دے ایت کښ دلیل دے په فضیلت دعلم او شرافت دعالمانو او په بهترئ ددوی، ولے کچرے بل څوک ډیر شرافت والا وے دعالمانونه، نو الله تعالیٰ به دخپل نوم او دملائکو دنوم سره پیوسته کړے وے (قرطبی ص۴۱ ج۴) حافظ ابن کثیرؒ فرمائی چه دالوئے خصوصیت دے دپاره دعالمانو په دے مقام کښ (۱/۳۵۳) علامه شوکانیؒ فرمائی چه مرادترینه عالمان دکتاب او دسنت دی او هغه چه رسائی پرے کیدے شی معرفت دقرآن او دسنت ته (فتح القدیر ۱/۳۲۵، فتح الرحمٰن لفضیلة الشیخ محمد عبدالجبار حفظه الله)

☆وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ (عنکبوت ۴۳)

او دغه مثالونه بیانوومونږ دغولره، دپاره دخلقواونه پو هیږی په دے

باندے مکر عالمان۔

☆ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ (الزمر۹) ووایه آیا برابر دی هغه کسان چه پوهیږی او هغه کسان چه نه پوهیږی۔

☆ اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا (فاطر۲۸) یقینا ویرېږی د اللہ تعالیٰ نه دبندګانو دهغه نه عالمان

☆ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا (طه ۱۱۴) رسول الله ﷺ ته خطاب دے: او تاسو دا دعا کوئ چه اے زماربه لزیات کړے ماله علم

☆ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا (پ۲۰، ایت۸۰، القصص) او اُویلے هغه کسانو چه ورکړے شوے وه هغوی ته پوهه، افسوس پتاسو بدله د اللہ تعالیٰ غوره ده دهغه چاد پاره چه ایمان ئے راوړے او عمل کوی نیک۔

☆ خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ (پ۲۷، الرحمٰن ایت ۳،۴) پیدا کړے یے دے انسان ښودلے ئے دے هغه ته بیان کول۔

☆ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً (البقره پ۲، ایت۲۰۱) اے ربه زمونږه! راکړے مونږ ته په دنیا کښ علم او په آخرت کښ جنت

☆ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ فَضَّلَنَا عَلٰى كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ (نمل پ۱۹، ایت۱۵) او یقینا ورکړے وو مونږ داودؑ او سلیمانؑ ته خاص پوهه او اُوئیل دواړو چه ستائنه ده اللہ تعالیٰ هغه ذات لره چه بهتر کړی مونږه لره په ډیرو دبندګانو خپلو مؤمنانو نه۔

☆وَانْزَلَ اللهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا (نساء ۱۱۳) اورالیږلے الله تعالیٰ پتا باندے کتاب او سنت او خودلے ده تاته هغه فیصله چه ته پرے نه پوهیدے او دے فضل دالله تعالیٰ پتاباندے لوئ۔

☆بَلْ هُوَ ايٰتٌ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ (عنکبوت، پ۲۱، ایت ۴۹) بلکه داقرآن آیتونه ښکاره دی په سینو دهغه کسانو کښې چه ورکړے شوے هغوی ته علم۔

## فضیلتِ علم د احادیثو په رنړا کښې

په دِباره کښې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمودات ډیرزیات دی لیکن دلته په یو جامع حدیث اوپه څه نورو حدیثونو باندے اکتفا کوم۔

☆عَنْ مَعَاذِبْنِ جَبَلٍؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوْا الْعِلْمَ فَاِنَّ تَعَلُّمَهُ لِلّٰهِ تَعَالىٰ خَشْيَةٌ، وَطَلَبُهُ عِبَادَةٌ، وَمُذَاكَرَتُهُ تَسْبِيْحٌ، وَالْبَحْثُ عَنْهُ جِهَادٌ، وَتَعْلِيْمُهُ لِمَنْ لَايَعْلَمُهُ صَدَقَةٌ، وَبَذْلُهُ لِاَهْلِهٖ قُرْبَةٌ، لِاَنَّهٗ مَعَالِمُ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ وَمَنَارُ سُبُلِ اَهْلِ الْجَنَّةِ، وَهُوَ الْاَنِيْسُ فِي الْوَحْشَةِ، وَالصَّاحِبُ فِي الْغُرْبَةِ، وَالْمُحَدِّثُ فِي الْخَلْوَةِ، وَالدَّلِيْلُ عَلَى السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ، وَالسِّلَاحُ عَلَى الْاَعْدَاءِ وَالزَّيْنُ عِنْدَ الْاَخِلَّاءِ، يَرْفَعُ اللهُ بِهٖ اَقْوَامًا فَيَجْعَلُهُمْ فِي الْخَيْرِ قَادَةً قَائِمَةً تُقْتَصُّ اٰثَارُهُمْ وَيُقْتَدٰى بِفِعَالِهِمْ، تَرْغَبُ الْمَلَائِكَةُ فِيْ خَلَّتِهِمْ وَبِاَجْنِحَتِهَا تَمْسَحُهُمْ وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمْ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ وَحِيْتَانُ الْبَحْرِ، وَهَوَامُّهٗ وَسِبَاعُ الْبَرِّ وَاَنْعَامُهٗ لِاَنَّ الْعِلْمَ حَيَاةُ الْقُلُوْبِ مِنَ الْجَهْلِ وَمَصَابِيْحُ الْاَبْصَارِ مِنَ الظُّلَمِ، يَبْلُغُ

الْعَبْدَ بِالْعِلْمِ مَنَازِلَ الْأَخْيَارِ وَالدَّرَجَاتِ الْعُلىٰ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ، وَالتَّفَكُّرُ فِيهِ يَعْدِلُ الصِّيَامَ، وَمُدَارَسَتُهُ تَعْدِلُ الْقِيَامَ، بِهِ تُوْصَلُ الْأَرْحَامُ وَبِهِ يُعْرَفُ الْحَلَالُ مِنَ الْحَرَامِ وَهُوَ إِمَامُ الْعَمَلِ وَالْعَمَلُ تَابِعُهُ، يُلْهِمُهُ السُّعَدَاءُ وَيُحْرَمُهُ الْأَشْقِيَاءُ (رواه ابن عبدالبر النمری فی کتاب العلم، الترغیب والترهیب ۵۲/۱ الترغیب فی العلم، حدیث حسن)

ترجمه: حضور صلى الله عليه وسلم فرمائی: علم حاصل کړئ ځکه دعلم ایزده کول دالله تعالیٰ دپاره خشیت دے اودد ے طلب کول عبادت دے اوددے مزاکره تسبیح اوددے تالاش جهاد دے ، بے علموته علم ایزده کول صدقه ده، په مستحقینو کښ علم خرچ کول تقرب دے، ځکه علم دحلال اوحرام نشان دے، دجنت په لارو باندے د رنړا ستن ده، په تنهائی کښ ملګرے دے اوپه مسافرئ کښ رفیق دے اوپه خلوت کښ ندیم دے اودراحت اودمصیبت ښودونکے دے، د دشمنانو په مقابله کښ اسلحه ده، په دوستانو کښ زینت دے، د علم په ذریعه الله تعالیٰ بعضو لره اوچتوی اودنیکئ داسے امام ئے جوړوی چه دهغوی په نقش قدم به خلق ځی اوددوی په قول باندے عمل کولے شی، ملائک ددوی په خدمت کښ رغبت کوی، په خپلووزرو سره ددوی مسحه کوی، ددوی دمغفرت دپاره هرڅیز (تردے) چه دأوبو مهیان دزمکے خزنده اودوچے مارغان او ښناور دعاء کوی ځکه علم دزړونو دپاره ژوند دے ، دجهل په مرګ کښ دسترګو دپاره رنړاده، په تورتم کښ دعلم په ذریعه بندګان په دنیا او

آخرت کښې دآ خیارو مرتبې او بلند درجې حاصلوی، په علم کښې غور وفکر د روژې برابراو د دې مشغولیت دقیام برابر دے، دعلم په ذریعه خپلولئ پاللے کیږی او په دے سره حلال او حرام پیژندل کیږی، علم دعمل امام دے او عمل ئے تابع دے، نیک بختو ته دعلم توفیق ورکولے شی او بدبخت ددینه محرومه کیږی۔

☆عبدالله بن عمروؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ اوفرمائیل قَلِیْلُ الْعِلْمِ خَیْرٌ مِنْ کَثِیْرِ الْعِبَادَةِ (نزهة المجالس ۲/۴۵، الترغیب والترهیب ۱/۵۰ کتاب العلم، رواه الطبرانی فی الاوسط ورفع هذ الحدیث غریب) چه لږ علم د ډیر عبادت نه غوره دے۔

☆قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّ مِنَ الذُّنُوْبِ ذُنُوْباً لَایُکَفِّرُهَا صَلٰوةٌ وَلَاصِیَامٌ وَلَاحَجٌّ وَلَاجِهَادٌ اِلَّا الْغُمُوْمُ وَالْهُمُوْمُ فِیْ طَلَبِ الْعِلْمِ (ضعیف، السلسله الضعیفه للالبانی)

بعض گناهونه داسے دی چه دهغوی کفاره نه مونځ دے نه روژه نه حج بلکه صرف دعلم په حاصولو کښې غمونه دی۔

☆قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَا اَبَاذَرٍّ! لَاَنْ تَغْدُوَ فَتَتَعَلَّمَ اٰیَةً مِنْ کِتَابِ اللهِ خَیْرٌ لَکَ مِنْ اَنْ تُصَلِّیَ مِائَةَ رَکْعَةٍ وَلَاَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ بَاباً مِنَ الْعِلْمِ عُمِلَ بِهِ اَوْلَمْ یُعْمَلْ بِهِ خَیْرٌ لَکَ مِنْ اَنْ تُصَلِّیَ اَلْفَ رَکْعَةٍ (رواه ابن عبدالبر، رواه ابن ماجه باسناد حسن، الترغیب والترهیب ۱/۵۴)

اے ابوذره! سحروختی او ځے او یو آیت د کتاب الله ایزده کړے نو دا ستا دپاره د سلو رکعتونو نه بهتر دے او سحروختی او ځے او دعلم یو باب

ایزده کړے که عمل پرے او کړے او که نه دا ستا دپاره دزرور کعتونو نه بهتر دے۔

☆قال النبیُّ ﷺ طَلَبُ الْعِلْمِ افْضَلُ عِنْدَاللهِ مِنَ الصَّلٰوةِ وَالصِّيامِ وَالْحَجِّ وَالْجِهَادِ (رواه الديلمي عن ابن عباسؓ)

علم طلب کول دالله تعالیٰ په نیزدمونځ، روژے، حج او جهاد نه هم افضل دے۔

☆عنْ واثِلة بْنِ الاسْقَعِ ؓ قال: قال رسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ طَلَبَ عِلْماً فَادْرَكَهُ كَتَبَ اللهُ لَهُ كِفْلَيْنِ مِنَ الاجْرِ، وَمَنْ طَلَبَ عِلْماً فَلَمْ يُدْرِكْهُ كَتَبَ اللهُ لَهُ كِفْلاً مِنَ الْاَجْرِ (رواه الطبراني في الكبيرورجاله موثقون، مجمع الزوائد ۱/ ۳۳۰) حضرت واثله بن اسقعؓ روايت کوی چه رسول الله ﷺ او فرمائيل: چه څوک دعلم په طلب کښ اوخی او بيائے حاصل هم کړی نو الله تعالیٰ ده دپاره دوه آجره ليکی او کوم چه دعلم طالب وی ليکن حاصل ئے نکړی نو الله تعالیٰ دے دپاره يو اجر ليکی۔

☆عنْ عبْدالله يعْنِيْ اِبْن مسْعُوْدٍ قال قال رسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذا اَرَادَاللهُ بِعَبْدٍ خَيْراً فَقَّهَهُ فِىْ الدِّيْنِ، وَاَلْهَمَهُ رُشْدَهُ (رواه البزاروالطبراني في الكبيرورجاله موثقون ،مجمع الزوائد ۱/ ۳۲۷)

عبدالله بن مسعودؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد او فرمائيلو چه الله تعالیٰ کله ديو بنده سره دخير اراده او کړی نو هغه ته ددين پوهه نصيب کړی او صحيح خبره ورته په زړه کښ اچوی۔

☆دحضرت معاذؓ نه مروی دی چه رسول الله ﷺ او فرمائيل

"اَلْعَالِمُ اَمِيْنُ اللّٰهِ فِى الْاَرْضِ" عالم په زمکه دالله تعالیٰ امین دے۔
(اخرجه ابن عبدالبر فی العلم والدیلمی والعراقی وقال ضعیف)

☆ دحضرت داؤد علیه السلام ارشاد دے "په سینه کښې دعلم مثال داسے دے لکه په تورتم کور کښې ډیوه"

☆ ابن المقفعؒ فرمائی: دولت یاطاقت په وجه عزت ته مه خوشحالیږئ ځکه داعزت ناپائدار دے، البته دعلم یاددین په وجه عزت وی نو خوشحاله شئ ځکه داپائدار عزت دے۔

☆ حضرت ابو ذرؓ او ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم طالب علم چه دطلب علم په حالت کښې مړشی نو هغه شهید مری۔ (مجمع الزوائد)

گرچه نتواں بدوست ره بردن : شرط یاری است در طلب مردن

اګرکه دوست ته رسیدل ممکن نه وی، مګرشرط یاری دادے چه دهغه په طلب کښې مړشے۔

☆ اَوْحَى اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اِلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنِّىْ عَلِيْمٌ اُحِبُّ كُلَّ عَلِيْمٍ (ابن عبدالبر)
الله تعالیٰ په حضرت ابراهیمؑ بانديے وحی راولیګله چه اے ابراهیمه! زه علیم یم او دهر علم والاسره محبت کوم۔

☆ يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ثَلٰثَةٌ اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ (ابن ماجه، ضعیف)
دقیامت په ورځ به د درے کسانو شفاعت قبول وی دپیغمبرانو، بیا دعالمانو او بیادشهیدانو۔

☆ وَرُوِىَ عَنْ سَخْبَرَةَؓ ...... قَالَ: مَامِنْ عَبْدٍ يَطْلُبُ الْعِلْمَ اِلَّا كَانَ كَفَّارَةً

ما تقدم. (رواه الترمذی، ترغیب وترهیب ص ۱/۵۳)

حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد او فرمائیلو: چه کوم انسان علم طلب کړی نو دتیر شوو ګناهونو دپاره دا کفاره ده.

ورُوِیَ عن ابی اُمامة قال: قال رسُوْلُ الله صلی الله علیه وسلم یُجاءُ بِالْعَالِمِ وَالْعَابِدِ، فیقَالُ لِلْعَابِدِ: اُدْخُلِ الْجَنَّةَ وَیُقَالُ لِلْعَالِمِ قِفْ حتّی تَشْفَعَ لِلنَّاسِ.

(رواه الاصبهانی وغیره، الترغیب والترهیب للمنذریؒ)

حضور صلی الله علیه وسلم او فرمائیل: عالم او عابد به دقیامت په ورځ راوستلے شی نو عابدته به اوئیلے شی جنت ته داخل شه او عالم ته به اُوئیلے شی دلته ودریږه چه دخلقو سفارش اوکړے.

## فضیلت علم دصحابهؓ، تابعینؒ اوتبع تابعینؒ په نظر کښې

حضرت علیؓ کمیلؒ ته اُوفرمائیل اے کمیل! علم دمال نه بهتر دے علم ستاحفاظت کوی اوته دمال، علم حاکم وی اومال محکوم، مال په خرچ کیدوسره کمیږی او علم په خرچ کیدوسره زیاتیږی.

دعلم په فضیلت کښې دحضرت علیؓ دادرے اشعارهم مشهوردی

مَاالْفَخْرُ اِلَّالِاَهْلِ الْعِلْمِ اَنَّهُمْ: عَلَی الْهُدٰی لِمَنْ اِسْتَهْدٰی اَدِلَّاءُ

وَقَدْرُکُلُّ اِمْرِئٍ مَاکَانَ یُحْسِنُهُ :وَالْجَاهِلُوْنَ لِاَهْلِ الْعِلْمِ اَعْدَاءُ

فَفُزْبِعِلْمٍ تَعِشْ حَیَاتَهُ اَبَداً: اَلنَّاسُ مَوْتٰی وَاَهْلُ الْعِلْمِ اَحْیَاءُ

دفخرحق صرف عالمانوته حاصل دے ځکه چه هغوی پخپله هم هدایت باندی دی اودطالبان هدایت رهنماهم دی، دانسان قدرپه

خو داهل علمو دشمن وی، داسے علم
بنوالی سره دے او جاهل خو داهل علمو دشمن وی، داسے علم
حاصل کړه چه دهغه په وجه همیشه ژوندے ئے، خلق به مړه شی
او صرف اهل علم به ژوندی پاتی شی -

وقال بعضهم ؎

اَخُوْ الْعِلْمِ حَیٌّ خَالِدٌ بَعْدَ مَوْتِهٖ : وَاَوْصَالُهٗ تَحْتَ التُّرَابِ رَمِیْمٌ
وَذُوْ الْجَهْلِ مَیِّتٌ وَهُوَ یَمْشِیْ عَلَی الثَّرٰی : یُظَنُّ مِنَ الْاَحْیَاءِ وَهُوَ عَدِیْمٌ

صاحبِ علم په دنیا کښ ژوندے وی او د مرګ نه پس هم او د دے
اندامونه د خاورونه لاندے رجیدلی وی او جاهل مړوی او دا کرځی په
زمکه، کمان په کولے شی د ژوندو او دا مړوی -

؎ جاہلے کاں بعلم زنده نشد: میتش داں و مسکنش مدفن

علم ښائست او بهترینه خزانه ده ؎

اَلْعِلْمُ زَیْنٌ وَکَنْزٌ لَانَفَادَ لَهٗ : نِعْمَ الْقَرِیْنُ اِذَا مَا عَاقِلاً صَحِبَا

علم ښائست او نه ختمیدونکے خزانه او بهترین ملګرے دے چه
کله دهو ښیار سره مُصاحِب شی -

حضرت ابن عباس رضی فرمائی: چه الله تعالیٰ حضرت سلیمان علیه
السلام ته اختیار ورکړے وو چه هغه دعلم، مال او سلطنت نه یو
دځان د پاره خوښ کړی، دوی علم له ترجیح ورکړه نو مال او سلطنت
دوی ته دعلم سره ورکړے شو -

؎ خاتم ملک سلیمانست علم : جمله عالم صورت و جانست علم

؎ علم داوند بادریس وبقاروں زروسیم: شد یکے فوق سماک ودگرے تحت سمک

دحضرت ابن مبارکؒ نه چاپوس وکړو چه کوم خلق په صحیح معنو کښې انسانان دی هغوی جواب ورکړو، چه علماء ............

داقابل غورخبره ده چه عبدالله ابن مبارکؒ صرف علماؤته انسانان اُونیل ځکه کوم څیزچه انسان دنورانو نه ممتازکوی هغه علم دے ځکه چه جسمانی طاقت، جسامت، شجاعت، بهادری اوډیرخوراک یاقوتِ جماع خوپه حیواناتو کښې په نسبت دانسان زیاته وی، نود انسان شرافت صرف په علم سره دے اوهم ددے دپاره پیدا شوے دے دیته نزدے ویناعبدالرحمٰن باباؒهم کړے ده

ہرسړے چه رتبه نه لری دعلم
سړے نه دے خالی نقش دے گویا

دبعض هوښیارانو ویناده چه مونږ ته دِځوک دا اُوائی چه چاته علم مِلاؤنشو هغه ته څه مِلاؤشو اوچه چاته علم مِلاؤ شو هغه ته څه مِلاؤنشو۔

ابن عباسؓ فرمائی:چه دشپے لګ وخت دعلم مذاکره کول زماپه نیز د تولے شپے دعبادت نه بهتردی۔

سالم بن ابی جعدؒ فرمائی:چه زه غلام اُوم ددرے سوودرهموپه عوض کښې زه آقا آزادکړم د آزادئ نه روستوزه په دے کشمکش کښې اُوم، چه کوم فن ایزده کړمه آخرعلمِ م بطورپیشه اختیارکړو، یو کال هم نه ووتیرشوے چه دښارحاکِم زمادملاقات په خواهش راغے اوماهغه واپس کړو۔

اَلْعِلْمُ يَنْهَضُ بِالْخَسِيْسِ اِلیٰ الْعُلاءِ :وَالْجَهْلُ يَقْعُدُ بِالْفَتٰی الْمَنْسُوْبِ۔

علم حقیر سړے هم اوچتوی مگر جهالت د حسب نسب والاشریف سړے هم ډوبوی۔

اَلْعِلْمُ مِنْ شَرْطٍ لِمَنْ خَدِمَهٗ:اَنْ يَّجْعَلَ النَّاسَ كُلُّهُمْ خَدِمَهٗ۔

دعلم شرط دادے چه څوک دده خدمت کوی،نو علم تول خلق دده خادمان جوړ کړی۔(تعلیم المتعلم۴۲)

امام زهری فرمائی چه علم نر دے او داهغه خلق خوښوی چه سړی وی۔

ابن عیینه فرمائی:چه الله تعالیٰ نه دے ورکړے پس دنبوت نه چاله افضل څیز سوا دعلم نه (نزهة المجالس ۲/۴۲)

امام احمد فرمائی:چه خلق د روټئ او اُوبو نه علم ته زیات محتاجه دی څکه انسان روټئ او اُوبو ته په ورځ کښې یو دوه کرتے محتاجه کیږی او علم ته دساه اخستلو په اندازه (مدارج السالکین ۲/۴۹۰،لابن القیم الجوزیه ۷۵۱هـ دارلکتب العلمیه بیروت لبنان الطبعه الثانیه ۱۴۰۸هـ ۱۹۸۸ء)

بعض هوښیاران وائی:چه مونږ ته په دوه سړو ډیر افسوس دے یو په هغه سړی چه علم حاصلوی مگر دعلم داهمیت نه واقف نه دے ، بل هغه سړے چه دعلم داهمیت نه واقف دے مگر علم نه حاصلوی ۔حضرت ابو درداء فرمائی:چه دټولے شپے دعبادت نه بهتر دادی چه زه یو مسئله یاده کړم۔دعطاء ارشاد دے چه دعلم یو مجلس دلهو لعب داویامجلسونو نه کفاره جوړیږی (احیاء العلوم)

په زهر الریاض للنسفی کښې دی:چه نور خلق به دحوض کوثر نه په

کلاسونو اُوبه خکی او علماؤ له به نبی صلی الله علیه وسلم په لپو اُوبه ورکوی د ډیرے مینے دوجے نه (نزهة المجالس)

امام محمد بن الحسن فرمائی: چه که چرے تول خلق زما غُلامان وے نو ما به تول آزاد کړی وے او د هغوی د پریخی مال نه به مِ هم دمخکښ نه بزاری کړی وے۔ او دائے په دے وجه او فرمائیل چه چاته دعلم او عمل لذت حاصل شی نو هغه د خلقو په مالونو باندے نظر نه کوی۔ (تعلیم المتعلم ۱۱)

امام شافعی فرمائی: علم حاصلول دنفل مونځونو نه افضل دے۔

ابوالاسود فرمائی: دعلم نه زیات عزتمند څیز نشته بادشاهان په خلقو حکومت کوی او علماء په بادشاهانو باندے۔

امام حسن بصری ارشاد فرمائی " لَوْلَا الْعُلَمَاءُ لَصَارَ النَّاسُ مِثْلَ الْبَهَائِمِ ای اِنَّهُمْ بِالتَّعْلِيْمِ يَخْرُجُوْنَ النَّاسَ مِنْ حَدِّ الْبَهِيْمِيَةِ اِلٰى حَدِّ الْاِنْسَانِيَةِ " (التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح للعلامه ادريس الكاندهلوى مكتبه رشيديه كويته ۱۳۹۴ھ) که علماء نه وے نو خلق به د څناورانو پشان وے، یعنی دوی د تعلیم په بنیاد خلق د حیوانیت نه انسانیت طرفته بلی۔

جاهلان دی په مثال دمرده کانو: عالمان دی په مثال د مسیحا

سابق بربری هم دعلم فضیلت او شرافت په لاندینی اشعارو کښ ډیر په ښائسته انداز کښ بیان کړے دے۔

اَلْعِلْمُ فِيْهِ حَيَاةُ الْقُلُوْبِ كَمَا: تُحْيَا الْبِلَادُ اِذَا مَسَّهَا الْمَطَرُ

وَالْعِلْمُ يَجْلُوْ الْعِمٰى مِنْ قَلْبِ صَاحِبِهِ: كَمَا يَجْلِىْ سَوَادَ الظُّلْمَةِ الْقَمَرُ

په علم کښې دزړونو دپاره داسې ژوند دے لکه باران سره چه زمکه ژوندئ اوشنه شي، علم تورتم دزړه نه داسې لرے کوی څنګه چه سپوږمئ تياره ختموی (جامع بيان العلم وفضله ۵۰)

تَعَلَّمْ فَاِنَّ الْعِلْمَ زَيْنٌ لِاَهْلِهٖ: وَفَضْلٌ وَعُنْوَانٌ لِكُلِّ الْمَحَامِدِ

وَكُنْ مُسْتَفِيْدًا كُلَّ يَوْمٍ زِيَادَةً: مِنَ الْعِلْمِ وَاسْبَحْ فِيْ بُحُوْرِ الْفَوَائِدِ

(تعليم المتعلم)

علم حاصل کړه څکه چه علم دعالم دپاره سبب دزينت دے او فضيلت دے اودقابل تعريف خبروعنوان دے اوهره ورځ په علم کښې وړاندے والے کوه اودفائدو په سمندرو کښې لامبووهه

په عيون المجالس کښې دی: چه "علم" درے حرفه دی عين، لام، ميم، عين دعُلُونه وتلے دے لام دلطافت نه وتلے دے اوميم دمِلک نه وتلے دے نوعين صاحب علم لره عليين ته راکاږی اولام يے لطيف کرځوی چه بيا په باريکوباريکو خبرو پوهيږی اوميم يے بادشاه کرځوی په خلقو۔

اوعالم ته دعين په برکت سره عزت، وجاهت اوقدرت اوپه لام سره لطافت اوپه ميم سره الله تعالیٰ دهغه محبت دخلقوپه زړونو کښې اچوی (نزهة المجالس)

## دعلیؓ اقوال په شان دعلم کښې

"اَلْعِلْمُ مِصْبَاحُ الْعَقْلِ وَيَنْبُوْعُ الْفَضْلِ" علم دعقل ډيوه ده اود فضيلت

چینه ده " الْعِلْمُ قَاتِلُ الْجَهْلِ وَمُكْسِبُ النُّبْلِ " علم قاتل دجهل دے او کسب کونکے دمرتبو دے " الْعِلْمُ وِرَاثَةٌ كَرِيْمَةٌ وَنِعْمَةٌ عَمِيْمَةٌ " علم عزتمند میراث او عام نعمت دے " الْعِلْمُ مُحْيِي النَّفْسِ وَمُنِيْرُ الْعَقْلِ وَمُمِيْتُ الْجَهْلِ " علم نفس لره ژوندے کونکے او عقل لره روښانه کونکے دے او جهل لره ختمونکے " الْعِلْمُ حَاكِمٌ وَالْمَالُ مَحْكُوْمٌ عَلَيْهِ، الْعِلْمُ خَيْرٌ مِنَ الْمَالِ الْعِلْمُ يَحْرُسُكَ، وَاَنْتَ تَحْرُسُ الْمَالَ " علم حاکم دے او مال محکوم دے، علم دمال نه بهتر دے، علم به ستا څوکیداری کوی او ته به د مال څوکیداری کوے۔ (۳۰۰۰ حکمة للامام علیؓ دار الحوراء بیروت لبنان)

## د ادب اهمیت

ـ ادب ہی سے انسان انسان ہے: ادب جو نہ سیکھے وہ حیوان ہے

دا یو ناقابل تردید حقیقت دے چه دحصول علم په اسبابو کښې قوی سبب ادب دے۔

دین اسلام یو کامل او مکمل دین دے چه پکښې دهرشی یو معیار او مرتبه مقرر ده، په دین اسلام کښې چه کوم اهمیت او مرتبه ادب لری، هغه دیو مسلمان نه پټه نه ده او دادب نه یو مسلمان هم مستغنی کیدے نشی داځکه چه درسول الله ﷺ دخولے فرمان دے " اَدَّبَنِیْ رَبِّیْ فَاَحْسَنَ تَادِیْبِیْ " ما ته زما رب ادب او ښودو او ښائسته ادب ئے راته او ښودو بلکه دین اسلام خو دادب نوم دے د نبی ﷺ

ارشاد دے "اَلدِّیْنُ کُلُّهُ اَدَبٌ" دین خو سراسر ادب دے۔

## ادب دصحابه کرامو په نظر کښ

دحضرت عمرؓ فرمان دے اول ادب ایزده کړئ نو بیا علم حاصل کړئ حضرت علیؓ وینا ده دهرشی یو قیمت وی دانسان قیمت دده علم او ادب دے او "نِعْمَ النَّسَبُ حُسْنُ الْاَدَبِ" ښه نسب ښائسته ادب دے "اِنَّ النَّاسَ اِلٰی صَالِحِ الْاَدَبِ اَحْوَجُ مِنْهُمْ اِلیٰ الْفِضَّةِ والذَّهَبِ" انسانان ډیر محتاجه دی ښه ادب ته په نسبت دسرو او سپینو۔

## ادب دعلماؤ په نظر کښ

عبدالله ابن مبارکؒ فرمائی "طَلَبْتُ الْاَدَبَ ثَلاثِیْنَ سَنَةً وَطَلَبْتُ الْعِلْمَ عِشْرِیْنَ سَنَةً" ادب مې دیرش کاله طلب کړو او علم مې شل کاله "کَانُوْا یَطْلُبُوْنَ الْاَدَبَ ثُمَّ الْعِلْمَ" اسلافو به اول ادب ایزده کوو بیا به ئے علم حاصلوو او فرمائی "کَادَالْاَدَبُ یَکُوْنُ ثُلُثَیْ الدِّیْنِ" قریبه ده چه ادب دوه حصے ددین وی، حضرت مخلدبن حسینؒ فرمائی: مونږه دکثرت حدیث په نسبت ادب ته ډیر محتاجه یو، حضرت شیخ عبدالقادر جیلانیؒ فرمائی "بے ادب دخالق او مخلوق دواړو معتوب او مغضوب وی" لیث بن سعدؒ به اصحاب الحدیث ته فرمائیل دعلم نه مخکښ عقل او وقار حاصل کړئ۔ (جامع بیان العلم وفضله ص۹۸)

## ادب دشعراء په نظر کښ

په اهمیت دادب باندے په مختلفو ژبو کښ ډیر اشعار وئیلے شوی دی

دلته صرف مشت نمونه خروارپه طوربو څو اشعار نقل کولے شی۔

؎ لَیسَ الفَخرُ بِالمَالِ وَالنَسَبِ : اِنّمَا الفَخرُ بِالعِلمِ وَالاَدَبِ

مال اونسب دفخر شے نه دے بلکه علم اوادب دفخر څیز دے۔

؎ از خدا خواہیم توفیق ادب : بے ادب محروم ماند از لطف رب

مونږه دالله تعالی نه دادب توفیق غواړو ځکه چه بے ادبه دالله تعالی دمهربانۍ نه محروم وی۔

؎ باادب باش تا بزرگ شوی : کہ بزرگی نتیجہ ادب ست

مؤدب شه چه بزرگ شے چه بزرگی دادب نتیجه ده۔

؎ بے ادب تنہا نہ خود را داشت بد : بلکہ آتش درہمہ آفاق زد (مثنوی)

؎ ادب کی ضو سے روشن زندگی ہے : ادب گل ہے تو گلشن زندگی ہے

ادب سے زندگی جدا کیونکر ہو : ادب چولی ہے دامن زندگی ہے

ہے ایسا ساتھ ان دونوں کا گویا : ادب دل ہے تو دھڑکن زندگی ہے

(حضرت نثار احمد فتحیؒ)

داخو دمجموعی حالت په اعتبار سره دادب اهمیت بیان شو چه یو مسلمان له پکاردی چه هغه ددین په هر کار کښ دادب لحاظ اوساتی ځکه په قرآن او حدیث کښ دهرشی آداب بیان شوی دی لکه د بارګاهی الٰهی آداب ،دبارګاهی رسالت آداب، دوالدینو آدب وغیره دلته زمونږه پیش نظر هغه آداب دی کوم چه دحصولِ علم سره تعلق ساتی۔

# د اُستاذانو ادب

؎ انداز بیان گرچہ بہت شوخ نہیں ہے: شاید کہ اتر جائے ترے دل میں میری بات (اقبال)

او دا یو ناقابل انکار حقیقت دے چه د حصولِ علم په اسبابو کښې لوئ سبب د اُستاذانو ادب او احترام دے ځکه چه ددوی په ذریعه سره انسان ته علم منتقل کیږی، نو ددوی په ادب او احترام سره یو طالب العلم د ترقئ اعلی منازلو ته رسیدے شی او ددوئ په بے ادبئ سره به یو طالب علم خدانخواسته د پستئ او ذلت په کندو کښې غورځیږی لکه فرمائی "مَاوَصَلَ مَنْ وَصَلَ اِلَّابِالْحُرْمَةِ، وَمَاسَقَطَ مَنْ سَقَطَ اِلَّابِتَرْکِ الْحُرْمَةِ" یعنی څوک چه اعلی مراتبو ته رسیدلی دی نو د ادب په وجه او چه غورځیدلی دی نو په ترک د ادب سره۔

؎ دی گئی منصور کو سولی ادب کے ترک پر: تھا انا الحق حق مگر اک حرف گستاخانہ تھا (امیر)

زمابه مکمل کوشش وی چه د اُستاذانو ادب د کتابو نو ادب او د مدرسے او درسگاه وغیره آداب بنه واضحه شی ځکه په دے کښې اکثر کوتاهی کیږی او طلباء غیر شعوری طور باندے د علم نه محرومه شی اګرچه د هرے موقعے آداب انسان په خپله سوچ کوی نو مخے ته راځی ځکه بعض آداب د ذوق او وجدان سره تعلق ساتی لکه فرمائی:

"اَدِّبُوا النَّفْسَ اَیُّهَا الْاَصْحَابُ :طُرُقُ الْعِشْقِ کُلُّهَا آدَابٌ"

اے ملګرو خپل ځان ته ادب وښائے ځکه د عشق تولے لارے اداب دی۔

# آحادیث کریمه در آداب اُستاذ

(۱) اَکْرِمُوْا الْعُلَمَاءَ فَاِنَّهُمْ وَرَثَةُ الْاَنْبِیَاءِ فَمَنْ اَکْرَمَهُمْ فَقَدْ اَکْرَمَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ (جابرؓ، کنز العمال)

دعلماءِ کرامو عزت او کړئ ځکه دوی دانبیاء علیهم السلام وارثان دی نو چاچه ددوی اکرام او کړو نو یقینا ده دالله تعالیٰ او درسول اکرم صلی الله علیه وسلم او کړو۔

نو بنه واضحه شوه چه دخپل اُستاذ عزت او احترام په اصل کښې د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم عزت او احترام دے ځکه اُستاذ خو عالم وی او عالم دانبیاء وارث وی نو دکار نبوت په وجه ددوی حقوق په شان د انبیاء شول لکه دحضور صلی الله علیه وسلم په باره کښې ارشاد ربانی دے: دهغه نه مخکښې کیږئ مه، دهغه مخے ته تیزے خبرے مه کوئ او هغه ته داسے آواز مه کوئ لکه څرنګ تاسو یو بل رابلئ او چه دهغه سره په مجمع کښې ناست یئ نو بغیر اجازته مه پاڅئ۔

امام قرطبیؒ هم "لاتَرْفَعُوْا اَصْوَاتَکُمْ" لاندے لیکلی دی چه دنبی علیه السلام دقبر شریف خواته دخپل آواز پورته کول بعض علماؤ مکروه ګنړلی دی، دغه شان دعلماؤ په مجالسو کښې هم دهغوی دشرافت د وجے نه آواز اُوچتول مکروه دی ځکه چه دوی دانبیاء علیهم السلام وارثان دی۔

(۲) عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ: ثَلَاثٌ لَا یَسْتَخِفُّ بِهِمْ اِلَّا مُنَافِقٌ:

ذُوالشَّيْبَةِ فِیْ الْاِسْلَامِ، وذُوالْعِلْمِ وإمَامٌ مُقْسِطٌ (رواه الطبرانی،ترغیب ۱/۶۵) دحضور صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے چہ درے کسان داسے دی چہ د هغوی سپک گنړل والا صرف منافق کیدے شی (نه چه مسلمان، هغه درے کسان دادی) یو بوډا مسلمان، دویم عالم، دریم انصاف کونکے حاکم۔

(۳) ورُوِی عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَتَعَلَّمُوا لِلْعِلْمِ السَّكِيْنَةَ وَالْوَقَارَ، وَتَوَاضَعُوا لِمَنْ تَعْلَمُوْنَ مِنْهُ (رواه الطبرانی فی الاوسط،ترغیب ۱/۵۶) علم حاصل کړئ او دعلم دپاره متانت او وقار پیدا کړئ او دچا نه چه علم حاصل کړئ دهغه مخے ته عاجزی او تواضع اختیار کړئ۔

(۴) وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم قَالَ: لَيْسَ مِنْ اُمَّتِیْ مَنْ لَمْ يُجِلَّ كَبِيْرَنَا، وَيَرْحَمْ صَغِيْرَنَا، وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا (رواه احمد باسناد حسن، ترغیب ۱/۶۴) چه څوک زمونږه دمشرانو تعظیم او نکړی او په ماشومانو رحم او نکړی او دعالم ادب او نکړی هغه زمونږ نه نه دے۔

(۵) لَيْسَ مِنْ اَخْلَاقِ الْمُؤْمِنِ التَّمَلُّقُ وَلَا الْحَسَدُ اِلَّا فِیْ طَلَبِ الْعِلْمِ (کنزالعمال للمتقی الهندی) دمؤمن داخلاقو نه دانه دی چه دطلب علم نه علاوه بل کار کښ چاپلوسی او کړی۔

(۶) حضرت علیؓ به دأستاذ دتعظیم متعلق فرمائیل "اَنَا عَبْدُ مَنْ عَلَّمَنِیْ حَرْفًا وَاحِدًا اِنْ شَاءَ بَاعَ وَاِنْ شَاءَ اَعْتَقَ وَاِنْ شَاءَ اسْتَرَقَّ" (تعلیم المتعلم) زه

دهغه چاغلام يم چه ماته ئے يو حرف او خودونواوس دهغه خوښه ده که خرڅوی م که آزادوی م او که غلام م ساتی۔

(۸) "عن ابی امامة الباهلی رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ مَنْ عَلَّمَ عَبْدًا اٰيَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ فَهُوَ مَوْلَاهُ لَا يَنْبَغِىْ لَهُ اَنْ يَخْذُلَهُ وَلَا يَسْتَاثِرَ عَلَيْهِ"

چه څوک يو ايت دکتاب الله چاته اوښائی هغه دده آقا دے لهذا دغه طالب العلم لره جائزنه دی چه هغه دده توهين، بے عزتی او کړی يا پرے خان اوچت حساب کړی ۔(الطبرانی الکبير)

## اقوالِ صحابہؓ، تابعينؒ اوتبع تابعينؒ درحقوق اُستاذ

(۹) حضرت عبدالله بن عباسؓ به بعض اوقات دخپل اُستاذ حضرت زيدبن ثابتؓ سورلی دادب اواحترام په غرض سره نيو له۔

(۱۰) امام شافعیؒ فرمائی: چه ما دډيرادب په وجه دخپل اُستاذمخے ته دکتاب پاڼړه نشوه اړولے دومره په قلاره به م اړوله چه اُستاذ ئے آواز وانوری۔

(۱۱) امام احمدبن حنبلؒ به دادب دوجے نه دخپل اُستاذنوم نه اخستو بلکه دهغه ذکربه ئے په کنيت سره کوو(تهذيب)

(۱۲) امام ربيعؒ فرمائی: ماکله هم دخپل اُستاذامام شافعیؒ مخے ته داوبو څکلو جرأت نه دے کړے۔

(۱۳) امام ابويوسفؒ فرمائی: چه ما دبزرګانو نه اوريدلی دی چه کوم طالب العلم دأُستاذ قدرنه کوی نوهغه هيڅکله کاميابيدلے نشی۔

ــ که څو ک لارغواړی خدائے وهم رسُول ته

عـالِمان دی ددے لارے رهنما

(۱۴) عـلامه شعرانی ؒ فرمائی:دطالب العلم دکوتاهئ دپاره داکافی ده چه هغه دأستاذادب اونکړی۔

(۱۵) امـام احمدبن حنبلؒ یو ځل ډېره لګولے وه چه په خبروکښ ددوی دأستـاذابـراهیم بن طمعانؒ ذکرراغلونوددے نوم داوریدلوسره فوراًنیغ کیـنـاستـواووے فـرمائیل:چه دا د بے ادبئ خبره ده چه دمشرانونوم واغستلے شی اوموږه ډېره لګولی وی ۔

(۱۶) دامـام بـخاریؒ نه پوښتنه اوشوه چه ستاپه زړه کښ څه ارمان شته ؟هـغـوی اوفـرمـائـیـل: زمـا زړه غـواړی چـه زما أُستاذعلی بن مدینیؒ ژونـدے وے اوزه دهـغه په خدمت کښ حاضرشوے وے اودهغه صحبت مِ اختیارکړے وے ۔

(۱۷) ابـن وهـبؒ به فرمائیل:چه ماته څه مِلاؤشوی دی نودامام مالکؒ دادب دوجے نه مِلاؤشوی دی ۔

(۱۸)شعبهؒ به فرمائیل:چه دچانه مایو حدیث هم اوریدلے زه دهغه غلام یم (جامع بیان العلم وفضله ص۹۸)

(۱۹)حـضرت علیؓ فرمائی دعالم حق دادے چه نه پرے دډیرو سوالونو بوج واچوے،نه یے په جواب ورکولومجبورکړے،نه د هغه رازښکاره کړے،نه دهغه عیب جوئی اوکړے که هغه خطا شی نوغذریے قبول کړه،چه څوپورے امرالهی باندے استوار دے نوعزت یے کوه دهغه

نه مخکښ مه کینه او چه ضرورت راپیښ شی نو د تولو نه مخکښ دهغه دخدمت دپاره تیار شه۔

(۲۰) ابن وهبؒ به ونیل: دامام مالکؒ داداب دوجے نه چه ماته څه مِلاو شول، هغه ددوی دعلم نه افضل دی (حواله بالا)

(۲۱) دحضرت علیؓ ارشاد دے چه کله ته دیو عالم خواته لاړشے، نو اول عالم ته خصوصی او بیانورو خلقو ته سلام او کړه، دعالم مخامخ مؤدِب کینه، په لاسونو سره اشارے مه کوه، سترګے یو خوابل خوا مه اړوه، داسے مه وایه چه فلانئ خبره داسے نه ده، فلانی داسے بیان کړے ده، دعالم سره تکرار مه کوه، په سوالاتو سره یے مه پریشان کوه، ځکه دعالم مثال دهغے کهجورے دونے پشان دے چه دغُنچکو نو نه ډکه وی او خپله خوږه میوه پرله پسے را څځوی۔ (جامع بین العلم وفضله)

ے میرے تحریر طبع یار کو بے چین کرتی ہے: سبب کیا ہے، وہی کہتا ہوں، جو دل پر گزرتی ہے

## زړه رابیدارونکی متفرق آداب اُستاذ

دأستاذ ادب، احترام او تعظیم داد ے چه دهغه نه مخکښ دے تلل نه کوی، دهغه په ځائے دے نه کینی، بعض ناپوهه طلبه چه څنګه د اُستاذ سترګے پناه شی نو دادهغه په ځائے ډډه ولګوی که دأستاذ طبعیت ناسازوی نو هغه نه دِتپوسونه نه کوی، دوخت خیال دے ساتی، بے وخته کورته دورتللو نه دے ځان وساتی، دأستاذ مخے ته دِډیرے خبرے نه کوی، که ضرورت وی نو نهایت په ادب سره دے

پوښتنه او کړي د "ولې" او دا خبره مونږه نه تسليمو وغيره الفاظ دې دهغه مخې ته نه وائي۔

او کله چه هغه خبره کوي نو ډيرپه غورسره دې اوري ،هسې نه چه دهغه زړه ته تکليف اورسي۔يو بزرګ فرمائي :چه دأستاذمخې ته په ادب سره کينه دهغه سره برابريوځائې مه کينه که هغه اجازت درکړي نوهم، البته که خفه کيدونوباک نشته په يوځايې کيناستوکښ۔يو بزرګ فرمائي:خپلوأستاذانوته بدې ردې مه وائې ګني چه تاسو أستاذان شئ نوهم ستاسې شاګردان به په تاسوپسې ردې بدې وائي، که أستاذپه څه خبره خفه شي نوفوراًدهغه راضي کول په نهايت عاجزي سره ضروري دي ګني انسان دعلم نه محرومه کيږي اوپه دې کښ دې شرم نه کوي چه زه به اوس دأستاذنه څنګه معافي غواړم۔ (اداب المتعلمين)

أستاذسره چه يوځائې ځې نودهغه نه مه مخکښ کيږه ۔ دأستاذ طبعيت ، منشأمعلومول اودهغې مطابق بيا کارکول، دأستاذسره چه کله ناست ئې نونهايت په ادب سره کيناستل،چه دناستې نه تواضع، انکساري اوعاجزي معلوميږي ، اوبالکل أستاذ طرفته متوجه کيدل، يوطرفته اوبل طرفته کتل ياخندل يااشاره کول ددينه سخت ځان ساتل،دأستاذمخې ته چه ناست ئې اوڅوک راشي ياڅه شُورشغب واؤرې نوهغه طرفته دکتلونه ځان ساتل،دأستاذمخې ته چه ناست ئې نونستونړي نه راپورته کول اودلاسو،خپو ،ګنتې ،يابټن ، جامو

یا کیرے ، خُولے، پُوخے سره نه مشغولیدل دګوتونه تقے نه ویستل ، په زمکه کرښے ویستل یادځه سره لوبے کولونه ځان ساتل ، دکاغذ، قلم وغیره سره فضول ځه حرکت نه کول، دأُستاذمخے ته ډډه لګول، خپے غځول، یاپه ترپانی باندے لاسونه کیدے اوډډه ولګوے یاپه لاس سره تکیه لګول، داهم بے ادبی ده ،زیاتے خبرے مه کوه ، بغیر دمجبورئ نه غاړه تازه کول، لاړے یاخراچکے وغیره تُوکل ، دفرنجی، ارکمی سره خوله پټول، دأُستاذمخے ته چه ځے نوچه ښه صفا ستهرا نے ،مسواک دِاستعمال کړے وی،نسوار اونور بدبودار څیزونه دأُستاذ مخے ته نه استعمالول، که أُستاذڅه خبره اوکړی نودهغے په مقابله کښ دبل چاخبره بطورتردیدمه کوه چه فلانے خوداسے وائی۔

ع زماخواله چه راځے نودبل چاخبرے مه کوه

دأُستاذدقابل اعتراض اقوالواوافعالوتاویل کول اودهرقسمه بدګمانی نه ځان ساتل،بدګمانی داده چه ستاپه زړه کښ دأُستاذ مینه محبت، تعظیم کم شی اودنفرت صورت پیداشی اودالویه دنقصان خبره ده ځکه دأُستاذ اوشاګرپه مینځ کښ محبت ضروری دے چه په علم کښ برکت او دأُستاذعلم شاګردته منتقل شی ځکه چه محبت وی نو د مدمقابل اثرات یعنی علمی ذوق وشوق اوعلمی رنګ به منتقل کیږی اود مسلمان سره په صحیح محبت اللهتعالیٰ اجرهم ورکوی، دبدګمانئ علاج داد ے چه ددے دازالے کوشش کوه اوپه زړه کښ ورله ځائے مه ورکوه، حدیث کښ راځی "ثَلَاثٌ فِیْ الْمُؤْمِنِ وَلَهٗ مِنْهُنَّ

مَخْرَجٌ فَمَخْرَجُهُ مِن سُوءِ الظَّنِّ انْ لَايُحَقِّقَهُ" (طبرانی من حدیث حارثة بن النعمان بسند ضعیف) درے خبرے په یو مؤمن کښې هم راغلې او دغے نه دوتلو لاردادہ چه په زړه کښې ځائے دوتلو لارشته دے نو بدګمانئ نه دوتلو لارداده چه په زړه کښې ځائے مه ورکوه، حُسن ظن خودعام مسلمانانو سره هم ضروري دے نو اُستاذ سره خوبیاډیرزیات چه په دنیا کښې دعلم دمحرومئ سره اوپه آخرت کښې دبدګمانئ دګناه سره مخامخ نشے ،دأستاذمخے ته ځان بالکل متاووں اوخپل شان،نسب ، مالداري وغیره بالائے طاق ایخودل اودأستاذ نهایت ادب کول،په عمومي مجلس کښې چه سلام اوکړے نوبیا أستاذته خاص سلام هم اوکړه اوکه أستاذځه خبره کوله نوبیاسلام مه کوه ،دأستاذپه تعظیم اوادب کښې داهم داخل دی چه څوک دهغه غیبت اوکړی نوته دهغه تردیداودأستاذحمایت اوکړه، اوکه دتردیدطاقت دے نه وونودغه مجلس نه پاځه ، دأستاذپورا اطاعت کول،دانه چه یوخبره اومنے اوبله پریګدے البته دشریعت نه خلاف خبره نه دی منل پکار ځکه حدیث کښې راغلې "لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ" (رواه احمدورجاله رجال الصحیح) چه دالله تعالی نافرمانی راځی نوپه دے کښې دمخلوق خبره نه منل اګرکه مورپلار وی أستاذیاامیروی،أستاذته دروغ نه وئیل اونه دهوکه کول اونه دخپلے خبرے تاویل کول،دأستاذسره مینه اومحبت کول اوپه زړه کښې هیڅ قسم نفرت نه دی پیداکول پکار،ځکه دے سره دعلم برکت ځی اودأستاذپه خوشحالئ اومینے محبت سره برکت په علم

کښې راځي، اُستاذته قولاً يا عملاً تکليف نه رسول، کنې داسې طالب العلم چه اُستاذته څه قسم تکليف اورسوي دعلم دبرکت نه محرومه کيږي او ډير کوشش باوجودهم دعلم ددولت نه فائده نشي اغستې، اُستاذکه دطالب علم دفائدې دپاره وهل اوکړي نو اُستاذسره نفرت ساتل يادهغه غلط نومونه او القاب ايخودل دعلم نه دمحرومئ سبب دې۔

دابتدائي کتابونو اُستاذانو ادب هم ډيرضروري دې اکثرپه دې کښې طلباء کوتاهي کوي، دکوم اُستاذانو نه ئې چه آخري کتابونه ويلي وي هم هغوي اُستاذان کنړي حالانکه دابتدائي اُستاذانو اهميت ددوي نه هم زيات دې ځکه په دغه وخت کښې طالب العلم دشدُ بُد نه خبرنه وي او ددوي په محنت سره دِحدته ورسي چه بياپه قرآن اوپه حديث پوهيږي۔

حضرت مولانا محمدقاسم نانوتويؒ باني دارالعلوم ديوبند فرمائي چه انسان ته څه حاصل شي نودادُاستاذپه وجه وي نودوي به دفارسئ دُاستاذ هم ادب کوواوفرمائيل به ئې چه څوک دُاستاذادب نه کوي نوهغه علم نشي حاصلولې ځکه دمحقيقينو قول دې "مَنْ لاادَبَ لَهُ لاعِلْمَ لَهُ" تهانويؒ به په وعظونو کښې دابتدائي اُستاذانو نومونه اغستل۔

دعليؓ قول او حديث "مَنْ عَلَّمَ عَبْدًاايَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ فَهُوَمَوْلاهُ " مخکښې تيرشو، چه اُستاذکمره يادرسگاه کښې ناست وي نوداخليدووخت

کښې اجازت اخله، اُستاذ سزا درکوی او ته هغے ته نه تیاریږے نو دا مو مناسب نه دی، دیو اُستاذ په خاص عادت ، انداز، تکیه کلام، خاص لهجه پسے خندل او پشی شاه پیښے کول مناسب نه دی، چه د اُستاذ سره خبرے کوے نو په داسے انداز کښې کوه چه هغے نے واوړی.

په چُټیانو کښې د اُستاذانو سره مِلاوَشه هغوی ته د دعاګانو درخواست او کړه او هدایات ترینه واخله او بیا د هغے مطابق کور ته څه، اُستاذان صرف په نوم سره مه یادوه بلکه اُستاذ، شیخ ، مولانا، محترم ورسره لکوه، کوم اُستاذ چه دسبق په اوریدلو ویلو کښې یاد کلاس د پاره څه قانون جوړ کړی نو هغه بدنه کنړل هغه به ضرور د طلباؤ د پاره فائده مندوی، که یو اُستاذ د څه عذر په وجه بے وخته سبق ووائی نو دا بدنه کنړل، دیو اُستاذ د نرمئ نه غلطه فائده نه دی اغستل پکار او نه دیو اُستاذ د سختئ نه بدظن کیدل، دے سره به د علم د سرمایه نه محرومه شے، که د اُستاذ نظریه ستا د نظریے نه خلاف وی نو د هغه غیبت نه کول او نه هغه بد کنړل. که دیو اُستاذ د ویلو انداز، د سبق رفتار، د وخت پابندی وغیره ستا خوښ نه وی نو د هغه غیبت یا بد کنړل نه دی پکار، که اُستاذ یو طالب العلم ته د شرافت او قابلیت په وجه توجه ورکوی نو په هغه باندے د طرفداری ګمان مه کوه، خپل ځان د اُستاذ محتاجه ګنړه، د مدرسے د ټولو اُستاذانو بلکه د ټولے عملے ادب او احترام طالب علم لره پکار دے (تحفة المتعلمین)

طالبات چونکه پرده کښې وی نو هغوی دِهم خلاف ادب اُمورو نه ځان ساتی.

## دمشهور اُستاذ ادب اکثر بوجه شُهرت کیږي

دحضرت مولانا تهانويؒ په مواعظو کښې دي: چه طلباءِ کرام دأستاذانو ادب نه کوي او دکومو اُستاذانو ادب چه کوي نو هغه دأستاذئ په وجه نه کوي بلکه دبزرګئ او شهرت په وجه يې کوي که دأستاذ ادب يې کولے نو چه کوم اُستاذ بزرګ او مقتدا نه دے دهغه ادب به يې هم کولے څکه د اُستاذئ حق هغه ته هم حاصل دے (التبليغ ۱۲/۱۳)

## اُستاذ ته دڅه ورکولو، اخستلو او ورسره په لاره دتللو آداب

چه اُستاذ له څه ورکوے نو په ښی لاس سره او چه څه ترينه اخلے نو هم په ښی لاس سره يې اخله، ورکونکے څيز که پاڼړه، فتوىٰ، مکتوب شرعي يا کتاب وغيره وو او اُستاذ لوستلو نو اول يې کولاؤ کړه او بيائے اُستاذ له ورکړه، البته که اُستاذ په نه کولاويدو خوشحاليدونو بيا ئے بندور کړه۔ او چه څه درکوي نو جلت يې ترينه اخله، اُستاذ له چه څه ورکوے نو دلرے نه يې مه ورکوه چه اُستاذ په لاس او کدولو مجبوره نشي بلکه نزدے ورشه او وريے کړه۔ چه قلم يا مشمانړئ ورکوے نو په کولاؤ حالت کښې يې ورکوه، چه چاقو ورکوے نو تيره طرف اُستاذ طرفته مه کوه ياي مُتے په خپله ونيسے بلکه مُتے يې ونيسه او مُتے اُستاذ طرفته واړوه۔ چه جائے نماز ورکوے نو ورته يې خور کړه، بنديے مه ورکوه۔ چه اُستاذ سره يو ائے په لار روان يې او اُستاذ در سره

خبرے کولے نو دُاستاذ بنی یا کس طرفته شه اوپه توجُه سره یے اوره.
که په لاره کښې درسره څوک مِلاوشی او اُستاذ یے نه پیژنی نو ته ورسره
دُاستاذ تعارف اوکړه. که دُاستاذ سره په سورلئ اس، موټرسائکل
وغیره سُوریے نو خپل جسم او جامے دهغه دجسم او جامونه لرے
ساته. دکارې په سیټ کښې په خپله ډرائیور طرفته او اُستاذ شیشے
طرفته کینه وه. چه اُستاذ سره ځے نو دشپے په وخت مخکښې اود
ورځے ترینه شاته ځه البته که دموقعے دمناسبت په وجه بل صورت
اختیار کړے شی. که کنره وی نو دُاستاذ، په لاس سره د مخکښې
او روستو نه حفاظت کوه.

(تذکرة السامع والمتکلم بآداب العالم والمتعلم لابن جماعة ۱۱۰)

## اُستاذانو ته دعاء

په تاباندے چه څوک څه دُنیاوی احسان اوکړی نو ته دهغه څومره
ثناخوان ئے او هغه مُحسِن گنړے، ددے په مقابله کښې علم
داخو سبب دحیات ابدی دے نو په دے وجه د اُستاذ ډیر احسان
مندکیدل پکاردی او هغه له ددے احسان بدله په مال، جان سره
ورکړه او که دومره وس دے نه کیږی نو کم ازکم دهغه دپاره خودعائے
خیر کوه کنی "مَنْ لَمْ یَشْکُرِ النَّاسَ لَمْ یَشْکُرِ اللّٰہَ" (مسند احمد، رجاله
رجال الصحیح، مسند ابو هریرة) چاچه دمخلوق شکریه ادانه کړه نو دے
دالله تعالیٰ شکریه ادانه کړه کښې به راشے.

دابن عمرؓ نه روايت دے "مَنْ صَنَعَ اِلَيْكُمْ مَعْرُوْفًا فَكَافِئُوْهُ فَاِنْ لَمْ تَجِدُوْا مَاتُكَافِئُوْنَهُ فَادْعُوْا لَهُ حَتّٰى تَرَوْا اَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوْهُ" (ابو داود، باب عطية من سال بالله، صحيح الاسناد، قاله الالباني) چه څوک په تاسو احسان اوکړی نو دهغه داحسان بدله ورکړئ کنی دهغه دپاره دعاء کوئے تردے پورے چه ستاسے خیال راشی چه مونږه دهغه داحسان بدله ورکړه۔

نو اُستاذان خواکه حیات وی او که وفات نو دعاء ورته کول ضروری دی، داکابرینو علماؤ سره به ددے څومره احساس وو لکه امام ابویوسفؒ به همیشه دخپل اُستاذانو دپاره دعائے مغفرت کوله اوفرمائیل به ئے چه ماکله هم نفل یافرض مونځ کړے نو دأستاذانو دپاره مِ دعاء کړے ده۔

امام احمدبن حنبلؒ به فرمائیل:چه مادڅلویښت کالوپورے داسے یومونځ نه دے کړے چه دهغے نه روستومادامام شافعیؒ له دعاء نوی کړی او دومره دعاء به ئے ورله کوله چه یو ځل ترینه خوی تپوس اوکړو چه داشافعیؒ څوک دے؟نو دوی جواب ورکړو چه بچیه! شافعیؒ ددنیادنمرپه رنګ او دخلقو دصحت پشان وو، ووایه چه په دے صفاتو کښں دهغه څوک ثانی شته؟

دأستاذدپاره په مانځه کښں هم دعاء کولے شے لیکن په فرائضو کښں احتیاط بهتر دے(شامی ج۱)

یحیٰی بن سعیدؒ پنبه فروش فرمائی:چه مادڅلویښت کالوپه مونځونو کښں دامام شافعیؒ دپاره دعاء کړے ده۔

زما عزیز طلباء وطالبات! ددینه عبرت اخستل پکاردی چه زمونږه دمشرانو سره دخپلو اُستاذانو څومره قدرووراځی! چه مونږه هم دهغوی په نقش قدم روان شواو خپل اخرت اُستاذانو ته په دعاګانو سره منور او روښانه کړو۔

## د اُستاذانو د متعلِّقِیْنُو تعظیم او ادب

دُاستاذ په عزت او احترام کښې داهم داخل دی چه دهغه پلار، بچو، خاندان او دوستانو سره مینه محبت او دادب او احترام معامله کوئے خکه چه ددوی په عزت او احترام سره به اُستاذته خوشحالی رسی او داپه علم کښې دبرکت سبب دے، صاحب هدایه امام برهان الدینؒ یوقصه بیان کړے ده چه دبخارئ په ائمو کښې یو لوئ عالم ددرس په مجلس کښې یو ځل بار بار پاځیدو خلقو ترینه ددے وجه اوپوښتله نو دوی اوفرمائیل چه ځمادُاستاذ خوئ په دغه کوڅه کښې لوبې کولے نو چه کله به لوبو کښې زما مخے ته راغے نوزه به دُاستاذ دتعظیم په وجه دهغه په لیدلو سره اودریدم (تعلیم المتعلم)

## د اُستاذانو خِدمت

یہی ہے عبادت یہی دین وایمان : کہ کام آئے دنیا میں انسان کے انسان (اقبال)

مادیرو اُستاذانو نه اوریدلی دی چه زه به دطالبئ په زمانه کښې ډیر کمزورے اُوم خو دُاستاذادب په وجه نن ستاسو مخے ته ولاړیم، داسے ډیر طلباء مونږه اولیدل چه دطالبئ په زمانه کښې ډیر کمزوری

وولیکن دأستاذ خدمت په وجه هغوی دعلم اعلیٰ درجو ته ورسیدل، نو دأستاذ خدمت ډیر اهمیت لري خو دخدمت هم خپله طریقه وی که بغیرد طریقے نه او کړے شی نو په ځائے دادب أستاذ ته تکلیف رسی۔ داخبره مخکښې هم تیره شوه چه دأستاذ مزاج معلومول پکاردی چه دهغه دوینانه بغیر دهغه خدمت او کړے شی، نه داچه دأستاذ غږ ته منتظرئے، نو دټولو نه مخکښې دخدمت دپاره دأستاذ سره مناسبت، تعلق او ربط پیدا کول پکاردی، د أستاذ خدمت غنیمت ګنړل، دذاتی مفاد دپاره نه وی بلکه خالص دالله تعالی درضا دپاره وی، بعض طلباء چه دأستاذ په خدمت مامورروی ځان دمدرسے دقوانینو نه مستثنیٰ ګنړی نو دانه ده پکار او نه ددے په وجه څه غلطه فائده اوچتول، مثلاً دخپل ځان دپاره ددُنیاوی اشیاء حصول دأستاذ په نوم کوے نو دا د أستاذ دپاره دبدنامئ سبب ګرځی، او که چرته ستاڅه ضرورت وی نو دهغه نه په اجازت لاړشه او هغه ته ووایه چه نن به فلانے خدمت او کړی یعنی بل په خدمت باندے مقرر ول او بیا تلل، دأستاذ معمولات معلومول ضروری دی چه په خدمت کولو کښې تاته او هغه ته اسانی وی او چه کوم کار په صحیح طریقے سره کولے شے نو هغه کوه هسے نه چه کار درنه وران شی نو د أستاذ دخفګان سبب به او ګرځی، د خدمت په وجه ستادینی نقصان نه کیږی مثلاً دأستاذ خدمت کوے او فرض مونځ پکښې قضا کړے، د أستاذ دخدمت او دمجلس نه بے اجازته نه پاڅیدل، که أستاذ تاته کوم

يو كار حواله كړي نو هغه پخپله كول، كه كار دے او كړو نو اُستاذته خبرور كړه چه هغه كارِم او كړو، خدمت هسے هم ډېر چاپكار دے او باعث داجرو ثواب دے او د اُستاذ خدمت خو نورهم دعلم دترقۍ دپاره ذريعه ده. حضرت مولانا قاسم نانوتوئ له دحيدرآباددكن دوه شهزادګان دسبق دپاره راغلل، كله كله به دوي په هغوخپے چاپي كولے او فرمائيل به ئے چه ماته ددے څه ضرورت نشته ليكن څه او كړم علم داسے حاصليږي (آپ بيتي ٦/٣٨)

## د خِدمت فضيلت

صحابه كرامؓ ديوے غزانه واپس شول نو ديو صحابي صفت ئے بيان كړو چه يارسول الله! "مَارَاَيْنَامِثْلَهٗ اِنْ نَزَلَ فَصَلٰوةٌ وَّاِنْ ارْتَحَلْنَا فَقِرَاةٌ وَّصِيَامٌ لَايُفْطِرُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ كَانَ يَكْفِيْهِ كَذَا؟ قَالُوْا نَحْنُ قَالَ كُلُّكُمْ خَيْرٌ مِنْهُ (كتاب الجهاد لابن مبارک ص١٨٠) چه مونږه ددے پشان څوک نه دے ليدلے كه قافله به ودريدله نو مونځ به ئے كوو او كه قافله به روانه شوه نو تلاوت به ئے كولو او مسلسل روژه ئے نيوله نو حضور صلى الله عليه وسلم او فرمائيل: چه دهغه خدمت به چا كوو؟ نو دوي او فرمائيل چه مونږه نو نبي صلى الله عليه وسلم او فرمائيل تاسو ټول دهغه نه بهتريئ۔

عامر بن عبدقيسؒ به چه كله دجهاد دپاره اووتلو او يو ټولگے به ئے اوليدلو نو هغوي ته به ئې اُوئيل چه زه ستاسو ملګرے كيږم خو په

دے شرط سره" اَكُوْنُ لَكُمْ خَادِمًا لَايُنَازِعُنِيْ اَحَدٌمِنكُمْ الْخِدْمَةَ" چه زه به خدمت کوم او څوک به ماسره دے کښې جګړانه کوی (کتاب الجهادص۱۲۹) رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم به هغه انسان ته دعاء کوله چه هغه به دخپلو ملګرو خدمت کولو "وَكَانَ يُصَلِّيْ عَلَى الرَّجُلِ الَّذِيْ يَرَاهُ يَخْدِمُ اَصْحَابَهُ" مجاهدؒ او فرمائیل "صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ لَاخْدِمَهُ فَكَانَ يَخْدِمُنِيْ" زه به دخپل اُستاذ ابن عمر سره دهغه دخدمت دپاره ملګرے شوم نوهغه به زما خدمت کولو "عَمَرو بن عتبةؒ كَانَ يَشْتَرِطُ عَلٰى اَصْحَابِهٖ اَنْ يَكُوْنَ خَادِمَهُمْ" عمرو بن عتبه چه دکوفے لوئ تابعی وو ده به شرط لګولو په ملګرو چه زه به ستاسو خادم یم (کتاب الجهاد۱۷۸)

## د اکابرینو علماؤ دخپلو اُستاذانو خِدمت

امام اعظم ابو حنیفهؒ به دخپل اُستاذ حماد بن سلمهؒ خدمت کولو چه دهغه دخدمت صفت دحمادؒ خور عاتکه کوی فرمائی: چه امام ابو حنیفهؒ به زمونږه دکور مالوچ صفا کول او زمونږه دپاره به ئے دبازار نه شوده، سبزی راوړله دے پشان نور کارونه به ئے کول۔

ددے خدمت په وجه الله تعالی کوم مقام او مرتبه ورکړه چه نن د رڼړا ورځے په شان دے۔

قاضی امام فخر الدین ارسابندیؒ چه د مرو رئیس الائمه وو د اُستاذ دخدمت برکات څه داسے بیان کړی دی: مابه دخپل اُستاذ قاضی امام ابوزید دبوسیؒ ډیر زیات خدمت کولو ما دیرش کاله دهغوی ډوډئ

پخه کړه، خو ماترينه چرته خوړلے نه ده نو ددے خدمت په وجه ماته دا مرتبه مِلاؤشوه چه وس بادشاه زماسره ډیرادب اوتعظیم معامله کوی۔ (تعلیم المتعلم)

علامه انورشاه کشمیری ؒ په نیزبه دأستاذ خدمت ډیراهمیت ورو دوی په دیوبندکښ صدرمدرس ووچه کله شیخ الهند ؒ دمالټا د جیل نه آزادشودګرمی موسم وونودوی به ورته دچهت پکے راښکلوچه ددے په ذریعه سره به هغوی ته هواکیدله۔

(علامہ انورشاہ کشمیری اوران کی علمی خدمات ص ۳۴)

یوځل دشیخ الهند ؒ ډیرمیلمانه راغلل اوقیام ئے اوکدووابیت الخلاء یوه وه نوشیخ الاسلام حضرت مولانا حسین احمدمدنی ؒ به دشپے روزانه راتلو اوبیت الخلاء به ئے صفاکوله اودسحرپه وقت کښ به میلمنوته بیت الخلاء صفاپرته وه۔

اوحضرت مدنی ؒ چه ورسره کله دمالټا په جیل کښ وونودیخنی موسم ووا وبه یخے وے نودخپل شیخ الهند ؒ دپاره ئے داوبود ګرمولو داطریقه سوچ کړه چه دشپے نه به ئے اوبه په لوټه یابل شی کښ واچولے اوبیابه دسجدے په حالت کښ اوده شو،نو داسے به هغه اوبه لګے ترمے شوے اوبیابه ئے خپل اُستاذته پیش کړے اُستاذته به پته نه وه،یوځل ترینه دطبعیت دناسازئ په وجه پاتے شوے وے نوشیخ الهند ؒ ته پته اولګیده چه دا خو زماوفادارشاګردکوی۔

عزیزطلباء دامثالونه دنن صباپه طالب عِلمانوکښ موندل ډیر

مشکل کار دے الاماشاء الله بیاهم دخپل طاقت مطابق د اُستاذ ادب او احترام او خدمت هغه سعادت دے چه انسان د کامیابئ اړخ ته رسوی او د اُستاذ زړه نه چه دخوشحالی کوم آه اوځی نو طالب علم باندے دعلم وعمل هغه لارے کولاویږی چه په بل څه سره موندل ناممکن دی۔

## دفراغت نه بعد هم د اُستاذانو په خِدمت کښ حاضریدل

په مجلس د اُستاذانو به سره زرشی
که څوک کانړے وی یالوته دصحرا

د اُستاذ او شاګرد مینځ کښ چه کوم نسبت دے نو داپه "العروة الوثقی" سره تړلے شوے دے دانسبت صرف دفراغته پورے نه دے بلکه دمرګ پورے او دمرګ نه روسته دابدالاباد پورے دے، کله دطالب نه د ډیرے مُودے پورے دنه ملاقات په وجه خپل اُستاذ هم هیرشی چه داڅوک دے؟ او یا ئے پیژنی خو نوم یے ترینه هیرشی او اکثر چه کوم طالب سبق پریږدی یا بلے مدرسے ته لاړشی نو بیا د تجاهل عارفانه برتاؤ کوی یعنی چه اُستاذ اُوینی نو ځان ناغرضه کړی۔ نو په انسان باندے که هرقسم حالات راشی نو هغه به دانسبت نه کمزورے کوی مثلاً الله تعالی دغه طالب له شهرت، علمیت او مرتبه ورکړه او په اُستاذ باندے فائق شو نو بیا هم د دغه اُستاذ په حیثیت سره دا شاګرد دے نو هغه نه ځان مستحق نه ګنړل

زما عزیز طلباء و طالبات! ددینه عبرت اخستل پکاردی چه زمونږه

دمشرانو سره دخپلو اُستاذانو څومره قدر وو راځئ! چه مونږه هم دهغوی

په نقش قدم روان شو او خپل اخرت اُستاذانو ته په دعاګانو سره مَنور او

روښانه کړو۔

## د اُستاذانو د متعلِّقِینُو تعظیم او ادب

دأستاذ په عزت او احترام کښې داهم داخل دی چه دهغه پلار، بچو،

خاندان او دوستانو سره مینه محبت او دادب او احترام معامله کوئے

ځکه چه ددوی په عزت او احترام سره به أستاذ ته خوشحالی رسی او داپه

علم کښې دبرکت سبب دے، صاحب هدایه امام برهان الدینؒ یوقصه

بیان کړے ده چه دبخارئ په ائمو کښې یو لوئ عالم ددرس په مجلس

کښې یو ځل بار بار پاڅیدو خلقو ترینه ددے وجه اوپوښتله نو دوی

اوفرمائیل چه ځمادأستاذ ځوی په دغه کوڅه کښې لوبے کولے نو چه

کله به لوبو کښې زما مخے ته راغے نو زه به دأستاذ دتعظیم په وجه

دهغه په لیدلو سره اودریدم (تعلیم المتعلم)

## د اُستاذانو خِدمت

یہی ہے عبادت یہی دین و ایمان : کہ کام آئے دنیا میں انساں کے انسان (اقبال)

مادیرو اُستاذانو نه اوریدلی دی چه زه به دطالبئ په زمانه کښې ډیر

کمزورے اُوم خو دأستاذ دادب په وجه نن ستاسو مخے ته ولاړیم،

داسے ډیر طلباء مونږه اولیدل چه دطالبئ په زمانه کښې ډیر کمزوری

اونه دهغه دمتعلقینو اولادسره مقابله کول چه داُستاذدمرګ نه
پس دهغه مدرسه یادهغه وظیفه دده په لاس کښې راشی یادخپل فهم
ناقص په وجه دخپل اُستاذخبره ردکول یادهغه سره مخامخ بحث
مباحثے کول، مولانا تهانویؒ فرمائی:شاګرکه څومره هم لوئ شی نوپه
رتبه کښې خوداُستاذنه کم دے اګرچه په ظاهره لوئ معلومیږی لکه
یوسړے په خپل وړوکی ورورشوده ،سُوچه غوړی اوخوروی چه چاق
شی اوس که داوُړوکے وروړپه څوکاله کښې بنه چاق شی چه
مشروروردینه وُړوکے معلومیږی نوولے دابه په رتبه کښې هم
وړوکے وی هرګزنه بلکه مشرورور به بیاهم مشراو لوئ وی۔
داُستاذانوسره ملاقات دمحبت علامه ده په دے باندے الله تعالیٰ
ډیرخه ورکوی ۔حدیث قدسی دے "وَجَبَتْ مَحَبَّتِیْ لِلْمُتَزَائِرِیْنَ فِیَّ
وَالْمُتَجَالِسِیْنَ فِیَّ" الله تعالی فرمائی:دهغه خلقوسره زما محبت واجب
شوچه دیوبل سره زمادرضادپاره مِلاویږی او مینه محبت کوی۔(رواه
مالک باسنادصحیح وابن حبان فی صحیحه)

اودحضرت انسؓ نه روایت دے:چه حضورؐ ارشاد اوفرمائیلو "مَازَارَ
رَجُلٌ رَجُلًافِیْ اللهِ شَوْقًااِلَیْهِ وَرَغْبَةً فِیْ لِقَائِهٖ اِلَّانَادَاهُ مَلَکٌ مِنْ خَلْفِهٖ طِبْتَ
وَطَابَتْ لَکَ الْجَنَّةُ"(احیاء۲/۳۸۸)

چه کله یوسړے دبل سره دملاقات په شوق اودلیدلوپه مینه سره
مِلاویږی نودشانه ورته یوه فرشته آوازکوی چه ته پاک شولے اوپاک
صاف جنت درته مِلاؤشو۔

دامام بخاریؒ پشان شخصیت داتمنا کوی چه زما اُستاذ علی بن مدینیؒ ژوندے وے او ما دهغه صحبت اختیار کړے وے۔
امام شمس الائمه حلوانیؒ یو کلی ته تشریف راوړونو لرے او نزدے شاګردان ئے ملاقات ته راغلل سوا دامام زرنوجیؒ نه، ډیره موده روستو امام زرنوجیؒ دخپل اُستاذ سره مِلاؤ شونو دنه حاضریدلو معذرت ئے ورته او کړو، چه مورمِ بیماره وه، نو په دے وجه ستاسے ملاقات ته جوړنه شوم نو امام حلوانیؒ ورته په جواب کښې اوفرمائیل "تُرْزَقُ الْعُمرَ وَلاتُرْزَقُ رَوْنَقُ الدَّرسِ" عُمر خو به درته او ګډنصیب شی لیکن ددرس درونق نه به محرومه اوسے او همدغه شان اوشوه ولے چه هغه به اکثر اوقات په کلی کښې اوسیدلو او دمنظم درس هیڅ صورت ئے جوړ نشو(تعلیم المتعلم)

نه کتابوں سے، نه مدرسوں سے نه زر سے پیدا؛ علم ہوتا ہے بزرگوں کی نظر سے پیدا

دخبرے مطلب ئے داوو چه دمور او دُاستاذ دواړو حقونه به دِجمع کړی وے دُاستاذ ملاقات له به راغلے وے او بیا به دے عذربیان کړے وے نو ددواړو حق به اداشوے وے۔
شاه عبدالرحمن محدث پانی پتیؒ دطالبۍ په زمانه کښې دپانی پت نه سهارنپور ته راتلو نو درخصت کیدو په وخت کښې ئے دتولو اُستاذانو نه رخصت واخستو مګر یو اُستاذ چه دهغه نه ئے ابتدائی کتابونه ویلی وو، ورسره مِلاؤ نشو چه کله سهارنپور ته ورسیدو نو په سبق یادولو کښې ورته مشکلات راپیښ شول، ډیرے ورځے په دے

پریشانئ کښې تیرے شوے یو ورځ نے فکر کولو نو خیال ورته راغے
فوراً نے دے اُستاذته دنه مِلاویدو معذرت نامه ولیکله، اُستاذ ورته په
جواب کښې اولیکل چه کله ته دتولو اُستاذانو سره مِلاؤشوے اوزه
دے پریخودم نو زما خیال راغے چه زه ورته وروکے اُستاذ ښکارم
نو ځکه مِلاؤنشو اوس ستاد خط نه راته پته اولګیده زه ستاد پاره دعاء
کویم، چه څنګه داخط دوی ته مِلاؤشو نو ذهنی سکون ورته حاصل شو
او بیا ورته سبق یادولو کښې مشکل نه دے راپیښ شوے۔

## دفراغت نه بعد د اُستاذحق اوپه دے کښې کوتاهي

تهانویؒ فرمائی: داُستاذ بے ادبئ یو صورت داهم دے چه داُستاذنه
دجدا کیدونه بعدپه خپل ځان داُستاذ څه حق نه ګنړی او که منی یے
نو دعمل اهتمام نه کوی، په دے کښې ډیره ابتلاء ده نوربه څه اوکړی
اُستاذته دخط لیکلو او دخیریت معلومولو توفیق ورته هم نه
مِلاویږی، خیال کوی چه اوس څه تعلق پاتی نشو داُستاذ داحسان حق
دهغه نه داحسان صادریدو (تعلیم) پورے وی او روستو نه وی، که
داخبره وی نو دبالغ کیدونه بعدبه دمور او پلار حقوق هم رخصت شی،
اګرچه اوس داُستاذنه احسان نه صادریږی لیکن ددغه احسان
دآثاروظهورخواوس هم روان دے بلکه دے وخت کښې زیات دے
ځکه چه څه هم کمال علمی دے ددے ابتداد اُستاذهغه تعلیمی
انعام واحسان دے، غرض داناشکری ده چه خپل کار دے پوره کړو

اوجدا شوے داخو پوره خُودغرضی ده بلکه کوم حقوق چه په زمانه طالب علمۍ کښې دی هغه ټول روستو هم دی بلکه هغه ټول ژوند مستمروی۔ (اصلاح انقلاب امت ۲۸۶)

أستاذ القراء حضرت مولانا قاری فتح محمد صاحب اعمٰی پانی پتی دفراغت نه روستو دیوے مدرسے مهتمم وواو طلباؤ ته به ئے درسیات او قرأت ویلو لیکن دماسپخین نه روستو تقریبًا دیو میل په فاصله به دخپل أستاذ حضرت مولانا عبدالحلیم صاحب پانی پتی خواله تللو او علم به ئے ترینه حاصلولو۔ (تحفۃ الطلباء والعلماء ۳۶۱)

## پنځم مه جوړیږه!

(۱) کُنْ عَالِماً (۲) اَوْمُتَعَلِّمًا (۳) اَوْمُسْتَمِعًا (۴) اَوْمُحِبًّا، یعنی عالم جوړشه، یا متعلم (طالب) جوړشه، یاغورسره اوریدونکے جوړشه یامحبت کونکے جوړشه، "وَلَاتَكُنِ الْخَامِسَةَ فَتَهْلَكَ" او پنځم مه جوړیږه گنے هلاک به شے۔

(منتخب احادیث ص ۳۰۹، خورے ملغلرے ۲/۶۱، فیض القدیر شرح الجامع الصغیر للمناوی، حرف الهمزه)

## د طلباؤ عام مرض

یو مرض زمونږ په طبقه کښې دا پیدا شوے دے چه په خپل مینځ کښې ناست وی نو وائی فلانے ډیر قابل دے او هغه بل دکمے درجے والا دے یو له صفت او کړی او دنورو عیوب بیان کړی۔

## د اُستاذ مقام او مرتبه باره کښې اشعار

۔ رَاَیْتُ اَحَقَّ الْحَقِّ حَقَّ الْمُعَلِّمِ : وَاَوْجَبُهُ حِفْظًا عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٖ

د ټولو نه زیات واجب الاداء او ضروری حق په مسلمان باندے د اُستاذ حق دے۔

۔ لَقَدْ حَقَّ اَنْ یُّهْدٰی اِلَیْهِ کَرَامَةً : لِتَعْلِیْمِ حَرْفٍ وَّاحِدٍ اَلْفُ دِرْهَمٍ

د اُستاذ احق ضروری جوړیږی چه دیو حرف په خودولو باندے هم ورته زر درهمه هدیه کړے شی (بلکه د دے احسان په مقابله زر درهمه هیڅ حیثیت نه لری)

۔ اِنَّ الْمُعَلِّمَ وَالطَّبِیْبَ کِلَاهُمَا : لَایَنْصَحَانِ اِذَا هُمَا لَمْ یُکْرِمَا

بے شکه اُستاذ او ډاکټر خیر خواهی نه کوی، ترڅو پورے چه د هغوی عزت او نکړے شی۔

۔ فَاصْبِرْ لِدَائِکَ اِنْ جَفَوْتَ طَبِیْبًا : وَاقْنَعْ بِجَهْلِکَ اِنْ جَفَوْتَ مُعَلِّمًا

پس صبر کوه په بیمارئ خپله باندے که چرے د طبیب سره د بداخلاقی معامله کوے او په خپل جهالت باندے صبر او کړه که چرے د اُستاذ بے ادبی کړی وی۔

۔ عبدالرحمن بابا فرمائی:

عالمان دی روښنائی د دے دُنیا : عالمان دی د تمام جهان پیشوا

## د مدرسه بدلولو بے برکتی

مخکښې صفحاتو کښې د اُستاذ د ادب په باره کښې د علماؤ اقوال او

تاثرات ذکرشول چه دأستاذدهرقسم خفگان نه خان ساتل، چه په هغه
کښې مدرسه بدلول هم دی ځکه دِسره أستاذانوته ډیرتکلیف رسی اودا
بیاپه علم کښې دبے برکتئ سبب ګرځی، نوصرف دخوراک څکاک
دکمې په وجه یاداوسیدلو دناخوخئ په وجه یاڅه دنورعیش وآرام
دکمئ په وجه مدرسه پریخوستل ډیرناخوبه عمل دے، لهذاپه
سوچ اوفکرسره دمدرسے انتخاب کول پکاردی اوبیاپه هغے ثابت قدم
اومضبوط پاتی کیدل مکرداچه څه شرعی عذرراپیښ شی نو بیاد
أستاذانوپه اجازت سره دمدرسے نه تلل پکاردی، صبراوثابت قدمئ د
انسان دپاره ډیرلوئ ښائست دے۔

لِکُلٍّ اِلیٰ شاوِ الْعُلاحرکاتٌ : ولٰکِنْ عزِیْزٌفِیْ الرِّجالِ ثُباتُ

دأوچتو مرتبو حاصلولو دپاره هرسړے حرکت کوی لیکن ثابت قدمی
په ډیرو کمو خلقو کښې وی۔

## دکِتابُونوأدَب و اِحترام

دحسن بصریؒ وینا مخکښې تیره شوه "مَنْ لاادَبَ لَهُ لاعِلْمَ لَهٗ" چه
څوک ادب اواحترام ایزده نکړی هغه عالم نه دے، نوچه دعلم سره
کوم شے ادنیٰ مناسبت هم لری دهغه شی ادب اواحترام لازم دے
اوبیاخاص کردکتابونوادب نهایت اهم اوضروری دے۔ طالب علم لره
پکاردی چه دده په زړه کښې دکتاب سره مینه اومحبت اوعظمت
وی، حتی الوسع دِکتاب بغیر داودس نه نه راخلی اوبیادتفسیرحدیث

اوفقے کتابونو دپاره زیات د اودس اهتمام کول پکاردی۔ کتابونه په ترتیب سره ایخودل یعنی چه دتفسیر کتابونه دبره وی بیادحدیث بیا د فقے او لاندے دنورو فنونو کتابونه ایخودل۔ کتاب چه درسره وی نو دکوتئ پشان نه زوړندول بلکه دسینے سره نیول، پیزارپه چپ لاس او کتابونه په ښی لاس کښ نیول، ددینه خلاف کول بے ادبی ده۔ کتاب چه په تپائی یاپه بل څه گدے نو دیرپه آرام، دشیشے دگلاس پشان ایخودل نه داچه دلرے نه ئے گزار کړے۔ په کتاب باندے یوبل نه ویشتل دانهایت دعلم نه دمحرومئ سبب دے۔ کتابونوطرفته خپے نه غزول اونه په خالی زمکه یافرش ایخودل په لوړل ځائے یائے لاندے رومال خُورول۔

بعض طلباء چه کله سبق نه فارغه شی نو کتابونه په هغه ځائے پریږدی، نوچه هغه کمره د اوسیدووی نوڅوک ئے یوطرفته گزاری اوڅوک ئے بل طرفته، یائے په کولاؤمیدان پریږدی اوداترینه مخکښ لاړشی، کتابونه په داسے ځائے نه ایخودل چه دغورځیدلو خطره وی لکه کړکئ وغیره باندے، دمطالعے په دوران کښ مستعد کیناستل، نه چه ډیره ورته ولگوے یاورته څملے، په ملاسته دکتاب په مطالعے باندے نظرهم خرابیږی، په کتاب کښ تپے یانورفضول خبرے یادتنظیم چغے یااستیکرے وغیره لگول هم دادب نه خلاف دی اود مدرسے په کتاب کښ خودلفظ ترجمه یابل څه دفائدے خبره هم نه دی لیکل پکار بلکه صرف دکتاب دپیژندلو دپاره پکښ وروکے نوم

ليكل لوئ نوم اوپته وغيره دادب نه خلاف او دمدرسے دمال سره خيانت دے چه دعلم نه دمحرومئ سبب كرځي، دسبق دځائے دمعلومولو دپاره پكښ څه نشان ايخودل نه داچه پاڼړه ئے راتوله اوككه كړے، دكتاب دبره دسياهي بوتل، قلم، پين، رومال ياپړكئ وغيره ايخودل هم دآدابو نه خلاف دي، بعض طلباؤ دكتاب نه سم دفترجوړكړے وي هرقسمه پاڼړے پكښ پرتے وي، دخلقو پتے، پيسے وغيره او داسے نورخيزونو نه ئے سم پړسولے وي۔

كتاب چه دِمخے ته پروت وي نوكپ شپ، فضول خبرے، بحث مباحثے، يوبل ته كنځل او داسے نورفضولياتو نه ځان ساتل، په داسے اوچت ځائے نه كيناستل چه لاندے كتابونه پراته وي، لكه كټ كښ ناست ئے او لاندے په تپائي كتابونه پراته دي، په كتابونودبره نه اوريدل، دمدرسے دكتابونو لحاظ ساتل چه كله دسبق نه فارغه شے نوهغه ځائے ته رسول اوچه چُتي اوشي نواهل مدرسے ته حواله كول داسے لاوارثه پريخودل چه ځمانه په څه پيسے تلي دي دډيرے محرومئ خبره ده، دوړو درجو طلباء په څه نه څه درجه كښ دخپل كتابونو ادب كوي مگرچه كوم كتاب دوي نه وائي دهغه دومره لحاظ نه ساتي نودهركتاب ادب ضروري دے۔ دكتابونوپه ادب كښ داهم داخل دي چه دهركاغذمونړه احترام اوكړواوبياپه دے دوركښ چه داخبار او درسالو دوردے، هرځائے كاغذونه په لاروكوڅو كښ پراته وي نوحتى الوسع ددے دأوچتولو اهتمام اوشي، كاغذچونكه اله

دعلم ده نعوذبالله په دے اودس وچول،یاوریاندے کرم لوښی نیول ،
یائے د دسترخوان په ځائے استعمالول،یاوریاندے لاس وچول وغیره
نهایت بے ادبی ده،دغه رنګے په کومه تپانی چه کتابونه ایخودلے
کیږی نوهغه باندے نه کیناستل،نه په د بره اوُختل اونه په اُودریدل،
دقلم اوبن ادب کول یعنی په زمکه نه غورزول ،یوبل په نه ویشتل ،
یوبل په نه وهل اونه پرے په پرتوک کښ پرتوغاخ اچول،نه په
خپے یابل ځائے کرول،دغه رنګے سیاهی چه اله دعلم ده،ددے هم
حفاظت اواحترام پکاردے،داسے نورآداب ۔

داخوهغه آداب دی چه زماپه ذهن کښ الله تعالی واچول ددینه
علاوه هرطالب لره پکاردی چه هغه ددے فکرکوی چه څمانه دآلات
علم بے ادبی اوبے احترامی اونشی اوڅوک چه ددے اهتمام کوی
نوالله تعالی به ئے راهنمائی کوی ځکه "مَنْ جَدَّ وَجَدَ" څوک چه
کوشش کوی الله تعالی دکوشش ثمره ورکوی اوحدیث کښ
راځی "الطَّالِبُ الصَّادِقُ لایُحْرَمُ" چه څوک دیوشی په صداقت سره
طلب کوی هغه الله تعالی نه محرومه کوی اوڅوک چه دادب نه
محرومه نشونوهغه دعلم نه محرومه نشواوچه څوک دادب نه
محرومه شو نوهغه دعلم نه محرومه شو۔ بے ادب محروم ماند ازلطف رب

## د اٰلاتِ علم باره کښ د اکابرو واقعات

زه اوس داکابرعلماؤ یوڅوواقعات دآلاتِ علم داحترام په باره کښ

ذکرکوم چه ددے خبرے اهمیت نورهم ښه په ډاګه شي۔

امام شمس الائمه حلوانیؒ نه منقول دی هغوی به فرمائیل "اِنَّمَانِلْتُ هٰذَاالْعِلْمَ بِالتَّعْظِیْمِ فَاِنِّیْ مَااَخَذْتُ الْکَاغَذَاِلَّابِطَهَارَةٍ" (تعلیم المتعلم) ما داتول علم دتعظیم په وجه حاصل کړے دے، ولے چه ما یو ساده کاغذله هم بغیر دطهارت نه لاس نه دے وروړے۔

دامام شمس الائمه سرخسیؒ قصه ده: چه دهغوی ګیډه خرابه شوے وه او دشپے به هغوی تکرار کولو، بار بار ورته بیت الخلاء ته دتللو حاجت پیښیدلو، په داشان په دغه شپه هغوی اولس ځلے اودس او کړو، ولے چه دهغوی عادت وو چه بے اودسه به ئے تکرار نه کولو او داپه دے وجه چه "اَلْعِلْمُ نُوْرٌوَالْوُضُوْءُ نُوْرٌفَیَزْدَادُنُوْرُالْعِلْمِ بِهٖ" علم نوردے او اودس هم نوردے لهذا په اودسه سره دعلم نور زیاتیږي (تعلیم المتعلم)

امام برهان الدینؒ به دیو فقیه قصه بیانوله چه هغه دخپل اُستاذ په مخکښ کتاب دپاسه دوات کیخودونو اُستاذ ورته اوفرمائیل "برنیابی" ته هیچرے کامیابیدے نشے یعني دعلم نه فائده مند کیدے نشے۔ (تعلیم المتعلم)

یو اُستاذ خپل دوه شاګردان په داسے حالت کښ اولیدل چه یو تکیه ته ډډه لګولے وه او مطالعه ئے کوله او بل په ادب سره مستعدناست وو په مطالعه کښ مشغول وو او څه ئے ورسره هم لیکل، جوهرشناس اُستاذ چه داحالت او کتلو نو داول متعلق ئے اوفرمائیل "اِنَّهٗ لَایَبْلُغُ دَرَجَةَ الْفَضْلِ" چه دابه دفضیلت څه درجے ته نه رسي او ددویم طالب متعلق

نے اوفرمائیل "سَیَحْصُلُ الْفَضْلُ وَیَکُوْنُ لَهُ شَانٌ فِی الْعِلْمِ" نزدے دہ چہ دابہ فضل اومرتبہ حاصلہ کړی اودے لہ بہ پہ علم کښې یوشان وی۔

اپنے دامن کیلئے خار چنے خودتم نے: اب یہ چبھتے ہیں تو پھر اس میں شکایت کیا ہے؟

مولانا احمدعلی سہارنپوریؒ لیکلی دی "بعض طالبان پہ ښی لاس کښې پیزار او پہ چپ لاس کښې دینی کتابونہ واخلی نو دامذمومہ طریقہ دہ ځکہ چہ خلاف ادب دہ اوپہ ظاهرہ پیزارلہ فوقیت ورکول دی پہ دینی کتابونو باندے"۔

حضرت مجددالف ثانیؒ یوځل بیت الخلاء تہ ننوتونو پہ نوک باندے ئے دسیاهی داغ اولیدلو فوراً راوُوتواوهغہ سیاهی ئے دګوتے نہ وینځلہ اووے فرمائیل، چہ ددے لګے سیاهی هم دعلم سرہ یوتلُبس او نسبت دے، ځکہ بے ادبی راتہ ښکارہ شوہ چہ دامِ پہ ګوتہ لګیدلی وی اوبیت الخلاء تہ لاړشم۔

حضرت مولانا قاری محمدطیب صاحبؒ فرمائی: چہ حضرت علامہ انورشاہ کشمیریؒ مونږہ چرتہ پہ سفریاحضرکښې ندے لیدلے چہ پہ ملاستہ مطالعہ کوی، یائے پہ کتاب ځنګل لګولی وی اومطالعہ کښې مشغولہ وی بلکہ کتاب بہ ئے مخے تہ ایښے پہ مؤدِب اندازکښې بہ کیناستولکہ چہ دیوشیخ مخے تہ ناست وی اواستفادہ ترینہ کوی۔

او حضرت علامہ انورشاہ کشمیریؒ پہ خپلہ فرمائی: چہ ماکلہ بغیرد اودس نہ دکتاب مطالعہ نہ دہ کړے اوپہ مطالعہ کښې زہ کتاب خپل

تابع نه جوړوم بلکه همیشه زه خپل ځان د کتاب تابع جوړوم او مطالعه کوم، یعني د حاشیې کتلو د پاره کتاب نه تاووم بلکه کتاب په ځائے پروت او زه د حاشیې کتلو د پاره تاوېږم نود کتابونو ادب زه انورشاه کشمیری جوړکړم، دا خبره ئے هغه وخت اوکړه چه کله ترینه چاتپوس اوکړو چه تاسو انورشاه کشمیري څنګه جوړشوئ، دوی له چه الله تعالی کوم علمي مرتبه او مقام ورکړے وو هغه دیو طالب دین نه پټ نه دے۔

حکیم الامت تهانوئ فرمائي: چه ما د څلورخبرو پابندي کړے ده ما د خپلے همسا سرچه په زمکه به لګیدو بیت الله شریف ته د احترام دوجے نه دے مخامخ کړے، دروټئ خوړلو په وخت به پخپله د کټ پیړموته اوروټئ به م د کټ سر ته ایخوده، روپئ م د طهارت په لاس ندي نیولي چه رزق دے، په کتابونو باندے م خپلے پلیتے جامے ندي زوړندي کړي۔ (خطبات فقیر ۲۰/۲)

۔ أُولٰئِكَ اٰبَائِیْ فَجِئْنِیْ بِمِثْلِهِمْ : إِذَا جَمَعَتْنَا یَا جَرِیْرُ الْمَجَامِعُ

دا زمونږه هغه اکابرین دي چه نن دهغوی نوم مونږه په فخر اخلونن که مونږه هم دهغوی په نقش قدم روان شو نو دهغوی کارنامے ژوندئ کولے شو۔ دوی څومره د باریکو باریکو خبرو لحاظ او خیال ساتلے دے، نو الله تعالی دغه مقام ته رسولي وو دا صرف په تمنّا او امیدونو نه حاصلیږي بلکه ددے د پاره همت او جهد مسلسل ضروری دے۔

۔ تَمَنَّیْتَ اَنْ تُمْسِیَ فَقِیْهًا مُنَاظِرًا : بِغَیْرِ عَنَاءٍ وَالْجُنُوْنُ فُنُوْنٌ

ته بغیر دمشقت نه مناظره کونکے جوړیدل غواړے دا خو سراسر لیونتوب دے، ولے چه دجنون ډیر قسمونه دی۔

وَمَنْ رَامَ الْعُلیٰ مِنْ غَیْرِ کَدٍّ : اَضَاعَ الْعُمْرَ فِیْ طَلَبِ الْمُحَالِ

څوک چه دمحنت نه بغیر اوچتوالے غواړی نوهغه دناممکن شی په طلب کښ خپل عمرضائع کوی۔

لهذا دے کربنو دلوستلو نه روستو فوراًمونږه ددے خبرے اهتمام شروع کړو اوپه قلاره قلاره ددے خبروځان عادی کړو اودشیطان اودنفس په وسوسو اودسیسو کښ رانشو۔

## څنګه ملګرے به اِختیاره وے؟

دے باره کښ مناسبه داده چه محنتی، پرهیزګاراوسلیم الطبع ملګرے دِ اُوګوری اوسُست، بیکاره، خبرلُوټے، شرارتی او جګړه مارنه دِ لرے تختی شاعروائی:

عَنِ الْمَرْءِ لَاتَسْاَلْ وَابْصِرْ قَرِیْنَهٗ: فَکُلُّ قَرِیْنٍ بِالْمُقَارِنِ یَقْتَدِیْ

دچاباره کښ دچانه تپوس مه کوه بلکه دهغه سره ناست پاست ملګری ته اُوګوره ولے چه هرملګرے دخپل ملګری اقتداکوی۔

فَاِنْ کَانَ ذَاشَرٍّ فَجَانِبْهُ سُرْعَةً: وَاِنْ کَانَ ذَاخَیْرٍ فَقَارِنْهُ تَهْتَدِیْ

نوکه چرے دهغه ملګرے شری وی نوفوراًدهغه نه جُداشه او کچرے نیک وی بیایے خپل کړه هدایت به بیامومے۔

بعضو دا اشعارونیلی دی۔

لَاتَصْحَبِ الْکَسْلَانَ فِیْ حَالَاتِهٖ : کَمْ صَالِحٍ بِفَسَادِ اٰخَرَ یَفْسُدُ

دناراسته سړی دصحبت نه بچ اُوسه،ولے چه ډیرنیکان د غلطو خلقوپه صحبت سره بدان شوی۔

عَدْوی الْبَلِیْدِاِلیٰ الْجَلِیْدِسَرِیْعَةٌ: کَالْجَمْرِیُوضَعُ فِیْ الرَّمَادِفَیَخْمَدُ

دبدفهمه (اوغبی انسان)بدفهمی په ذهین سړی باندے فوراً اثر کوی لکه چه سکروټه په ایره کیخودے شی نومړه شی۔

بل داچه دنبی کریم ﷺ ارشادمبارک دے "هرماشوم په اسلامی فطرت باندے پیداکیږی خوبیا ترینه مورپلاریهودی،نصرانی یامجوسی جوړکړی"دفارسی شعردے۔

؎ یاربدبدترازماربد : حق ذات پاک اللہ الصمد
یاربدآرد ترا سوئے جحیم : یارِنیکوگیر تا یابی نعیم

په الله بے نیازه ذات مِ دِقسم وی چه بددوست دزهرجن مارنه هم بدتروی،بددوست به دِ دوزخ ته بُوځی،نیک دوست اُونیسه چه جنت درته مِلاؤشی۔دبعضوشاعرانوشعردے ؎

اِنْ کُنْتَ تَبْتَغِیْ الْعِلْمَ مِنْ اَهْلِهٖ : اَوْشَاهِدًایُخْبِرُعَنْ غَائِبٖ
فَـاعْتَبِرِالْاَرْضَ بِاسْمَائِهَا : وَاعْتَبِرِالصَّاحِبَ بِالصَّاحِبٖ

که چرے ته علم داهل علمونه حاصلول غواړے،یاځوک حاضر تلاش کوے چه دغائب باره کښ خبردرکړی۔نوزمکه دهغے په نومونوسره اُوپیژنه، اودوست دهغه ددوست په ذریعه معلوم کړه۔

(تعلیم المتعلم ۱۷)

## د ملګرو حُقوق

دعلم په حاصلولو کښې ځان ښه هوښیارول پکاردي هرهغه کارچه هغه دده دترقۍ سبب ګرځي په هغه دے صرفه نه کوي، نودمخکښې ذکرشوي آدابولحاظ ساتلو سره دملګرودحقوقو خیال هم ساتل ضروري دي ځکه دملګروحقوق دقرآن اودآحادیثودظاهري نُصُوصُونه ثابت اوداکابرین علماء دعمل نه ښکاره دي،خپل ملګري ته هیڅ قسمه تکلیف نه رسول ،ځکه حدیث کښې راځي "اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ" (بخاري) کامل مسلمان هغه دے چه دهغه دلاس اودژبے نه بل مسلمان ته ضرراونه رسي۔

خپل ملګرولره هغه شے خوښول کوم چه ستاځان له خوښ وي اوداد کامل ایمان نښه ده، نبي ﷺ فرمائي "لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ" (بخاري) ستاسو نه یو کس دکامل ایمان والا نشي جوړیدے ترڅوپورے چه دخپل وروردپاره هغه څه خوښ نه کړي کوم چه دځان دپاره خوښه وي،دراحت اوآرام په وخت کښې خپل ملګري مخکښې کول اودتکلیف په وخت کښې خپل ځان مخکښې کول پکاردي۔

خواجه ابوالحسن نوریؒ اودده دوه ملګري حکومتِ وخت قید کړل اود دوي دقتل فیصله اوشوه ،چه کله درے واړه حضرات دجلاد مخے ته پیش کړے شول، نوابوالحسن نوریؒ جلادته رانژدے شو ،حاکم

ترينه پوښتنه اوکړه چه تا تادي ولے اوکړه؟ نو وے فرمائيل زماپه زړه کښې داخيال راغلو چه زه مخکښې قتل شم نوزما دقتل پورے به زماملګروته دلګ ژوند تيرولو موقع مِلاؤ شي حاکم چه داواؤريدل نوحيران شواودرے واړه ئے پريخودل۔

په درس ګاه ياکمره کښې په ځائے باندے بحث مباحثه،کنځلے اوجنګ نه کول،دأستاذمخے ته دخپل ملګري بدي ياشکايت نه کول، الاداچه أستاذديوطالب په باره کښې تپوس اوکړي،دخپل ملګرو، قلم،کتاب،پيزاراونورداسے څيزونه بے دهغه داجازته نه استعمالول،کوم طالب ته چه سبق نه يادېږي نوهغه سپک نه ګڼړل ځکه تکبرّ دانسان علم ختموي ۔

ـ اَلْعِلْمُ حَرْبٌ لِلْفتىٰ الْمُتَعَالِىْ : كَالْسَيْلِ حَرْبٌ لِلْمَكَانِ الْعَالِىْ

څرنګ چه يوأوچت مکان سيلاب توټے توټے کوي نودغه رنګ تکبردعالم علم ختموي بلکه ددغه کمزوري طالب العلم سره محنت،کوشش اوتکرارپکاردے چه هغه هم زړه تورے اودعلم نه محرومه نشي،که يوطالب أستاذته عبارت يازوړسبق اوروي اودهغه نه غلطي اوشي نوپه هغه پسے خنديدل نه دي پکارځکه داثابته خبره ده چه "مَنْ ضَحِکَ ضُحِکَ"،څوک چه په چاپسے اوخاندي نوهغه پسے به هم يوورځ اوخندلے شي ،کوم ملګرے چه بيمارشي نودهغه بيمارپرُسي کول اويادېرے ورځے غيرحاضرشي نودهغه د روغ اوناجوړه خيرخبر اخستل، که غريب وي نو دهغه سره حتي الوسع

دپیسو مدد کول، دقام نسب او دملک په وجه په یو بل باندے تفاخر نه کول څکه داد جاهلیت او د کفر خبرے دی، مسلمان او بیا د علم پتنګ به دانه کوی، د جُمعے په شپه یا بل وخت یاد کتاب دختمیدو په وخت ددعوت اهتمام او په هغه کښ دهر ملګری نه په خوښه او په ناخوښه پیسے اخستل نه دی پکار څکه چه دزړه رضانه وی نو حرامے دی درسول الله ﷺ ارشاد دے "لَا يَحِلُّ مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ" دیو مسلمان مال دهغه درضانه بغیر حلال نه دے، الادا چه دتولو دصدقے ایستلو جزبه وی نو خیر دے۔

نواب قطب الدین صاحب "مصنف مظاهر حق" دخپل اُستاذ مولانا شاه محمد اسحاقؒ او دملګری مولانا مظفر حسینؒ دعوت او کړو نو اُستاذئے قبول کړو او ملګری ئے دقبلیدو نه انکار او کړو، دوی شاه صاحب ته شکایت او کړو هغه ترینه پوښتنه او کړه چه ولے تاد ملګری دعوت قبول نه کړو، نو مولنا مظفر حسینؒ او فرمائیل حضرت! نواب صاحب نن صبا مقروض دے او په دعوت کښ به تکلّف کوی نو دارقم دے قرض کښ ورکړی، شاه صاحب چه داواؤریدل نو هغه هم دهغه دعوت قبلول منسوخ کړل، دمشرانو احتیاط ملاحظه کړئ حالانکه نواب صاحب سره خوبه بیاهم څه وو او چه دکوم طالب سره څه نه وی او ته ئے مجبوره کوے نو څومره دافسوس خبره ده۔

که یو ملګرے د اُستاذنه پوښتنه کول غواړی خوشرمیږی نوبل ملګرے دِ دهغه دپاره پوښتنه اوکړی ،لکه علیؓ لره دمذی متعلق پوښتنه دنبی ﷺ نه بل صحابی اوکړه ځکه علیؓ دزوم کیدو په وجه شرمیدو۔

کوم ملګرے چه روستوراشی نوهغه لره په مجلس کښ ځائے ورکول قرانی حکم دے اوکه ځائے وی اوکه نه وی نودملګری دراتک سره لګ دځپل ځائے نه کشیدل سنت طریقه ده اوکوم ملګرے چه روستوراشی نوهغه له هم پکاردی چه نورملګری تنګ نه کړی۔کوم طالب علم چه دسبق نه غیرحاضروی نوهغه ته زوړسبق تکراره ول۔

که دکوم یوملګری سره خفګان راشی نوددرے ورځونه مخکښ مخکښ دهغه سره صلح کول ضروری دی ورنه که په دے حالت کښ مرګ راشی نوددخول نارسبب ګرځی (نعوذبالله) اوکه خفګان راشی اویوملګرے ورسره جوړه کوی نودے بل له هم پکاردی چه جوړه ورسره اوکړی ځکه حدیث کښ راځی "مَنْ اسْتَرْضٰی فَلَمْ یَرْضیٰ فَهُوَ شَیْطَانٌ" (الاذکارللنوویؒ)څوک چه دچانه معافی غواړی اوهغه ئے نه معاف کوی نوداشیطان دے۔

دقام نسب اودکلی په وجه دیو طالب العلم طرف داری نه کول بلکه دصلح کوشش کول ځکه دصلح په باره کښ ډیرفضائل راغلی دی، دغه رنګه دمدرسے چه کوم طالبان دی دهغو تولو ادب اواحترام اودهرقسم جنګ جدل نه ځان ساتل اوبس داد کامیابئ زینه ده،

ملکروته غلط نومونه نه اخستل اوداسے توقے ورسره هم نه دی کول
پکارچه هغه ته پرے ضرررسی، کوم څیزونه چه دبل ملکری نه په
اجازت واخلے نوداستعمال نه بعد فوراًواپس کول دملکری قرض
حسب وعده ورکول اوپه دوستئ اوملګریتوب کښې دحداعتدال نه
نه اوړیدل، بس دهر ملکری خیرخواجوړیدل، دهرچاسره او دخپلو
ملګروسره په کولاؤ تـنـدی مِلاویدل، چه داصدقه جاریه ده اود
هرملګری سره حُسنِ ظن یعنی ښه ګمان ساتل ځکه چه دمسلمان
سره سُوءِ ظن ساتل ګناه ده۔

## کتاب واپس کولو کښې داهل علمُ عام مرض

داهل علمُ داحالت دے چه دچاکتاب واخلی نوبیادواپس کیدو نوم
نه پیژنی، کتاب ورکونکے که کثیرالمشاغل وی نوهغه ته یاد هم نه
وی چه زمانه چاکتاب ورے دے، بس میاشت بعد اُوائی چه چابه
پټ کرے وی اواخستونکے بے فکره شی چه هغه یے نه غواړی، اوس
داګویاددے ملکیت شوبیابعضے داسے وی چه خپل شے خودبل په
سینه کیناستلوسره اخلی اودنوروخلقود څیزونوواپسئ کښې لاپرواه
وی او بعضے په ورکولو کښې هم لاپرواه وی اودخپل شی په
وُصولئ کښې هم لاپرواه وی (التبلیغ:۲۰/۳۱۹)

ـ بِمکارِمِ الْاَخلاقِ کُنْ مُتخلِقاً: لِیفُوْحِ مِسْکُ ثنائِکَ الْعطرُالشذی

## د درسګاه فضیلت او آداب

"عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِیْ بَیْتٍ مِنْ بُیُوْتِ اللهِ یَتْلُوْنَ کِتَابَ اللهِ وَیَتَدَارَسُوْنَهٗ بَیْنَهُمْ اِلَّا نَزَلَتْ عَلَیْهِمُ السَّکِیْنَةُ وَغَشِیَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِکَةُ وَذَکَرَهُمُ اللهُ فِیْمَنْ عِنْدَهٗ" (رواه مسلم وابوداؤد)

حضرت ابوهریرهؓ د حضور اقدس ﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چه یو قوم دالله د کورونو نه په یو کور کښې جمع شی د قرآن پاک تلاوت او دهغے په خپل مینځ کښې درس او تدریس کوی مګر په هغوی سکینه نازلیږی او رحمت پرے راخوریږی او د رحمت فرښتے ترے چاپیره کیږی او الله جل شانه دهغوی ذکر د فرښتو په مجلس کښې کوی۔ په دے حدیث کښې د علمی مجلس څومره لوئی فضیلت او مقام مرتبه بیان شوے ده او بیا خصوصاً د فرښتو په مجلس کښې الله تعالی د انسان تذکره اوکړی، نو دا څومره د خوشحالئ او د فخر خبره ده۔

(۲) "عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: اِذَا مَرَرْتُمْ بِرِیَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا قِیْلَ وَمَا رِیَاضُ الْجَنَّةِ قَالَ مَجَالِسُ الْعِلْمِ"، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه تاسو د جنت په باغونو تیریږئ نو بنه اوڅریږئ، چاپوس اوکړو اے دالله رسوله! د جنت باغونه څه دی؟ ارشاد ئے اوفرمایئ د علم مجلسونه، په دے حدیث کښې یو طرفته د علمی مجلس فضیلت بیان شو نو بل طرفته د "فَارْتَعُوْا" لفظ نه دا خبره په ډاګه شوه چه د دنیا په معمولی بهانو سره د دے مجالسونه مه غیر حاضر کیږئ

لکه څاروے چه په یوشی څرشروع کړی نو په معمولی وهلو سره سرنه اړوی (۳) په مسجدنبوی کښ دوه مجلسونه لګیدلی وونو دے یو مجلس باره کښ نبی کریم ﷺ اُوفرمائیل "وَاَمَّا هٰؤُلاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ اَوِالْعِلْمَ وَيُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ اَفْضَلُ" چه دامجلس والافقه یاعلم ازده کوی اوناپوهو ته ئے ښائی نو دابهتردی اوزه هم دالله دطرفه معلّم رالیکلے شوے یم "فَجَلَسَ فِيْهِمْ" نوپه دے مجلس کښ نبی کریم ﷺ کیناستو (رواه عبدالله بن عمروؓ)۔

نو ددے څوحدیثونو نه معلومه شوه چه علمی مجلسونه دجنت باغونه دی دابهترین مجلسونه دی ،الله تعالی ددے تذکره دفرښتو په مجلس کښ کوی، رحمت پرے راخوریږی اودرحمت فرښتے ترے چاپیره کیږی،سکینه پرے نازلیږی نودداسے مجلسونو دادب اواحترام څومره لحاظ ساتل ضروری دی ،داخبره به دیوعاقل انسان نه پټه نه وی، دادب اوبے ادبئ څه خبرے دعقل سلیم خاوندته په خپله هم معلومیږی، دلته دمذاکرے په طوردڅه ادابوتذکره ده۔

ددرسګاه صفائی کول ۔که اُستاذموجودوی اوکه نه په هرحال کښ خاموش اوسیدل بلکه فارغ وقت په مطالعه،تکرار،یاتلاوت کښ تیرول هسے نه ضائع کول، کوم ملګرے چه روستوراشی نوهغه له ځائے ورکول اوخپل ځائے نه دهغه دپاره لګ حرکت کول مستحب عمل دے، په ځائے باندے بحث مباحثه نه کول بلکه کوم ځائے چه دچادپاره مقرروی په هغے صبر کول،قِبله ،اُستاذ، کتابونو یا

یو ملگری ته خپے نه غزول، کوم ملگرے چه په تکرارکښ مشغول وی نه هغه ته سلام کول اونه ورسره خبرے کول، دغه شان اُستاذ سبق شروع کړے وی نودسلام کولونه احترازکول پکاردی چه دے سره تولــه خبــره اخوادیخواشی، دیوال یابل شی ته ډډه نه لګول،بغیرد کتابونونه درسګاه ته نه راتلل،درسګاه ته دأستاذدراتک نه مخکښ راتلل، دیوأستاذپه وخت کښ دبل کتاب مطالعه نه کول،په درسګـاه کـښ لاړویاپوزه صفاکولونه احترازکول، داهم دمجلس د آدابونه خلاف دی چه دروما‌ل یابل شی نه دښځوپشان نقاب تړلے وی۔

حضرت فضیل بن عیاضؒ په علمی مجالسوکښ حصه اخستونکو ته پنځه نصیحتونه کړی دی:چه نهایت ضروری اوقابل عمل دی۔

(۱) السَّمْعُ :یعنی اول خبره اوریدل دسبق په دوران کښ دل دماغ حاضرول(۲) ثُمَّ الإِنْصَاتُ: دسبق په دوران کښ خاموش اوسیدل(۳) ثُمَّ الْحِفْظُ : بیادغه سبق یادول اوتکرارکول یالیکل (۴) ثُمَّ الْعَمَلُ: په دغه باندے عمل کول (۵) ثُمَّ النَّشْرُ: په دغه خبروباندے دعمل کولونه پس نوروته هم رسول په هرمسلمان ضروری دی۔

(باتیں ان کی یاد رہیں گی ص ۳۵)

دبعض سلفونه منقول دی چه دأستاذ خواته تللونه مخکښ به یے صدقه ورکوله او دعاء به ئے کوله "اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَيْبَ شَيْخِيْ وَلَاتَذْهَبْ بَرَكَةَ عِلْمِهِ عَنِّي" یاالله زما د شیخ عیب په ماپټ کړه او د هغه دعلم

د برکت نه مامه محرومه کوه۔ (تذکرة السامع والمتکلم بآداب العالم والمتعلم لابن جماعة ۸۸)

په درسگاه کښې دهرقسم شورشغب، کُشتئ کولو او جنګ کولو نه ځان ساتل، په درسګاه کښې په تکبراوتریو تندی سره مه کینه، که پرنجې درشی نو په خُله لاس یا کپړا کیده چه په کم آوازسره پرنجې اوشی، ارګمې چه خوپورې کیدې شی حصاره وه ئې ورنه په خُله لاس کیده، په درسګاه کښې دأستاذپه ځائې نه کیناستل، په حدیث کښې راځی "چه دخپل ورور په معزز ځائې باندې دهغه د اجازت نه بغیرمه کینئ" (ترمذی) دهرشی سرداروی او د مجلسونو سردارمجلس هغه دے چه پکښې اهل مجلس مخ په قبله ناست وی۔

(طبرانی) (باادب بانصیب ۲۴۸)

## د جُمات آداب

که درسګاه، یااوسیدل په جمات کښې وی نوبیا جمات دآدابو خیال ساتل ضروری دی ددرسګاه چه کوم آداب دی دهغې دلحاظ ساتلو سره سره مزیدنوراهتمام هم کول، په جمات کښې که درس تدریس دوران کښې سبق وئیلو سره آوازاُوچت شی نو څه حرج نشته (الاذکار) البته بې ضرورته شورنه کول، دنیاوی خبرې نه کول، په جمات کښې په قلاره مزل کول، بدبو دارخیز جمات ته نه راوړل اونه خوړل، په جمات کښې تیل، ګمنزنه استعمالول، که کومه ګندګی یاویخته په نظرراشی هغه بهرغورځول، دجمات اُوبه بجلی اونوراشیاء بې ضرورته نه

استعمالول، په جمات کښې داعتکاف په نیت سره اوسیدل او په راتللو او وتلو کښې دمسنون دعاګانو او آدابو لحاظ ساتل، تحیة المسجد کول، په جمات کښې دلاړو، خراچکو په تیزه خنده او خروج ریح نه احتراز کول۔

## دعِلم مطابق عمل کول لویه عقلمندي ده

علم وکړے هیڅ عمل وربانډِ نه کړے
لکه طفل هسے لوبے په کتاب کړے

دعلم نه مقصود دالله تعالی رضا، خوف، خشیت او الله تعالی ته رسیدل او تعلق دے، د الله تول اوامر په ځائے راوړل او دنواهی نه ځان ساتل، داولے ورځے نه طالب علم دعمل کولو اهتمام شروع کړی که قرآن وائی که حدیث او که فقه هغه په خپله عملی ژوند کښې راولی، ددے سره به ئے علم هم پخیږی او دعلم مقصود به هم حاصلیږی، شیطان اکثر طالب علم ته په دے وخت کښې په علم باندے دعمل کولو نه غافله او داړه کوی چه عالم شے نو بیا به عمل شروع کړے، نو ددے نفس او شیطان ددهوکے نه ځان ساتل ضروری دی، دځوانئ دور ډیر یو قیمتی دوروی په دے کښې انسان که هر یو فن ته متوجه شی نو په هغه کښې کمال حاصلولے شی او چه انسان داقیمتی وخت په مدرسو او جُماتونو کښې پابند، دأستاذانو وهل تکول، دهم درس ملګرو ایذا، دعلاقے دخلقو حسد او بغض او دنفس خلاف خوراک

ځکاک برداشت کړی او بیا هم د علم او عمل نه محرومه شی نو دا صرف په دنیا کښ نه بلکه په آخرت کښ به هم ډیر قابل رحم او قابل افسوس وی ځکه خووائی "وَالْعَالِمُوْنَ كُلُّهُمْ هَالِكُوْنَ إِلَّا الْعَامِلُوْنَ"۔ اعاذنا الله منه

## اهمیت عمل د قرآن او حدیث په رڼا کښ

الله جل شانه فرمائی (۱) إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰؤُ (فاطر۲۸، پ۲۲) یقینا ویریږی د الله تعالی نه د بندګانو د هغه نه عالمان (د دے ایت نه معلومه شوه) چا کښ چه ویره د الله تعالی نه وی هغه د پاره په حقیقت کښ د عالم وئیلو حقداری نشته (تفسیر عثمانی ص ۵۸۰) د عالمانو نه اصطلاحی عالمان مراد نه دی چه فلانی کتابونه ئے لوستلی وی، یا د فلانی امتحان سندلری بلکه هغه کسان ترینه مراد دی چه د الله تعالی او د هغه د احکامو معرفت لری او د هغه عمل هم د هغه د علم او معرفت د مرتبے مناسب وی (ماجدی ص ۸۷۷) د دے ایت کښ الله تعالی فرمائی: چه د الله تعالی په بندګانو کښ د الله تعالی نه عالمان ویریږی او په سورة بینه ۸ کښ راځی چه جنت د هغه چا د پاره د ے چه ویریږی د رب خپل نه (فتح الرحمن ص ۴۰ لفضیلة الشیخ محمد عبد الجبار صاحب مدظله)۔

(۲) أَتَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ (البقرة ۴۴ پ ۱) آیا حکم کوئ خلقو ته په نیکئ سره او حال دا چه هیروئ ځانونه خپل او تاسو لولئ کتاب لره آیا د عقل نه کار نه اخلئ۔

(۳) وَمَآ اُرِیْدُ اَنْ اُخَالِفَکُمْ اِلٰی مَآ اَنْهٰکُمْ عَنْهُ (هود۸۸پ۱۲) حضرت شعیب علیه السلام خپل قوم ته اوفرمائیل (اوزه چه تاسو ته څنګه دد ے خبروتعلیم کوم نو په خپله پر ے هم عمل کوم) اوزه دانه غواړم چه دکوم کارنه تاسو منع کوم زه هغه په خپله اوکړم۔

☆عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْعِلْمُ عِلْمَانِ: عِلْمٌ فِی الْقَلْبِ فَذَاکَ الْعِلْمُ النَّافِعُ وَعِلْمٌ عَلَی اللِّسَانِ فَذَاکَ حُجَّةُ اللّٰهِ عَلٰی اِبْنِ اٰدَمَ (رواه الحافظ ابوبکر الخطیب فی تاریخه باسناد حسن الترغیب ۱/۵۸) دحضرت جابرؓ نه روایت د ے چه نبی کریمؐ ارشاداوفرمائیلو: علم دوه قسمه د ے یو هغه علم د ے چه زړه ته کوزشی دغه علم نافع د ے اودویم هغه علم د ے چه صرف په ژبه وی یعنی عمل اواخلاص نه خالی وی نو دا د اللّٰه تعالی دطرف نه دانسان خلاف (دد ے دمجرم کیدو) دلیل د ے۔

☆عَنْ یَزِیْدَ بْنِ سلمة الْجُعْفِیِّ قال قلتُ: یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ قَدْ سَمِعْتُ مِنْکَ حَدِیْثًا کَثِیْرًا اَخَافُ اَنْ یُنْسِیَ اَوَّلَهُ اٰخِرُهُ فَحَدِّثْنِیْ بِکَلِمَةٍ تَکُوْنُ جِمَاعًا قَالَ اِتَّقِ اللّٰهَ فِیْمَا تَعْلَمُ (رواه الترمذی وقال هذا حدیث لیس اسناده بمتصل وهو عندی مرسل باب ماجاء فی فضل الفقه علی العبادة رقم ۲۶۸۳) حضرت یزیدبن سلمه جعفیؓ فرمائی: ما عرض اوکړو یارسول اللّٰه ماستانه ډیر حدیثونه اوریدلی دی ماته دد ے خبر ے ویره ده چه آخری حدیثونه راته یادپاتی شی اواولنی رانه هیرشی، دد ے وجه نه ماته یو جامع ارشاداوفرمائی ، رسول اللّٰه اوفرمائیل: چه دکوموخبروتاته

علـم دے په هغه کښې دالله تعالی نه ویرېږه یعنی دخپل علم مطابق عمل کوه۔

☆وَعَنْ اَبِیْ بَرْزَةَ الْاَسْلَمِیِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَاتَزُوْلُ قَدَمَاعَبْدٍیَوْمَ الْقِیٰمَةِ حَتّٰی یُسْأَلَ عَنْ عُمْرِهٖ فِیْمَااَفْنَاهُ، وَعَنْ عِلْمِهٖ فِیْمَافَعَلَ فِیْهِ، وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَیْنَ اِکْتَسَبَهٗ وَفِیْمَا اَنْفَقَهٗ ،وَعَنْ جِسْمِهٖ فِیْمَااَبْلَاهُ؟ (رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح ،الترهیب ۱/۷۳) حضـرت ابو برزة الاسلمی رضی الله عنه فرمائی: رسـول الله ﷺ ارشـاد اوفـرمـایو:دقیامت په ورځ به دسړی قـدمـونـه هغه وخت پورے (دحساب دځائے نه )نشی خوزیدلے څو پـورے چه دهغه نه ددے څیزونوباره کښې تپوس اونشی، خپل عمر دے په څه کـارکښې خرچ کړو،په خپل علم دے څه عمل اوکړو، مال دے څنګه حاصل کړواوچرته دے خرچ کړواوبدنی قوت دے په څه کارکښې ختم کړو۔

☆ عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللهِ الْاَزْدِیِّ رضی الله عنه صَاحِبِ النَّبِیِّ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ مَثَلُ الَّذِیْ یُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَیْرَوَیَنْسیٰ نَفْسَهٗ کَمَثَلِ السِّرَاجِ یُضِیْئُ لِلنَّاسِ وَیَحْرِقُ نَفْسَهٗ (رواه الطبرانی فی الکبیرواسناده حسن انشاء الله، الترغیب ۱/۷۴) حضـرت جـنـدب بـن عـبـدالله ازدی رضی الله عنه نـه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفـرمـائیـل:دهغه سړی مثال چه خلقوته دخیرخبرے ښـائـی اوخپـل ځـان ئے هیرکړے وی (په خپله پرے عمل نه کوی) دهغه ډیوے پرشان دے چه خلقوته رڼا ورکوی او خپل ځان سوزی۔

☆مَنْ اِزْدَادَ عِلْمًا وَلَمْ يَزْدَدْ هُدًى لَمْ يَزْدَدْ مِنَ اللهِ اِلَّا بُعْدًا (دیلمی) دکوم انسان چه علم زیات شی اوپه هدایت اوعمل کښې ترقي اونکړی نودغه انسان دالله نه په ځائے دنزدیکت نورهم لرے شو۔

☆اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَالِمٌ لَمْ يَنْفَعْهُ اللهُ بِعِلْمِهِ (ابن حبان) په قیامت کښې به سخت ترین عذاب هغه عالم ته وی چه الله تعالی دعلم نه دنفع اخستلوتوفیق نوی ورکړے۔

☆لَايَكُوْنُ الْمَرْءُ عَالِمًا حَتّٰى يَكُوْنَ بِعِلْمِهِ عَالِمًا (ابن حبان) یوسړے دهغه وخت پورے عالم نه دے څوپورے چه دخپل علم مطابق عمل اونکړی (احیاء العلوم ۱/۱۲۱) نبی کریم صلی الله علیه وسلم دعاء فرمائی: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ عِلْمٍ لَايَنْفَعُ یاالله زه ستانه دداسے علم نه پناه غواړم چه ماته نفع رانکړی۔

## دعمل داهمیت په حقله صحابهؓ، تابعینؒ اوتبع تابعینؒ څه وائی؟

حضرت عبدالله بن مسعودؓ فرمائی: علم حاصل کړئ علم حاصل کړئ اوچه کله علم حاصل کړئ نوبیاپه دے عمل اوکړئ (دارمی ۱/۱۴) او دا به ئے هم فرمائیل: چه زه په دے پوهیږم چه عالم په یوګناه کښې مبتلاوی نودهغه نه علم هیریږی (۱/۱۱۸) حضرت عبدالله بن عمرؓ راوی دے چه حضرت عمرفاروقؓ دحضرت عبدالله بن سلامؓ نه تپوس اوکړوچه علماء څوک دی؟ دوی اوفرمائیل: علماء هغه دی چه په خپل علم عمل اوکړی، بیائے تپوس وکړوکوم شے د

علماؤ د سینونه علم اوباسی؟هغه اوفرمائیل لالچ (یعنی دلالچ په وجه عالم دخپل علم نه محرومه کیږی۔(دارمی ۱/۱۵۳ حصول علم اور اس کا طریق کار)

حضرت سفیان ثوریؒ فرمائی:علم عمل ته آوازکوی که عمل ددے په آوازلبیک اُووائی خوصحیح ده ورنه علم رخصتیږی (احیاء العلوم ۱/۱۲۲)حضرت سهل تستریؒ فرمائی:چه علم خودنیا دنیاده آخرت خوپه علم باندے دعمل کولونوم دے،یوځل ئے ارشاد اوفرمائیلو: اهل علم نه علاوه تول مړه دی اوعمل کونکی علماء نه علاوه تول غافله دی دمخلص کونکونه علاوه تول په غلط فهمئ کښ مبتلادی اومخلصینوته داویره ده چه د هغوی انجام به څه وی۔

مالک بن دینارؒنه منقول دی چه عالم کله دعلم مطابق عمل نه کوی نودده نصیحت په زړونو کښ نه حصاریږی څرنګ چه داُوبو قطره د کمر په سرنه حصاریږی۔

حاتم اصمؒ فرمائی:په قیامت کښ به زیات افسوس دهغه عالم نه بل چاته نه وی چه خلقوته ئے تعلیم ورکړے وی لیکن په خپله ئے په علم عمل نوی کړے نورخلق به ددے دعلم مطابق جنت ته لاړشی اوده ته به دحسرت اوافسوس نه علاوه نورهیڅ هم مِلاؤنشی ۔

ابراهیم بن ادهمؒ فرمائی:چه مکه معظمه کښ زه دیوے کتے سره تیریدم نوپه هغے داعبارت لیکلے شوے ووچه زمادبل طرف نه عبرت حاصل کړه ،ماچه کته واړوله نوپه هغے لیک وو "اَنْتَ بِمَاتَعْلَمُ لَمْ تَعْمَلْ فَكَيْفَ تَطْلُبُ عِلْمَ مَالَمْ يَعْلَمْ" ته په معلوم شده خبروعمل نه

کوے ،بیا دنوی معلوماتو حاصلولو فکر دځه دپاره کوے، په تورات انجیل کښې لیک دی چه په کومو خبرونه پوهیږے دهغه خبرو علم مه حاصلوه ځو پورے چه په هغه ځه عمل اونکړے چه ته پرے پوهیږے۔

مکحول عبدالرحمن ابن غنمؒ وائی: ماته لس صحابوؓ دا واقعه بیان کړے ده چه مونږه په مسجد قباکښې ناست وو علمی مذاکره مو کوله حضور ﷺ زمونږه خواته تشریف راوړو او ارشاد ئے اوفرمائیلو "تَعَلَّمُوْا مَاشِئْتُمْ اِنْ تَعَلَّمُوْا فَلَنْ يَاْجِرْكُمُ اللّٰهُ حَتّٰى تَعْمَلُوْا" (ابن عبدالبر، ابونعیم ،خطیب، دارمی) چه ځه یادول غواړئ یادئے کړئ اللہ تعالی به تاسو ته هغه وخته پورے آجر او ثواب نه درکوی ځو پورے چه تاسو وریاندے عمل اونکړئ۔ (احیاء العلوم ۱/۱۳۰)

سری سقطیؒ فرمائی: چه یو سړے په علم ظاهر کښې ډیر مشغول وو، ما اوړیدل چه هغه گوشه نشینی اختیار کړے ده، ما دهغه نه تپوس اوکړو چه تا گوشه نشینی ولے اختیار کړے ده؟ هغه په جواب کښې خپل خوب بیان کړو چه یو سړی راته اوئیل: اللہ تعالی دے تا هلاک کړی ځو پورے به ته علم ضائع کوے ما اوئیل زه علم کله ضائع کوم، زه خو شپه او ورځ په دے کښې مشغول یم ، هغه اُوئیل چه دعلم یادول ددے مطابق عمل کول دی، ددے خوب نه بعد ما دعلم مشاغل پریخوستل او عمل طرف ته متوجه شوم (احیاء ۱/۱۳۱) حضرت ابن مسعودؓ فرمائی: چه علم دډیرو روایاتو نوم نه دے بلکه خوف

خداته علـم وائی۔ حضرت حسن بصریؒ فرمائی:چه څومره غواړئ علم حاصل کړئ لیکن دالله تعالیٰ قربت دعمل نه بغیرنه حاصلیږی

(احیاء العلوم ۱/۱۳۶)

حضرت ابن مسعودؓ فرمائی:قرآن ددے دپاره نازل شوے ووچه ته په دے عمل اوکړے لیکن تاددے تلاوت اوتعلیم عمل اوګرځولو، عنقریب به داسے خلق راشی چه دابه دنیزوپرنګ نیغه وی لیکن هغوی به ستاسونه ښه نه وی، چه کوم عالم عمل نه کوی دهغه مثال داسے دے لکه چه بیمار د دوائی خوړلوپه ځائے دخوراکو نونومونه اوددے خوندونه بیانوی دداسے خلقو په باره کښ دالله تعالی ارشاددے "وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّاتَصِفُوْنَ" (الانبیاء پ۱۷،ایت ۱۸)اوتاسوله هلاکت دے دهغه نه چه تاسوئے بیانوئ۔ عبدالرحمن باباوائی:

علمیت دبے عملوعالمانو:لکه ګنج دکتابونوپه خره بارشۀ۔

"مَنْ عَمِلَ بِمَا عَلِمَ اَوْرَثَهُ اللهُ عِلْمَ مَالَمْ يَعْلَمْ"(حلیه ابونعیم) چه څوک په خپل علـم عمل اوکړی الله به ده ته دهغه څه علم ورکړی چه ده به نوی حاصل کړے (احیاء العلوم ۱/۳۲)

تَعَلَّمْنَابِلاحَرْفٍ وَصَوْتٍ:قَرَاْنَاهُ بِلاسَهْوٍوَفَوْتٍ۔

دحضرت ابو درداءؓ قول دے چه څوک نه پوهیږی اونه عمل کوی دهغه دپاره یوهلاکت دے،مګرهغه چه پوهیږی اوعمل نه کوی دهغه دپاره اوه هلاکتونه دی۔ حکمت ګرځی اوآوازکوی اے ابن ادم! زه دُرثمِیْن یم که ته ماګورے نو واوره! زه ستانه لرے نه یم ته به ماپه

دوه خبرو کښې پټ بیامومې، څومره نیکۍ چه پیژنې په هغه عمل اوکړه او څومره ګناه چه پیژنې دهغه نه لرې شه (جامع بیان العلم وفضله ۱۳۶) قاسم بن محمدؒ وائي: ماداسې خلق لیدلي دي چه هغوی ته خبرې خوښې نه وې، هغوی به صرف په عمل خوشحاله کیدل۔

دمامون الرشیدمقوله ده چه مونږه ته دزباني وعظ نه زیات دعملي وعظ ضرورت دے۔دسلمانؒ قول دے قریبه ده چه علم به عام شي اوعمل به غائب شي خلق به په ژبوسره مِلاوېږي اوپه زړونوسره به لرې وي، چه کله داسې حالت شي نوخدائے هم په خُلوپه غوږونو، سترګواو زړونوباندے مُهرولګي۔ حضرت عیسیٰؑ خپلو حوارینوته اوفرمائیل: زه تاسوته دحکمت تعلیم ددے وجه نه نه درکوم چه تاسو کیني، تعجب پرے اوکړئ بلکه ددے دپاره چه عمل پرے اوکړئ۔

قتادهؒ فرمائي: اجْمَعَ اَصْحَابُ النَّبِيِّ ﷺ كُلُّ مَنْ عَصَى اللهَ فَهُوَ جَاهِلٌ (مرقاة المفاتیح ۱۳۲/۹) صحابه کرامؓ په دے خبره اجماع کړے چه هرهغه څوک چه د الله تعالیٰ نافرمانی کوي نو دا جاهل دے اګرچه بظاهرعالم ولے نه وي۔

بے عمل که کتاب کیږدي په سرځه شو
ګویا اینبے یے ترپښو لاندِ کتاب دے

دحضرت جنیدبغداديؒ دوفات نه بعدچاپه خوب کښې ولیدو چه

ستاسو حال دے؟ وے فرمائیل "طَاحَتِ الْعِبَارَاتُ وَفَنِيَتِ الْإِشَارَاتُ وَمَانَفَعَنَا اِلَّا رُكَيْعَاتٍ رَكَعْنَاهَا فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ" عبارات او اشارات ټول بیکاره شو البته یو څو رکعتونو فائده راکړه چه د شپے م کړی وو.

(احیاء العلوم)۔

؎ عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی: یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری

## د حصول علم دپاره د سفر مشقتونه برداشت کول

؎ عزت اسے ملے جو گھر سے نکل گیا: وہ پھول سر چڑھا جو چمن سے نکل گیا

څومره چه یو شے قیمتی وی په هغه پیمانه د هغه د حصول دپاره کوشش، محنت، مشقت او تکلیف برداشت کول ضروری او آسان وی، د دنیا دستور دے چه د داسے اهم کار دپاره د جان مال او دوخت څه پرواه نه وی، د علم اهمیت ضرورت و حاجت مقام او مرتبه په یوذی عقل انسان باندے مخفی نه ده، نو بیا ولے د دے د حصول دپاره ټول صلاحیتونه قربان نکړے شی، خصوصًا چه یو انسان الله تعالیٰ د دے دپاره منتخب کړے وی، د کور وطن د ماحول نه ئے دراوتلو توفیق ورکړے وی، د عربی مشهور متل دے "مَنْ جَدَّ وَجَدَ" د کوشش خاوندانو ته به دا قیمتی سرمایه او مابه الافتخار مِلاویږی، په بے ځائے وخت تیرولو، سیلونو باندے رسمی عالم خو به جوړشی لیکن دا به بیا قابلِ افسوس وی " اَلْعِلْمُ لَا يُعْطِيْكَ بَعْضَهُ حَتّٰى تُعْطِيَهُ كُلَّكَ" (علیؓ) د علم هیڅ برخه به تا ته مِلاؤنشی

څوپورې چه ته تول ځان علم ته حواله نکړې.

په بې ځایه عذرونو سره به د اُستاذنه خلاص شې، خود علم د منافعو نه به محرومه شې، په دې لار کښې ځان کړول، مال او وخت لګول، د اهل وعیال، وررونو خویندو مور پلار او د دوستانو، فراق ګرمی یخنی د کلی علاقې د خلقو ترش روئی، د هم درس طلباء اذیتونه، د شپې الله ته آه وفریاد، د طبعیت ناموافق خوراکونه، د تنګ راتنګ مشقتونه، د اُستاذ قار او غصه، د بې ځایه منډو ترړلو، کهیل کود او د ملګروزره رانبکونکی محفلونه پرېخوستل او د علم د شرائطو پوره لحاظ به تا د کامیابۍ معراج ته رسوی، که د دینه بغیر اراده لرې نو دا د اُوبو په ګمان هسې په سراب پسې منډې وهل دی او بیا دا محض وهم او خیال دے.

- بِقَدْرِ الْكَدِّ تُكْتَسَبُ الْمَعَالِيْ : وَمَنْ طَلَبَ الْعُلٰى سَهِرَ اللَّيَالِيْ

وَمَنْ رَامَ الْعُلٰى مِـــنْ غَيْرِ كَدٍّ : اَضَاعَ الْعُمْرَ فِيْ طَلَبِ الْمُحَالِ

ته به د خپل کوشش مطابق اوچتو مرتبو ته خیژې، څوک چه د اوچتو مرتبو طلبګاروی هغه به د شپې راپاځي، که څوک دا خیال کوی چه بغیر د مشقت نه به اوچته مرتبه حاصله کړم نو دا د یو محال خبرې په طلب کښې خپل ژوند تیروی.

- لَاتَحْسِبِ الْمَجْدَتَمَرًااَنْتَ اٰكِلُهٗ : لَنْ تَبْلُغَ الْمَجْدَحَتّٰى تَلْعَقَ الصَّبِرَ

عزت او شرافت کهجوره مه ګنړه چه وې خورې: دا به هغه وخت پورې حاصل نکړې څوپورې چه صبر (ایلوا) اُونه چُپې

ہ راحت نه دے بے زحمته چاموندلے
کوم طبيب دے چه په روغ صورت مرهم گدی

## د اکابرین عِلم دحصول علم دپاره مشقتونه

دعلماء سلف ويناده چه دسړی دحصول علم دپاره دوطن اواهل وعيال نه لرے تلل مستحب دی۔نو مونږه له ضروری دی چه دخپلو اسلافو حالات اوکوروچه هغوی ته دااُوچت مقام څنگه حاصل شوے وو،ددے دپاره هغوی څومره مشقتونه برداشت کړی وو،چه نن هغه مونږه ته هسے قصے ښکاری ،ضروری ده چه ددے په اوریدواوکتلوسره مونږه خپل زړه ته اطمينان ورکړو چه اے نفسه!په دے کښې ستاکاميابی مُضمر ده۔

ے بے محنت پیہم کوئی جوہر نہیں کھلتا: روشن شرر تیشہ سے ہے خانہ فرہاد (اقبال)

## ابودرداءؓ ته ديوحديث دپاره مدينے نه دمشق ته سفر کول

کثيربن قيسؒ وائی چه زه حضرت ابودرداءؓ څخه ددمشق په جمات کښې ناست ووم يو کس دهغه په خدمت کښې راغے او وے وئيل چه زه مدينے منورے نه ديو حديث په غرض راغلے يم، ما اوريدلی دی چه هغه تاسو دنبی عليه السلام نه اوريدلے دے ، ابودرداءؓ ترے تپوس اوکړو څه نورتجارتی کارخودے نه وو؟وے وئيل نه صرف حديث معلومولو دپاره راغلے يم، ابودرداءؓ اوفرمائيل چه مادنبی عليه السلام نه اوريدلی دی چه څوک په يوه لاره دعلم حاصلولو دپاره ځی،

الله‌تعالی دهغه دپاره دجنت لاره اسانوی، اوفرښتې خپلې وزرې دطالب علم درضادپاره غوړوی اودطالب علم دپاره دآسمان اودزمکې اوسیدونکی استغفارکوی، تردې پورې چه کبان چه په اُوبوکښې اوسی هغه هم ورله استغفارکوی اودعالم فضیلت په عابدباندې داسې دے لکه دسپوږمۍ فضیلت په تولوستوروباندې چه دے اوعلماء دانبیاؤوارثان دی، انبیاء علیهم السلام څوک ددیناراودرهم وارث نه جوړوی بلکه دعلم وارث یې جوړوی څوک چه علم حاصلوی هغه یولوئ دولت حاصلوی (ابن ماجه)

## دابن عباسؓ یوانصاریؓ ته ورتلل اونورمتفرق واقعات

حضرت عبدالله‌بن عباسؓ فرمائی:چه دنبی اکرم ﷺ د وفات نه پس مایوانصاری ته اووې چه نبی علیه السلام خووفات شواُوسه پورې دصحابه کرامؓ لویه ډله موجوده ده، راځه ددوی نه په تپوس تپوس مسئلې یادې کړو،هغه انصاری اووې چه آیاددې صحابه کرامؓ په موجودګۍ کښې به هم خلق تاسوته دمسئلې پوښتنې دپاره راځی، هرکله چه دصحابه کرامؓ لویه ډله موجوده ده،لنډه دا چه دغې صاحب خوهمت اونه کړه اوزه مسئلوپسې شوم اودکوم صاحب متعلق چه به ماته پته اولګیده چه فلانې حدیث هغوی دنبی علیه السلام نه اوریدلې دے هغه ته به ورتلم اوتحقیق به م ترې کولو،ماته دمسائلو ډیره لویه ذخیره دانصارونه حاصله شوه،

بعضے خلقوته به لازم معلومه به شوه چه اُوده دے نومابه خپل
څادرهلته په درشل باندے کیخودو، انتظارکښ به کیناستم اګرچه په
هواسره م په مخ اوپه بدن خاورے هم پریوتلے، خوزه به هلته ناست
وم ،کله چه به هغه راپاسیدونو کومه خبره چه به معلوموله ووده ځے
به م ترے پوښتنه اوکړه، هغے حضراتو به وئیل چه ته دنبی علیه
السلام دتره خوی یے تاولے تکلیف اوکړه زه به دے راغوختے وے،
خومابه وے چه زه علم حاصلونکے یم، په دے وجه زه زیات د
حاضریدو مستحق یم ،بعضو حضراتو به تپوس اوکړوچه ته دکله نه
ناست یے ؟مابه وے ډیرساعت نه،هغه به اووے چه تابد اوکړه ،ماته
به دے خبرکړے وے، مابه اووے زما زړه اونه غوختل چه تاسو
زماپه وجه دخپلو ضروریاتو فارغیدونه وراندے راشئ ،ان تردے چه
یووخت داسے هم راغے چه خلق علم حاصلولودپاره ماځخه جمع
شول بیاهغه انصاری صاحب افسوس اوکړو،وے وئیل چه داهلک
زمونږ نه زیات هوښیاروو۔(دارمی)

که محنت که مشقت دے خو ددین دے
پکار نــــه دے بــل محنت پــــه دا دنیا

شعبیؒ یومشهورمحدث دے دکوفے اوسیدونکے دے یوځل یے
خپل شاګردته حدیث واؤرواووے فرمائیل،چه واخله کورکښ په
ناسته مفت درته حاصل شو،ګنی ددے نه کم دپاره به هم دمدینے
سفرکولے شوځکه په ابتداء کښ دحدیث خزانه مدینه منوره وه۔

امام الائمة امام بخاریؒ شوال ۱۹۴ھ کښې پیداشواویولسو کالو عمر کښې یې حدیث لوستل شروع کړی وو، دعبدالله بن مبارکؒ ټول کتابونه یې په وړوکوالی کښې یادکړی وو، په خپل ښار کښې چه ورته څومره حدیثونه حاصلیدے شو دهغې دحاصلولو نه پس یې سفرشروع کړو، پلاریې وفات شوے وو، یتیم وو مور یې سفر کښې ورسره وه، دے نه پس بلخ، بغداد، مکه مکرمه، بصره، کوفه، شام، عسقلان، حمص، دمشق دغو ښارونو ته لاړو او هرځائے چه کومه ذخیره دحدیثونو ورته حاصلیدے شوه حاصله یې کړه او داسې هلکوالی کښې دحدیث اُستاذجوړشوے وو چه په مخ یې ږیرے ویخته هم نه وو راختلی، وائی چه زما داتلسو کالو عمر وو چه ما دصحابهؓ او دتابعینوؒ فیصلې نومی کتاب جوړ کړو۔

دشعبیؒ بیان دے چه مادمسروقؒ نه زیات دعلم دپاره سفر کونکے نه دے لیدلے۔ حضرت ابوسعیدخدریؓ نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل چه څوک دطلب علم دپاره اوځی فرشتے دده دپاره دعاء کوی، دده معیشت برکتی کیږی، ددے رزق کمیږی نه، مبارک ثابتیږی۔

دحضرت انس بن مالکؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اوفرمایل: طلب علم دپاره وتونکے دواپسئ پورے په جهاد فی سبیل الله کښې دے۔ دشعبیؒ وینا ده که یوسړے دملک شام دآخرنه دیمن دآخره پورے صرف ددے دپاره لاړشی چه دحکمت یوه خبره

واؤری نو زما په نیز دد ے سفر ضائع نشو۔ دحضرت ابو درداءؓ نه منقول دی چه څوک دعلم سفر جهاد نه ګنړی دهغه په عقل کښې نقص دے۔ ابواسامهؒ دحضرت عبدالله بن مبارکؒ متعلق لیکی "مَارَأَیْتُ رَجُلاً اَطْلَبَ الْعِلْمَ فِیْ الْاٰفَاقِ مِنْ اِبْنِ الْمُبَارَکِ" مادعبدالله بن مبارک نه دطلب علم دپاره دملکونو زیات سفر کونکے ندے لیدلے۔

امام ذهبیؒ چه په اول ځل دطلب علم دپاره اُووتُو نو داوو کالو پورے په سفر کښې وو، دبحرین نه مصر، بیا درمله نه دطرطوس سفرے پیدل اوکړو په دے وخت کښې ددوی عمر شل کاله وو۔ ابن المقریؒ فرمائی: چه ما صرف دیو نسخے په خاطر داویا منزلو سفر اوکړو یو منزل په ادنٰی درجے سره دولس میله مقرر شی نو دیو ے نسخے حاصلولو دپاره اته سوه څلویښت میله سفر شو۔ دارقطنیؒ دحدیث مشهور مصنف دے حدیث حاصلولو دپاره بغداد، بصره، کوفه، واسط، مصر او د شام سفرے اوکړو، یو ځلے دأستاذ په مجلس کښې ناست وو اُستاذ لوستل کول او ده څه کتاب نقل کولو یو ملګری اعتراض اوکړو چه ته بل خوا ولے متوجه یے، وے فرمایل چه زما اوستا په توجه کښې فرق دے اوښایه! اُستاذ او سه پورے څومره حدیثونه واؤرول، هغه په سوچ کښې پریوت، دارقطنیؒ اوفرمائیل چه اُستاذ اتلس حدیثونه واؤرول، اول داوو، دویم داوو، دغسے ترتیب وارتول حدیثونه یے سره دسنده واؤرول۔ دامام ابویوسفؒ اُستاذان دسلونه متجاوز دی چه په مختلفو ځاینو کښې یے دهغوی نه استفاده

کړے وه۔

د امام ابو حنیفهؒ دوفات نه روستو امام محمدؒ دمکه مکرمه، مدینه منوره، بصره، واسط، شام، خراسان، یمامه وغیره ته سفراو کړواودبے شماره علماء نه یے استفاده او کړه۔ اسحق بن راهویهؒ په حالاتو کښ دی چه په دغه وخت څومره مدارس ووهغه ټولوته تلے اوهلته نه نے علم حاصل کړے وواګرچه دغه مدرسے به ډیوبل نه په زرګونو میلونو لرے هم وے۔ سفیان بن عیینهؒ داتیاؤ نه زیات علماء نه علم حاصل کړواودد ے دپاره یے د مختلفو مقاماتُ سفراو کړو۔ امام شعبیؒ تقریبًا دڅلورسوؤ تابعینونه سماع حدیث او کړه اودد ے دپاره یے دلرے لرے مقاماتو سفراو کړو کله به یے دیو حدیث دپاره په زرګونو میل سفراو کړو۔ علی ابن مدینیؒ دطلب علم په شوق کښ مکه مکرمه، مدینه منوره، بغداد، کوفه یمن، وغیره سفرے کړے وے۔ ابو حاتم رازیؒ چه د عِللُ امام دے دهغوی په باره کښ تذکرة الحفاظ کښ دی چه په کم عمر کښ دطلب علم دپاره دوطن نه اووتو، په کلونوبه په سفر کښ وواوچه کورته به راغلونوزربه بیاپه سفرروان شو۔ امام لیث بن سعدؒ دمختلف ملکونو سفراو کړواودد غه ملکونو د علماؤنه یے استفاده او کړه چه په دے کښ پنځوس کبارتابعین هم دی۔

امام مالکؒ دسعیدبن مسیب تابعیؒ نه روایت کړے دے چه زه دیو حدیث دپاره څوورځے اوشپے پیدل ګرځیدلے یم۔

حافظ الحدیث ابوالعباس رازیؒ پیدائشی ړوندو ودے باوجود یے دعلم حاصلولو دپاره دبلخ، بخارا، نیشاپور سفراو کړو۔ حافظ ابوعبدالله اصفهانیؒ یو ځل دخپل سفر دمقاماتو تفصیل بیان کړو په یوسفر کښې یے شل مقامات بیان کړل چه هلته یے دعلم د حاصلولو دپاره سفر کړے وو۔ حافظ ابوالخطاب اندلسیؒ د تحصیل علم دحرص په غرض اول دتول ملک اسپین سفراو کړو ددے ځاینه چه فارغ شو نو دمراکش او د نورو ملکونو دسفرکولو نه روستو مصرته ورسیدلو او ددینه پس یے د شام، عراق، عرب او خراسان سفراو کړو۔ عبدالله بن مبارکؒ مشهور محدث دے دحدیث په حاصلولو کښې ددوی محنت مشهور دے په خپله وائی چه ما دڅلورزره اُستاذانو نه احادیث حاصل کړی دی۔

علامه ذهبیؒ فرمائی "رَحَلَ (اِمَامُ النَّسَائِیْ) اِلٰی قُتَیْبَةَ وَلَهٗ خَمْسَ عَشَرَةَ سَنَةً" یعنی امام نسائی دقتیبه بن سعدؒ په خدمت کښې دعلم حاصلولو دپاره حاضرشو او ده عمر پنځلس کاله وو، دده سره یو کال او دوه میاشتے وو بیا د مزید علم دپاره مصر، شام، حجاز، عراق، الجزائر، خراسان وغیره مختلفو ښارونو سفریے او کړو او د هر ځائے دارباب فضل و کمال نه یے علم حاصل کړو۔ ابن المقریؒ محمدبن ابراهیم اصبهانیؒ دطلب علم دپاره ددنیانه تاؤشوے وو۔ ابو طاهر احمدبن محمودؒ فرمائی ما دابن المقری نه اوریدلی فرمائیل یے چه" ما دطلب علم دپاره دمشرق او مغرب څلور ځل چکرلګولے دے "(صفحات من

صبر العلماء ۶۴) - ابو عبدالله ابن منده په حالاتو کښې دی چه ده د شلو کالو په عمر کښې دعلم دپاره سفر شروع کړو او چه کور ته واپس کیدو نو دده عمر ۶۵ کاله ته رسیدلے وو نو تقریبا پنځه څلویښت کاله یے علم حاصل کړو، دده د اُستاذانو تعداد یو سل اویا [۱۷۰] ته رسی، چه دوی کله دخپل او کد سفر نه واپس شول نو ددوی کتابونه په اوښانو باندے باروو، بعض حضرات وائی چه په څلویښت اوښانو باندِ باروو. امام احمد بن حنبلؒ فرمائی چه زه دعلم په تلاش کښې دربدر ګرځیدلے یم ملک مغرب جزائر، مکه، مدینه، حجاز، یمن، ټول عراق، فارس، خراسان، دغه رنګے سرحدونه، سواحل او بیبانونه مِ طے کړل او بیا بغداد ته واپس شوم. (البدایة والنهایة، صفحات من صبر العلماء ۵۴) فضل بن محمد بن مسیب بیهقی شعرانیؒ په فن حدیث کښې امام حافظ وو او دطلب علم دپاره یے ددنیا چکر لګولے وو. ابن مؤصلؒ وائی چه مونږ په خپل مینځ کښې وئیل چه داندلس نه علاوه ددنیا اِسلام داسے ملک به نه وی چه هلته فضل شعرانیؒ دطلب حدیث دپاره نوی رسیدلے. علامه سمعانیؒ فرمائی چه ما دخپلو اُستاذانو نه واوریدل چه محمد ابن طاهرؒ به په یوه شپه کښې تقریبا ولس [۱۷] فرسخ (۸۹،۱/۴ کلومیټر) سفر کولو او همیشه به په یوه شپه او ورځ کښې ۲۰ فرسخ (۱۰۵ کلومیټر) پیدل تللو مسلکاً ظاهری (داؤد بن علی الظاهری متبع وو) او دطلب حدیث دپاره یے ددنیا چکر لګولے وو، داسے بے شماره داسلافو واقعات دی چه ددے

محنت په وجه الله تعالی خومونږ لوئ مرتبے هغوی له ورکړے۔

ے اُولئِکَ: النَّاسُ اِنْ عُدُّوا اِنْ ذُکِرُوا

وَمَنْ سِوَاهُمْ فَلَغْوٌ غَیْرُ مَعْدُوْدٖ

ترجمه

ے جان کر منجملہ خاصان میخانہ مجھے: مدتوں رویا کریں گے جام و پیمانہ مجھے

## تحصیل علم زمانه کښ دتکالیفو په راتللو کښ ثابت قدمي

ے مکن زغصہ شکایت کہ در طریق طلب: راحتے نہ رسید آنکہ زحمتے نہ کشید

حضرت ابن عباسؓ اوفرمائیل: درسول الله په صحابو کښ ماته د انصارونه ډیرعلم مِلاؤشو،زه به دیو انصاری په دروازه کښ د غرمے په ګرمئ کښ پروت اُوم حالانکه که ماغوښتلے نوهغه به زما دملاقات دپاره فوراً راوتلے مګرماته به دهغه دآرام خیال وو۔ داامام مالکؒ وینا ده داعلم حاصلیږی نه، څوپورے چه ددے په لارکښ دفقراوفاقے مزه اونه څکے، بیایے دربیعهؒ غربت او مصیبت بیان کړوچه هغه ته په طلب علم کښ رسیدلی وو، وے فرمائیل ربیعهؒ دومره غریب شوے ووچه دکورچهت یے خرڅ کړودهغه غذا،به داوه چه دمدینے دډیران نه به یے بے کاره وڅکے راټولولے اوهغه به یے خوړلے۔

امام احمدبن حنبلؒ چه کله په مکه مکرمه کښ دسفیان بن عیینهؒ سره سبق وئیلو نویو ځل خلاف معمول سبق ته ناوخته راورسیدو، دملګروپه تپوس باندے یے اُوئیل چه جامے رانه چا پټے کړے

وے نو دھغے دوجے نه راته پریشانی راورسیده، بلکه جوړه ورسره نوه چه اغوستے وے او سبق ته حاضر شوے وے۔

میر مبارک محدث بلګرامیؒ یو ځل ډیرے سختے ولګے دوجے نه راپریوتو ډیر زیات تپوس نه پس یے اُوئیل چه ددرے ورځو نه وګے اُوم، ددوی شاګرد میر طفیل روټئ راوړه نو دوی انکار اوکړو، چه زما په نفس کښ اُمید پیدا شوے وو لهذا بوجه اشراف نفس ددے خوړل جائز نه دی ، میر طفیل روټئ واغسته او لاړو، لګ روسته دوباره حاضر شو چه حضرت! اوس خو ستاسو امید ختم شوے وو، نو اُستاذ په خوشحالئ سره روټئ او خوړله او د شاګرد په حُسنِ تدبیر باندے ډیر زیات خوشحاله شو۔ امام ابو علی بلخیؒ چه کله عسقلان کښ وو نو دبار بار ولګے نوبت پرے راغلو او ضعف دوجے نه یے لیکل هم نشو کولے نو چه کله ډیر پریشانه شو نو دروټئ تنور خواته په بازار کښ په دِغرض کیناستو چه دِ خوشبو راباندے لګی او زړه ته لګ فرحت میلاویږی او طبعیت لګ صحیح شی۔

دفنِ حدیث عالی مرتبت امام ابو حاتم رازیؒ خپله تو له قصه پخپله بیانوی چه د طالب ګرئ په زمانه کښ څوارلس کاله زه په بصره کښ اُوم یو ځل دتنګ دستئ نوبت دیته ورسیدو چه خپلے جامے م خرځے کړے، چه داختمے شوے نو بیا راباندے دوه ورځے ولګه راغله، آخرم یو دوست ته حال بیان کړو هغه سره یوه اشرفئ وه نیمه هغه واغسته او نیمه یے ماله راکړه۔

ابن ابی داؤدؒ چه کله کوفے ته د طالب کرئ دپاره لاړونو صرف یو درهم ورسره وو په هغے سره باقلا (بابرنګ) واخستل دا به یے خوړل او طالب کری به یے کوله۔ د اصحاب صُفّه حال داوو چه څو څو ورځے به وکی ووچر ته به ورته څه مِلاؤشول نووو به یے خوړل، حضور ﷺ ته به چه کله څه راغلل هغه به یے په دوی تقسیم کړل، په دے حالت کښں هغوی علم حاصل کړو او تول عالم یے خروب کړو۔ امام بخاریؒ یو شاګرد ددوی په واسطه سره بیانوی چه کله زه د آدم بن ابی یاسؒ په خدمت کښں حاضر شوم نو دخرچے په رارسیدلو کښں ډیر تاخیر وشو تر دے پورے چه دوه ورځے ما په ګیاه خوړلو تیرے کړے۔ امام شافعیؒ به فرمائیل چه دشپاړس کاله نه ما په ډکه خیټه روټئ نده خوړلے ځکه ددے سره بدن درنیږی، په زړه کښں سختی پیدا کیږی، عقل کمزورے کیږی، خوب ډیر راځی، په عبادت کښں کمے راځی۔

دامام طبرانیؒ وسعتِ معلومات ته چا وکتل تپوس یے ترینه او کړو چه تاسو ته دومره معلومات څنګه حاصل شو، نو امام طبرانیؒ او فرمایل چه عزتمنده! ددیرش کالو راسے زما ملا دچټائی نه سوا دبلے بسترے مزه نده اخستے۔ (صفحات من صبر العلماء ۱۲۸)

حضرت مولنا صدیقؒ به فرمائیل چه په ما باندے داسے سخت حالات هم راغلی دی چه دبازار نه به مِ دمُولو پانړے راوړے او دصفا کولو نه پس به مِ خوړے۔

داسلافو ددے څو واقعاتونه به تاسو ته اندازه شوی وی چه دے حضراتو دعلم حاصلولو دپاره څومره تکلیفونه، پریشانیانے، مصائب والام، ولګے اوتندے برداشت کړے وے اوددے په وجه الله تعالیٰ مغوی څومره اوچت مقام ته ورسول اودبرخے خاوندان یے کړل،ددے زمانے اودهغه زمانے په طالب علمانوکښ دزمکے اوآسمان فرق دے،نن ددے تکالیفوڅه تصوّرهم نشته البته که سره دهرقسمه سهولیاتونه لګ معمولی شان تکلیف،پریشانی یادأستاذ،مهتمم،ناظم دطرفه لګه ناخوښه خبره راپیښه شی،نوپه هغے باندے آسمان په سراوچتوی اودعلم تولے تقاضے شاته غورزوی،دمدرسے أستاذانو نه بائکاټ ، دهغوی خلاف پارټی بازی، کنټل،بدرداودا سے نور خلافِ ادب کارونه راپیښدل څه نااشناکارنه دے۔

داخو داسلافویو څو واقعات بطورمشت نمونه خروارووو،ورنه په دے موضوع مستقل کتابونه لیکلی شوی دی، ددے واقعاتونه مونږ ته داسبق مِلاویږی چه دعلم په حصول کښ دطبعیت نه خلاف هریوناخوښ کارمونږه په خوشحالئ سره برداشت کړو،چه الله مودد ے اسلافو په نقشِ قدم روان کړی۔

هر محنتے ،مقدمہ راحتے بود
شد ہمزبان حق چو زبان کلیم سوخت

# د وقت قدر و قیمت

نصیحت ہمیں ست جان پدر : کہ عمر عزیز ست ضائع مکن

وقت په اصل کښې ژوند دے، دد ے په صحیح استعمال سره انسان
د کامیابۍ معراج ته خیژي یا د ذلت په کندو کښې غورځیږي، چاته چه
د وقت قدر و قیمت معلوم شو ے وو هغوی په خپل ژوند کښې لوئ
لوئ کارنامے او کړے، هغوی د خپل ژوند یوه یوه لمحه لحظه په ډیر
سوچ او فکر سره تیره کړه او په دنیا آخرت کښې د کامیابۍ سره مخامخ
شو، د وقت قدر و قیمت، اهمیت چه چاته نصیب شي نو دا الله تعالی
لوئ فضل او احسان د ے، ورنه ډیر خلق د خپل ژوند دا قیمتي لمحات
په عبثو او بے فائدو کارونو او خبرو کښې تیروی، وائي چه راځئ په فلانئ
لوبے سره خپل تائم پاس کړو، په بازارونو دوکانونو کښې په هسے
ناستے سره وخت تیروی، د ګپ شپ محفلونه منعقد کوی، په ګهنټو
په دغه مجلسونو کښې ناست وی چه د لایعني، فضول او د خلقو د
غیبت نه خالي نه وی، خصوصًا د ځوانو، اخترونو او داسے نور د
خوشحالۍ غم په مجلسونو کښې قیمتي وخت عبث کوی بلکه داسے
خلق د ځانله ناستے نه په وحشت کښې وی داسے محفلونه ګوري یا
منعقد کوی چه هلته وخت تیر کړي، په لارو، کوڅو، بازارونو، میلو کښې
یوشی بل شي ته په کتلو سره تائم پاس کوی نو داسے خلق د حیات،
ژوند، وقت په معنی مطلب او حقیقت باندے خبر نه دی او ژوند یے
دواوړے پشان ولګیږي او دوی پرے خبر نه دی، یو داوړے تاجر ژړلے
چه اے خلقو! زمانه دا واوړه وا خلئ خکه چه واوړه روانه ده ولے کیږي

او زما سرمايه په ختميدو ده، ويلے کيږي "اَلْوَقْتُ مِنْ ذَهَبٍ" وقت دا سرهٔ زر دي نو سرهٔ زرچه څوک هسے خرابوي په لارو، کوڅو او بازارونو کښې ،نو هغه ته به بلاشبه خلق ليونے وائي بلکه وقت د سرو زرونه هم زيات قيمتي دے ځکه سرهٔ زر چه ستا نه ضائع شي نو نور هم حاصلولے شے ليکن وقت چه يو ځل لاړشي نو بيا لاس ته راتلونکے نه دے۔

حَيَاتُکَ اَنْفَاسٌ تُعَدُّ فَکُلَّمَا : مَضٰی نَفَسٌ مِنْهَا انْتَقَصْتَ بِهَا جُزْاً

ستا ژوند خو يو څو د شمار ساګانے دي هر کله چه يوه ساه تيره شي نو په دے سره ستا د ژوند نه يوه حصه کمه کړه،هوښياران وائي "اَلْوَقْتُ کَالسَّيْفِ اِنْ لَّمْ تَقْطَعْهُ قَطَعَکَ" وقت په شان د توري دے که تا قطع نکړونو تا به قطع کړي يعني که تا د وقت نه فائده وانخسته او څه عمل دے پکښې اونکړونو دا په شان د توري د ګزار دے چه په ناخبرئ کښې به په تا ولګي۔او وئيلے کيږي "مِنْ عَلَامَةِ الْمَقْتِ اِضَاعَةُ الْوَقْتِ" د الله تعالی د ناراضګئ د علاماتو نه يو دا هم دے چه ته هسے په فضول او عبث کارونو کښې خپل وقت ضائع کړے ځکه د آخرت تول مصالح،نفع فائده دوخت په اهتمام سره حاصليږي چه دا انسان ضائع کړي نود هرشي نه محرومه شي۔

په غفلت دِ عمر تير کړو : نه رهرو شوے نه رهبر

دد ے وجے نه په قرآن کښې د زمانے،وقت اهميت،عظمت په مختلفو طريقو سره بيان شوے دے ، کله الله جل شانه په زمانے او وقت باندے قسم خوري لکه په دے وختونو الله جل شانه قسم

خوړلے دے وَبِالَّيْلِ، وَالنَّهَارِ، وَالْفَجْرِ، وَالصُّبْحِ، وَالشَّفَقِ، وَالضُّحٰى، وَالْعَصْرِ، اللہ تعالیٰ فرمائی: وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى (الّیل ۱،۲) وَالَّيْلِ اِذْ اَدْبَرَ وَالصُّبْحِ اِذَا اَسْفَرَ (المدثر ۳۳،۳۴) وَالَّيْلِ اِذَا عَسْعَسَ وَالصُّبْحِ اِذَا تَنَفَّسَ (التکویر ۱۷،۱۸) فَلَا اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ (الانشقاق ۱۶،۱۷) وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ (الفجر ۱،۲) وَالضُّحٰى وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى (الضحیٰ ۱،۲) وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ (العصر ۱،۲) نو ددینه دزمانے اودوقت اهمیت معلومیږی چه اللہ تعالیٰ دعظیم الشان کارونو دبیانولو دپاره دزمانے اووقت قسم خوړلے دے اوددے خبرے تنبیه ده چه شپه اوورځ دانسان دپاره یو غنیمت او فرصت دے اودا ډیر په آسانه سره انسان ضائع کوی، ددے وجے نه اللہ تعالیٰ کفار مخاطب کړی دی چه هغوی په دنیا کښ خپل عمرونه ضائع کړی دی او په کفر باندے همیشه پاتی شوی وی او سره داو ګد عمرنه هغوی د کفرنه اسلام ته نوی راغلی، نو اللہ تعالیٰ فرمائی "اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيْرُ فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ" (فاطر ۳۷) آیا او نه وو درکړے مونږ تاسو ته عمر دومره چه پند حاصل کړے وے په هغه کښ، هغه چا چه پندیے قبلولو او راغلے وو تاسو ته ویرونکے پس وڅکئ پس نشته دظالمانو دپاره هیڅ امداد کوُنکے۔

که ډیر عمر پکار دے غفلت مکړه

په اُوده باندے سل کاله یو زمان شی۔

امام فخر الدین رازیؒ د سورة العصر په تفسیر کښې فرمائی "اَقْسَمَ اللّٰهُ بِالْعَصْرِ الَّذِیْ هُوَ الزَّمَنُ لِمَافِیْهِ مِنَ الْاَعَاجِیْبِ لِاَنَّهُ یَحْصُلُ فِیْهِ السَّرَاءُ وَالضَّرَاءُ وَالصِّحَّةُ وَالسَّقَمُ وَالْغِنٰی وَالْفَقْرُوَلِاَنَّ الْعُمَرَلَایَقُوْمُ بِشَیْءٍ نَفَاسَةً وَغَلَاءً" الله تعالیٰ په عصر باندے قسم وخوړ چه زمانه ده ځکه په دے کښې عجائب لکه خوشحالی او غم صحت او مرض مالداری او غریبی او داسے نور احوال واقع کیږی او ځکه د عمر د نفاست او د ګرانۍ په اعتبار سره هیڅ شے قیمت نشی جوړیدے۔

د دینه علاوه په احادیثو کښې څومره د وقت اهمیت، وضاحت، عظمت او شان بیان شوے دے لکه امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې حدیث نقل کړے دے "عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَعْذَرَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اِلٰی اِمْرِئٍ اِخْرَاَجَلَهُ حَتّٰی بَلَغَ سِتِّیْنَ سَنَةً" (کتاب الرقاق، باب من بلغ ستین سنة فقد اعذر الله الیه فی العمر) چه الله تعالیٰ د هغه چا عذر ختم کړو چه د هغه عمر روستو کړی، تر دے چه شپیته کالو ته ورسی، نو داد قیامت په ورځ د عذاب نه د بچ کیدو د پاره هیڅ قسم عذر نشی بیانولے۔

غنیمت سمجھ لو زندگی کی بہار : آنا نہ ہوگا یہاں بار بار

دغه شان امام بخاریؒ، امام ترمذیؒ، امام ابن ماجهؒ د ابن عباسؓ نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی "نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِیْهِمَا کَثِیْرٌمِنَ النَّاسِ :اَلصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ" دوه نعمتونه دی چه ډیر خلق

دد ے په حقله په تاوان کښې دي یو روغ صحت او بل فراغت (صحیح البخاری اول کتاب الرقاق، باب ماجاء فی الرقاق وانه لاعیش الاعیش الاخرة ،والترمذی فی کتاب الذهد فی باب الصحة والفراغ نعمتان.... وابن ماجه فی کتاب الذهد فی باب الحکمة) مقصود دحدیث نه دادے چه اکثر خلق دصحت او فراغت نه فائده نه اخلی او دا په غیر فائده مند کارونو کښې ضائع کوی، نو بیا دا دوی دپاره وبال جوړ شی او که دائے دخیر په کارونو کښې لګولے نو ډیر فائده مند به وے۔

په امیدامیدیے خلق ناامید کړه: دایام له مکره مه شه بے پروا

امام ابن جوزیؒ نورهم دد ے وضاحت کوی، قَالَ الاِمَامُ اِبْنُ الْجوزی "قَدْيَكُوْنُ الْاِنْسَانُ صَحِيْحًا وَلَايَكُوْنُ مُتفَرِغًا، لِشُغْلِهِ بِالْمَعَاشِ، وَقَدْيَكُوْنُ مُسْتَغْنِيًا وَلَايَكُوْنُ صَحِيْحًا، فَإِذَااجْتَمَعَافَغَلَبَ عَلَيْهِ الْكَسْلُ عَنِ الطَّاعَةِ فَهُوَالْمَغْبُوْنُ، وَتَمَامُ ذَالِکَ اَنّ الدُّنْيَامَزْرَعَةُ الْاٰخِرَةِ، وَفِيْهَا التِّجَارَةُ الَّتِىْ يَظْهَرُرِبْحُهَافِىْ الْاٰخِرَةِ، فَمَنْ اسْتَعْمَلَ فَرَاغَهُ وَصِحّتَهُ فِىْ طَاعَةِ اللهِ فَهُوَالْمَغْبُوْطُ، وَمَنْ اسْتَعْمَلَهُمَافِىْ مَعْصِيَةِ اللهِ فَهُوَالْمَغْبُوْنُ، لِاَنّ الْفَرَاغَ يَعْقُبُهُ الشُّغْلُ، وَالصِّحّةُ يَعْقُبُهَا السّقَمُ" (قیمة الزمن عندالعلماء ص۲۲ حاشیه) یعنی کله انسان صحت مندوی خو فارغ نه وی لکه دکاروبار مصروفیت وی او کله دمعاش نه مستغنی وی لیکن صحت مندنه وی، نو چه دا داوړه یو انسان ته حاصل وی او بیا هم په طاعاتو کښې دستئ نه کار اخلی نو دا مغبون یعنی تاوانی دے او دد ے خبرے لندیز دادے چه دنیا دآخرت کرونده ده او په دیکښې داسے تجارت روان دے چه

کته به نه آخرت کښې ښکاریږی، نوځوک چه خپل فراغت او صحت دالله تعالیٰ اودرسولﷺ په طاعت کښې ولګوی نودامغبوط دے یعنی نفع مندد ے اوځوک چه داداوره دالله تعالیٰ او د رسولﷺ په نافرمانئ کښې ولګوی نودامغبون تاوانی دے ځکه دفراغت نه بعدمصروفیت اودصحت نه پس بیماری راځی۔

محقق طیبیؒ فرمائی: نبی کریم ﷺ دمکلف مثال دتاجرسره ورکړے دے چه دهغه سره راس المال وی نودد ے دحفاظت سره سره هغه دنفع حاصلولو خواهشمندوی نودهغه طریقه داده چه دچاسره معامله کوی نوبه سوچ بچارکوی اوپه ځان به صداقت اوهوښیارتوب لازم کړی، ددے دپاره چه تاوانی نشی نو صحت اوفراغت دانسان راس المال دے۔

اِذَاکَانَ رَاْسُ الْمَالِ عُمْرُکَ فَاحْتَرِزْ، عَلَیْهِ مِنَ الْاِنْفَاقِ فِیْ غَیْرِوَاجِبِ

کله چه راس المال ستاعمردے نوځان وساته ددے دخرچ کولو نه په غیرضروری کارونو کښې۔ (عمارة الیمنی م۵۶۹ھ)نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه وقت ښکاره اولوئ نعمت دے او ددے په حقیقت اوددینه فائده نشی حاصلولے مګرچاله چه الله تعالیٰ توفیق ورکړی اودحدیث نه معلومیږی چه داسے خلق کم دی۔

عزیزطلبه وطالبات! داخبره یادساتئ چه ستاسو دکامیابئ رازدوقت په قدروقیمت پیژندلواوپه صحیح استعمال راوړلو کښې دے، ددے په صحیح اهتمام سره به تاسو دعزت اوکمال درجوته رسئ اوداسے

علمي او ديني خدمات به درنه الله تعالیٰ واخلي چه دقيامته پورې به يادېږي او ستاسو نوم به ژوندے وي، ورنه وقت ډېر په تيزئ سره روان دے دچا انتظار نه کوي۔

جیتے ہو تو کچھ کیجئے زندوں کی طرح: مردوں کی طرح جئے تو کیا خاک جئے (حالی)

لهذا مونږ دا قيمتي لمحات محفوظ کړو او په کارېے راولو، لګ خو مونږ دخپلو اسلافو دژوند مطالعه کړو چه هغوی سره دوقت څومره قدرو قيمت او اهميت وو او دژندګئ يوه يوه لمحه به ئے څنګه په سوچ سره تيروله او څنګه په دنيا کښې بے مثاله علمي خدمات هغوی او کړل، چه هغوی دوقت قدردان وو څکه دبعض حضراتو تصنيفات زروته، دبعضو اوه سوه پورې، د بعضو دشپږ سوه پورې، دبعضو ددرې سوه پورې او دبعضو ددوه سوه پورې او دبعضو دسلو پورې او دبعضو دپنځو سو پورې تعداد رسيدلے دے او دعلم په هرفن کښې يې داسې بيش قيمته خدمات انجام کړل چه ټول له دنيا ترينه اوس فائده اخلي او پس د مرګه اوس هغوی دپاره صدقه جاريه ده ،نو دا دومره لوئ سعادت دوقت په صحيح استعمال سره حاصلېږي۔

## وقت د اکابرينو په نظر کښې

دحضرت عمرؓ قول دے "اِنِّيْ لَاَكْرَهُ اَنْ اَرىٰ اَحَدَكُمْ سَبَهْلَلاً، اى فارِغًا، لَافِيْ عَمَلِ دُنْيَاوَلَافِيْ اٰخِرَةٍ" چه زه داخبره مغيوب کنړم چه ستاسو نه يو کس لايعني ژندګي تيروي، نه د دنيا کار کوي او نه ددين، صحابي

جلیل عبدالله بن مسعودؓ فرمائی ماافسوس ندے کړے پشان
دافسوس دهغے ورځے چه دهغے نمرپریوځی "نَقَصَ فِیْهِ اَجَلِیْ وَلَمْ
یَزْدِفِیْهِ عَمَلِیْ" چه نیته دعمرِم کمه شوه اوعمل مِ پکښې زیات
نشو۔ اودعمربن عبدالعزیزؒ وینا ده "اِنَّ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ یَعْمَلَانِ فِیْکَ
فَاعْمَلْ فِیْهِمَا" شپه اوورځ په تاکښې تصرف اوعمل کوی ته هم پکښې
څه عمل اوکړه۔

بے مِقراضه غُوځوی دسړی عُمر: هم دالیل وهم نهاردد ے دنیا
حسن بصریؒ فرمائی "یَاابْنَ اٰدَمَ اِنَّمَااَنْتَ اَیَّامٌ فَاِذَاذَهَبَ یَوْمٌ ذَهَبَ
بَعْضُکَ" اے دادمؑ ځویه! ته خودورځونه عبارت یے چه یوه ورځ تیره
شی نوستایوه حصه لاړه اودائے هم فرمائیلی "اَدْرَکْتُ اَقْوَامًا کَانُوْاعَلٰی
اَوْقَاتِهِمْ اَشَدُّمِنْکُمْ حِرْصًا عَلٰی دَرَاهِمِکُمْ وَدَنَانِیْرِکُمْ" ما داسے خلق
لیدلی دی چه هغوی په خپلو وقتونو ډیر حریص وولکه حرص
ستاسو په درهمو دنانیرو اوامام شافعیؒ فرمائی "صَحِبْتُ الصُّوْفِیَّةَ فَلَمْ
اَسْتَفِدْمِنْهُمْ سِوٰی حَرْفَیْنِ" زه دصوفیاکرامو سره پاتی شوم مادهغوی نه
استفاده اونکړه مګرد دوه کلمویو داچه وقت توره ده که ته یے کټ
نکړے نوتابه کټ کړی اودویم "وَنَفْسَکَ اِنْ شَغَلْتَهَابِالْحَقِّ وَاِلَّاشَغَلَکَ
بِالْبَاطِلِ" که نفس دِپه ښه کارمشغول کړونوډیره ښه ده ورنه تابه په
فضول کارکښې مصروف اومشغول کړی۔ عامربن عبدقیس
تابعیؒ ته چاوئیل "کَلِّمْنِیْ" ماسره خبرے اوکړه هغه ورته اُوئیل

"اَمسِكِ الشَّمسَ" نمر حصار کړه چه خبرے درسره اوکړم ،ځکه زمانه روانه ده واپس نه راځي او خساره يے لويه ده نو څنګ خبرے اوکړم، خليل بن احمد فراهيدی بصریؒ (۱۰۰-۱۷۰ھ) به فرمائيل "اَثقَلُ السَّاعَاتِ عَلَیَّ سَاعَةٌ اٰکُلُ فِيهَا" په ما باندے دروند او ګران هغه وخت وی چه زه پکښې روټۍ خورم چه ما په دے کښې څه دينی کار اونکړو- ددينه دهغوی په نيز دوقت قدرو قيمت معلوميږی- قاضی امام ابويوسفؒ (يعقوب بن ابراهيم انصاری کوفی ثم البغدادی ۱۱۳-۱۸۲ھ) دمرګ په سلګو کښې دے ،ددوی شاګرد ابراهيم بن جراح کوفیؒ ثم المصری فرمائی زه تپوس له ورغلم نوبے هوش وو چه هوش کښې راغے نووے فرمائيل "مَاتَقُولُ فِیْ مَسْأَلَةٍ" فلانۍ مسئله کښې تاسو څه وائی؟نوما اُوئيل "فِیْ مِثْلِ هٰذِهِ الحَالَةِ!" په دے حالت کښې هم تاسو دمسئلے فکر کوئ، نوهغوی اوفرمائيل څه حرج نشته شايد بيا چاته فائده ورکړی،هغه مسئله ئے وچيړله،بيا ابراهيم فرمائی زه راروان شوم دروازے ته نه اُوم رسيدلے چه دخلقو ژړامے واوريدله يعنی وفات شو-

دغه شان واقعه دابوالريحان بيرونیؒ (محمدبن احمد خوارزمی ۳۶۲-۴۴۰ھ) ده چه دمرګ په سلګو کښې دے اوديو عالِم نه دميراث دمسئلے تپوس کوی هغه شفقتاً تعجب اوکړو،نو دوی اُوئيل چه ددنيانه لاړشم اودامسئله راته معلومه وی بهتره ده چه جاهل لاړشم

نو چه مسئلے ئے ورته حل کړه او داترینه را اُوتلو نو ددروازے سره یے دخلقو ژړا واؤریدله۔

امام نووی (یحی بن شرف ۶۳۱ـ۶۷۹) فرمائی "وَبَقِيْتُ نَحْوَسَنَتَيْنِ لَمْ اَضَعْ جَنْبِيْ اِلَى الْاَرْضِ" ددوه کالونه ماپه بستره ډډه نده لګولے۔ حضرت مولانا اعزازعلی فرمائی چه کومه زمانه تیره شوه نوهغه ختمه شوه دهغے یادول عبث دی او ائنده زمانے طرف ته امید ساتل بس اُمید دے، ستاپه اختیارکښې خوبس هغه لګ وخت دے چه اوس په تاتیریګی بس ددے قدراو کړه۔

۔تیرساعت په مثال مړے دلحد دے
مړ چاندے ژوندے کړے په ژړا

۔ هره چارچه تروخت تیره شی عنقاشی
عنقانه دے په دام نښتے دهیچا

## د اوقاتو د محفوظ کولو د پاره نِظامُ الاوقات جُوړول

طلباؤله دوقت محفوظ کولو دپاره بهترین عمل نظام الاوقات دے چه دشپے اوورځے دمعمولاتو دپاره نظام جوړکړی نواوقات به محفوظ وی اووقت به هسے نه ضائع کوی، ورنه چه په غورسره اوکتلے شی نوپه مدرسه کښې تعلیمی وقت شپږاوه ګنټے وی او په بعضو مدرسو کښې دماښام ماسخوتن نه روستویوه یوه ګنټه دتکرار، مطالعه دپاره وی او شپږ ګنټے دخوب دپاره، دوه درے ګنټے

دمونځونو، تفریح دپاره نودا اتلس کنتې شوې، نودا باقي وقت په څه کښې لګی، لازمی خبره ده چه داهسې فضول تیریږی، نوپه نظام الاوقات سره داوقت محفوظ شی، اکابرینو علماؤچه کومې کارنامې اوکړې نوداځکه چه هغوی داوقاتو پابندوو، لکه شیخ الحدیث مولانا ذکریاؒ فرمائی چه دخپلو کارونو د پاره اوقات مقررکړئ په دیکښې دوروکې اوغټ پرواه مه کوئ بعض خلق داخلاقوعذرکوی چه څوک راشی نوهغه داسې پریخوستل بداخلاقی ده، زه وایم که په دې وخت کښې دقضائے حاجت ضرورت راپیښ شی نو ددې عذریه نه کوې؟

ے کیسے گلے رقیب کے کیا طعن اقرباء: تیرا دل ہی نہ چاہے تو باتیں ہزار ہیں

## هرعمل په خپل مناسب وقت کول

بعض داسې علمی کارونه وی چه هغه انسان په هروقت کښې کولې شی څه ډیرزیات توجه، بیداری اوجورفکرته پکښې ضرورت نه وی لکه سپکه اوآسانه غونډې مطالعه، لیکل، هسې معمولی په کتاب باندې نظراچول، دلغت په کتاب کښې دیولفظ معنی کتل نوداپه خپل مناسب وخت کښې کول اوبعض داسې علمی کارونه وی چه په هغې کښې ډیرفکر، تدبر، غورخوض، بیدارئ ته ضرورت وی نودابیاپُرسکون ماحول ته پریخوستل چه ذهن پکښې صفاوی، مکان اوماحول پرسکون وی لکه دتهجدواودتهجدونه روستووخت، دسحر

وخت ،شپه چه خلق په قلاره شی،دغه رنګ دولکی په حالت کښې هم مطالعه څه یادول وغیره ډیرزیات ښه وی اوکه ولګه زیاته وی نولګ څه دے وُخوری، لیکن په ډیر خوراک سره داموقع ختمیږی،دمطالعے ځائے هم د خلقو دشورشغب نه لری وی که دوه چته ځائے وی نوبره چهت بیا ډیرمناسب دے۔

بیادوقت دمحفوظ کولو دپاره داهم ضروری دی چه ډیوفن دمطالعے نه ستړے شے نوتوقف مه کوه بلکه په بل فن کښې ځان مشغوله کړه بلکه خپل نفس سره ددرس په معامله کښې دهوکه کوه اوپه قسماقسم طریقوسره دنفس نه کاراخله، لکه ابن المراغیؒ ادیب (م۱۷۳هـ)فرمائی "یَنۡبَغِیۡ اَنۡ یُخادِعَ الۡاِنۡسَانُ نَفۡسَهُ فِیۡ الدّرۡسِ" انسان له مناسب دی دخپل نفس سره ددرس په معامله کښې دهوکه کوی، یعنی چه څه سستی،ستومانی راشی نودادے په چستئ سره بدله کړی لکه اشعار،حکایاتوو ئیلوسره،دهغه ځائے نه لګ بهرته وتل، دیوے کمرے نه بلے ته تلل، مختصر غوندے غُسل کول، معمولی خوراک څکاک،تلاوتِ قرآن په تیزآوازسره،دچاسره مشغولیدل داسے نورے شماره طریقوسره نفس اماده کول۔

که مقصودلرے تلوارکړه وخت کوتاه دے
غره مه شه ددے عمرپه بقا

## د ابن جوزيؒ نصيحت

قَالَ الْإِمَامُ الْمُرَبِّى ابُوالفَرَجِ اِبْنُ الْجوزِىؒ، فِىْ رِسَالَتِهِ اللَّطِيْفَةِ النَّاصِحَةِ لِوَلَدِهِ الْمُسَمَّاةِ "لَفْتَةُ الْكَبِدِ فِىْ نَصِيْحَةِ الْوَلَدِ" اَلْكَسَلُ عَنِ الْفَضَائِلِ بِئْسَ الرَّفِيْقُ! وَحُبُّ الرَّاحَةِ يُوْرِثُ مِنَ النَّدمِ مَايَرْبُوْعَلٰى كُلِّ لَذَّةٍ فَانْتَبِهْ وَاتْعَبْ لِنَفْسِكَ، وَانْدَمْ عَلٰى مَامَضٰى مِنْ تَفْرِيْطِكَ وَاجْتَهِدْ فِىْ لِحَاقِ الْكَامِلِيْنَ مَادَامَ فِىْ الْوَقْتِ سِعَةٌ وَاسْقِ غُصْنَكَ مَادَامَتْ فِيْهِ رُطُوْبَةٌ وَاذْكُرْ سَاعَتَكَ الَّتِىْ ضَاعَتْ، فَكَفٰى بِهَا عِظَةً ذَهَبَتْ لَذَّةُ الْكَسَلِ فِيْهَا وَفَاتَتْ مَرَاتِبُ الْفَضَائِلِ (قيمة الزمن عندالعلماء ص ۱۱۳) د اهم کارونونه سستی کول ناکاره ملګرے دے، دراحت وآرام خواهش دداسے پښیمانتیا سبب دے چه هر لذت نه زیات وی، نو ویخ شه او خپل ځان دښو کارونو دپاره ستړے کړه، په مخکښ زیاتی باندے پښیمانه شه ځوپورے چه وقت کښ ګنجائش وی نو د کاملینو خلقو سره دملاویدو دپاره کوشش اوکړه ځوپورے چه ستاڅانګه تازه وی نو اُوبه ورکه اوهغه وخت رایا دکړه چه تا ضائع کړو، نو دا دنصیحت دپاره کافی دی چه دسستئ لذت ختم شو په دغه تیرو ورځو کښ او دفضائلو مراتب ستانه فوت شول۔

نن صبا طالبانِ علم ډیر زیات سهل پسند، نرم نازک شوی دی دسبق نه زیات فکر دخپل سهولت وی، داحمد بن فارس رازیؒ (۳۲۹، ۳۹۵هـ) اشعار دمغوی دحال منظرکشی کریده۔

۔ اِذَاكَانَ يُؤْذِيْكَ حَرُّ الْمَصِيْفِ: وَيُبْسُ الْخَرِيْفِ وَبَرْدُ الشِّتَا

وَيُلْهِيكَ حُسْنُ زَمَانِ الرَّبِيعِ: فَأَخُذُكَ لِلْعِلْمِ قُلْ لِيْ: مَتٰى؟

كله چه تاته دګرمۍ موسم ګرمي اوږمي يخني دخزان وچوالے تاته تكليف دررسوی اوپسرلے تاغافله كوی نوماته ووايه چه ته به علم په كوم وخت كښ حاصلوے۔

؎ عمر گراں مایه دریں صرف شد : تا چه خورم صیف وچه پوشم شتا

دعقلمند طالب علم دپاره داخبرے كافي دي چه هغه خپل قيمتي اوقات په عمل خير سره مشغول كړي اوبياخاص كردچتۍ ورځے شپے اودغه رنګ فارغ اوقات اودانه چه فارغ اوقات يے غالب وی دكاركولوپه اوقاتو باندے چه دادافسوس اودحسرت خبره ده۔

؎ شرط نصیحت بود بجا اورم: اگر قبول کنی ورنہ آں تو میدانی

## د چُتيانو دپاره لائِحه عمل

عمومي طورباندے په مدارسو كښ دامتحانونونه بعد،دلوئ اخترنه روستو اودتعليمي كال په آخركښ تعطيلات كيږي، بايدچه طالب علم ددے دپاره هم يو لائحه عمل تيار كړي اويوورځ هم هسے فضول اوپه لايعني كاركښ تيره نكړي،طالب علم په خپله كته اوتاوان ښه پوهه دے نوددے دپاره دے مناسب كارونه اوعملونه منتخب كړي چه وخت هسے ضائع نشي-

مثلاًكوم ضرويات اوحاجات چه دوران سبق كښ نشوكيدلے هغه دے اوس پوراكړي،دتبليغي جماعت سره دِپه اوكدوچتيانو كښ

چلّه او مختصر چټیانو کښې سه روزه ولګوي ، دغه شان دذمه دار او حق پرست علماؤ په نګرانئ او مشورے سره دے دِاعلاءِ کلمة الله دپاره دڅپل ځان، مال او وخت قربانی ورکړي، دمهتمم صاحب، ناظم صاحب یا اُستاذانو دطرف نه چه کوم یو کار په ذمه لګیدلے وي هغه دے پوره اکړي، دکوم طالب علم دچاسره اصلاحي تعلق وي نو څه ورځے دهغه په صحبت کښې تیرول، حافظ وي نو په اوګدو چټیانو کښې دقرآن پاک دورکول او دے سره سره دکور دضروریاتو دوالدینو دخدمت دپاره هم څه ورځے متعین کول، دتعلیمي کال په اختتام چه کومه چټي کیږي هغه اوګده وي په دے وجه په هغه کښې دقرآن درس ضرورکول، ځائے په ځائے په کلي، علاقه او ښارونو کښې دمتبع سنت او ماهر قرآن نه درس کول نهایت لازمي دي ځکه زمونږه د علم مقصدهم په قرآن ځان پوهه کول دي نو دے کښې نه کوتاهي کول او نه دچادخبرو نه متاثره کیدل، اکثرطلبه ددے چټئ دپاره دمخکښې نه ترتیب جوړنکړي نو هسے ترینه ضائع شي او هیڅ پکښې هم ونکړي۔

ہلک نہ ہے چہ پہ زور دڅوک تعلیم کا
هم عاقل یے هم بالغ یے هم دانا

علامه ابن قیمؒ فرمائي: "السَّنَةُ شَجَرَةٌ وَالشُّهُورُ فُرُوعُهَا وَالأَيَّامُ اَغْصَانُهَا وَالسَّاعَاتُ اَوْرَاقُهَا وَالأَنْفَاسُ ثَمَرُهَا فَمَنْ كَانَتْ اَنْفَاسُهُ فِيْ طَاعَةٍ فَثَمَرَتُهُ طَيِّبَةٌ وَمَنْ كَانَتْ اَنْفَاسُهُ فِيْ مَعْصِيَةٍ فَثَمَرَتُهُ حَنْظَلٌ فَأَيُّ الثِّمَارِ تُرِيْدُ" کال

پشان دونے دے او میاشتے یے خاخونه دی او ورځے نے ځانگے دی او گنتے نے پانړے دی او ساه کانے نے میوے دی نو دچاساه چه په ښه کارونو کښې تیریږی نو دده میوے به خوږے او مزیدارے وی او که دچاساه او وقت په غلط کارونو، گناهونو، او فضولیاتو کښې تیریږی نو دده میوه به حنظل (مراغونے) وی نوائے طالبه! ته اوس کوم قسم میوے غواړے دهغے مطابق عمل او کړه او خپل وقت په کار راوله۔

ے آشیانہ شاخ گل پہ کب تیری میراث ہے: بس غنیمت جان لے جتنا بسیرا ہو گیا

## دسبق پابندی اود غیر حاضرئ نحُوست

ے جو دل میں بات ہے کھل کر اسے بیان کردوں
اگر چہ خفا ہو یا نہ ہو بندے سے مصلحان کرام

دکوم طالب علم سره چه دوقت قدروقیمت اهمیت وی نوهغه به لامحالة ددرس اوسبق پابندی کوی او په معمولی معمولی بهانوسره به سبق نه قضاکوی، ځکه دیوے ورځے دسبق دبلے ورځے دسبق سره ربط او تعلق وی نو بیابله ورځ په ډیر کوشش سره هم کماحقه نه پوهیږی، مونږه به دأستاذانو نه اوریدل چه دیوے غیرحاضرئ اثر دڅلویښت ورځو پورے وی، نو په دے وجه دسبق پابندی نهایت ضروری ده، نن طالب علم په معمولی معمولی بهانوسره دسبق نه غیرحاضر کیږی لکه معمولی باران ، دحاجیانو استقبال ،یاپه لسم کلی کښې څوک مړوی نودابه وائی چه مړے شوے وو او یابه نیا اونیکه

یادوی اوپه کال کښې به یې خوځل مره کوی، دا ډیر لوی نقصان دے
چه کله سبق کښې غواړی راشي او کله وُغواړی نو غائب، په درس گاه
کښې اُستاذ سبق وائی او دا په کمره کښې په گپ شپ مصروف وی، په
بازارونو کښې فضول گرځی، یا د میلمنو په خدمت کښې مصروف
وی وغیره بلکه بعضے طلبه خود مدرسے نه وتختی
او بیا اُستاذ بدناموی چه هغه نه وو، که اُستاذ ورته څه وونه وائی یا ترینه
ځان په څه طریقه بچ کړی، نو نورو ملگرو ته خپله بهادری بیانوی چه
د اُستاذ و هلو نه مِ ځان بچ کړو او کوم اُستاذ چه ورسره په دِباره کښې
نرمی کوی نو د هغه نه په موجوده وخت کښې خوشحاله وی چه دا ښه
اُستاذ دے او که په مدرسه کښې په غیر حاضرئ څه بروبزن نه
وی نو بیا خو خیر خلاص!

من آنچه شرط بلاغست با تو می گویم: تو خواه از سخنم پند گیر خواه ملال

## د اسلافو د سبق پابندی

گرانو او محترمو طلباؤ او طالباتو!

د سبق پابندی نه کول د علم نه د محرومئ او بے برکتئ لوی سبب دے
په دِسره د مدرسے یا د اُستاذ تاوان نه کوئ بلکه دا ستاسو خپل تاوان
دے۔

مونږه چه د کومو مشرانو کتابونه وایو، لږ خو د هغوی واقعات
اُوگورو چه هغوی به څنگه په هر حالت کښې خواکه یخنی وه او که
گرمی، پسرلے وو او که خزان، بیماری وه او که صحت، خوشحالی وه

او که غم باران وو او که وریځ په هرحالت کښې به هغوی دسبق پابندي کوله، لکه امام ابویوسف دسبق حاضري او پابندي او د اُستاذمعیت یے په هرڅه مقدم کړے وو دوی دامام صاحب سره اولس یا نهیش کاله متواتر په درس کښې شریک شوے وو، په دِ اوګده مُوده کښې داسے وخت ندے راغلے چه دوی دسحرپه مانځه کښې دامام صاحب سره نوی شریک شوے څکه امام صاحبؒ به دسحردمانځه نه پس درس شروع کولو، پخپله فرمائی چه ددیرے مودے نه زه امام صاحبؒ سره اُوم سوا دبیمارئ نه، دغټ اولوئ اخترپه ورځ هم دهغه نه، نه یم جداشوے حالانکه په دِ ورځ خَلق په کورکښې اودخپل خپلوانوسره مشغول وی۔

ددوی بله واقعه ده فرمائی "مَاتَ اِبْنٌ لِیْ فَلَمْ اَحْضُرْ جِهَازَهٗ وَلَا دَفْنَهٗ وَتَرَکْتُهٗ عَلٰی جِیْرَانِیْ وَاَقْرَبَائِیْ مَخَافَةَ اَنْ یَفُوْتَنِیْ مِنْ اَبِیْ حَنِیْفَةَ شَیْءٌ لَاتَذْهَبُ حَسْرَتُهٗ عَنِّیْ" (مناقب ابی حنیفة للامام الموفق المکی بحواله قیمة الزمن ۳۱) چه زما خوی وفات شواوزه دهغه دفن اوجنازے ته حاضرنشوم اوداکارم خپلوانواو کاونډیانوته پریخودو ددے ویرے نه چه دامام صاحبؒ درس رانه فوت نشی چه بیابه راته همیشه حسرت وی۔ داواقعه زمونږدپاره یولوئ عبرت دے، فَاعْتَبِرُوْا یٰاُولِی الْاَبْصَارِ.

علامه کبیرابوالمعالی محمود شکری الوسیؒ (م۱۳۴۲ھ) په وقت ډیرحریص وو په هرحال کښې به درس ته حاضریدو، ددوی شاګرد بهجة الاثریؒ فرمائی چه یوځل زه په سخته ورځ چه باران اوهوا اوسختے

چقړے وے درس ته حاضرنشوم ،په دے کمان چه أستاذبه هم نوی راغلے ، کله چه زه په دویمه ورځ حاضرشوم نوپه غصه کښې یے داشعروئیلو "وَلَاخَيْرَفِيْمَنْ عَاقَهُ الْحَرُّوَالْبَرْدُ" په هغه چاکښې څه خیرنشته چه کرمی اویخنی ورته مانع شی ددرس نه (قیمة الزمن ۱۱۲)۔

علامه ابن جوزیؒ فرمائی چه مابه دسبق درسیدلو دپاره دومره منډه وهله چه ساه به مِ ونخته۔امام ثعلبؒ فرمائی چه پنځوس کالونه برابرزه ابراهیم حربیؒ په خپل مجلس کښې حاضروینم کله هم هغوی غیرحاضری نده کړے۔

عصام بن یوسف حنفی بلخیؒ (م۲۱۵ھ)دأستاذپه درس کښې ناست ووچه أستاذیے درس شروع کړونودده سره قلم نه وونودیو کس نه یے په یودینارقلم واخستوچه داپه دغه وخت او اوس هم ډیرلوئ قیمت دے، داپه دِ وجه چه دهغوی سره دسبق اهمیت اوقدروو۔ محمدبن سلام بیکنْدِیؒ دبخاریؒ أستاذ(م۲۲۷ھ)چه کله طالب علم وونودأستاذپه درس کښې ناست وواوأستاذ،حدیث بیانول اوشاگردانوته یے اِملا کوله ددوی قلم مات شونودچاپه ذریعه یے آواز اوکړو "قَلَمٌ بِدِيْنَارٍ"قلم په یودینارڅوک خرڅوی "فَتَطَايَرَتْ اِلَيْهِ الْاَقْلَامُ" نوقلمونه ورته راوالوتل څکه چه داډیرقیمت وو(عمدة القاری،کتاب الایمان ،باب قول النبیﷺ انا اعلمکم بالله، قیمة الزمن ۳۲)۔

دطالب علمئ په زمانه کښې یوځل امام شافعیؒ په سبق کښې غیرحاضرشوأستاذفکرمندشوچه هغوی خوغیرحاضری نه کوی ولے

رانغلو، د تحقیق حال دپاره یې یو شاګرد ولیګلو نو معلومه شوه چه هغوی سره یو جوړه وه هغه یې په قرض کښې ورکړے وه، دد ے حدیث داوریدلو نه بعد چه په مقروض به نبی کریمؐ دجنازے مونځ نه کولو او دقیامت په ورځ به دقرض په بدله کښې دده نه نیکئ اغستلے کیږی او دچا احسان په ځان اړول یا سوال خو بعیده خبره وه، نو بیا تر ے تپوس وشو چه اوس څه طریقه اختیار کړو، نو دوی او فرمائیل چه زمانه څه کار دلیکلو وغیره واخلئ او دهغے اجرت راکړئ نو دا صورت اختیار کړے شو، په هغه وخت کښې دمدرسو دطرفه داسے انتظامات دوسیلو دخوراک او دوظیفے نه وو نو ددے په بنیاد به هغوی قرضدارے شوے وو، نه داچه نن صبا طالبان علم دغُوړو، زړو په وجه مقروض کیږی۔ عبدالرحمن ابن قاسمؒ دامام مالکؒ په درس کښې اولس کاله پاتی شو او په دِ زمانه کښې کور ته نه ووتلے۔

نن په معمولی معمولی بهانه طلباء کور ته ځی او بیا بے ضرور ته غیر حاضری کوی، چه په کور کښې یا مدرسه کښې میلمه راشی نو بس بهانه مِلاؤ شوه او سبق ورته قضا کړی۔

شیخ شرف الدین یحی منیریؒ چه کله دخپل وطن نه دعلم دپاره سفر او کړو نو چه څه خطونه به راتلل نو هغه به یې په یوه کوټئ کښې اچول او په دے وجه به یې نه لوستل چه په طبیعت کښې به انتشار، تشویش راشی او په حصولِ مقصد کښې به خلل راشی۔

صاحب تعلیم المتعلم فرمائی: او طالب علم لره خو دسبق نه هدو چُتی

کول نه دی پکار، ولې چه چُټی دعلم دپاره دافت درجه لری، زمونږه أُستاذ شیخ الاسلام برهان الدینؒ به فرمائیل: دازه چه دخپلو تولو ملګرونه وړاندې شوم نو ددې وجه داده چه چرې چهټی مِ نه ده کړې۔ (تعلیم المتعلم ۲۴)

۔ آتی رہے گی تیرے انفاس کی خوشبو: گلشن تیری یادوں کا مہکتا ہی رہے گا۔

★

## دمطالعه کولواهمیت، فوائِد او طریقه

په یوه جامعه یا مدرسه کښې په لس، یو لس کاله کښې شپیته اویا کتابونه وئیل او دستاربندی کولو نه بعد خپل ځان دعلم او تعلیم نه فارغ نه ګنړل بلکه دعلم او تعلیم ابتدأ اوس ددې ځائنه وشوه، ددې ځو کالو په محنت سره مدرسې ته عالم جوړنکړې بلکه دعِلمی مُهم دپاره یې ستا دماغ تیار کړل او په تا کښې داسې استعداد پیدا شو چه ته به اوس په خپل قُوّتِ مطالعه سره مخکښې ځې او دعلم په سمندر کښې به غُوپې وهې او بیش بها او قیمتی جواهر او نوادرات به راوباسې او خپلې غاړې ته او دخپل ذهن په بریف کیس کښې به یې جمع کوې۔

دارسمی تعلیم انتها نده بلکه داخو ابتدأ ده، اوس تا ته دترقئ او کامیابئ یوه پوړئ مِلاؤ شوه ته اوس په دِ خیژه او خپل ځان او اُمت په علمی خدماتو سره منور کړه۔

دمطالعې شوق دهرانسان دپاره بالخصوص دمُعلِم اومُتعلِم دپاره لویه خوبي ده بلکه دټولو خوبیانو جوړه ده، ددې مطالعه ،تحقیق په وجه نن څومره په دنیاکښې په مختلف موضوعاتو، فنونو باندې کتابونه، رسالې ولیکلې شوې اولیکلې کیږي اوچه عام سړې سوچ کوي نو هغه ته دامحسوسیږي چه داسې یوه موضوع به نوي پاتې شوي چه په هغه به کتاب یارساله نوي لیکلې شوي، زمونږه دمشرانو دکامیابۍ راز هم داووچه دمرګه پورې هغوي خپل ځان عالم نه بلکه طالب علم ګڼړلو اودمطالعه په زورسره هغوي کوم مقام اوځائې ته ورسیدل ۔

لکه حضرت مولانا مفتي شفيعؒ به فرمائيل:چه دحضرت شاه صاحب دفیض صحبت په بناباندې مونږه ته هم دمطالعې چسکه لګیدلې وه ،دفراغت نه بعدتقریبًا یو کال ماداسې تیرکړو چه دڅوسبقونو درس کولو نه بعدبه دکتب بینی نه علاوه زمابل کارنه وو،په غرمه کښې به دارالعلوم دیوبندکتب خانې ته داخل شوم اوکله به ناظم کتب خانه راپسې تاله ولګوله اومابه دننه دکتابونومطالعه کوله۔

مولناعبدالوحیدصاحبؒ یوځل اوفرمائیل:چه دطالبۍ په زمانه کښې به کله زماټوله شپه په مطالعه کښې تیره شوه۔

دمطالعې چسکه چه یوطالب علم ته ولګی نودا لوئ نعمت دے بیا ددینه بغیرسُکون نه مِلاویږي، په غیرتعلیمي مشاغلو او فضولیاتوکښې به ورته وخت تیریدلو نه نفرت پیداشي، ورنه اکثرطلبه

دمطالعه په دوران کښې دتنګیدلو شکایت کوي، چه نشم کیناستے، ساخفي رابانددے راځي، نو نن په طلباؤ کښې دمطالعے بابت بے شوقي، بے ذوقي ډیره زیاته عامه شوے ده ځکه چه ذاتي مشاغل، غیرتعلیمي مصروفیات، تعلقات، میل جول دومره زیات دي چه دعزم مُصمّم نه باوجود طالب ځان نشي فارغولے چه نتیجه یے بنکاره ده، نو که دکامیابئ معراج ته ختل غواړے نودهغے دپاره به دطالبئ د دورنه دالامبوا یزده کړے، ځان به دمطالعے اوبهترین ملګري کتاب سره اشنا کړے۔

ع وَخَیْرُ جَلِیْسٍ فِیْ الزَّمَانِ کِتَابُ

ورنه روستو بیا ددے عادت جوړول ډیرمشکل دي، کوم طالب علم چه مطالعه کوي دهغه استعدادورځ په ورځ زیاتیږي، دتحقیق ماده پکښې پیداکیږي، علمي نکات اورموزپرے کولاویږي، دعقل سطحه یے ورځ په ورځ زیاتیږي، په علم کښې وسعت اوفراخي اودعلم مختلفے دروازے ورته کولاویږي، مطالعه دتکمیل علم اومعیارتعلیم دأوچتولودپاره لوئ موقوف علیه دے، دنوي سبق په مطالعه کولوسره په هغه سبق باندے دأستاذنه بنه پوهه شي، ډیروخت یے په یاداشت کښې وي دأستاذهم په پوهه کولو کښې وخت کم ولګي۔

حضرت مولانا قاري عبدالرحمن پاني پتيؒ په حالاتو کښې دي چه ابتدائي کُتُب یے دوالدصاحب نه أوئیل یوځل یے بنه مطالعه نوه کړے نو والدصاحب ورته سبق وونه وایو، قاري صاحب فرمائي چه

په دغه ورځ دومره خفه شوم چه روټۍ مې نشوه خوړے اوبيا چرته زما مطالعه قضانشوه ، چه دطالبۍ د دورنه دمطالعه کولوعادت جوړشي اودنوي سبق مطالعه کوي نوبعدالفراغت به دمشکل مقاماتواودکتاب په معاني اومطالبوباندے عبورحاصل وي،الغرض مطالعه دارتقائے علمي دپاره لوئ سبب دے ۔

## د تجرباتُو په نچوړ کښې د مطالعه کولوطريقه

حضرت مولانا مسيح الله خان صاحبؒ شرواني فرمائي:چه مطالعه دطلوع نه مشتق ده په معنی د"راوتلو"اودباب مفاعله يوه خاصه تعديه يعني متعدي جوړول دي لهذاپه معنی د"راويستلو"شواويوه خاصه دباب مفاعله مبالغه ده نوپه دے اعتبارسره دمطالعه معنی "ډيراوښه راويستل"شو،دے وجے نه نقوش کتاب چه دمخکښې نه په ذهن اودماغ کښې په مختلفووُجُوه سره مخفي دي دهغه دپوهه کيدودپاره مختلف قسم غورفکرکول اودفکرسوچ محنت به ضروري وي۔

اول محنت:خودلغت اوصرف په اعتبارسره سوچ اوځان پوهه کول چه کومه صيغه ده اوڅه معنی يے ده،دويم محنت:دعلم نحواوترکيب په اعتبارسره کتل اوسوچ کول چه په ترکيب کښې څه واقع دے اواعرابي لحاظ سره څنګه ولوستلے شي تنوين سره يا بلاتنوين، دحرکات ثلاثه نه په کوم حرکت سره به لوستل صحيح

وی دریم فکری محنت به داوی چه دماقبل ومابعدپه اعتبارسره به ترجمه څنګه صحیح وی اودلته به ددے څه مطلب وی مصنف څه وئیل اوپوهه کول غواړی، نو دمختلف احتمالاتو راویستلوسره دادرے مرحلے طے کول دیته مطالعه وائی صرف دکتاب په نقوش باندے نظراچول اوبغیردفکرسوچ اوپوهے نه کیف ماتفق په ژبے سره تلفظ کولونوم هرګزمطالعه نه ده، داحقیقت مخے ته ایخودلوسره مطالعه اوکړئ اوددے دپاره چه څومره ذهن خالی اوفارغ وی هغومره به فکراوسوچ صحیح وی، په داسے غورفکرسره کارکونکی طالب علم ته به اول اول ډیرتعب، مشقت اوستومانی محسوسیږی اوډیروخت خرچ کولونه باوجودبه دکارمقدارډیرکم وی، یعنی په ډیروخت کښې به یوه کرخه نیمه حل کیږی لیکن په باربارکولوسره به ورځ په ورځ په قوت فکریه کښې تیزی، ترقی اوپه مقدارکښې به هم ورځ په ورځ اضافه اوزیاتے راځی، بل طرفته دداسے مطالعه کولوسره به سبق وئیلوکښې لطف اومزه هم محسوسیږی اوسبق به ذهن نشین اومحفوظ کیږی، دعلمی استعدادحاصلولواودترقئ ذریعه دامطالعه ده، ددے وجے نه په دِ محنت ضروری دے سستی اوآرام طلبی په دے قربانول پکاردی اوحتی الامکان یو سبق بلامطالعه مه وائے۔

(رسالہ اشراک، تحفۃ الطلباء والعلماء ۱۸۲)

مولانا ګیلانیؒ دمفتی رکن الدینؒ په حواله دخپل مامامولانا انورخان صاحبؒ دمطالعے حال دهغوی په الفاظو کښې لیکلے دے چه مونږه

به کوشش کولو چه دکتاب مضمون په مطالعه کښ حل شی، طریقه داوه، چه اول به مو عبارت اوترجمے ته توجُه وه چه نوی الفاظ به راتلل هغه به مو دلغت په مددسره حل کول، بیابه مودعبارت په مطلب دپوهه کیدلو کوشش کووکه په یوځل به مضمون حل نشوپه دویم ځل دریم ځل به مو کوشش کولو که ددینه باوجودبه څه پاتی شول نود اُستاذ مولانا فرنگی محلیؒ په درس کښ به حل شو، چه دأستاذنه به دعبارت مطلب معلوم شونودفرط مسرت نه به داسے معلومیده چه دچرته نه قیمتی خزانه مِلاؤشویده، په دے طریقے سره دمطالعه کولونتیجه داوه چه روزانه به دڅوڅوصفحودرس کیدو، حاصل داچه څومره سبق سحرمتوقع وی دهغے حصے صرفی، نحوی تحقیق، عبارت ټیک کول، ترجمه اودعبارت نفس مطلب باندے ښان پوهه کول، که عبارت کښ څه اشکال وی دهغے حل راویستل، که عبارت ددخل مقدرجواب وی نوهغه سوال معلومول چه څه دے؟اوداعبارت یے څنگه جواب جوړیږی، په دے موقع دبین السطور، حاشیه، شرح یادکاپی په زورځان پوهه کولوسره به ستااستعدادته ډیرنقصان رسی ددے درجه په دویم نمبرکښ ده اولاً خپل دماغ استعمالول ثانیاًبیاددینه فائده اخستل مناسب دی، محض په حواشی اوشروح باندے قناعت کول خو دمستعارلباس اغوستلوپشان دی ستاخپل څه دی؟هغه اغه دی چه کوم ته ستادماغ رسیدلی دی نوهغه ستاعلم دے، خصوصاً دطالبئ

په دورکښې دأردوشروحاتونه ځان ساتل نهایت ضروری دی،دادطالب علم دپاره زهرقاتل دی البته که ډیرشوق یے وی نوبین السطور،حاشیه اویاعربی شَرح سره دے خپله تنده ختموی بلکه که وقت مِلاویږی نودعربئ معتبرشروحات کتل پکاردی چه دے سره استعداد زیاتیږی۔

او دتولو کتابونو مطالعه مناسب ده خوآسان ولے نه وی۔ مفتی سعید احمدؒسابق صدرمفتی مظاهرالعلوم فرمائی:چه جلالین شریف مادشل ځله نه زیات درس کړولیکن بغیردمطالعهٔ نه یے اوس هم نه درس کوم اوهرځل په مطالعه کښې نوے لطف اومزه حاصلوم۔

دمطالعه په دوران کښې دنحو،صرف،لغت اونوروفنونواهم اومعیاری کتابونه نزدے دځان سره ایخودل چه دضرورت په وخت مراجعت آسان وی لکه نحودپاره نحومیر،صرف دپاره علم الصیغه،منطق دپاره تیسیرالمنطق،تفهیم المنطق (عبدالله عباس ندوی)اوأصول الفقه دپاره أصول الشاشی،داصول الحدیث دپاره نخبة الفکر،لغت دپاره مصباح اللغات اوالمنجد وغیره چه کوم عبارت دبسیارکوشش باوجودپه ذهن کښې رانشی په هغه نشان لګول،دسبق نه مخکښې دمطالعے مقصدهم دادے چه معلومات دمجهولاتُ نه جداشی۔

بیاصرف په مطالعه اومحنت اکتفانه کول بلکه ددے سره سره دصلوة الحاجت،توبه اوددعأ اهتمام هم ډیرضروری دے۔دمخکښې مشرانوهم دا طُرّه امتیازووچه دمطالعه،محنت سره به یے علیم ذات

ته آه او فریاد کولو لکه ابن تیمیهؒ فرمائی "رُبَّمَا طَالَعْتُ عَلَى الْآيَةِ الْوَاحِدَةِ نَحْوَ مِائَةِ تَفْسِيرٍ، ثُمَّ أَسْأَلُ اللهَ الْفَهْمَ وَأَقُولُ يَا مُعَلِّمَ آدَمَ وَإِبْرَاهِيمَ عَلِّمْنِي، وَكُنْتُ أَذْهَبُ إِلَى الْمَسَاجِدِ الْمَهْجُورَةِ وَنَحْوِهَا وَأُمَرِّغُ وَجْهِي فِي التُّرَابِ وَأَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى وَأَقُولُ يَا مُعَلِّمَ إِبْرَاهِيمَ فَهِّمْنِي "کله به ما دیوایت دپاره دسلو تفسیرونو مطالعه او کړه د مطالعه نه بعد به مِ د الله تعالیٰ نه د فهم سوال کووچه اے د آدم او ابراهیم معلم! ماته علم رانصیب کړه ،زه به خوشے او غیرآباد جماتونو او مقاماتو ته تلم، خپل تندے به مِ په خاورو رابنکلو او وئیل به مِ اے ابراهیمؑ ته تعلیم ورکونکی ذاته! ما پوهه کړه۔ دا ژړا او فریادووچه الله تعالیٰ ترینه د دین خدمت واخستو، دا اکابر زمونږه دپاره بهترینه نمونه دی۔

## خارجی مطالعه مه هیروئ

مخکښې صفحو کښې د مطالعے فوائد او اهمیت څه نه څه بیان شو خو اکه خارجی مطالعه وی او که درسی، لیکن د طلبِ علم په زمانه کښې درسی مطالعه مقدم کول نهایت ضروری دی او خپله برپُور توجُه دیته ورکول پکار دی، البته د دے سره چه کوم وخت فارغ وی نو هغه کښې د خارجی مطالعے عادت جوړول هم پکار دی، د خارجی مطالعه او تحقیق اهمیت په هره زمانه کښې مسلّم دے، د غه وجه ده چه نن صباپه مختلفو موضوعاتو باندے څومره علمی کارشوے دے او کیږی، دا د خارجی مطالعے او تحقیق ثمرات دی چه نن یے امت

تــه فــائده رسی، په يو اعتبارسره دانسان ذهن دكمپيوترپشان دے چه څـه مخے ته راشي هغه دكمپيوترپشان محفوظ كوي ليكن بل اعتبار سـره چـه كـمـپـيـوتـرڅـه مـحـفـوظ كړي هغه كښ څه اضافه يامزيد تـرقـي نشي كيدے ليكن انساني ذهن چه څه محفوظ كړي نوپه هغه كښ مزيدترقي كيږي اود دماغوأو ده طرفونه رابيداريږي اوبيادبيانولوپه وخـت دمـا غ صـرف هـغه نه بيانوي كوم چه ده محفوظ كړي دي، بـلكه دځان نه پكښ نوره هم اضافه كوي، چه كله خبره داسے ده نو د خـارجي مـطـالعه په وجه به ستامعلومات زياتيږي نو كه چرته په يوه مـوضـوع قلم أوچتوے نوستاسره به كافي معلومات وي اوستاقلم به دباران دڅاڅكوپشان الفاظ پريكدي، ياپه يوه موضوع باندے عوام يا خـواصـوسـره دتـخـاطـب مـوقـع راشـي نـوبيابه دخپلے مطالعے په سـمـنـدركښ غُوپے وهے اوقيمتي ملغلرے به راوباسے اودخلقوپه غاړه كښ به يے اميل كوے۔

حـضـرت قـاضـي ثـنـاء اللهصـاحـب پـانـي پتيؒ صرف دأوه كالوپه عـمـركښ قـرآن كـريـم په خپله سينه كښ محفوظ كړے وو او د شپاړس كـالـوپـه عمركښ دتفسير، حديث، فقه، أصول فقه او د تولو عـلـوم عـقـلـيـه، نـقـلـيـه عالم باعمل وو، دوي دحديث تكميل د حضـرت شـاه ولي الله محدث دهلويؒ نه كړے وواود درسي كتابونو ونيـلـوسـره دطـالبئ په زمانه كښ دمحقق مصنفينو تقريبًا درے نيم سوه خـارجي كـتـابـونـه يـے مطالعه كړي وو،امام ابن جوزيؒ فرمائي:

زما طبعیت دکتابونو دمطالعے نه نه مړېږي چه نوے کتاب وینم لکه چه خزانه راته مِلاؤ شوی وی، که زه ووائم چه ما د طالبئ په دور کښ دشل زرو کتابونو مطالعه کړے ده نوزیات به م نوی وئیلی۔

مولانا انورشاه کشمیریؒ دحافظے په اعتبار سره بے مثاله وو، فرمائیل به یے چه دطالبئ په دورکښ فتح الباری دولس جلدونه ماپه شل ورځوکښ کتلی وو، دغه شان به ئے فرمائیل چه بخاری شریف مادولس ځل مطالعه کړے دے، فتح القدیر چه په اته ضخیم جلده کښ دے په شل ورځو کښ ئے مطالعه کړے وو، مسند احمد بن حنبلؒ به ئے روزانه دوه سوه صفحے مطالعه کولے۔

## په خارجی مطالعه کښ د شیطان تلبیس

لیکن ددے سره سره دشیطان دتلبیس نه غافل کیدل ندی پکار چه هغه هرانسان دهغه دعلم مطابق په دهوکه کښ اچوی کله یے داهم نه په غیراهم څیزکښ ولگوی که تاسو خیال کړے وی چه کله انسان خارجی مطالعه کوی نوزړه ته یو فرحت نشاط محسوسیږی لیکن چه کله خپل درسی کتابونو ته دمطالعه دپاره لاس کړی، نوپه زړه باندے یوبوج راشی اونفس نه غواړی چه ددے مطالعه دِوکړے شی، نوداشیطان تلبیس اودهوکه ده ددینه ځان بچ کړئ بلکه قدم به درسی کُتُب وی لکه تهانویؒ یوځل اوفرمائیل چه عوارف المعارف مِ وکتلوچه مطالعه خواکه ددینی کتابونولے نوی لیکن

که ددے وجے نه دذکر الله نه (یادبل اهم کاراواصل مقصودنه مثل درسی کتابونونه) زړه تورېږی او په دے خارجی مطالعه سره زړه خوشحالیږی، نودادنیاده او دشیطان دهوکه ده، نو د مقصوداو غیرمقصود لحاظ پکښ ډیرضروری دے۔

## د کتاب د مطالعے نه بعد!

کله هم چه دیو کتاب یارسالے مطالعه او کړے نوپه تنهائی کښ لګ سوچ او کړه چه ددے کتاب کومه خبره تاته یاده ده او کومه هیره شوه، په دے موضوع دے کتاب څومره حق اداکړے دے اومزیدته ضرورت محسوسوے ، ددے سره سره چه کومه خاص خبره تاته معلومه شوی وی نو هغه په یوه کاپی کښ نوټ کړه، یادکتاب په شروع کښ چه کومه سپینه صفحه وی په هغے ورته اشاره او کړه، بعض خاص خبرے، محاورے، الفاظ په خپل ذهن کښ محفوظ کړه او آئنده یے په خپل خبرواوتحریراتو کښ استعمالوه۔

## د کومو کتابُونو مطالعه پکارده

مطالعه د روح غذاده نو ددے خبرے ډیراحتیاط پکاردے چه مونږه د خپلے روح دپاره څنګه غذامنتخب کوو، څنګه چه د جسمانی غذا دپاره مونږه کوشش کووچه صحیح او صحت مندغذااستعمال کړو ددے دپاره چه په امراضو کښ مبتلانشو، نودغه رنګ چه روح ته خرابه غذا مِلاؤنشی۔ چه دے سره ذهن په غلطه لارغورزیږی۔

نن په مختلفو موضوعاتو باندے بے شماره کتابونه ،رسالے لیکلی شوی دی او په دے کښ بعض داسے کتابونه اورسالے لیکلی شوی دی چه دمبتدی ذهن په شُکوک اوشُبهاتو کښ مبتلاکوی ځکه په کوم مصنف اومؤلف چه کومه خبره غالبه وی هغه طرفته قرآن او حدیث تاووی،نو کله یو صحیح العقیده انسان وی خو دغلط کتاب په کتلو سره یے عقیده خرابه شی،یایوه خبره ورته معلومه ده چه داسے ده لیکن دهغه مصنف انداز تحریر داسے وی چه دامتاثره کړی او خپله خبره ورته غلطه ښکاره شی،نو ددے وجے نه دهرکس ناکس کتاب مطالعه نده پکار بلکه دمصنف او مضمون متعلق بنه تحقیق کولونه بعد دهغه کتاب مطالعه کوئ،حضرت شاه ولی اللهؒ صاحبؒ نه منقول دی فرمائی:چه کله دیو کتاب دمطالعے اراده وی نو اول یے نوم اُوګوره که نوم یے داصل مضمون سره برابرنه وو نومه یے مطالعه کوه، بیا تمهید ته اُوګوره که هغه دکتاب مضمون سره مناسب نه وی تو ترک یے کړه او ددے په مطالعه کولو سره وقت مه ضائعه کوه۔

په دے باب کښ دخپلو اُستاذانو نه تپوس کوئ چه په غلط کتابونو کتلو سره خپل وخت ضائع نکړے او بیاخاص کر فحش ناول، افسانے،فلمی رسالے،ډائجسټ اوداسے نوراخبارونه اورسالے چه د بنځود تصویرونو نه ډک وی دطالب علم دپاره نهایت مضراوزهرقاتل دی۔

## لږ خودخپلو اکابرینو دمطالعے ذوق شوق اُوګوره

محمدبن ابی حاتمؒ وائی چه زه په یوسفر کښې دامام بخاریؒ سره اوم مـاوکتـل چه امـام بخاریؒ په شپه کښې پنځلس پنځلس اوشل شل مرتبه راپاځیدلو ډیوه به ئے لګوله په احادیثو به یے څه نشان لګولواو بیا به څملاستو (تاریخ بغدادبحواله متاع وقت ص ۴۱) دامام محمدؒ دنوم نه څوک نـاواقف دی مـطـالـعـه ددوی طبعیت ثانیه جوړه شوے وه، دکتابونو ډیرے به ورته کرچاپیره پروت وودشپے به نه اوده کیدو خواته به ئے اوبه پرتے وے چه خوب به ورتلو نوپه اُوبوسره به یے زائلـه کـولـو، چاتـرینـه دکم اوده کیدلووجے تپوس وکړونودوی اوفرمائیل "کَیْفَ اَنَامُ وَقَدْنَامَتْ عُیُوْنُ الْمُسْلِمِیْنَ تَوَکُّلاً عَلَیْنَا یَقُوْلُوْنَ اِذَا وَقَعَ لَنَا اَمْرٌ رَفَعْنَاهُ اِلَیْهِ فَیَکْشِفُهُ لَنَا فَاِذَانِمْتُ فَفِیْهِ تَضْیِعُ الدِّیْنِ" زه څنګه اوده شم چه عـام مسلمانان په مونږه باندے اعتمادکولوسره اُوده شوی دی چه مونږه به دهغوی راهنمائی کوو۔ دعلم دمشغلے دوجے نـه بـه دخپـلـو جامـونـه ناخبره ووکه کوروالابه ترینه خیرنے جامے ویستلے نـوفبهاورنه دوی ته به احساس نه وو۔په مطالعه کښې به دومره مستغرق ووچه کله به چاسلام اوکړونوپه جواب کښې به ورته په ځائے دسلام دعاکوله چه سلام کونکی به دوباره سلام اوکړونودوی بـه دوبـاره دعـائیـه کـلـمـات اوئیل۔کوروالاته ئے وئیلی ووچه څه ضرورت وی مـاتـه ئے مه وائے بلکه زماوکیل ته ئے وائے چه زماپه

مطالعه کښې خلل رانشي۔په کورکښې یوبانګې ووچه بې وخته به ئې اذان کولونودوی ذبح کړوچه دازماپه مطالعه کښې خلل راولی،دوی به فرمائیل "لَذَّاتُ الْاَفْکَارِ خَیْرٌ مِنْ لَذَّاتِ الْاَبْکَارِ" د فکر او نظر لذتونو مخې ته دپیغلو لذت هیڅ هم نه دے(متاع وقت ص ۱۳۰)۔

امام زهریؒ ته به دومره علمی انهماک وواودومره به په مطالعه کښې مشغول ووچه دکورخبره ورته هم نه وو،ښځې ئې داچرته برداشت کولے شو یوځل ئې وئیل "وَاللّٰهِ هٰذِهِ الْکُتُبُ اَشَدُّ عَلَیَّ مِنْ ثَلٰثِ ضَرَائِرِ" په خدائے قسم داکتابونه په ماد دریو بنونه زیات درانه دی(متاع وقت ۱۳۲)

خلیل بن احمد نحوی (م۱۷۰ھ) دهغه وخت په باره کښې چه بغیر د مطالعه نه په روټۍ کښې تیریږی فرمائی "اَثْقَلُ السَّاعَاتِ عَلَیَّ سَاعَةٌ اٰکُلُ فِیْهَا" هغه وخت په ما ډیر ګران تیریږی چه زه پکښې روټۍ خورم۔

جاحظ معتزلی ته دمطالعه کولو دومره چسکه وه چه کتب خانې به ئې په کرایه اخستې اوټوله شپه به ئې مطالعه کوله اوچه نوے کتاب به ورته مِلاؤشو هغې پورے به ئې دلاس نه نه ایخودو څو پورے به ئې چه ختم کړے نه وو، دعُمر په آخری حصه کښې نیم مفلوج زده شو اوبیاد مطالعه په دوران کښې پرے کړچاپیره کتابونه راوُغورزیدل چه دائے دمرګ سبب شو (متاع وقت ص ۱۴۴) محمد بن سحنونؒ قیروانی دفقه مالکی جلیل القدر عالم وو(م۲۵۶ھ)د دوی دمطالعه داحال ووچه یوځل دماسخوتن په وخت ام مدام نومی ددوی وینځې ورته روټۍ حاضره کړه، دوی چونکه په تالیف کښې مشغول

وونو عذرے اوکړو، چه وینځه ډیر انتظارنه ستومانه شوه نوپخپله به ئے لُقمے جوړولے اوددوی په خُوله کښې به ئے ورکولے ،دوی دمشغولیت په عالم کښې وُخوړے ،پوره شپه داسے په مطالعه کښې تیره شوه چه دسحر آذان وشو نورابیدارشو نووینځے ته ئے اُوئیل ام مدام! نن شپه زه مشغول شوم چه څه روټئ وی رامخے ته ئے کړه،نوام مدام وئیل چه هغه ماپه تاسو اُوخوړه، وے فرمائیل چه ماته خو احساس هم ندے شوے(صفحات من صبر العلماء ۱۲۳ )

دشپے د درس حدیث مجلس لګیدلے ووچه دامام مسلمؒ نه دیو حدیث پوښتنه اوشوه هغه ورته په دغه وخت مستحضرنه وو، کورته راغلومطالعه ئے شروع کړه کوروالوورته کهجورے کیخودے دسحرپورے حدیث مِلاؤشو،خو دډیراستغراق دوجے نه ئے کهجورے ډیرے کړے وے چه بیمارشواودائے دوفات سبب شو (صفحات من صبر العلماء ۱۲۵ ) امام ثعلبؒ ته به چه چادعوت ورکړونوپه دے شرط به ئے قبلولو چه په دعوت کښې به ماله دمطالعے دپاره دځائے اهتمام کوئ۔مشهورسائنسدان حسین بن علی مشهورپه ابن سینا سره داتلس کالو عمرپورے شپه اوورځ په سبق وئیلو کښې مشغوله وودمحنت اومطالعه په وجه کله ټوله شپه نوو اوده شوے چه خوب به ورته راغلو نوڅه به ئے وڅکل اوبیابه ئے مطالعه شروع کړه۔

علامه ابن جوزیؒ فرمائی مادمدرسه نظامیه دټولے کتب خانے

وونو عذرے او کړو، چه وینځه دډیر انتظارنه ستومانه شوه نوپخپله به ئے لُقمے جوړولے اودوی په خُوله کښې به ئے ورکولے، دوی دمشغولیت په عالم کښې وُخوړے، پوره شپه داسے په مطالعه کښې تیره شوه چه دسحرآذان وشونوړابیدارشونووینځے ته ئے اُوئیل ام مدام! نن شپه زه مشغول شوم چه څه روټئ وی رامخے ته ئے کړه، نوام مدام وئیل چه هغه ماپه تاسواُوخوړه، وے فرمائیل چه ماته خو احساس هم ندے شوے(صفحات من صبر العلماء ۱۲۳)

دشپے د درس حدیث مجلس لګیدلے ووچه دامام مسلمؒ نه دیو حدیث پوښتنه اوشوه هغه ورته په دغه وخت مستحضرنه وو، کورته راغلومطالعه ئے شروع کړه کوروالوورته کهجورے کیخودے دسحرپورے حدیث مِلاؤشو، خودډیراستغراق دوجے نه ئے کهجورے ډیرے کړے وے چه بیمارشواودائے دوفات سبب شو (صفحات من صبر العلماء ۱۲۵) امام ثعلبؒ ته به چه چادعوت ورکړونوپه دے شرط به ئے قبلولوچه په دعوت کښې به ماله دمطالعے دپاره دځائے اهتمام کوئ۔مشهورسائنسدان حسین بن علی مشهورپه ابن سینا سره داتلس کالو عمرپورے شپه اوورځ په سبق وئیلو کښې مشغوله وودمحنت اومطالعه په وجه کله توله شپه نوو اوده شوے چه خوب به ورته راغلونوڅه به ئے وڅکل اوبیابه ئے مطالعه شروع کړه۔

علامه ابن جوزیؒ فرمائی مادمدرسه نظامیه دټولے کتب خانے

مطالعه اوکړه چه پکښې شپږزره کتابونه وو دغه رنګ دبغداد مشهورے کتب خانے کتب الحنفیه، کتب الحمیدی، کتب عبدالوهاب، کتب ابی محمد وغیره اونورے څومره کتب خانے چه وے ماد هغوی مطالعه اوکړه۔

ابن عقیل حنبلیؒ دشپږمے صدئ مشهور عالم خپل علمی شوق بیانوی چه ماد ژوندیوه لمحه هم کله نده ضائع کړے چه ژبه مِ دعلمی بحث نه اوسترګے مِ دمطالعه دوجے نه ستړے شی نوبیاخملم دمسائلو باره کښې فکراوسوچ کوم۔

شیخ الادب مولانا اعزاز علیؒ (م ۱۳۷۴ هـ) په دارالعلوم دیوبند کښې دکثرت مطالعه په اعتبارسره منفرد وو کله به پوره هفته شپه او ورځ په مطالعه کښې مشغول وواوپه دے دوران کښې به ئے سترګے دخوب په نیت پټے نه کړے۔

ابن عابدین شامیؒ لیکلی دی "اَلنَّظَرُ فِیْ کُتُبِ اَصْحَابِنَامِنْ غَیْرِسَمَاعٍ خَیْرٌمِنْ قِیَامِ اللَّیْلِ" داوریدلو نه بغیرزمونږه دعلماؤ دکتابونو مطالعه دقیام اللیل نه بهترده (ردالمحتار ۱/۳۸)

شیخ القرآن حضرت مولانا محمد طاهرؒ دخپل وقت مجدد تیر شوے دے، نن هم دهغوی دتحقیق اوقرآن فهمئ هرموافق او ناموافق اقرار کوی، دهغوی دمطالعے داستغراق داحال ووچه یو ځل ورته دماسخوتن روټئ کیخودے شوه نودوی په مطالعه کښې دومره مشغول ووچه سحرآذان سره ئے ولیده۔ صرف دسورة یونس دپاره

یے شپږمیاشتے مطالعه کړے وه۔

دمولنا ابوالکلام آزاددمطالعه داستغراق داحال ووچه یوځل په مطالعه کښ مصروف ووغل کمرے ته راننوتوشپږزره روپۍ واخستے اووتختیدواودوی ته پته اونه لګیده۔

مولناتقی عثمانیؒ فرمائی دزمکے په مخ ماته دهرڅیزنه زیات محبوب اوعزیزلیکل اولوستل دی اوهروقت په څه نه څه مسئله کښ زماذهن مشغول وی (متاع وقت ۲۵۲) حضرت مولانا رشیداحمدګنګوهی به په مطالعه کښ دومره منهمک ووچه خواته پرته روټۍ به چاپورته کړه نودوی ته به پته نه لګیده۔

حسن بصریؒ فرمائی په ماځلویښت کاله داسے تیرشوی دی چه په ویخه او اُوده به کتاب زماپه سینه پروت وو،امام بخاریؒ نه چاتپوس اوکړوچه دحافظے دوائی څه ده ؟وے فرمائیل مطالعه (جامع بیان العلم وفضله،۲۶۲)

مَاتُوْا وغُيِّبَ فِيْ التُّرابِ شُخُوْصُهُمْ: فَالنَّشْرُ مِسْکٌ وَالْعِظَامُ رَمِيْمٌ

ډیرخلق مړه شول اولاشونه یے په خاوروکښ پټ شول لیکن ددوی شهرت دمُشک پشان خوربړی اوهډوکی یے زاړه شوی دی۔

## دعبارت وئیلومتعلق هِدایات

په کوم کارکښ چه دانسان فائده وی هغه نفس اوشیطان نه منی اوپه زړه باندے یوبوج راولی،دغسے مثال دعبارت وئیلوهم دے،اکثر طلبه دعبارت وئیلونه ځان شاته کوی اوکه اُستاذیے ورته

دوئیلو حکم کوی نو بنه یے نه ګڼړی حالانکه عبارت دأستاذ مخے ته وئیل ډیراهم دی ددے شوق پیداکول پکار دی او کوم بوج چه محسوسیږی نو داپه یو ځل دوه ځل وئیلوسره ختمیږی، خود عبارت وئیلونه مخکښ څنګه چه تیرشو بنه جوره مطالعه پکارده چه دالفظ څنګه وئیلے کیږی، په کوم ځائے خبره ختمیږی اوأستاذ مخے ته وئیلونه مخکښ خانله یا دیو ملګری مخے ته وئیل چه پاتی غلطیانے هم أوځی اوژبه هم روانه شی او عبارت چه کله أستاذ ووائی نو شروع کول، داجازت نه بغیر وئیل بے ادبی ده او عبارت او لګدهغه طلباؤ حق دے چه مخکښ راغلی وی او که دأستاذ طرف نه نمبر مقرر وی نو په هغه نمبر باندے وئیل پکاردی، که یو أستاذ یو کس مقرر کړی نو هغه نه بیا عبارت کښ تقدم کول دأستاذ غُصے، خفګان سبب ګرځی چه أستاذ کله ووائی چه بس دے نو بیا فوراً و دریدل دزیات یادکم عبارت مطالبه نه کول۔

## دمطالعه متعلق زړه راښکونکی اشعار

احمد بن عمرانؒ وائی زه داحمد بن محمد بن شجاعؒ په مجلس کښ موجود وُم دوی خپل خادم دابن الاعرابیؒ راغوښتلو دپاره ولیګلو، خادم چه راغلو وے وئیل چه ابن الاعرابی وائی چه زما څه عرب میلمانه راغلی دی ددوی نه فارغ شم نو دریه شم، حالانکه ماپه خپله او کتل چه خانله ناست وو دکتابو نوانبارئے مخے ته پروت وو کله به ئے

داکتاب کتلو کله به یے هغه کتاب اُوچتولو، لک روستوابن الاعرابیؒ راغلو، ابن شجاعؒ اوئیل سبحان الله! تاسو مونږه دخپل صحبت نه محرومه کړواوپیغام مو راولیګو چه میلمانه راغلی دی، حالانکه خادم اوئیل چه ستاسره دکتابونو نه علاوه نورڅوک نه وو، په دے باندے ابن الاعرابی دا اشعاراوئیل: ـ

لَنَاجُلَسَاءُ مَانَمِلُّ حَدِيْثَهُمْ :اَلِبَّاءُ مَا مُــــؤْنُوْن غَيْبًاوَمَشْهَداً

يُفِيْدُوْنَنَا مِنْ عِلْمِهِمْ عِلْمَ مَامَضٰى: وَعَقْلاًوَتَا دِيْبًاوَرَاياًمُسَدَّداً

لافِتْنَةً تُخْشٰى وَلاسُوْءَ عِــشْرَةٍ : وَلانَتَّقِىْ مِنْهُمْ لِسَانًا وَلايَـداً

فَاِنْ قُلْتَ اَمْوَاتٌ فَمَااَنتَ كَاذِبٌ:وَاِنْ قُلْتَ اَحْيَاءٌ فَلَسْتَ مُفْنِداً

زمونږ داسے هم نشین دی چه ددوی خبرے مونږه نه ستومانه کوی اوهوښیاردی اوپه هرحال کښں بیضرر، زمونږه لمن دعلم، ادب اودعقل ددولت نه ډکوی، ددوی نه نه دفتنے نه دبداخلاقئ خوف شته، ددوی لاس اوژبے نه کله هم څه خطره نشته، که ته ووائے چه مړی دی نو صحیح خبره ده او که ته ووائے چه ژوندی دی نو هم غلطه نده۔

ابوالعباس احمدبن یحیٰ بن ثعلبؒ ته اُوئیلے شو ته خودخلقو دصحبت نه بالکل متنفره ئے حالانکه که کله دخلوت نه وتلے اودخلقوسره ملاویدے نوهغوی به ستانه فائده اخستے اوالله تعالی به تاته هم فائده درکولے، ابوالعباسؒ لک وقت سرخکته کړو اوچُپ شوبیائے دا اشعاراُوئیل:

ـ اِنْ صَحِبْنَا الْمُلُوْكَ تَاهُوْا عَلَيْنَا:وَاسْتَخَفُّوا كِبْرًابِحَقِّ الْجَلِيْسِ

اَوْ صَحِبْنَا التُّجَّارَ صِرْنَا اِلَى الْبَوَاسِ : وَصِرْنَا اِلٰى عِـدَادِ الْفُلُوْسِ

فَلَزِمْنَا الْبُيُوْتَ نَسْتَخْرِجُ الْعِلْمَ :وَنَمْلَأُ بِهٖ بُطُـوْنَ الطُّرُوْسِ

که مونږه دبادشاهانو صحبت اختیارکړونو هغوی به غروراوتکبرسره پیش راځی اوکه دتاجروسره کینونو دزړه غریب به شواودروپو په شماریه اخته شو،نو مجبوراًپه کورونو کښ بندشوی یوواودحقائقِ علم نه کتابونه ډکه وو۔

## مطالعه کُتُب باندے یواوګډ عربی نظم

وَلٰكِنَّ الْكِتَابَ كِتَابُ عِلْمٍ : سَمِيْرِىْ فِى اللَّيَالِىْ وَالنَّهار

لیکن علمی کتاب زما شپه اوورځ همرازدے۔

يُوَاسِيْنِىْ اِذَاهَجَمَتْ هُمُوْمِىْ :وَيُوْنِسُنِىْ اِذَااَنَافِى الدِّمَار

چه په ماناڅاپه غم راشی نوزماغمخواری کوی اوچه کله زه په هلاکت کښ کیرشم نوماله تسلی راکوی۔

خَلِيْلِىْ فِى الْهَوَاجِسِ وَالرَّزَايَا :اَنِيْسِىْ مُوْنِسِىْ حَامِىْ الدِّمَار

په وساوسو،مصائبو کښ خالص ملګرے،غمخوار،مونس ، محافظ ضروریات دے۔

طَرِيْقِىْ تِلَادِىْ وَوَلِىْ اَمْرِىْ : اَحَبُّ ذَخَائِرِىْ وَكَذَاضِمَارِىْ

کتاب زما نوے اوپخوانئ سرمایه،منتظم امور،محبوب ترین ذخیره اوغیرمتوقع مال دے۔

يُدَافِعُ عَسْكَرَ الْاَحْزَانِ عَنِّىْ :وَيَهْدِاُنِىْ اِذَااَنَافِى السَّحَارِىْ

زمانه دغم لبنکرے لرے کوی او چه کله ماته خوب نه راځی نو ځنګه

ولو، سره م اوده کوی۔

بِهِ سُكْرِىْ اِذَامَاشِئْتُ خَمْرًا: وَمِنْهُ اِفَاقَتِىْ وَبِهٖ خِمَارِىْ

چه کله ماته دشرابو خواهش اوشی نو دے سره زما نشه او افاقه کیږی

او ددینه زما خمار دے۔

فَهَلَّا اَيُّهَا الَّوَّامُ لُمْتُمْ: خَلِّى الْقَلْبِ مِنْ قِطْفِ الثِّمَارِ

نواے ملامت کرو! تاسو ولے ملامت نه کړو د میوو د حاصلو لو نه بے

فکره سړی لره۔

شمارُ فُنُوْنِ عِلْمٍ بِاجْتِهَادٍ: وَتَقْرِيْب لِمَايُذْرِيْه دَارُ

یعنی دعلم دمختلف ثمراتو دمحنت او دمنډے ترلے سره، چه اهل

علم ئے پیژنی۔

حُمُوْلِىْ اَطْيَبَ الْحَالَاتِ عِنْدِىْ: وَاِعْزَازِىْ لَدَيْهِمْ فِيْهِ عَارُ

زما په نیز زما دتو ونه بنه حالت کمنامی ده او په خلقو کښ

زما اعزاز و اکرام باعث عار دے۔

## دمولانا اسعد اللہ صاحبؒ اردو نظم دمطالعه په باره کښ

انسان کو بناتا ہے اکمل مطالعہ: ہے چشم دل کے واسطے کاجل مطالعہ

دنیا کے ہر ہنر سے ہے افضل مطالعہ: کرتا ہے آدمی کو مکمل مطالعہ

یہ تجربہ ہے خوب سمجھتے ہیں وہ سبق: جو دیکھتے ہیں غور سے اول مطالعہ

ہم کیوں مطالعہ نہ کریں ذوق شوق سے: کرتے نہیں ہیں احمق و اجہل مطالعہ

ناقص تمام عمر وہ رہتے ہیں علم سے : ہوتا نہیں ہے جن کا مکمل مطالعہ
کھلتے ہیں راز علم کے انہیں کے قلوب پر: جو دیکھتے ہیں دل سے مسلسل مطالعہ
اسعد مطالعہ میں گذاروں تمام عمر: ہے علم وفضل کے لئے مشغل مطالعہ

## دتکرار تاکید، اهمیت او فوائد

دطالبئ په دور کښې تکرار ډیر اهمیت لري، دعلم دپاره آب حیات دے ، په دے سره علم مضبوطیږي اودعلم نوي میدانونه مخے ته راځي، په دے سره په علم کښې اضافه کیږي، معلومات زیاتیږي، په طالب کښې دومره استعداد پیداشي چه بل ته کتاب درس کولے شي، په دے سره دعلم لذت اومزه محسوسیږي، په دے سره علم جوش وهي، دطالب علم حجاب اوشرم ختمیږي، دامتحان دپاره طالب علم دکامیابئ سره همکنارکوي، دمستقبل یعني تدریس دپاره بهترین مشق ثابتیږي، غیریقیني علم پرے یقیني کیږي، دطالب علم رتبه په ښکاره کیږي اوپه خپلوهم درس ملګروباندے په پوزیشن وغیره کښې فوقیت اوبرتري حاصلیږي۔ الغرض تکراردعلم دروازه ده په دے سره طالب علم دعلم محل ته داخلیږي، لکه دسلف صالحینومقوله ده "لِكُلِّ شَيْئٍ بَابٌ وَبَابُ الْعِلْمِ تَكْرَارٌ" دهرشي دروازه وي اودعلم دروازه تکراردے، تکراردومره داهمیت حامل دے چه وئیلي شوي دي "اَلسَّبَقُ حَرْفٌ وَالتَّكْرَارُ اَلْفٌ" یوحرف وایه اوزرځل دهغه تکرارکوه یعني لګ شان سبق وایه اوبیادهغه سبق تکرارډیرزیات کوه، ځکه که

دیر زیات سبق ووائے او تکرار او نکړے نو دد ینه دا بهتر دی چه لګ
اووائے او تکرار ئے او کړے، لکه هوښیاران وائی "قِرَاءَةُ کِتَابٍ مَرَّتَیْنِ اَنْفَعُ
مِنْ قِرَاءَةِ کِتَابَیْنِ مَرَّةً وَاحِداً" یو کتاب دوه ځل لوستل بهتر دی د دوه
کتابو نو د لوستلو نه یو ځل۔ علماء فرمائی: "مَنْ اَکْثَرَ الْمُذَاکَرَةَ بِالْعِلْمِ، لَمْ
یَنْسَ مَاعَلِمَ، وَاسْتَفَادَ مَالَمْ یَعْلَمْ" چه څوک علمی مذاکره زیاته
کوی نو ونیلے علم به ئے نه هیریږی او مزید علم به ئے زیاتیږی۔

یو شاعر وائی

اِذَالَمْ یُذَاکِرْ ذُوالْعِلْمِ بِعِلْمِهِ :وَلَمْ یَسْتَفِدْ عِلْـمـاً نَسِیَ مَاتَعَلَّمَا

فَکَمْ جَامِعٍ لِلْکُتُبِ مِنْ کُلِّ مَذْهَبٍ :یَزِیْدُمَعَ الْاَیامِ فِیْ جَمْعِهِ عَمًی

کله چه صاحب علم مذاکره د علم او نکړی او مزید استفاده حاصله
نکړی نو ونیلے علم ئے هیرشی، ډیر د هر مذهب کتابو نوله راجمع
کونکی، د عُمر د تیریدو سره د هغوی جهل نورهم زیاتیږی۔

(ادب الدُّنیا والدین للماوردی)

لهذا عزیزمن! په هر قسم رکاوټ کښې تکرارمه پریږده خواکه
ستا ډیر خوږ میلمه راشی، یاد خوب غلبه وی نو تکرارمه ترک کوه چه
ستا علم د نسیان او هیرنه محفوظ شی۔

## د رهبرانِ شریعت تکرار او دِ باره کښې دهغوی تاکید

رسول الله ﷺ فرمائی: د علم آفت هیرول دی او نااهل ته علم
ښودل علم ضائع کول دی (سنن دارمی) حضرت ابو سعید خدریؓ فرمائی:

دحدیث مذاکره کوئ ځکه یوحدیث نه بل حدیث رایادیږی، دعلیؓ قول دے، ددے علم مذاکره کوئ اوداهل علم سره ملاقات کوئ ورنه علم به ختم شی، حضرت عبدالله بن عباسؓ فرمائی: دحدیثونو تکرارکوئ چه چرته حدیثونه هیر نشی، ځکه حدیث دقرآن پشان جمع اومحفوظ نه دی په دے وجه که حدیثونه نه تکراروئ نو هیر به نے کړئ، دامه وایه چه پرون ما حدیث بیان کړے وو په دے وجه نن به ئے نه بیانوم بلکه که پرون دے اورولی وو، نونن ئے هم واروه اوبله ورځ هم، دوی فرمائی: دشپے څه وقت په علمی مشغله کښ تیرول دتولے شپے دعبادت نه بهتر دے۔

حضرت ابوسعید خدریؓ اوحضرت ابن عباسؓ به خپلوشاګردانوته دمذاکرے ډیرتاکید کولو، سعیدبن جبیرؒ فرمائی: چه حضرت ابن عباسؓ به ماته حدیثونه اورول۔

دعون بن عبداللهؒ بیان دے چه یوورځ دام الدرداءؓ په خدمت کښ حاضرشو او ډیروخت پورے موعلمی خبرے کولے، بیامونږه عرض اوکړو چه شاید تاسوستومانه شوی یئ وے فرمائیل څه وائے په هرکار کښ زمانیت دعبادت وی مګردعلمی مذاکره نه زیات په بل څه کښ ماته لذت نه مِلاویږی، حضرت علیؓ فرمائی: علمی خبرے کوئ چه ستاسو رتبه ظاهره وی، حضرت ابن شهابؒ به تلو او بانده والوته به ئے حدیثونه بیانول۔

حضرت اسماعیل بن رجاءؒ به ماشومان راجمع کول اوحدیثونه به ئے

ورته اورول چه حديثونه ورته يادشي- حضرت ابراهيم نخعیؒ
فرمائي:خپل حديثونه هرچاته اوروئ خواکه هغه مخاطب ئے اوري يا
نه دغه حديثونه به تاسو ته داسے يادشي ځنګه چه امام قرأت کوي،
لکه عطاء خراسانیؒ په حالاتو کښې دی "اِذَالَمْ يَجِدْاَحَدًااَتَى الْمَسَاكِيْنَ
فَحَدَّثَهُمْ" چه څوک به ورته مِلاؤنشونو دمسکینانو خواله به تلو حديث
به ئے ورته اورول، داصمعیؒ نه تپوس وشوچه تاعلوم څنګه محفوظ
کړه حالانکه ستاملګروهیرکړل، وے فرمائیل چه زما
ملګرودحاصلولونه بعدپريخوستواومابرابردد ے مذاکره کوله۔
د امام ابويوسفؒ په حالاتوکښې دی چه دڅو څوورخوبه وګے وو مګرد
سبق تکرار به ئے نه پريخودواوپه محنت کښې به ئے فرق نه راتلو۔امام
زهريؒ فرمائي چه دنسيان اومذاکره نه کولوسره علم ضائع کيږي،
علقمهؒ فرمائي:چه دحديثومذاکره کوئ چه دد ے سره علم جوش
وهي، حضرت مولانا عبدالحیؒ صاحبؒ په خودنوشت سوانح کښې
ليکي "وَكُلَّمَافَرَغْتُ مِنْ تَحْصِيْلِ كِتَابٍ شَرَعْتُ فِيْ تَدْرِيْسِهِ" چه دکوم
کتاب دوئيلونه به فارغ شوم هغه به مِ بل ته درس کول شروع کړو،
بيا لګ مخکښې فرمائي چه په ټولوعلوم کښې زمااستعدادپوخ شو،
دالله حیؒ قيوم په مدسره هيڅ يو کتاب درس کولو کښې خواکه هرفن
کښې وو به ماته تکليف نه وو،ترد ے چه دد ے مشق په بنيادماهغه
کتابونه هم درس کړل چه مادأستاذنه نه وو،وئيلی مثلاًدطوسی شرح
اشاره،رفق المبين،په طب کښې قانون شيخ اودعروض رسالے۔

دمیرسیدشریف جرجانیؒ قصه مشهوره ده چه دعلامه قطب الدین رازیؒ په خدمت کښې هله دسبق دوئیلو دپاره حاضرشو چه هغه بوډا شوے وو، علامه دضعف عذراوکړواودخپل یوشاگرددمبارک شاه منطقی خواته ئے ولیگلو چه دده غلام وواو وړوکے ئے لوئ کړے وو او علم ئے ورته ښودلے وو ترد ے چه مدرس شوے وو اوپه هرعلم او فن کښې ماهر وو، خدائے پوهیږی چه څه صورت راپیښې شو چه سرسید صاحبؒ ته ئے په حلقه درس کښې صرف دناستے اودسماع اجازت ورکړواودتپوس اودقرأت اجازت ئے ورنکړو،یوورځ مبارک شاهؒ دشپے دد ے کتلودپاره چه طلبه څه کوی غلے راووتو،سیدصاحب چه په کومه حجره کښې ووده غے نه آواز،راتللو چه دکتاب مصنف دامسئله داسے لیکلے ده اوأستاذداسے بیان کړه اوزه دد ے مسئلے داسے تقریرکوم مبارک شاه اودریدو اوغوږ ئے ورته کیخودو، دمیر سید صاحب دتقریر انداز دومره دلچسپ ووچه مبارک شاه باند ے وجدراغلو۔

نودسبق یادولو دا قدیمی طریقه ده چه څوک به ورته مِلاؤ نشونودیوالونو، ښاروته به ئے اورولو اودمخکښې واقعاتونه هم دتکرارڅومره اهمیت معلومیږی۔

## دپُورهٔ هفتے دتکرارطریقه

”وَیَنْبَغِیْ لِطَالِبِ الْعِلْمِ اَنْ یُکَرِّرَ سَبَقَ الْاَمْسِ خَمْسَ مَرَّاتٍ وَسَبَقَ الْیَوْمِ الَّذِیْ

قَبْلَ الْاَمْسِ اَرْبَعَ مَرَّاتٍ وَالسَّبَقَ الَّذِیْ قَبْلَهٗ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَالَّذِیْ قَبْلَهٗ اِثْنَیْنِ وَالَّذِیْ قَبْلَهٗ مَرَّةً وَاحِدَةً فَهٰذَا اَدْعٰی اِلَی الْحِفْظِ " (تعلیم المتعلم ۵۵) طالب علم دپاره ضروری دی چه دتیرے ورځے دسبق تکرار پنځه ځل اوکړی، ددینه دمخکښ ورځے څلور ځل، ددینه دمخکښ درے ځل، ددینه دمخکښ دوه ځل او دشپږمے ورځے یو ځل روزانه تکرار اوکړی۔ دغه مذکوره طریقه هم دتکرار دپاره مناسب طریقه ده، ددینه علاوه دا طریقه هم آسانه ده، چه دهرے ورځے تکرار دے په هغه ورځ کوی او بیا دزیارت په ورځ دټولے هفتے تکرار کول، دطالبئ په دورکښ به مونږه هم څه نه څه په دے طریقه سره تکرار کولو، اګر چه دزیارت ورځ یوم البکت وی، طلباء اکثر یو څو سبقونه هم پریږدی او وتختی لیکن که دنفس سره مجاهده اوکړی نو دومره وخت پکښ نه لګی او فائده ئے لازوال ده۔

## دعِلمی اِستعداد پیدا کَوَلُو طریقه

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی: چه دعلمی استعداد پیدا کولو دپاره دلاندینی امورو لحاظ ساتل ضروری دے چه دادی: (۱) دوران سبق مطالعه کولو سره په معلوماتو او مجهولاتو کښ تمیز پیدا کول (۲) بیا داُستاذ په درس کښ بغیر دپوهے نه مخکښ نه تلل (۳) چه پوهه شے نو په خپله ځانله یا دملګرو مخے ته ددغه مطلب او مفهوم تقریر کول چه دیته تکرار وائی، داټولے خبرے خو واجب

دی او یوه خبره په درجه داستحباب کښې ده هغه دا چه روزانه څه اموخته وئیل، اوس که یاد پاتې شی او که نه ان شاء الله استعداد به پیدا کیږی۔

واقعی چه قیمتی خبره ده بایدچه دزړه په تختئ سره ولیکلے شی ځکه دویته حکیم الامت خطاب مِلاؤشوے وو او واقعی د حکمت نمونه وو دا خبره هغوی دځومره تجربے نه بعدفرمائیلے ده۔

## په تکرار کښې به څنگه کینے؟

☆داکوشش کوه چه دتکرارکونکی مخے ته کینے ☆تکرارکونکے خپل مُحسن گنړه اودهغه دادب او احترام خیال ساته ☆په نهایت انهماک اوتوجه سره دتکرارخبرے اوره ☆دوران تکرار دفضول خبرو، بے فائده اعتراضاتو او مُخِل کارونو نه ځان ساته ☆په تکرارکښې په محتاجئ سره کینه ☆که په یوه مسئله پوهه نشے نوتپوس اوکړه بیاهم پوهه نشے نو په هغه ځائے نشان ولگوه روسته ځان پوهه کړه ☆که تکرارپه جماعت کښې وونو د آداب جماعت خیال ساته ☆همیشه دتکرارکونکی اوتکرارکښې ناست کسانو سره دعفواودرگزرمعامله کوه۔

## تکرار به څنگه کوے؟

☆الله تعالیٰ که یوطالب علم ته دتکرارتوفیق ورکړے وی نودالوئ نعمت دے ددے شکرِ داداکړی ☆تکرارنه مخکښې درود استغفار اودُعاگانو معمول جوړ کړئ ☆دتکرارنه مخکښې دکتاب ښه مطالعه

اوبنه پرے ځان پوهه کول اوپه ذهن کښې ترتيب ورکول، بغيردپوهے نه تکرارسره به ناست کسانوته نقصان وی☆تکرارکښې دناستو ملګرودفهم بنه خيال ساتئ چه دټولوپه ذهن کښې سبق راشی☆په تکرارکښې دسبق متعلق هغه خبرے اوکړئ چه اُستاذ ښودلی وی ددينه تجاوزکول دآداب اُستاذنه خلاف دی،البته که داسے خبره وی چه دهغے بيانول دمسئلے دوضاحت دپاره ضروری وی نوهغه په داسے اندازسره بيانول چه دأستاذپه شان کښې فرق رانشی ☆دتکرارملګری خپل مُحسن خيال کول اوخپل ځان ددوی محتاج ګڼړل چه ددوی په وجه تاته فائده رسی☆په زړه کښې داخيال مه راوله چه زه ښه تکرارکوم ماته سبقونه ښه يادیږی اوزه ددوينه ډيرپوهه يم ☆که يومسئله درته واضحه نوی نووايه چه په دِ مسئله نه پوهیږم د اُستاذياملګری نه به تپوس اوکړم تاسوته به ئے ووائم☆دوران تکرار د ملګرو د ادب خيال کول،داسے نازيباحرکت نه اختيارول چه ملګری متنفر شی ☆کوشش کوه چه ستاتکرارکښې زيات نه زيات ملګری کينی ☆ديوميه اسباق دتکرارسره سره دامتحان نه يومياشت مخکښې دتيرسبق تکرارهم شروع کړه☆عين امتحان نه څوورځے مخکښې دخپل تکرارملګری فارغول،چه هغوی خپل سبق يادکړی ☆دتکرارپه ملګروکښې چه کوم کم فهم اوکمزورے وی هغه ته خاص توجه ورکړه☆که تکرارکونکی ديوأستاذطرف نه متعين اودملګرو دحاضری وغيره زمه داری ديته حواله وی نولګ دملګروخيال ساتل،

نرمي، سنجيدګي او ديانت داري نه کار اخستل ☆په اختلافي مسائلو کښې دمذاهبو بيانولو په وقت په مذهب او مذهب والو باندے تنقيد نه کول ☆دوران تکرار دتول ائمه کرامو، مصنفينو، شُراحو، بزرګان دين او اُستاذانو نوم په ادب سره اخستل ☆دوران تکرار داُستاذ په څه خبره اعتراض نه کول ☆دتکرار دملګرو نه يو خپل نائب جوړول چه بوقت ضرورت په کار راځي ☆کله کله خپل ملګرو ته هم دتکرار موقع ورکول ☆دوران تکرار که يو ملګرے غلط جمله اُوائي نو دهغه داصلاح کوشش کول۔ (تحفة المتعلمين ص۴۱ مولاناحسين قاسم صاحب)

## علم د سوال او جواب نوم دے۔

په درس کښې نهايت په توجه سره کيناستل، بياهم که په عبارت باندے پوهه نشے نو داُستاذ د مزاج رعايت ساتلو سره، چه بعض اُستاذان په دوران درس کښې پوښتنه بنه نه ګنړي نو دهغه نه روستو تپوس کول، ورنه په دوران درس کښې ځان پوهه کول او که په درسګاه کښې داُستاذنه دتپوس موقع مِلاؤنشي نو په بله موقع تپوس کول او د دے خبرے پرواه مه ساته چه اُستاذبه خفه شي او ياملګري به راپسے اوخاندي، ياپته نه لګي چه داسوال به صحيح وي او که نه بلکه دسبق په پوهه کيدو باندے حريص جوړشه او هيڅ يوه موقع مه ضائع کوه او داهم دعلم يوه حصه ده لکه ونيلے کيږي "اَلْعِلْمُ سُوَالٌ جَوَابٌ" علم خودسوال او جواب نوم دے بلکه "اَلسَّوالُ نِصْفُ الْعِلْمِ" دځان پوهه

کولو دپاره پوښتنه نیم علم دے، په یو ځل دوه انسان ته په سوال کولو حجاب محسوسیږي لیکن بیا انسان رو رو جرئ او زړه ور کیږي او کوم طالب علم چه سوال عار ګڼړي، نو دا اصل کښې تکبر دے چه په سوال کولو کښې خپل عار او ذلت محسوسوي او متکبره طالب علم دعلم نه محرومیږي، مجاهدؒ فرمائي "لَايَتَعَلَّمُ الْعِلْمَ مُسْتَحْيٍ وَلَامُسْتَكْبِرٌ" (بخاري ص ۲۴) هغه څوک علم نشي حاصلولے چه حیاء او تکبر کوي، ځکه چه نن په یوه خبره پوهه نشو، صبا په بله خبره پوهه نشي بیا به په سبق نه پوهیږي، زړه به ئے تورشي او دا به ئے دعلم نه دمحرومۍ سبب شي او سوال کول دبے عزتۍ خبره نه ده بلکه دا خو اصل کښې عزت دے چه دے سره به ستا علم زیاتیږي او علم داسے صفت دے چه دکښې دبے عزتۍ څه شائبه هم نشته۔

؎ بپرس هرچه ندانی که ذل پرسیدن: دلیل راه تو باشد بعز ودانائی

په څه چه نه پوهیږے دهغے تپوس کوه چه دتپوس ذلت به ستا دعزت او دانائی رهبروی، ورنه همیشه به په جهالت او تورتم کښې پاتې شے۔

؎ شِفَاءُ الْعَمیٰ طُوْلُ السُّوالِ وَاِنَّما

دَوَامُ الْعَمیٰ طُوْلُ السُّکُوْتِ عَلَی الْجَهْلِ

دجهل علاج دائمي سوال دے او ددے تکمیل په جهالت باندے دائمي سکوت دے، نو څومره چه یو طالب علم شرم او حیاء تکبر او حجاب پریږدي او طلب صادق او عاجزي په ځان کښې پیدا کړي نو دا به

الله تعالیٰ نه محرومه کوی او عُلومِ نبوت سره به ئے الله تعالیٰ بهرمند کړی، ځکه دفارسئ محاوره ده "هر کجا پستی است آب انجا رود" چه کوم طرف ځائے چرندوی نو اوبه هم هغه طرفته بهیږی۔

تل دلُوړے اُوبۀ دروممی وژورته
حق تعالیٰ کمال ورکړے وکمین دے

دهقان کرپه لوړه زمکه باندِنه که
سرکوزی کوه چه بنړدِ مرغزارشی

لهذا: په ځان پوهه کولو کښی شرم او حیاء او تکبر بالائے طاق ایخودل او په دے باب کښی دنبی کریم ﷺ دصحابوؓ او اسلافوؒ ارشادات خپل مشعلِ راه جوړول، چه دِباره کښی هغوی دامت څه راهنمائی کړے ده۔

## دسوال افادیت باره کښی دعلماءِ کرامو ترغیب او حالات

درسول الله ﷺ ارشاد دے "اِنَّماشِفَاءُ الْعِيِّ السّوالُ" چه د جهل علاج سوال دے، حضرت ام المؤمنین عائشه صدیقهؓ به فرمائیل دخدائے رحمت دِوی په انصاری ښځو باندے چه شرم دوی ددین ایزده کولو نه منع نکړے۔ حضرت ام سلیمؓ رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه خدائے دحق بیانولو نه شرمیږی آیا په ښځه هم غسل شته (داحتلام) لیکن حضرت علیؓ د شرم دوجے نه دمذی په باره کښی تپوس اونکړو چه هغه د حضورؐ زوم وو، نو دمقدادؓ او عمارؓ په

ذریعه نے تپوس اوکړو۔ نو کوم طالب علم چه دے باب کښې ډیر
شرمیلاوی نو هغه دِبیادبل ملګری په ذریعه پوښتنه کوی، د حضرت
عبدالله بن مسعودؓ قول دے :علم په تلاش کولو سره زیاتیږی او په
سوال کولو سره حاصلیږی، د حضرت امیرالمؤمنینؓ مقوله ده
د خوف نتیجه ناکامی ده او د شرم نتیجه محرومی ده۔ د عمر بن
عبدالعزیزؒ وینا ده ماته ډیرڅه علم حاصل دے لیکن د کومو خبرو د
سوال نه به زه شرمیدلم د هغې نه اوس په بوډاتوب کښې هم جاهل یم،
حضرت علیؓ فرمائی:پنځه خبرے داسے دی چه داښے یادول او د له
هر قسم مشقت برداشت کول پکاردی،بنده دے د خپلے ګناه نه
علاوه د بل چانه نه ویریږی،دخپل پروردګارنه علاوه د بل چانه دے
امید نه ساتی،جاهل دے د سوال نه،نه شرمیږی،عالم که یوے
خبرے نه جاهل وی نو په اعترافِ جهل کښې دِشرم نه کوی،په
ایمان کښې د صبر درجه هغه ده چه په جسم کښې د سر ده،څنګه چه
بے سر جسم بے کاره دے دغه رنګ چه په کوم سړی کښې صبر نه
وی په هغه کښې ایمان هم نه وی۔
دویؓ فرمائی " اَلْعِلْمُ خَزَائِنُ وَمِفْتَاحُهَا السّوالُ فَاسْئَلُوا رَحِمَكُمُ اللّٰهُ فَاِنَّهٗ
يُوجَرُ فِيْهِ اَرْبَعَةٌ السَّائِلُ،وَالْمُعَلِّمُ،وَالْمُسْتَمِعُ،وَالْمُحِبُّ لَهُمْ "(کنزالعمال)
علم خزانے دی او د دے چابی سوال دے،الله تعالیٰ دِ په تاسو رحم
او کړی سوال کوئ ځکه په دے څلور کسانو ته اجر مِلاویږی، سوال
کونکی ته، أستاذ ته اوریدونکی او د دوی سره محبت کونکی ته۔ د حسن

بصری "مقوله ده چه څوک په طلب علم کښې شرمیږی د هغه علم حقیر پاتی شی۔

د سلیمان بن یسار ؒ وینا ده سلیقه سوال نیم علم دے او اعتراض نیم ژوند۔ د اصمعیؒ نه تپوس اوشو دا تول علم تا څنګه حاصل کړو، وے فرمائیل په مسلسل سوال سره او یو یو لفظ په غُوته کښې ترلو سره۔

خلیلؒ وائی: جهل په اصل کښې د حیا او تکبر مینځ کښې یوه درجه ده۔

د ابراهیم بن مهدیؒ مقوله ده د بے وقوفو خلقو پشان سوال کوئ او د عقلمندو پشان ئے یادوئ۔ د ابن شهابؒ مقوله ده علم خزانه ده او سوال د دے کنجی ده۔ (جامع بیان العلم وفضله ۷۳، اردو)

عکرمهؒ به کله نه کله خپل شاګردانو ته وئیل په تاسو څه شوی دی چه زمانه تپوس نه کوئ، ولے سست یوئ (سنن دارمی)۔

د امام ابو یوسفؒ نه چا تپوس او کړو "بِمَا اَدْرَكْتَ الْعِلْمَ" دومره علم دے څنګه حاصل کړو، نو وے فرمائیل "مَا اسْتَنْكَفْتُ مِنَ الْاِسْتِفَادَةِ" په علمی فائده حاصلولو کښې ما کله هم شرم نه دے کړے "وَمَا بَخِلْتُ بِالْاِفَادَةِ" او بل ته په فائده رسولو کښې م هم بخل نه دے کړے۔ د غه شان د ابن عباسؓ نه تپوس اوشو "بِمَا اَدْرَكْتَ الْعِلْمَ" دومره علم دے څنګه حاصل کړو نو هغوی او فرمائیل "بِلِسَانٍ سَئُوْلٍ" په سوال کونکی ژبے سره "وَقَلْبٍ عَقُوْلٍ" او په عقلمندئ ډزړه سره۔ په مخکښې زمانه کښې به طالب علم ته "مَاتَقُوْلُ" وئیلے کیدو څکه چه د ځان د پوهه

کیدواو دسبق پخیدو دپاره به هغوی دا جمله ډیره وئیله "مَاتَقُوْلُ فِیْ هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ" په دے مسئله کښې ته څه وائے (تعلیم المتعلم ۵۰) دهغه زمانے په نسبت نن په طلباؤکښې ځومره علمی شوق کم شوے دے، چه په سبق پوهه نشی نو هیڅ غم ورسره نه وی، چه دأستاذنه یا دیوهم درس ملګری نه ځان پوهه کړی، که سبق ته هم حاضرشی نو صرف خانه پوری ئے مقصدوی چه دأستاذ ویره یادکوردطرف نه سختی وی، نوهسے رسمی عالم شی اوبیاپه هرمجلس کښې ځان ملامته کوی اونوروته نصیحت کوی، داځومره دبے عقلئ خبره ده چه په یو کار د انسان جان، مال اووقت لګی اوهغه بیاهم دسستئ اوکاهلئ نه کاراخلی۔ الاماشاء الله بعض طلباء داسے وی چه هغوی خپل وقت نه ضائع کوی اوهروقت په افاده اواستفاده کښې مشغول وی۔ حضرت مولانا اعزازعلیؒ، حضرت مولانامفتی شفیعؒ صاحب، حضرت مولانا عبدالسمیعؒ مدرس دارالعلوم دیوبند، حضرت مولانا اسعدالله صاحبؒ قدس سره وغیره حضرات به طلباؤته د درس په دوران کښې چه په یو عبارت پوهه نشو، نو بلاتکلف به پاڅیدل اودخپلو أستاذانو نه به ئے تپوس کولواوبیر ه به ئے طلباؤته هغه ځائے درس کولواوپه دِکښې به ئے څه عاراوشرم نه محسوسوو، ددے تواضع اوانکسارئ په وجه الله تعالیٰ هغوی ځومره پورته اوبلندمرتبه کړل، نویو طالب علم چه هغه اوسه پورے فارغ شوے هم نه دے، ولے سوال عاراو شرم ګڼړی۔

إِيَّاكَ عَنْ كَسَلٍ فِيْ الْبَحْثِ عَنْ شُبَهٍ: فَمَاعَلِمْتَ وَمَاقَدْشَذَّعَنْكَ سَلِ
دشبے لرے کولو کښې سُستي مه کوه چه په کومه خبره پخپله پوئے
شوے نوښه ده او چه کومه گرانه وي نو دهغے تپوس کوه۔

## په ښه اَنداز سره سوال کول

ليکن دسوال سره د آدابو لحاظ ډیر زیات ساتل پکاردي۔ نبي كريم ﷺ فرمائي "وَحُسْنُ السُّوَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ" (مشكوٰة باب الحذر والتاني في الامور) په ښه اندازسره سوال کول نيم علم دے۔ کله يو طالب علم دآسمان نه لاندے څيزونو باره کښې فضول سوالات کوي چه په دے سره د اُستاذ او د طلباؤ وخت ضائع کيږي او دا جائزنه ده، ځکه دا وخت د ټولو طلباؤ حق دے، بعض اوقات سوال بصورت اعتراض وي نو ددينه هم ځان ساتل بلکه سوال بصورت اشکال پکار دے، په اعتراض کښې سائل خپل ځان عالِم او مخاطب جاهِل گڼړي او په اشکال کښې خپل ځان جاهل او مخاطب عالِم گڼړي، کله يو شرير طالب علم يو سوال ديو اُستاذنه اوکړي، بيا هغه سوال دبل اُستاذنه هم اوکړي، چه بيا کله په دواړه جوابونو کښې فرق وي، نو ديو اُستاذنه بدظن شي، يا ديو اُستاذ د شرمولُو دپاره کله داسے کارکوي، يا داُستاذانو په مينځ کښې دبُغض او عِناد غورځولو دپاره داسے اوکړي، نو په داسے سوالاتو سره دغه طالب علم خوهسے هم دعلم نه محروم شي، خو دنورو ملګرو ذهنونه خراب کړي او د اُستاذنه

ئے بدگمانه کړی لهذا د درس متعلق سوال کول پکاردی او د دینه
علاوه غیرمتعلق سوال کولو نه احتراز پکار دے۔

## د تحریر یادولو اهتمام

دتحصیل علم داسبابو نه یولوئ سبب تحریرهم دے، څو کالو د
تدریس سره دتجربے نه داخبره مشاهدے ته راغله چه کوم طالب
علم دتحریر کتابت صلاحیت نه لری هغه په عبارت وئیلو، اُستاذ نه
استفاده کولو او کتاب یادولو کښ ډیر کمزورے او د نورو ډیرو خیرونو نه
محرومه وی، چه خط ئے یاد وی نو څه مشکله معنی راشی هغه په
کتاب کښ په پنسل سره ولیکی، د اُستاذ تقریر ضبط کوی، دوران
مطالعه څه فائده منده خبره راشی هغه ولیکی، تحریری امتحان کښ
ورته څه مشکلات نه وی، ورنه دسر حد په مدارسو کښ دنه سختئ په
وجه چه کوم طالب علم خط نشی لیکلے بل ملګرے دځان سره
کینوی چه دادده اونګرانی کونکو په مشکلاتو کښ اضافه کوی او بیا
بعض لاأبالی طلباؤته دنقل مواقع هم په لاس ورشی، دخپل اُستاذ
تقریرمحفوظ کول څومره اهمیت لری، دشروع نه چه طالب علم
دضبط تقریراهتمام اوکړی نو په هره موقع ورته سهولت وی، دامتحان
په وقت کښ، آئنده د تدریس په وخت کښ "لِاَنَّ الْعِلْمَ صَیْدٌ وَالْکِتَابَةُ لَهٗ
قَیْدٌ" علم خود ښکار پشان دے او دعلمی خبرو لیکل پشان دقید
دے او په حدیث کښ راځی "قَیِّدُوْا الْعِلْمَ بِالْکِتَابَةِ" (رواه الحکیم الترمذی فی

نوادر الاصول، وكذافي ادب الدُّنيا والدين برواية انس بن مالكؓ، ص ۴۵) چه علم په ليکلو سره قيد کړئ۔ روايت کړې شوې دې چه يو سړي نبي کريم ﷺ ته دنسيان شکايت اوکړو نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل "اِسْتَعْمَلْ يَدَکَ حَتّٰى تَرْجِعَ اِذَانَسِيْتَ اِلٰى مَاكَتَبْتَ" (ادب الدنيا والدين للماوردي) دخپل لاس دليکلو نه کارواخله چه درنه هيرشي نو هغه ليکل به اُوګورے۔ خليل بن احمدؒ فرمائي "اِجْعَلْ مَافِيْ الْكُتُبِ رَاسُ الْمَالِ، وَمَافِيْ قَلْبِکَ النَّفَقَةَ" څه چه په کتابونو کښې دي هغه خپله سرمايه اوګرځوه او څه علم چه په زړه کښې محفوظ دے هغه نفقه اوګرځوه۔

دعربئ محاوره ده "مَنْ حَفِظَ فَرَّوَمَنْ كَتَبَ قَرَّ" يعني ياده شوے خبره خوهيريدلے شي ليکن ليکلے شوے خبره برقراره وي او چه دتحرير صلاحيت نه لري نو ددے اودغه رنګ دنور ډيرو خيرونو نه محرومه وي، مونږه به روستو ذکرکړو چه علماؤ به مخکښې دأُستاذ دتقرير ضبط کولو څومره اهتمام کوو او اوس زمانه کښې ئے څومره اهتمام شوے دے۔ نن څومره شروحات، افادات په اردو او عربئ ژبه کښې دأُستاذانو دخُولونه ليکل شوي دي۔ داوجه ده چه معاويه بن قرهؒ فرمائي "چه څوک ليکل نه کوي هغه عالم مه ګڼړئ" نو دالويه بدقسمتي ده چه بعض طلباء صرف دونيلوسره کارلري او دليکلو سره څه واسطه نه ساتي، دوره حديث ته ورسي او په فارم باندے دستخط نشي کولے نو داڅومره درسوائي خبره ده۔

## د تحریر اهمیت د قرآن او حدیث په رڼا کښې

الله تعالیٰ په قرآن شریف کښې فرمائی "اَلَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ" تخلیق انسان نه بعد دده دتعلیم بیان دے ځکه تعلیم هغه څیزدے چه انسان دنورو چارپایانو نه ممتاز او دټولو مخلوقات نه اشرف او اعلیٰ جوړوی، بیا دتعلیم عام صورتونه دوه دی، یو زبانی تعلیم بل بذریعه قلم، تحریر او خط سره، په ابتدأ دسورة کښې لفظ اقرأ سره اګرچه زبانی تعلیم نه ابتدا ده مګر په دے آیت کښې چه یو طرف ته دتعلیم ورکولو بیان راغلے دے نو په دے کښې یے قلمی تعلیم مقدم بیان کړے دے۔

ابن عباسؓ د "اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ" (الاحقاف ۴) نه مراد خط اخلی او مجاهدؒ فرمائی "یُؤْتِی الْحِکْمَةَ مَنْ یَّشَآءُ وَمَنْ یُّؤْتَ الْحِکْمَةَ فَقَدْ اُوْتِیَ خَیْرًا کَثِیْرًا" (البقره ۲۶۹) کښې دحکمت نه مراد خط دے۔

عرب وائی "اَلْخَطُّ اَحَدُ اللِّسَانَیْنِ وَحُسْنُهٗ اِحْدَی الْفَصَاحَتَیْنِ" خط یو د دوه ژبونه دے او دخط ښائستوالے یو د دوه فصاحتونونه دے۔ جعفر بن یحییٰ فرمائی "اَلْخَطُّ سِمْطُ الْحِکْمَةِ" خط دحکمت نښه ده۔

دعربو په نیز دخط ډیر اهمیت او قدر وو او دا به ئے ډیر نفع مند خیال کوو، تردے چه عکرمهؓ فرمائی چه دبدر قیدیانو کښې چه چاته خط یادوو او مالداره نه وو نو دهغوی دآزادئ فدیه داو ګرځیدله چه دمدینے لس لس مسلمانانو ته خط وښائی۔

الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته فرمائی: "اِقْرَاْ وَرَبُّکَ الْاَکْرَمُ الَّذِیْ

عَلَّمَ بِالْقَلَمِ" (العلق۵) نو الله تعالیٰ خپل ځان موصوف کړوپه دے خبره چه دقلم ایزدکړه ئے اوبنوده، څنګه چه یے خپل ځان موصوف کړوپه کرم (عزت) سره اودایے دلوئ نعمت اوغټوعلامُونه اوګرځوو، تردے چه پخپل کتاب کښې پرے قسم خوری "نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْن" (القلم۱) نوپه قلم یے قسم وخوړوڅنګه چه یے په خط قسم وخوړو۔ یوشاعروائی۔

اِذَااَقْسَمَ الْاَبْطَالُ يَوْمًا بِسَيْفِهِمْ: وَعَدُّوْهُ مِمَّايَكْسِبُ الْمَجْدَوَالْكَرَمْ

كَفٰى قَلَمُ الْكُتَّاب عِزًّاوَرِفْعَةً :مَدَى الـــدَّهرِاَنَّ اللّٰهَ اَقْسَمَ بِالْقَلَم

کله چه بهادرخلق دخپلوتوروپشان کښې قسمونه اوخوری چه دِ سره بزرګی اوعـزت مِـلاویږی نوتوله زمانه دلیکونکودعزت،شرافت دپاره داخبره بس ده چه الله تعالیٰ په قلم قسم خوړلے دے۔

یوشاعردخط اهمیت داسے بیانوی۔

تَعَلَّمْ قِــوَامَ الْخَطِّ يَاذَالتَّادُّبِ:وَمَــاالْخَطُّ اِلَّازِيْنَةُ الْمُتَادِّبِ

فَاِنْ كُنْتَ ذَامَالٍ فَخَطُّكَ زِيْنَةٌ:وَاِنْ كُنْتَ مُحْتَاجًا فَاَفْضَلُ مَكْسَبٖ

یعنی صحیح خط ایزده کړه،اے ادب اودعلم حاصلونکیه! اوخط خونه دے مګردعلم اوادب حاصلونکی دپاره زینت دے،پس که ته مالداره یے نوبیاخوخط ستابښائست دے اوکه ته محتاجه یے نوخط افضل اله دکسب ده۔

## خط وکتابت دالله تعالیٰ لوئ نعمت دے

حضرت قتادهؒ فرمائی:چه قلم دالله تعالیٰ لوئ نعمت دے که دانه

وے نو نه به یو دین قائم پاتی وے او نه د دنیا کاروبار به درست وے (قرطبی ۲۰/۱۱۷) حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی: چه د الله تعالیٰ لوئ کرم دے چه بندګانو ته ئے دهغه څیزونو علم ورکړو چه هغوی نه پیژندل او د تورتم د جهل نه ئے نُورِ علم ته راویستل او د علم کتابت ترغیب ئے ورکړو، ځکه په دے کښ بے شماره او لوئ منافع دی، چه د دے د الله تعالیٰ نه ماسوا څوک احاطه نشی کولے، د ټولو علومو او حِکمتونو تدوین، د اوّلینُو او اٰخِرِیْنُو تاریخ، د هغوی حالات او مقالات او د الله تعالیٰ نازل شوی کتابونه ټول د قلم په ذریعه لیکلی شوی او د قیامته پورے به وی، که قلم نه وے نو د دنیا او دین ټول کارونه به مختل وے۔

☆☆☆☆

## په دُنیا کښ اول کاتب

کعب الاحبارؒ فرمائی: چه د ټولو نه مخکښ دا فن ابو البشر حضرت اٰدمؑ ته اوښودلے شو او د ټولو نه مخکښ اول دوی لیکل شروع کړه د خپل مرګ نه درے سوه کاله مخکښ یے د ټولو ژبو رسم الخطونه په خټه لیکلی وو بیا یے داخته پخه کړه، د طوفان نوحؑ نه روستو هر قوم ته خپل رسم الخط مِلاؤ شو چه په هغه کښ د عربی رسم الخط اسماعیل علیه السلام ته مِلاؤ شو، نو هغه ایزده کړو او قتیبهؒ فرمائی: چه د ټولو نه مخکښ دا فن ادریس علیه السلام ته مِلاؤ شوے وو او په دنیا کښ

## د عربئ ژبے اول کاتب

کعب الاحبارؒ فرمائی: اول لیکوال دعربئ ژبے آدم علیه السلام وو، بیا دا اسماعیل علیه السلام ته ملاؤشواوابن عباسؓ فرمائی: اول واضع اولیکوال دعربی خط اسماعیل علیه السلام وواوعروه بن الزبیرؒ فرمائی: اول دعربئ ژبے لیک څه مخکنوقومونو کړے وو، چه دائے نومونه دی ابجد، هوّز، حُطّی، کلمنْ سعفص، قرشت اودادمدین بادشاهان وواوداابن قتیبهؒ نه مروی دی چه اول لیک په عربئ ژبه مُراره بن مُرّه کړے وو، دانبارقبیلے نه وبیاددوینه منتشرشو۔

## ښائسته اوخُوشخط خط سعادت دے

بایدچه طالب علم خط ایزده کړی اوددے سره سره دښائسته اوخوشخطئ اهتمام داول نه اوکړی اوداهتمام به بیاروستوددے دپاره ډیرښه شي، دتصنیف وتالیف دپاره، دأستاذانو دتقریر لیکلو دپاره اوخاص کردامتحان په وخت دښو نمبرو حاصلولو دپاره خوشخطي ډیره ښه ده۔

علی بن عبیدهؒ فرمائی: "حُسْنُ الْخَطِّ لِسَانُ الْيَدِوَبَهْجَةُ الضَّمِيْرِ" ښه خط دلاس ژبه اودزړه خوشحالونکے دے، څنګه چه فصاحت دانسان دپاره ښائست دے نوداشان خوشخطي هم یوفصاحت اوښائست دے اودښائسته خط په لوستلوسره انسان نه ستومانه کیږی بلکه سُرور

ورته حاصلیږی۔ ابوالعباس مبرّدؒ فرمائی "رِداءَةُ الخَطِّ زَمَانَةُ الأَدَبِ" گنده او بے کاره خط دادب فالج او دائمی مرض دے۔

عمر بن الخطابؓ یو ځل اوفرمائیل "شَرُّ الْكِتَابَةِ الْمَشْقُ، كَمَا اَنَّ شَرَّ الْقِرَاءَةِ الْهَذْرَمَةُ" بدترین کتابت هغه بے کاره اوناکاره خط دے چه لوستونکے پرے نه پوهیږی، څنګه چه بدترین قرأت هغه دے چه اوریدونکے پرے دقاری دډیرے جلتئ اوسرعت په وجه پوهه نشی۔ ځکه خو وئیلے کیږی "اِنَّ الْخَطَّ الْحَسَنَ لَيَزِيْدُ الْحَقَّ وَضُوْحًا" ښائسته اوخوشخط خط حق لره مزیدښه واضحه کوی۔ (ادب الدنیا والدین للماوردی ۴۷)

امام ابوحنیفهؒ یو طالب کاتب ولیدو چه ډیرنرے او کنړلیکل یے کول نوورته ئے اوفرمائیل چه داسے ولے کوے؟ "اِنْ عِشْتَ تَنْدَمْ وَاِنْ مُتَّ تُشْتَمْ" که ژوندے اوکډشونو بیابه خپیمانه یے (یعنی چه کله دے سترګے دنری لیکلونه کمزورے شی) او که مړشوے نونورخلق به درته بددردوائی۔

شیخ امام مجدالدین سرحکیؒ فرمائی "مَا قَرْمَطْنَا اِلَّا نَدِمْنَا، وَمَا انْتَخَبْنَا اِلَّا نَدِمْنَا، وَمَالَمْ نُقَابِلْ اِلَّا نَدِمْنَا" مونږه درے کارونه ندی کړی مګرروستوپرے خپیمانه شوی یوو، نرے لیک، دیومسئلے په لیکلوکښ اختصاراو دلیکلی شوی مضمون داصل سره نه مقابله کول (تعلیم المتعلم ۳۶)

## د زنانو دپاره دتحرير يادولو شرعي حيثيت

شفاء بنت عبدالله ؓ فرمائي زه دحفصه ؓ سره ناسته اوم چه نبي ﷺ تشريف راورونو ماته يې اوفرمائيل "الاتُعَلِّمِيْنَ هٰذِهٖ رُقْيَةَ النَّمْلَةِ كَمَاعَلَمْتِيْهَا الْكِتَابَةَ" ته حفصه ؓ ته دشيرى دم ولې نه ښائې څنګه چه دِديته خط ښودلې دې (رواه ابوداؤد/مشكوة، كتاب الطِبّ والرُقىٰ ص ۲/۳۹۰) خطابي ؒ فرمائي: ددې حديث نه معلوميږي چه زنانوته خط وكتابت ښودل مكروه نه دي ليكن ملاعلي قاري ؒ فرمائي چه احتمال دادې چه خط وكتابت دمخكښ زمانې دزنانو دپاره جائزوو، نه چه ددې زمانې دزنانو دپاره "لِفَسَادِالنِّسَاءِ فِيْ هٰذِهِ الزَّمَانِ" څكه دې زمانه كښې په زنانو كښې ډيرې خرابيانې راغلي دي (مرقلة، حاشيه مشكوة) يوروايت كښې راځي "لاتُعَلِّمُواالنِّسَاءَ الْخَطَّ" چه زنانوته خط وكتابت مه ښائې اودشيخ بوعلي سينا مقوله ده "اَلْمَرأةُ حَيَّةٌ يَزْدَادُسَمُّهَا بِالْخَطِّ" ښځه ماردې اوددې زهرپه خط وكتابت سره زياتيږي۔

بهرحال! خط وكتابت ايزده كول دزنانو دپاره جائزنه بلكه مستحسن دي ليكن چه دفتنې خطره نه وي۔

البته دزيرتربيت، سليم الفطرت، ديني علومو حاصلونكوزنانو دپاره خط وكتابت يادول ډيرضروري دي چه ددينه بغيرپه ديني علومو كښې دسترس حاصلول كه ناممكن نوي مشكل ضرور دې او څوك چه دشيطان په لاره روان شي نودهغه دپاره دخط وكتابت نه علاوه نور

ډیرذرائع هم کو لاؤدی اونن دورکښې موبائل فون او انټرنیټ اونوردا سې ذرائعو چه زنانه دکوم مشکل سره مخامخ کړی دی نوهغه دپرنټ میډیا اوالیکټرانک میډیا سره تعلق لرونکو باندې پټ نه دی هغه زنانه چه دموبائل فون یاانټرنیټ په ذریعه دګمراهئ کندوته غورزیدلی دی پخپله خپلو خویندوته ددینه دځان ساتلو ترغیب ورکوی۔

## د عُلماءِ سلف وخلف دخپل مَسمُوعاتود لیکلو اِهتمام

حضرت ابوهریرهؓ به فرمائیل: په اصحابِ محمد ﷺ کښې دعبدالله بن عمروؓ نه ماسوا زمانه زیات دچاسره حدیث نه وو، عبداللہبن عمروؓ به لیکل اومابه دلیکلو اهتمام نه کوو۔ پخوانئ مقوله ده "جید عالم هغه دے چه خپل بهترین مسموعات لیکی، خپل بهترین مکتوبات حفظ کوی او خپل بهترین محفوظات روایت کوی۔ دضحاکؒ قول دے چه څه اورئ لیکئ ئے، چه دلیکلو دپاره څه مِلاؤ نشی نوپه دیوال ئے لیکئ۔ سعیدبن جبیرؒ وائی چه دابن عباسؓ سره په سفرکښې اُوم اوهغه نه به مِ څه اوریدل نو دِکجاوے په لرګی باندے به مِ لیکل، چه منزل ته به ورسیدم نوپه کتاب کښې به مِ نقل کړه۔ دابوقلابهؒ مقوله ده دهیرولو نه لیکل بهتردی۔ ابوالزنادوائی چه مونږه به صرف احکام حلال وحرام لیکل لیکن ابن شهابؒ به چه څه اوریدل قلم بندکول به ئے، روسته معلومه شوه چه دهغه علم دټولو نه زیات وو۔

دخليل بن احمدؒ وينا ده چه څه ليکئ نو داخپل بيت المال جوړ کړئ او چه څه موپه سينه کښ جمع دي هغه خرچ کړئ، دغه رنګ دوی فرمائي چه ماڅه اوريدلي دي ليکلي مې دي او چه څه مې ليکلي هغه مې ياد کړي او چه څه مې ياد کړي هغه نه مې فائده اخستې (جامع بيان العلم وفضله ۷۰)

علامه زمحشريؒ په خپل کتاب "نوابغ الکلم" کښ ليکلي دي "مَجْدُ التَّاجِرِ فِيْ كِيْسِهٖ، وَمَجْدُ الْعَالِمِ فِيْ كَرَارِيْسِهٖ" چه دتاجر عظمت دنوټ په ګوتئ کښ دے او دعالم عزت دنوټ په کاپئ کښ محفوظ دے (صفحات من صبر العلماء لابي غُدّة ۳۳۲)

حافظ ابن عبدالبرؒ په خپل کتاب کښ دامام شافعيؒ دابيان نقل کړے دے چه زه په کم عمرئ کښ په طلب دحديث کښ مشغوله شوم (په دے وخت کښ ددوی عمر ديارلس کاله نه هم کم وو) په دے وخت کښ زما څه آمدن نه وو نوزه به روزانه سرکاري دفترو ته تللم او دهغوی نه به مې ليکلي شوي بيکار کاغذونه طلب کړل، بيا به مې ددے کاغذونو په خالي ځائنو ليکل کول۔

ابن السنيؒ دامام نسائي مشهور شاګرد دے دحديث په ليکلو کښ اخره پورے مشغول وو، ددوی خوي وائي چه زما پلار ليکل کول چه قلم ئے په مشمانړئ کښ کيخودو او دواړه لاسونه ئے ددُعاء دپاره اوچت کړل او په دے حالت کښ وفات شو۔

او دامام بخاريؒ دليکلو اهتمام خو مخکښ ذکر شو چه په يوه شپه کښ به څوڅو ځل دليکلو دپاره راپاځيدو۔

لهذا طالب علم دپاره دتحریریادولو، املا صحیح کولواو دخوشخطۍ زده کولو ډیر اهتمام او مشق پکار دے، چه ددے ډیرے فائدے دی، نن چه زمونږه مخے ته دابے شماره کتابونه پراته دی، نو دا دتحریرپه بدولت مونږه ته رارسیدلی، نو بایدچه مونږه هم په دے صف کښې ځان شامل کړو او دامت مسلمه په کارراشو، نن دتحریرمتعلق څومره اسانۍ مخے ته راغلی دی قِسماقسم ښائسته پینونه، کاغذونه۔ په هغه زمانه کښې علماؤ څومره تحریرات کړی دی، حالانکه باربارقلم په مشمانړۍ کښې خکته کول اوبیالفظ لیکل څومره او ګدعمل دے دکاغذ داسے فراوانی نه وه لیکن ددے باوجودهغوی څومره کارنامے کړی دی چه دے کتاب کښې ځائے په ځائے لیکلی شوی دی، د لسمے صدۍ یو مشهور فلسفی دطبرّی تفسیرقرآن دوه ځل کتابت کړے وو، ددے متعلق وئیلے کیږی چه په څلریشت کنټو کښې به ئے سو صفحے لیکلے، ابوهاشم باشنده نیشاپورپه یو کال کښې صحیح بخاری نقل کړے وو۔

## دخپل مَکتُوبَاتُو دیادوَلُو اِهتمام

لیکن ددے سره ددے خبرے اهتمام کول چه لیکلی شوی خبرے بیایادے کړے شی ځکه دلیکلو مقصدبیاهغه یادول دی "لِاَنَّ الْعِلْمَ مَاثَبَتَ فِیْ الْخَوَاطِرِ لامَااُوْدِعَ فِیْ الدَّفَاتِرِ" چه علم هغه دے چه په سینه کښې محفوظ شی نه چه په کاپیانو کښې او لیکلے شی۔

ولنعم ماقال الخلیل ؎

لَيْسَ بِعِلْمٍ مَاحَوَى الْقِمَطْرَ: مَاالْعِلْمُ اِلّامَاحَوَاهُ الصَّدْرُ

علم هغه نه دے چه د کتابونو په خُورجين کښ وى،علم هغه دے چه په سينه کښ محفوظ وى۔

عرب په خپلو محاوراتو کښ وائى:حَرْفٌ فِيْ قَلْبِکَ،خَيْرٌمِنْ اَلْفٍ فِيْ کُتُبِکَ"يو حرف چه تاته يادوى دهغه زرو حرفونو نه بهتر دے چه ستا په کتابونو کښ وى۔دغه شان وائى"لاخَيْرَفِيْ عِلْمٍ لايَعْبُرُمَعَکَ الْوَادِيْ وَلايَعْمَرُبِکَ النَّادِيْ" په هغه علم کښ څه خيرنشته چه ستاسره په هروخت کښ نوى اوستامجلس آبادنکړى۔

قال الشافعیؒ

عِلْمِىْ مَعِىْ حَيْثُمَا يَمَمْتُ يَتْبَعُنِىْ:قَلْبِىْ وِعَاءٌ لَهٗ لابَطْنُ صُنْدُوْقٍ،اِنْ کُنْتُ فِيْ الْبَيْتِ کَانَ الْعِلْمُ فِيْهِ مَعِىْ:اَوْکُنْتُ فِيْ السُّوْقِ کَانَ الْعِلْمُ فِيْ السُّوْقِ

زماعلم چرته چه يم زماسره وى ماليتوى،زمازړه ددے دپاره لوښے دے نه چه صندوق ،که زه په کورکښ يم نوعلم راسره په کورکښ وى اوکه زه په بازارکښ يم نوعلم راسره هلته وى۔

## د تقرير ملکه حاصِلوَلْ

څنګه چه په تحريرکښ مهارت حاصلول ضرورى دى نودغه رنګ په تقريرى ميدان کښ هم خپل صلاحيتونه بروئے کارراوړل ضرورى دى، دے دواړوصفتونوسره داﷲتعالیٰ په توفيق ډيرپه ښائسته اندازسره

ددین خدمت کیدلے شي او نفع یے عام وخاص ته رسي، په دے وجه
مولانا مفتي شفیع صاحبؒ فرمائي: چه ددے دوه صفتونو حامل ددین
خدمت په ښه طریقے سره کولے شي، که دمدرسے د طرف نه ورځ
مقرروي او د دے اهتمام وي نو ښه خبره ده، په هغے کښې شرکت
ضرور پکار دے، ورنه پخپله ددے دپاره څه صورت راویستل پکار
دي۔

نو دیو راسخ العلم عالِم دپاره په تحریر او تقریر کښې مهارت حاصلول
ضروري دي، د تحریر په نسبت تقریر کښې مهارت حاصلول
ډیر ضروري دي لکه حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانویؒ فرمائي په
نسبت تحریر په تقریر کښې مهارت حاصلولو ته زیات ضرورت
دے، ځکه د تحریر نفع خاص وي یعني صرف طلباؤ او تعلیم یافته
خلقو ته او د تقریر نفع عام وي چه په هغه کښې خاص هم داخل دي،
غرض دبیان دوه صورتونه دي یو درس چه دهغه نفع خاص طلباء ته
وي او یو وعظ چه دهغه نفع عوامو ته وي او ددے دواړو قسمونو
فائده په دے موقوف ده چه قوت بیانیه بقدر ضرورت حاصل
وي پس زمونږه طلباؤ ته په دے وخت ددے دواړو د تحصیل او مشق
ضرورت دے۔ (دعوات عبدیت ۱۱۲/۱۲۷)

## طلباؤ ته د تقریر یادولو آسانه طریقه

ما په خپل ځائے کښې ددے اهتمام کړے دے چه کوم طالب علم

کافیه وائی هغه ته دکافیه یومضمون ورکړے شی چه ددے تقریراوکړه اوکه مشکوٰة والا دے نویوحدیث په دغه وخت کښې ورکړے شی چه ددے تقریراوکړه،ددے سره یے ژبه هم کولاؤشی یعنی دخبرے کولوعادی شی اودرس ورکولوطریقه ورته هم حاصله شی اودتعلیم نقصان هم نه کیږی (کلمة الحق ص ۱۲۴) (چه تو له هفته لګیاوی او په یادوتقریریادوی چه دے سره یے په سبق کښې حرج راشی) یوځل ماته درخواست وکړے شوچه طلبه دے دزیارت په ورځ څه تقریرکوی ماپه دِصورت سره منظورکړو چه خپل درسی کتابونه دِپه لاس کښې راخلی اوودریږی دے اوددے مضامین دِبیانوی، نو مقصود به هم حاصل شی اودمفاسدونه به هم محفوظ وی۔ لهذاپه تقریرکښې دمهارت دپاره دیونګران خدمات حاصلول ضروری دی۔ ددے موضوع مزیدتفصیل دپاره "راهنمائی خطابت" تالیف مولانا ابولبابه شاه منصورمطالعه کړئ۔

## دطالبئ دورکښې دتصنیف اوتالیف میدان کښې محنت!

؎ عام حالت پر بسر کی زندگی تو نے تو کیا: کچھ تو کر ایسا کہ عالم بھر میں افسانہ رہے (جگر)

په تصنیفی اوتالیفی میدان کښې چه الله تعالیٰ چاته قلمی استعداد او صلاحیت ورکړی،نوداډیرلوئ نعمت دے چه په شکرکولوسره به پکښې الله تعالیٰ ورځ په ورځ ترقی راولی،داشاعت دین دمیدانونونه دا یولوئ میدان دے،ددے آجروثواب په دنیااوآخرت کښې انسان ته

رسی، ځکه چه بهترینه صدقه جاریه ده،دایو خاموش داعی وی، مصنف او مؤلف ته علم نه وی او دده په وجه لارهیرشوے مسافر خپلے لارته راوریدلے وی،ډیرداسے خلق وی چه هغوی ته دعلماؤ صلحاؤسره دناستے توفیق نه مِلاویږی لیکن کله دکتاب په کتلو سره هغوی ددوی شی او بیا په ځوورځو کښ ئے کیره په مخ راشی او بچی ئے په ځائے دانګلش میډیم اسکولونو په مدرسو کښ راشی۔

دتقریر اثروقتی وی لیکن کتاب هروقت دانسان ملګرے وی او ددے اثردائمی وی، حضرت مولنا مفتی شفیعؒ فرمائی:چه هغه انسان ددین په احسن طریقے سره محنت کولے شی چه تحریری او تقریری میدان کښ صلاحیت لری،ځکه چه په دے دوه طریقو سره دعوام او خواصو سره تخاطب کیږی او انسان خپل خیالات اومافی الضمیر دویته منتقل کوی۔

دخپلو مشرانو حالات اوګورئ چه هغوی په دے دوه طریقو سره امت ته څومره فائده رسولے ده او څومره علمی ورثه ئے مونږه ته پریخے ده، په دے وجه محاوره ده چه کوم عالم دتصنیف اوتالیف په میدان کښ خپل استعداد صرف نه کړی هغه نامرددے،چه دمرګ نه روستوبه ددیرخیرنه محروم شی، الله تعالیٰ په هرانسان کښ دهر شی استعداد ایخودے دے همت مه بیله او خپل استعداد او صلاحیت بروئے کارر راوله او په احساس کمترئ کښ مه مبتلا کیږه، په تاکښ الله تعالیٰ داسے صلاحیتونه ایخی دی چه تاته هم علم نشته

لیکن که په تاکښ طلب صادق وو نو الله تعالیٰ به د اصلاحیت ورځ په ورځ زیاتوی او ستا ستر کے به کولاؤیږی او الله تعالیٰ به د مادی او روحانی تولو اسبابو دپاره کافی شی۔

## مزید د تصنیف او تالیف اهمیت

ادائیگی فرائض، وتادیه سنن مؤکده ونوافل ضروریه او تلاوت کتاب و درس وتدریس حدیث مستطاب نه پس بقدر طاقت، واندازه فرصت و اقتضاء وقت تحریر علوم سنیه نه افضل څه شغل او تصنیف او تالیف نه بهتر څه کارنشته دے، چه بهتره خبره په تسوید کښ راشی او پاکیزه کلمه په صفحه قرطاس باندے مرقوم شی، ددے مثال دشجره طیبه پشان دے چه "تُؤْتِیْ اُکُلَهَا کُلَّ حِیْنٍ بِاِذْنِ رَبِّهَا" او علم بے تصنیف بے اولاده سړی پرنګ دے او تالیف اباطیل مثل فرزند بدنهاد۔ قال بعضهم ؎

وَمَامِنْ کَاتِبٍ اِلَّا سَیُبْلٰی : وَیَبْــــقَی الدَّهْرَ مَا کَتَبَتْ یَدَاهُ
فَلَاتَکْتُبْ بِکَفِّکَ غَیْرَشَیْءٍ: یَسُرُّکَ فِیْ الْقِیَامَةِ اَنْ تَرَاهُ

هر یو لیکوال به خاورے شی او دده د لاس لیک به باقی وی نو په لاسونو غیرے فائده مند څه مه لیکه چه په قیامت کښ یے په کتلو سره خوشحاله شے۔

؎ علم ست که هر چه هست بنمایداز و: هر عقده که مشکل ست بگشایداز و
غیراز تصنیف نیک دیگر نبود : کاریکه پس از تو کارها آید از و

دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے "مَنْ كَتَبَ حَرْفًا لِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَكَانَّمَا تَصَدَّقَ بِدِيْنَارٍ وَاَعْتَقَ رَقَبَةً وَكَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِكُلِّ حَرْفٍ حَسَنَةً وَمَحَاعَنْهُ سَيِّئَةً"
یعنی چه څوک دخپل مسلمان ورور دنفعے په خاطریو حرف اولیکی نو داداسے ده لکه دِ یوه اشرفئ خیرات کړی وی اویو غلام یے آزاد کړے وی، حق تعالیٰ ددے دپاره دهر حرف په بدله کښ یوه نیکی لیکی اویوه ګناه یے معاف کوی۔ ولنعم ماقیل فی القلم۔

اِذَااَقْسَمَ الْاَبْطَالُ يَوْمًا بِسَيْفِهِمْ: وَعَدُّوْهُ مِمَّايَكْسِبُ الْمَجْدَوَالْكَرَمْ
كَفٰى قَلَمُ الْكُتَّابِ عِزًّاوَّرِفْعَةً :مَدَى الــــدَهرِ اَنَّ اللّٰهَ اَقْسَمَ بِالْقَلَمْ

کله چه بهادرخلق دخپلو تُورو پشان کښ قسمونه اوخوری چه دِ سره بزرګی او عزت مِلاویږی نو توله زمانه دلیکونکو دعزت، شرافت دپاره داخبره بس ده چه الله تعالیٰ په قلم قسم خوړلے دے۔

وقال الدقوقیؒ ۔

وَمَامَاتَ مَنْ تَبْقَى التَّصَانِيْفُ بَعْدَهٗ :مُخَلَّدَةً وَالْعِلْمُ وَالْفَضْلُ وَلْدُهٗ
قَدْمَاتَ قَوْمٌ وَمَامَاتَتْ مَكَارِمُهُمْ :وَعَاشَتْ وَهُمْ فِيْ النَّاسِ اَمْوَاتُ

هغه کس مړنه دے چه روستو تصانیف پرېږدی نو دابه همیشه وی او دعلم اودفضل خاوندان به دده روحانی اولادوی۔ څه خلق مړه شول لیکن عزتمند کارونه یے باقی دی نو دوی ژوندی دی اوپه خلقو کښ مړه دی۔

لَيْسَ الْفَتٰى بِفَتًى يُسْتَضَاءُ بِهٖ : وَلَايَكُـــوْنُ لَهٗ فِيْ الْاَرْضِ آثَارُ

هغه خوان چه دهغه په ذریعے سره راهنمائی حاصله کړے شي خوان نه دے چه کله دده دپاره په زمکه کښ څه آثار(مثل تصنیف وغیره) باقي نه وي ۔(قره العیون)

## په تصنیفي اوتالیفي میدان کښ خپل یو مُشاور نیول

دتصنیف اوتالیف میدان چه څومره اهم دے دومره نازک هم دے اوډیره لوئ زمه داري ده ځکه ستالیکل به دهرخاص اوعام مخے ته خي چه دتنقیدنشانه جوړیدلے شي ۔عربي محاوره ده "مَنْ صَنَّفَ فَقَدْ اِسْتَهْدَفَ" چاچه تصنیف اوکړونو ده خپل ځان خلقوته نشانه کړواویو اُردو شاعرداسے وائي۔

بقسمت کبھی جو مصنف ہوا : ہدف وہ ملامت کا یکسر بنا

نوپه دے باب کښ دیو ماهر اُستاذ(چه دهغه ددے فن سره تعلق وي) راهنمائي حاصلول پکاردي چه دهغه سره دموضوع په انتخاب، دموضوع دپاره موادوغیره اموروباندے مشوره کوے او وقتاً فوقتاً خپل مضامین ورته داصلاح دپاره پیش کوے لیکن دهغه دقطع برید سره به نااُمیده کیږے نه اوهمت به نه بیلے ، کله به تایو مضمون ډیرپه محنت سره لیکلے وي نوهغه به ئے کټ کړي،یابه ئے مختصر کړي،یاددے پشان نوراصلاحات ، نودے سره به ستاتجربه ورځ په ورځ زیاتیږي۔

اومشوره قرآني حکم دے الله جل شانه فرمائي "وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ"

(الشوری ۳۸) چه د کاملو مسلمانانو عادت داد ے چه هغوی په مشوره سره کارکوی او دغه شان "وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ" (العمران ۱۵۹) نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ته حکم دے چه د صحابوؓ سره مشوره کوئ او د حضور صلی اللہ علیہ وسلم فرمان دے "مَاخَابَ مَنْ اسْتَخَارَ وَمَانَدِمَ مَنِ اسْتَشَارَ" (الاذکار للنوویؒ) د استخارے نه پس څوک نامُراده او د مشورے نه بعد څوک پښیمانه شوے نه دے۔ د حضرت علیؓ مقوله ده چه هیڅوک هم د مشورے نه بعد هلاک شوے نه دے۔

## د تصنیف او تالیف په میدان کښې یو څو کار آمد خبرے

دیو ماهر اُستاذ خدمات د خپلے اصلاح دپاره حاصلول او ددے سره خُلوصِ نیت، طلبِ صادق او بقدر طاقت سعی او کوشش۔

په تصنیف او تالیف باندے جنرل مطالعه ډیر اثرا چوی چه څومره ستا خارجی مطالعه وسیع وی هغومره به ستا د سوچ دائره وسیع وی او په خپلے موضوع باندے به ستا مکمل کنټرول وی، ورنه بیا به ته په یو محدود دائره کښې سوچ کوے، د هر کتاب د مطالعے په دوران کښې حاصل مطالعه په خپل نوټ بک کښې لیکل، چه دا مواد بیا په تصنیف او تالیف کښې ډیر په کار راځی خواکه د نظم په شکل وی یا د نثر په شکل کښې او مفید او اهمے جملے په ذهن کښې محفوظ کول، د موضوع انتخاب او د هغے ضرورت او حاجت، ددے دپاره د موادُو تلاش، په دے موضوع چه کوم کتابونه لیکلے شوی دی په

هغو کښې کوم ماخذ جوړول، خپل مضمون په ډیر اقتباساتو سره نه درنول بلکه خپل تحقیق او رائے په رڼا کښې دموضوع وضاحت کول، دمخکښې نه په ذهن کښې د موضوع دعنواناتو ترتیب او بیا هغه په صفحه منتقل کول، د اقتباس په وخت دکتاب نوم دمصنف نوم، ایډیشن، مطبع لیکل، دموضوع متعلق څه خبره مِلاؤشي فوراً په یوه صفحه لیکل، چه روستوورته مراجعت آسان وي او ددے سره ایجاز واختصار چه مقصودي خبره هم فوت نشي او بے مقصده طوالت هم رانشي او کد مضمون څه کمال نه دے، اصل کښې ایجاز واختصار بلاغت دے، لهذاموضوع په نهایت ښائسته انداز، ښائسته الفاظو او سلیس عبارت لیکلو سره په صفحهٔ قرطاس منتقل کول۔

دایو څو خبرے چه دعلماؤ دتجرباتو نچوړووهدیه قارئین کړے شوے لیکن اصل او بنیادي خبره عملي طورباندے دے میدان ته داخلیدل دي، بیا الهامي طورباندے دانسان رهنمائي کیږي او چه دے سره خلوصِ نیت وي نو بیا خو نُورٌعلٰی نُور خبره ده۔

## دعُلماءِ سلف په طالبئ کښې دتصنیف وتالیف اِهتمام

صاحب نورالانوار خپل پوره ژوند په درس وتدریس او تصنیف او تالیف کښې تیر کړو، په اصول فقه کښې "نورالانوار شرح المنار" ددوي دژوند یادګار دے، چه ددینه ددنیائے علم ماشوم ماشوم واقف دے، داکتاب ئے دمدینه منوره په قیام کښې صرف په دوه میاشتو کښې

ليكلے وو، دغه شان په هندوستان كښې دتولونه مخكښې داحكام القرآن په موضوع باندے "التفسيرات الاحمدية فى بيان الايات الشرعية مع تاليفات المسائل الفقهية" تاليف كړوچه دے كښې ئے كم وبيش دپنځه سوو آياتونوتشريح وتوضيح حنفي نقطه نګاه سره كړے ده اولطف داد ے چه دادموصوف دطالبئ د دورتصنيف دے، لكه خاتمه كښې موصوف په خپله كال دتكميل وتصنيف بيان كړے دے چه مادآياتِ قرانيه تفسيرپه اميتهى ښاركښې ليكل شروع كړه، داد ١٠٦۴هـ واقعه ده چه كله ماحسامى وئيله اوزه دشپاړس كالوأوم.

(تحفة الطلباء والعلماء ٢٩٧)

حضرت علامه انورشاه كشميرىؒ يوځل دمنطق اونحو دڅه رسالو مطالعه كوله اتفاقًا يولوئ عالم ددوى خواته راغلودِ عالم دده كتابونه راوچت كړل، چه وے كتل نوپه خپله پرے شاه صاحب حواشي ليكلے وے، په ماشوم والى كښې ددے د ذكاوت، تيزئِ طبع، جودتِ فهم اودطبعيت د ډُورسئ اندازه كولوسره ئے بے اختياره اُوئيل چه دا ماشوم به دوقت رازى اود خپلے زمانے غزالى وى، علامہؒ پخپله فرمائى چه مادولس كالوپه عمركښې فتوى وركول شروع كړى وو.

(تحفة الطلباء والعلماء ٢٩٥)

## دعلماءِ سلف ګرانقدرتصنيفي، تاليفي اومتفرق علمي خدمات

امام محمدؒ بے شماره كتابونه تصنيف كړى دى، ددوى تصنيف شوى تولو كتابونوتعداديوكم زردے، په خپله كمره كښې به دكتابونوپه

انبار کښې ناست وو او شپه ورځ به ئې کتابونه ليکل، په دے طريقے سره دوی ديوادارے برابر تصنيفی خدمت کړے دے او ټول مسائل چه دوی د کتاب او سنت او اجماع په رڼرا کښې استنباط کړی دی لس لکه او يازره ديرش بنو دلے شوی دی۔

صاحب هدايهؒ دذی القعده په مياشت ۵۷۳ھ دچهارشنبے په ورځ بعدالظهر دهدايے تصنيف شروع کړو او په پوره محنت، کوشش او عرق ريزئ سره مسلسل ديارلس کاله داسے مشغول وو چه هميشه به ئې روژه نيوله او ددے به ئې هم کوشش کولو چه چاته ددے اطلاع او نشی چه کله به خادم روټئ حاضر کړه او لابړو، نو دوی به يو طالب علم بانده او خوړه، خادم به واپس راغلو چه لوښے به ئې خالی وليدو نو خيال به ئې اوکړو چه روټئ ئې خوړلے ده (تحفة الطلباء والعلماء ۳۰۸)۔

علامه باقلانیؒ صرف دمعتزله وپه رد کښې او يازره پاڼرے ليکلے وے او هغے پورے به نه اُوده کيدو چه پنځه ديرش پاڼرے به ئې نوے ليکلے او مشهور مسلمان فلسفی ابن سيناؒ کتابونه په شوشو جلدونو کښې وو، الحاصل والمحصول په شل جلدونو کښې الانصاف په شل جلدونو کښې الشفاء په اتلس جلدونو کښې، لسان العرب په لس جلده کښې۔

دمشهور محدث حافظ ابن حجر عسقلانیؒ فتح الباری شرح بخاری په ځوارلس جلده کښې، تهذيب التهذيب په نهه جلده کښې، الاصابه او تغليق التعليق په پنځه جلده کښې، لسان الميزان په څلور جلده کښې۔

امام سیوطیؒ فرمائی چه ابن شاهینؒ دکثرة تصانیف په اعتبار سره سرحد کراس کړے دے، دوی درے سوه دیرش تصنیفات کړی وو، چه یو تفسیر صرف په زر جزء کښې وو او مسند په پنځلس سوه جزء کښې۔

ابو محمدؒ محمد علی بن حزم څلور سوه جلده لیکلی دی چه تقریبًا اتیا زره پاڼړے جوړیږی۔ ابو الحسن اشعریؒ پنځه سوه واړه او غټ کتابونه لیکلی وو۔ ابو جعفر طحاویؒ هم ډیر تصانیف کړی دی صرف په دے مسئله چه آیا دنبی علیه السلام حج قِران وو، تمتع او که افراد باندے زر پاڼړے لیکلے وے (قیمة الزمن) دا یو څو واقعات مشت نمونه خروار په طور سره ولیکلے شوے، ورنه ددینه علاوه نور داسے حیراکن واقعات دی چه په کتلو سره معلومیږی او هغه دور کښې سهولیات دنش برابر وو، دڅوړمے قلمونه وو هغه به ئے بار بار په مشماڼړئ کښې خکته کولو، دډیوے رڼړاته به ناست وو، کتابونه داسے په وافر مقدار سره نه مِلاویدل، نن چه ته په یو موضوع قلم اوچتوے نو په هره موضوع بے شماره مرتب کتابونه موجود دی، په هغه وخت کښې کتابونه هم داسے ډیر مرتب نه وو، داسے کاغذونه نه وو او دانه چه صرف ئے خپل ځان دیته ایستلے وو بلکه ددے سره سره به دکوروالو، خپلوانو حقوق، عبادت، تلاوت، روژه، درس تدریس او داسے دنورو معمولاتو اهتمام کولو، بس الله تعالیٰ دهغوی په وختونو کښې برکت اچولے وو۔

حارث بن يزيد، ابن شبرمه، قعقاع، مغيره، رضي الله عنهم
څلورو حضراتو به دماسخوتن دمانځه نه پس علمي بحث شروع کړو،
دسحر داذانه پورې به يو هم نه جدا کيدو، ليث بن سعد رضي الله عنه
وائي چه امام زهريؒ به دماسخوتن مانځه نه پس په اوداسه کښې
دحديث سلسله شروع کړه نو سحر به ئې کړو (دارمي) دراورديؒ وائي چه
امام ابو حنيفهؒ او امام مالکؒ ماولیدل چه مسجدنبوي کښې ئې
دماسخوتن نه پس په يو مسئله بحث شروع کړۀ او هغه هم دارنګې
چه هغې کښې تُوکل، ملامته کول او غلطول نه وو او هم په دې
حالت کښې به سحر شو او هلته به يې دسحر مونځ او کړو (مقدمه).
ابن فُرات بغداديؒ يو محدث دې کله چه وفات شو، نو اتلس صندوقه
دکتابونو يې پريخودل چه په هغې کښې يې اکثر په خپل قلم سره
ليکلي وو او کمال دا دې چه دمحدثينو په نيز صحت نقل او دښه والي
ليکلو په اعتبار سره دده ليکلې شوې حجت هم دې، ابن جوزيؒ
مشهور محدث دې، ددرې کالو په عمر کښې يې پلار وفات شو،
ديتيمئ په حالت کښې يې پرورش بيامونده، خود محنت يې داحال
وو چه دجُمعې دمانځه نه علاوه به دکور نه لرې نه تلو، يو وار يې
په منبر اووې چه ما په دې خپلو ګوتو سره دوه زره جلده ليکلي
دي، دوه نيم سوو نه زيات دده خپل کتابونه دي، وائي چه هيڅ وخت به
يې نه ضائع کولو څلور جزونه روزانه يې دليکلو معمول وو، ددرس يې
داحال وو چه مجلس کښې يې بعضې وخت ديو لاکهـ نه زيات

دشاگردانو اندازه او کړے شوه، اميران، وزيران، بادشاهان به يے مجلس درس کښې حاضروو، ابن جوزيؒ پخپله وائي چه يو لاکهـ کسانو مانه لاس نيوه کړے ده او شل زره خلقو په لاس مسلمانان شوي دي، خوسره ددے دشيعه گانو زوروو، تکليفونه ئے هم اوچت کړي دي (تذکره)۔ دحديثونو ليکلو په وخت کښې دقلمونو بوره به يے جمع کوله، دمرگ په وخت کښې يے وصيت او کړو چه څماد غسل اوبه دپه دے گرمے کړے شي، وائي چه اوبه پرے گرمے کړے شوے او بوره ترے پاتي هم شوه، يحيیٰ بن معينؒ مشهور اُستاذ دے، دے وائي چه ماپه خپلو لاسونولس لاکهـ حديثونه ليکلي دي، ابن جريرطبريؒ مشهور مؤرخ دے، دصحابهؓ او دتابعينو دحالاتو نه ښه خبردار دے، څلويښتو کالو پورے يے هميشه څلويښت پاڼړے روزانه دليکلو معمول وو، دده په وفات شاگردانو روزانه دليکلو حساب اولگوو، نو دبالغ کيدونه مرگه پورے څوارلس پاڼړے روزانه په حساب راووتے، دده کتاب تاريخ طبري مشهوردے، عام طورمونږدے شي، کله چه دده دے د تصنيف اراده ښکاره کړه نو دخلقونه يے تپوس او کړو چه دټول عالم دتاريخ ليکلونه خوبه تاسو خلق ډير خوشحاله شئ، خلقو ترے پوښتنه او کړه چه اندازه به څومره وي، وے فرمائيل چه تقريبًا ديرش زره پاڼړو باندے به راشي، خلقو اُوئيل ددے دپوره کولونه رومبے به عمرونه ختم شي، وے فرمائيل اناللّٰه همتونه کمزوري شو، دے نه پس يے مختصر کړو او تقريبًا درے زره

پانړو باندے یے اولیکو، دغسے دده دتفسیر هم قصه اوشوه، هغه هم مشهوردے اوعام طورموندے شی۔

حافظ اثرمؒ یو محدث دے، دحدیث یادولو کښې یے ډیرمُشق وو، یوځل یے حج ته تشریف یوړه، هلته دخُراسان دوه لوئ اُستاذان دحدیث راغلی وواوحرم شریف کښې دواړو بیل بیل درس ورکولو، هریوسره دلوستونکویوه لویه مجمع وه، دے د دواړو مینځ کښې کیناستو اودواړو حدیثونه یے په یو وخت کښې اولیکل۔ عبدالله ابن مبارکؒ مشهور محدث دے، حدیث حاصلولو کښې دده محنتونه مشهور دی، پخپله فرمائی چه ماڅلورو زرو اُستاذانو نه حدیثونه حاصل کړی دی۔ علی بن الحسنؒ وائی چه یوه شپه سخته یخنی وه، زه اوابن المبارکؒ دجمات نه دماسخوتن نه پس راُوتلو، دروازه باندے دیو حدیث باره کښې خبرے اترے شروع شوے، مابه څه وئیل هغه به هم څه فرمائیل، هلته په ولاړه ولاړه دسحراذان اُوشو۔ حُمیدیؒ یو مشهور محدث دے، چاچه دبخاری اومسلم حدیثونه یوځائ جمع کړی دی، تول شپه به یے لیکل کول اودګرمئ په موسم کښې کله چه به ګرمئ ډیرتنګوو، نویو لګن به یے دأوبونه ډک کړو اوپه هغے کښې به کیناستو لیکل به یے کول، دتولونه به جدا اُوسیدو، شاعر هم دے، دده شعرونه دی۔

لِقَاءُ النَّاسِ لَيْسَ يُفِيْدُ شَيْأً : سِوَى الْهذْيَانِ مِنْ قِيْلٍ وَّقَالٍ

فَاَقْلِلْ مِنْ لِقَاءِ النَّاسِ اِلَّا : لِاَخْذِ الْعِلْمِ اَوْاِصْلَاحِ حَالٍ

ترجمہ: دخلقو ملاقات هیڅ فائده نه ورکوی، سوا د قیل وقال خوشې فضول خبرو نه، پس د خلقو ملاقات کم کړه، سوا د دې چه دعلم حاصلو لو دپاره اُستاذ سره یا د اصلاحِ نفس دپاره چاشیخ سره ملاقات وی (نو خیر دے) ـ ابو العباس شیرازیؒ وائی چه ما د طبرانیؒ نه درے لاکھه حدیثونه لیکلی دی۔ امام ابو حنیفهؒ به ډیر په سختئ سره د ناسخ او منسوخ حدیثونو تحقیق کولو، کوفه چه په دغے زمانه کښې دعلم کورونه شو، په هغے کښې چه څو مره محدثین وو، د ټولو حدیثونه یے جمع کړی وو او کله چه به د بهرنه څوک مُحدث راغے نو شاګردانو ته به یے حکم کولو، که د ده سره یو داسے حدیث وی چه مونږه سره نه وی د هغے تحقیق او کړئ، یو علمی مجلس به د امام صاحبؒ څخه لګیده چه په هغے کښې به د محدث، فقیه د ژبو پوهه خلقو ګنړه وه، کله چه به څه مسئله مخے ته راغله، په دے مجلس کښې به په هغے بحث کیدلو او بعضے وخت به یوه میاشت بحث کیدلو، دے نه پس چه به کله څه خبره فیصله شوه نو هغه به مذهب او ګرزولے شو او اُوبه لیکلے شوه۔

امام ترمذیؒ د نوم نه به څوک ناخبره وی، د حدیثونو ډیر زیات یادول او یادساتل د ده خصوصی شان وو او قوت حافظه کښې مشهور وو، بعض محدثینو د ده امتحان واخسته او څلویښت حدیثونه یے داسے واورول چه کوم مشهور نه وو، امام ترمذیؒ فوراً واورول، په خپله امام ترمذیؒ فرمائی چه ما د مکے مکرمے په لار کښې دیو اُستاذ د حدیثونو دوه

جُزُونه نقل کړی وو، اتفاقاً په خپله هغې اُستاذ سره ملاقات اوشو،
ماورته درخواست او کړو چه هغه دواړه جزونه دحديثونو دأستاذنه هم
واورم، هغوی قبوله کړه، ماداګنړله چه هغه دوه جزونه ماسره
دی خو چه دأستاذ خدمت ته لاړم نو په ځائے دهغې دوه ساده جزونه م
لاس کښ وو، اُستاذاورول شروع کړل، اتفاقاً دهغه نظرپريوته نوځما په
لاس کښ ساده جزءُ ونه وو، ناراضه شو، وے فرمائيل تاله شرم نه
درځی ماورته قصه بيان کړه اوعرض م او کړو چه تاسو څه اوروئ هغه
ماته ياديږی، اُستاذ ته يقين رانغے، وے فرمائيل بنه واؤروه، ماتول
حديثونه واؤرول، وے فرمائيل چه دابه تاته دړومبے نه يادوو،
ماعرض او کړو چه نورنوی حديثونه واؤروئ، هغوی څلويښت
حديثونه واؤرول، ماهغه هم فوراً واؤرول اويوه غلطی م اونه کړه۔
محدِثينو چه کوم کوم محنتونه دحديثونو په يادولو کښ، دهغے په
خورولو کښ کړی دی، دهغے اتباع خويو خو ادهغے شمارهم مشکل
دے، قرطمه يو محدث دے، زيات مشهورنه دے، دده يو شاګرد
داؤدوائی چه خلقو به دابو حاتم وغيره دحافظے ذکر کوو، مادقرطمه نه
زيات حافظ نه دے ليدلے، يو ځلے زه هغه ته لاړم، وے فرمائيل چه
دے کتابونو کښ کوم دے زړه غواړی راواخله، درته به يے واؤروم،
ماکتاب الاشربة رااُچت کړو، هغه دهرباب داخيرنه اول طرفته اولوستو
اوټول کتاب يے واؤروو۔ ابوزُرعه وائی چه امام احمدبن حنبل ته لس
لاکهـ حديثونه يادوو۔ اسحق بن راهويه وائی چه يو لاکهـ حديثونه

ماجمع کړی دی او دیرش زره ماته زبانی یاددی۔

خفافؒ وائی اسحاقؒ یولس زره حدیثونه دخپل یادنه مونږه ته اولیکل او بیا یے هغه نمبروار واوړول،نه پکښې څه حرف کم وونه زیات۔

ابوسعد اصبهانی بغدادیؒ دشپاړسو کالو عمر کښې دابونصرؒ حدیثونو اوریدو دپاره بغدادته اورسیدو،په لاره کښې یے دهغه دوفات خبر واوریدو،بے اختیاره یے اوژړل،چغے یے اووتلے چه دده سندبه کوم ځائے بیامونده شي، دومره غم کول چه په ژړاکښې ترے چغے اُوزی، داهله کیدے شی کله چه دڅه څیز سره عشق شی،ده ته مسلم شریف ټول یادووا وپه یادوبه یے طالبانوته لیکه ،یولس حجونه یے کړی وو، کله چه به خوراک ته کیناستو نو سترګے به یے داُوښکونه ډکے شوے۔ابو عمر ضریرؒ پیدائشی روندوو،خو حفاظ حدیث کښې شماریږی،علم فقه،تاریخ،فرائض یعنی علم میراث،حساب کښې یے کامل مهارت لرلو۔ابوالحسن اصفهانیؒ ته بخاری شریف اومسلم شریف دواړه یادوو، خصوصًا د بخاری شریف یے خوداحال ووچه چابه سنداووے نو دهغے متن یعنی حدیث به یے واوړوو۔شیخ تقی الدین بعلبکیؒ په څلورو میاشتو کښې مسلم شریف ټول یادکړواو دجمع بین الصحیحین هم حافظ وو،صاحب کرامات بزرګ وو،دقرآن پاک هم حافظ وووائی چه سورة الانعام یے ټول په یوه ورځ کښې یادکړے وو۔

علامه ساجیؒ په وړو کوالی فقه حاصله کړه،دے نه پس یے دعلم حدیث مشغله وه،هرات کښې یے لس کاله قیام اوکړو،په دے کښې

بے شپږوارے مسلم په خپل لاس اوليکو،دابن مندهؒ نه يے غرائب شعبه لوسته چه په دے حال کښ دابن مندهؒ دماسخوتن دمانځه نه پس وفات اوشو،لوستونکی نه دلولونکی علمی شوق ومحبت قابل قدردے چه ترآخروخته پورے يے لوستل کول۔ابوعمر خفافؒ ته يولاکهہ حديثونه زبانی يادوو۔

دامام بخاریؒ اُستاذعاصم بن علیؒ چه کله بغدادته اورسيدو نود شاګردانو دومره ګڼره وه چه اکثربه ديولاکهہ نه زيات شول،يوواره اندازه اولګولے شوه نويولاکهہ شل زره وو،په دے وجه بعض الفاظ به خوځوواره وئيلے کيدل،دهغه يوشاګردوائی چه يوواره "حَدَّثَنَا اللَّيثُ" يے څوارلس ځله اووے،بنکاره خبره ده چه يولاکهہ پنځويشت زره سړو ته آوازرسولو دپاره بعضے الفاظ څوځوواره به خامخا وئيلے کيږی۔ابومسلم بصریؒ چه کله بغدادته اورسيدو نو يولوئ ميدان کښ دحديث درس شروع شواوه سړوبه په ولاړه نوروته دليکلو دپاره وئيل څنګه چه داخترتکبيرونه وئيلی شی،دسبق نه پس مشوانړئ اوشميرلے شوے نودڅلويښت زرونه زياتے وے اوکوم کسان چه صرف اوريدونکی ووهغه ددوی نه علاوه وو۔دفريابیؒ په مجلس کښ دغه رنګے ليکوال درے سوه شپاړس وودے نه د مجمعے اندازه پخپله کيدے شی۔

دِ محنت اومشقت سره داپاک علم نن ژوندے دے۔امام بخاریؒ فرمائی چه مادشپږولاکهو حديثونونه انتخاب اوکړو، بخاری شريف م

اوليکو چه په دے کښې اوه زره دوه سوه پنځه اويا حديثونه دي اود هريو حديث ليکلوپه وخت دوه رکعته نفل يې کړي دي.بيايې حديث ليکلي دے،کله چه دِ بغدادته اورسيدونو دهغه ځائے محدثينوددهٔ امتحان واخست،دارنګے چه لس سړي يې مقرر کړل په هغوي کښې هر يو کس لس لس حديثونه خوښ کړل،هغه يې بدل کړه اوددهٔ نه به يې تپوس کولودهٔ به دهريو سوال په جواب ماته معلوم نه دے وئيلو کله چه لسو وارو تپوس اوکړو،نو دے دټولو نه رومبے تپوس کونکي ته مخاطب شو،وے فرمايل چه تادټولو نه رومبے حديث داتپوس کړے وو،تاداسے بيان کړو،داغلط دے اوصحيح دارنګے دے،دويم حديث دِداتپوس کړے ووهغه دارنګے تابيان کړے وو داغلط دے اوصحيح دارنګے دے، لنډه دادارنګے سل په سل حديثونه يې ترتيب واربيان کړل،چه هريو حديث به يې اول هغه رنګے لوسته څرنګے چه امتحان اخستونکي لوستے وو،بيابه يې فرمائيل چه داغلط دے اوصحيح دارنګے دے۔امام مسلمؒ څوارلسو کالو عمر کښې حديث لوستل شروع کړل،په دے کښې ترآخره پورے مشغول وو،پخپله فرمائي چه ماددرے لاکهو حديثونو نه انتخاب اوکړو اومسلم شريف مِ اوليکو چه په دِ کښې دولس زره حديثونه دي۔امام داودؒ فرمائي:چه ماپنځه لاکهه حديثونه اوريدلي دي چه دهغے نه مِ انتخاب اوکړو او سنن ابوداوُد شريف مِ اوليکو چه په ديکښې څلورزره اته سوه حديثونه دي۔ يوسف مزيؒ مشهور محدث دے،داسماء رجال(يعني دحديث

نقل كونكونومونو) امام دے اول يے په خپل ښار کښې فقه او حديث حاصل کړه، دے نه پس دمکے مکرمے، مدينے منورے، حلب، حمات، بعلبک وغيره سفريے او کړو، ډير کتابونه يے په خپل قلم سره ليکلى دى، تهذيب الكمال يے په دوه سوه جلده کښې ليکلے دے او کتاب الاطراف داتياؤ جلدونونه زيات دے، دده عادت شريفه ووچه اکثر به چُپ وو، خبرے به يے خلقو سره ډيرے کمے کولے اکثروختونوکښې به کتاب کښې مشغول وو۔

## دکتابونوراجمع کولوطريقه اودے باره کښې داکابرينو شوق

هوښيار طالب علم هغه دے چه درجه اعداديه نه کتابونه راجمع کول شروع کړى، خواکه په کتاب پوهيږى او که نه، دکوردطرف نه يا دبل طرف نه چه کومه خرچه راشى، هغه په فضولياتو مثلاً په صوبتُونو، حلواگانو، د هوټل په چائنو، خوراکونوپه ښائسته جامو وغيره کښې نه استعمالول بلکه په دے سره کتابونه اخستل، چه يو طالب دابتدا نه دکتابونواخستلواهتمام او کړى نو دفراغت پورے به دده سره کافى ذخيره جمع شوى وى او بيابه پرے ډيرزيات خوشحاله وى، ځکه چه دے زمانه کښې طالب علم فارغ البال وى دکورڅه بوج پرے نه وى اوبه خرچه ورته مِلاويږى، بياروستو فراغت سره دواده انتظام وشى نوپه سرباندے ئے قسماقسم بوجونه اوذمه دارئ راشى، اودکتابونو اخستلوهيڅ قسم انتظامات نه کيږى او داشوق ئے

دخاوروولاندے دفن شي، چه خپله خاص مکتبه نه وي نو ددے کم همتئ په زمانه کښې څه خاص قابل قدرعلمي کارممکن نه وي، مستعار کتابونه وړلو راوړلو او دصاحب کتاب خبرو برداشت کولو نه انسان اخرستړے شي او داسے ئے علم رو رو دفن شي، خپله خاص مکتبه يو بهترينه صدقه جاريه ده که چاته ترينه کتاب مستعار ورکړے نو ثواب او دمرګ نه روستو هم باعث اجر و ثواب وي۔

علماء دين دکتابونو جمع کولو دپاره هر جائز لذت هم قربان کړے وو چه جائيکه ښائسته کپړے جوړول، مرغن خوراکونه، او ميټايانے، سينمابيني وغيره، هغه وخت دغربت او ناداریٔ وو ليکن بياهم هغوی خپلے لوئ لوئ ذاتي کتب خانے برابر کړے وے، په بغداد کښې به په کورکښې دذاتي کتب خانے جوړولو رواج وو، دهر صاحب عزت سره به دکتابونو ذخيره موجود وه او چه دچاپه کورکښې به مکتبه نه وه نو هغه ته به دقدر په نظر نه کتلے شو۔ ليکن دکتابونو راجمع کولو مقصد مطالعه وي صرف دشهرت دپاره نه وي۔

۔ اِذالَمْ تکُنْ حَافِظًا وَاعِیًا: فَجَمْعُکَ لِلْکُتُبِ لاتَنْفَعُ

شيخ احمد حجاز (م ۱۲۷۷هـ) ته دکتابونو راجمع کولو ډير شوق وو کله به ئے چه يو کتاب په خرخيدو وليدو او پيسے به ورسره نوے نو خپلے جامے به ئے خرڅے کړے او کتاب به ئے واخستو، ددوي دوفات نه روستو چه ددوي دکتب خانے اندازه ولګولے شوه نو دغه وخت دکتابونو ماليت څلويښت زره درهم وو دنن زمانے په اعتبار سره دپنځه

شپږ لکوروپو کتابونه وو، دغه شان واقعه دعبدالرحمن قصريؒ ده چه داوچتے درجے فقيه تيرشوے دے کله به چه ورسره پيسے نه وے نو کتاب ياکاغذاخستلو دپاره به ئے خپلے جامے خرڅے کړے.

جمادے چندادادم، جان خريدم: بحمدالله بس ارزان خريدم

سندبن عليؒ سره دکتاب اخستلودپاره رقم نه وواوديو کتاب اخستلو ئے ډيرشوق وواوپلارئے ورته تال مټول کوو، نودپلاراس ئے په غلا خرڅ کړو اوهغه کتاب ئے واخستواونورے پيسے ئے مورته حواله کړے چه مابه ترينه خلاصوے، چه پلارئے خبرشونوډيرپريشانه شو ليکن دوی لـه يـودوسـت دهـغـه نـه ښـائسـتـه اس ورکـړوچـه دا خودخوشحالئ خبره ده چه ستاځوی دومره شوق لری اودا اس واخله او هغه ته څه مه وايه.

حضـرت مـولانـا ابوالحسن علي ندويؒ يوځل دډاک په ذريعه رحمة للعالمين کتاب راغوښتلے ووپيسے ئے دمورنه طلب کړے هغے سره نـوے، نـودوی په ژړاشونومورئے ورله دپيسوانتظام وکړو (کاروان زندگی) هشامؒ وائي چه زمادوالدصاحب عروهؒ کتابونه دحرّه په ورځ (چه کـلـه يزيدبن معاويه په خپل دورحکومت کښ په مدينه حمله کړے وه) سوی وونوبيابه ئے باربارفرمائيل چه کاش! اهل وعيال، مال دولت په ځـائـے زمـاکتابونه بچ پاتی شوی وے (جـامـع بيـان الـعلم وفضله ۸۱)

اللهتعالیٰ دے مونږه هم دکتابونوقدردان جوړکړي.

## په علم کښ تدریجي ترقي، توپ نه وهل

بعض طلبه د درس نظامي په اعتبارسره د درجه بندۍ لحاظ نه کوي او د ذرعالم جوړېدو شوق لري، پس دیو څو د فنونو کتابونو وئیلونه پس په یو میاشت دوه کښې موقوف علیه ووائي او بیا یو کال یا مختصر مده کښې دوره حدیث او کړي او دستاربندۍ سره خپل ځان ددے قیدنه آزاد کړي، داډیره د نقصان خبره ده، ددینه ډیر مفاسد خورېږي داسے کس برائے نام سند حاصلو لو سره د علماؤ په صف کښې شامل شي او د علماؤ پیښې کوي چه بیا ترینه ډیرے فتنے خورے شي او د کم علمۍ په وجه د ډیرو فتنو اله کارشي، علم خوئے کړے نوي نو بیا په خپل ذهن کښې د قرآن او حدیث غلطے قضیے جوړوي او د هغے نتیجه راوباسي نو په خپله هم ګمراه وي او د نورو د ګمراهۍ سبب هم جوړشي، پوراعلم حاصلول خو ضروري نه دے، لهذا چه ضرورت یا څه مجبوري وي نو محض ضروري مسائل د خپلے روزمره ژوند د تیرولو د پاره یادول او بیا په خپل کاراو معاش کښې لګیدل پکاردي، نو په دے باره کښې د اُستاذانو سره مشوره ضروري ده چه هغوي ته په دے باب کښې تجربه او د اخبرے په هغوي تیرے شوي وي طالب علم دے خپله مرضي نه چلوي.

اُستاذ برهان الدینؒ فرمائي: چه مخکښې زمانے طلباؤ به خپل تعلیمي امور اُستاذانو ته سپارل "فَکَانُوْا یَصِلُوْنَ اِلٰی مَقَاصِدِهِمْ

ومُرَادِهِمْ" نو هغوی به خپل مقاصدو او مرادونو ته رسیدل او وس طلباء دد ے اهتمام نه کوی نو په خپل مقصد کښ کامیاب نه وی۔
(تعلیم المتعلم ۲۷)

دیونس بن یزیدؒ بیان دے چه ابن شهاب زهریؒ ماته اُوئیل چه یونس علم سره ضدمه کوه، دعلم میدانونه ډیردی ته چه کوم میدان ته کوزیږے په تلو تلو به ستړے شے او علم به ختم نشی، البته علم په تدریج سره حاصل کړه، دلیل نهار په سست رفتارئ سره څه او داخپل کرفت کښ راوله، په یو دم داخستلو کوشش مه کوه ځکه چه څوک دا کوشش کوی هغه هیڅ هم نه مومی (جامع بیان العلم وفضله ۸۵)۔
عبدالرحمن بابا فرمائی:

صبرو نیسه پـــه مخکښے مراد غواړه
په تلــواریه هیڅ ونــهٔ کړے که تلوار کړے

## آخری درجے ته توپ وهلو سره سند حاصلونکو طلباؤ مثال

یو گیدړو وهغه ته دلیکلے شوی کاغذ ټکړا مِلاؤشوه هغه ئے ځنګل ته راوړه او ټول گیدړان ئے راجمع کړل او و ے وئیل چه مونږه ته دحکومت دطرف نه داسند مِلاؤ شوے دے، اوس که مونږه هرچرته کلی یا باندے ته ځونو سپی به راپسے نه غاپی۔ نورو اُوئیل چه مونږه ته به څنګه یقین راشی چه سپی به راپسے نه غاپی، نو دے گیدړ اوئیل چه تاسو ته یقین نه راځی نو دالیکلے شوے سند و لولئ کوم چه مونږه ته دحکومت دطرف نه مِلاؤ شوے دے، نورو گیدړانو اوئیل چه

مونږه لیکل نشو لوستلے، نو دے کیدړاونیل چه تاسو نه پوهیږئ
نو په مایقین وکړئ لهذا تول کیدړانو په دے سند اعتماد او کړو او تول
په یو ځل د رمے په شکل کښ یو کلی طرفته روان شول چه کلے راننز
دے شو او دسپو نظر په کیدړانو ولګیدو نو دتول کلی سپی په کیدړانو
پسے ولګیدل، کیدړانو منډے شروع کړے او چه دکوم سره سند وو
ډهغه دټولو کیدړانو نه مخکښ مخکښ منډه وهله، دے روستو
کیدړانو دِ سندوالا کیدړ ته اوئیل، اے وروه! لګ و دریږه خپل سندِ
سپو ته وښایه، نو سندوالا کیدړ د منډے په دوران کښ اوئیل، تاسو تول
تختئ داسپی چه شاته راروان دی داتول ستاسو پشان ان پړه دی په دوی
کښ یو هم لوستونکے نشته، کیدړ پرنګ سندلرونکی دنوم علماء چه
اخری درجے ته توپ وهلو سره سند حاصل کړی په خپله ګمراه وی
نورهم ګمراه کړی او هرځائے جنګ فساد جوړوی فرقه پرستی له
عروج ورکوی۔ (تحفة الطلباء والعلماء ۳۷۰)

## ته به امتحان ځنګه ورکوے؟

دانسانی استعداد او قابلیت بیدارولو یو لوئ سبب امتحان هم دے اودا
امتحان دنن نه بلکه د روز اول نه په بنی نوع انسان کښ رائج دے،
لکه دحضرت ادم علیه السلام دفرښتو مخے ته امتحان ددے
سلسلے یوه کړئ ده، اللّٰه تعالیٰ ددے امتحان په وجه دحضرت ادم
علیه السلام په فرښتو فوقیت ظاهر او فرمائیلو او د خلافت دستار

ددوی په سروترلے شو، دغه شان حضوراکرم صلی اللہ علیہ وسلم هم دخپل جانباز صحابه کرامو امتحان اخستے دے اودا سلسله تاحال جاری اوساری ده، په دے کښې څه شک نشته چه دهرے زمانے اودهرے طبقے امتحان مختلف وی، هريو دخپلے طريقے مطابق امتحان اخلی، هرملک هره اداره هره تعليم گاه هره مدرسه جامعه دخپلو تجرباتو په رنړا کښې دامتحان اخستلو جداگانه طرز او انداز لری، مگر ددے ټولو دتفصيل نه قطع نظرمونږه په دے سطوروکښې دجامعاتو اومدارس عربيو دامتحان ورکولو طريقے او دامتحان متعلق لوازمات ذکرکوو، اميد دے چه داخبرے دعزيزطلبه کرامو دپاره مفيدے ثابت شی۔

## اِمتحان هَال کښې داخله

دامتحان نه مخکښې دټولو نه اوله مرحله امتحان گاه ته داخليدل دی، امتحان گاه هغه مقدس مقام دے دکوم ځائے نه چه انسان دمشهورے مقولے مطابق "عِنْدَ الْإِمْتِحَانِ يُكْرَمُ الرَّجُلُ اَوْيُهَانُ" يا د کاميابئ تاج پسرکولو سره کامياب راوځی يا دد ے محل نه د ناکامئ په جامه کښې دحسرت او ندامت داغ لگيدو سره راوځی، ددے وجے نه طالب علم دپاره ضروری دی چه امتحان گاه ته داخليدو په وقت کښې دتمام شرعی او انتظامی قوانين، آدابو خيال اوساتی دکومو اعلان چه دجامعے دطرف نه کيږی، حتی الامکان دخپلے وضعے قطعے پوراخيال کولو سره ننوتل۔

# د نِشست گاه انتخاب

اکثرو بیشتر دنشت گاه تعین دادارہ یاجامعه دطرف نه کیږی، البته که دمدرسے دطرف نه دنشت گاه تعین نه ووشوے نو دطالب علم دپاره ضروری دی چه دخپل ځان دپاره دداسے نشت گاه انتظام اوکړی چه په هغه دشبے امکان نه وی ځکه بسااوقات دنشت گاه دغلط انتخاب په وجه طالب علم مشتبه اوګڼړلے شی او دتفتیش په صورت کښ دطالب علم په ذهن غلط اثرپریوځی، لهذا دښے اودمناسب نشت گاه انتخاب هم ضروری دے۔

☆

## د ناستے انداز

په نشت گاه باندے په باوقارانداز کښ ناسته دیوښه طالب علم علامت دے، په باوقارانداز سره ناسته صرف دانه چه په امتحان کښ مستحسن ده بلکه دمعاشرے دآدابو نه یوبهترین ادب دے، په دے وجه دخپل ناستے انداز بهترین جوړول هم یوبهترین عمل دے، په امتحان گاه کښ طلبه کرام په مختلف انداز سره کینی، هریو دخپل راحت وآرام پیش نظرآرام طلب ځائے اختیاروی لیکن په ښه انداز او باوقار طریقے سره ناسته چه یو طرف دطالب علم وقعت دممتحن په سترګو کښ زیاتوی، نوبل طرف ته دشبهاتو نه پاک امتحان ورکوی، په دے سلسله کښ په دوه طریقه ناسته ډیره مناسب په

نظر راخي، يو خو داده چه څلور ګوتې کېنې، دويمه داده چه د تشهد په حالت کښې کېنې او خپل يو زنګون سينې طرف ته اوچت کړي، دستربتوب په حالت کښې دناستې هيئت بدلولې شي۔

## د نقل د مُمکِنه صُورتُونُونه اِجتناب

چه چرته امتحان وی نو هلته دبعض طلباؤ دخپل ځان سره د نقل ورلو عادت وی، دنقل کولو دعمل اسباب يا خو سبق ته عدم توجه، غير حاضری، دسبق په دوران کښې نه محنت، فضول کارونو او تنظيمی سرګرمينو کښې حصه اخستل دی، داسې طلبه په عين موقع دځان سره نقل وړی او داسې افراد دنقل کولو باوجود اکثر فيل کيږی، يا په عين موقع ترينه نقل راويستلې شی چه ددې په وجه دېر زيات سپک شی او هره اداره دخپل صوابديد مطابق داسې طلباؤ دپاره سزا تجويز کوی، اصل کښې نقل په يو وقت کښې دځو قباحتونو مجموعه دی، ددې وجې نه طالب علم لره ددينه بچکيدل پکار دی او شرعی نقطه نظر سره امتحان دادارې يو امانت دی، لهذا دخپل بساط علمی مطابق امتحان ورکول، امانت داری او نقل نه کارا غستل خيانت دی، خيانت په يو صورت کښې جائز نه دی، لهذا دنقل دممکنه صورتونونه اجتناب لازمی دی۔

## د کَتِې اِستعمال

دامتحان دلوازماتو نه يوه لازمه کته ده، کته چه څومره ښه او بهترينه

وی طالب علم به هم په دے اندازددے استعمال کوی، بعض طلباء لیدلی شوی دی چه هغوی امتحانی کته په ځائے دنیغه نیولوچه نیسی چه دبنه نه لګیدوسره دطالب علم دمشتبه کیدوهم سبب وی، ددے وجے نه ددے داستعمال بهترینه طریقه داده چه کته نیغه اودخپل زنګون دبره کیخودلے شی، بهتره ده چه دګتے دبره داسے نرم شے کیخودلے شی چه په هغے سره قلم په روانئ چلیږی۔

## دسوالیه پرچه دَ وصولوَلو طریقه

هسے خوممتحنین حضرات پرچے په امتحانی حال کښ په چکر لګولوسره تقسیموی لیکن بیاهم دیاددهانئ دپاره داخبره ضروری ده چه پرچه وصولولودپاره طالب علم نره وددریدل پکاردی چه دپرچو تقسیمونکی حضراتو دتعاون سره سره آسانی وی اوپرچه په انتهائی توجه اودواړه لاسونوسره اخستل پکاردی، په یو لاس سره پرچه وصولول دبے ادبئ په زمره کښ راځی اودمروّت نه هم خلاف دی۔

## دپرچه لیکلوطریقه

سوالیه پرچه لوستلواوپوهه کیدونه بعدبه ته جواب څنګه لیکے، په جواب لیکلوکښ دهرطالب علم څانله طریقه ده، مګردلته چه کومے طریقے بنے اوبهترینے دی دهغونه دبعضوتذکره کولے شی۔

اوله طریقه داده: چه ته دخپل جوابی صفحاتو څلورواړه طرفته مناسب حاشیه پریخوستلوسره په بنائسته قلم کرښے راکاږه اوبیاپه غټو

حروفو سره عنوانات ولګوه او پرچه مکمل کړه، په کرښو رابنکلو کښې دا خبره خيال ساتئ چه کرښې کږې اوبدې نه لګی، کيږی داسې چه بعض اوقات کرښې خوولګئ ليکن بره حاشيه لګه پريږدی او لاندې زياته، نو دا قسم کرښې بدصورت اوبدې لګی، کرښې که دبال پين يا مارکرسره ولګی نو ښه ده، دعام سياهي قلمونو سره کرښې وهل دخرابۍ نه خالی نه وی، ځکه کله سياهي تُوئي شي او تول صفحه خرابه کړی، په سواليه پرچه کښې دموجوده حل طلب خبرو دپاره دعنوانا تو تعين ضروری دے، که ستانه دپنځه شپږ مختصر بيل بيل خبرو تپوس شوے وی نو ته ددے پنځه خبرو دپاره مستقل عنوان قائم کړه، ځکه په دے سره حل طلب خبرے ښې واضحه کيږی او په دے سره په ممتحن ښه اثر پريوځی۔

دويمه طريقه داده چه ته دجوابی کاپئ په څلورو طرفونو په کچه پنسل سره کرښې راکاږے او بيا دصفحې دڅلورطرفونو نه دپنسل نشانات په ربړ سره وران کړے، نو دکرښو ورانولو نه روستو به ستادا جوابی کاپئ ښائسته په نظر راځی او دجلب توجه باعث به جوړيږی، که ددے دواړه طريقوسره ديوے خبرے مزيد اهتمام اوشي نو بهتربه وی هغه داده که ديوسوال جواب دصفحې په مينځ کښې ختم شي نو دلږے فاصلے سره دويم سوال شروع کول پکاردی او که دصفحې څه حصه باقی پاتې شي نو نوے سوال دِراروانې صفحې نه شروع کړے شي او دا باقی مانده حصه دِ خالی پريخوستلے شي، ځکه چه بعض اوقات

ددے سوال متعلق څه خبره په شروع کښې دذهن نه اوځی او روستو

رایاده شی نو داخالی ځائے په دے وخت په کار راتللے شی او داخبره

دهرسوال په اختتام باندے دځائے په پرېخوستلو کښې ده۔

هرممکن کوشش اوکړئ چه دمخاطب دپوهے په اندازنه ډیراوګدا ونه

ډیرمختصربلکه میانه روئی سره ولیکئ، کټ مټ نه کارمه اخلئ۔

## دقلم نیولو طریقه

دقلم درست استعمال او صحیح طریقے سره نیول درحقیقت یوفن

دے، ددے دنیولو بهترینه طریقه داده چه قلم دشهادت په ګوته

اوغټے ګوتے سره نیول او مینځنۍ ګوتے سره دلاندے نه تکیه

ورکول او دادرے واړه ګوتے لګے ګُونډے اوګدے کړے شی، نه ډیر

په سختئ سره نیول اونه ډیرپه نرمئ سره بلکه په مینځ حاله نیولوسره

نیول او استعمالول، دبعضے خلقو عادت دے چه ډیرپه کلک

نیولو سره لیکل کوی او خپلے ګوتے په ځائے داو ګدیدو راتولے ساتی

اولیکل کوی، دتحریردا انداز دسترېتوب او دلاس د دردنه خالی نه وی،

په دے وجه په مذکوره طریقه باندے دلیکلو عادت جوړ کړئ په

هغه کښې داسے قسم کیفیت نه وی، بعض حضرات لیدلے

شوی دی چه هغوی قلم لره په کاغذ باندے زور ورکولو سره لیکی،

داطریقه هم صحیح نه ده قلم په سپک رفتارئ نرم اندازسره چلول چه

کارهم وچلی او قلم هم خراب نشی او کاغذهم متاثره نشی۔

## کوم یو قلم استعمالول مناسب دی

فاونټین پین وی یا بال پین، د دواړو استعمال صحیح دے، البته په امتحان کښې دبال پین په ځائے سیاهی والاپین استعمالول مناسب دی، په دے وجه چه امتحان کښې تحریری کارلګ او کډوی او سیاهی والاپین نرم چلی په دے وجه داډیر مناسب دے، البته که یو بال پین صحیح او نرم چلی نو بیا دے په استعمال کښې څه حرج نشته، د خوشخطئ یادونکولره پکاردی چه هغوی همیشه دسیاهی والاپین استعمال کړی ځکه چه په خوشخطئ کښې دقلم نرم چلیدل دطالب علم دپاره ډیر مفیدوی ځکه سیاهی والاقلم سره خط یادیږی او جوړیږی او بال پین سره مضبوطیږی، دیادولو دپاره سیاهی والاقلم او د خپل خط مضبوط کولو دپاره دِ بال پین استعمال کړے شی، دډیر زیات نری او ډیر زیات پیړ قلم داستعمال نه دے احترازو کړے شی.

## صاف او خُوشخط لیکل

صاف او خوشخط لیکل دیو باوقار او ذی استعداد طالب علم شناخت دے، داخبره دے ملحوظ نظروی چه دخوشخط لیکلو نه مراد خطاطی نه ده بلکه ددینه مراد جوابی کاپئ په داسے اندازسره لیکل چه ډیر په آسانئ او روانئ سره لوستلے کیږی، کلمات دیو بل سره داسے نزدے او په یو بل کښې دننه نوی چه په وئیلو کښې د دقّت او تکلیف سبب وی قطعاً صحیح نه دی، خصوصًا دامتحان په موقع باندے

ځکه داسې لیکل په طبیعت بوج جوړیږي او لوستونکي ستومانه کیږي۔
او هره هره کلمه ښائسته او مناسب فاصلې سره لیکل، په کرښه په داسې انداز سره لیکل کول چه یو حرف د کرښې نه لاندې لاړنشي بلکه په متوازي انداز کښې وي، جوابي کاپئ په صفحاتو باندې کرښې تنکي وي نو یوه کرښه پریخوستلو کښې څه حرج نشته، البته که کرښو په مینځ کښې کافي فاصله وي، لکه دوفاق المدارس په جوابي کاپیانو کښې، نو په داسې صورت کښې کرښه پریخوستل صحیح نه ده په داسې کاپیانو کښې کرښه پریخوستلو سره لیکل په ځائې دښائسته ښکاره کیدو بدصورت په نظر راځي۔ پروفیسر سیدمحمدسلیم صاحب مرحوم دخوشخطئ درې اصول ذکر کړي دي، داستفادې دپاره لاندې نقل کولې شي [۱] اسان خوانی: ددې خط تحریرونه په اسانئ سره لوستلې کیږي [۲] اسان نویسی: په دې خط کښې تحریرونه په اسانئ سره لیکلې کیږي [۳] خوش نمائي: ددې خط تحریرونه په کتلو کښې ښائسته په نظر راځي۔ (تاریخ خط وخطاطین ۹۷)

## د سِیاهِي اِستعمال

په امتحان کښې سره سیاهي اودې ته نزدې ددې پشان نورې سیاهیانې استعمالول په پوره پرچه کښې صحیح نه دي، په دې وجه دمهذب قومونو په نیزد سرې سیاهي استعمال معیوب گڼړلې کیږي،

دضرورت دحده پورے یے داستعمال اجازت شته، مثلاعنوانات په سرهٔ سیاهی سره لیکل غواړے، البته دتولونه زیات نظر راښکونکی سیاهی توره ده، په توره سیاهی کښ لیکل ښائسته په نظرراځی، په خطاطانو کښ هم ددے استعمال رارواں دے، نن صباخوتورے سیاهی گانے ډیرے مِلاویږی مگرپه دے کښ هغه اصلی نه وی کوم به چه مخکښ وے، بیا هم اصل پارکرسیاهی اوپلیکان ښے معیاری سیاهی گانے دی، دا سیاهی په استعمال کښ راوستل پکاردی، شنه سیاهی بالکل فائده منده نه ده اونه ددے په لیکلو کښ څه ښائست وی، په عام استعمال کښ هم ددینه استفاده نده پکار۔

## عَلامَاتُ التّرقِيمِ

ضروری علاماتِ ترقیم استعمال هم دقاری دپاره دسهولت باعث وی مثلافصله یافاصله(،)علامة التفصیل(:) علامة التنصیص(" ") قوسین ( ) علامة الانتهاء (۔) ددے ضروری علاماتو استعمال هم دپرچه نویسئ دبنیادی قواعدونه دی۔

## نظرثانی

طالب علم لره پکاردی چه دسوالاتو حل کولونه بعدپه دے نظرثانی اوکړی، چه دکتابت اودنورو غلطینو تدارک اوکړی او که خبره هیره شوی وی نو چه وے لیکی، داحتمی خبره ده چه نظرثانی سره ډیرفوائد حاصلیږی چه ددے ادراک بروقت نه کیږی۔

(آپ امتحان کیسے دیں، مفتی عبداللطیف طالقانی صاحب)۔

هشامؒ وائی چه ماته والدعروه بن الزبیرؒ یو خل اوئیل چه تالیکل اوکړه؟ ما اوئیل چه اوجی! وے فرمائیل چه نظرثانی دے هم اوکړه؟ نو ما انکاروکړونو وے فرمائیل چه بیاتاهیڅ هم اونه لیکل۔ دیحیٰ بن کثیرؒ وېناده چه څوک لیکل کوی اونظرثانی نه کوی دهغه سړی پشان دے چه بیت الخلاء ته ځی مګراستنجاء نه کوی (جامع بیان العلم وفضله ۱) نو که هرقسم تحریروی امتحانی پرچه، تصنیف تالیف، د اُستاذ افادات وغیره په دے ټولو د نظراچولو اهمیت د مذکوره بالا ارشاداتو نه معلومیږی۔

## امتحان نه مخکښ او روستو او
## د امتحان په وخت ځه کول پکاردی

دتکرارپه ضمن کښ چه کومے خبرے لیکلے شوی دی دکال داول نه په هغو باندے عمل اوشی نوان شاء الله په امتحان کښ به هیڅ قسم مشکلات نه وی ورنه بیابه دامتحان په وخت ذهنی بوج سوا کیږی، نواهمه خبره چه دکال داول نه دتکرار، مطالعه اهتمام وی۔ دامتحان نه مخکښ دچاسره دپرچه لیکلو مذاکره کول چه دامتحان انداز، طریقه به څنګه وی اوڅنګه به لیکل احسن وی، بعضے طلبه بنه قابله وی خودپرچولیکلونه نابلدوی نو بیا عین امتحان په وخت پریشانه وی، دامتحان نه مخکښ دخپل ټولو ضروریاتواو حاجتونونه ځان فارغول چه فین، قُته، سیاهی اوداسے

نورضروريات دمخکښ نه موجود وی۔

دامتحان نه مخکښ دټول کتاب تکراراودامتحان په وخت په اهم مقاماتو نظراچول، داکوشش کول چه دأستاذنه څنکه درس اوریدلے شوے وی هغه شان حل کول، دامتحان په ورځو کښ بالکل دځان نه غفلت نه دے پکاربلکه خوراک څکاک اوپه وخت آرام ډیر ضروری دے ورنه که توله شپه کینے اوسحرپه پرچه کښ خوب درځی نوپه ځائے دفائدے به نقصان اوشی۔

همیشه دطالب علم کوشش داوی چه زه په توله مدرسه یادکلاس په سطح پوزیشن واخلم اوددے دپاره محنت هم وی نوالله تعالیٰ دچا محنت نه ضائع کوی، ضروردد ے محنت نتیجه راوځی، که پوزیشن راشی نومحض دالله تعالیٰ فضل گنړل، تکبراوعُجب اوپه خپلو ملگرو ځان اوچت نه حسابول بلکه دشکرپه طوربایدچه نوره هم تواضع زیاته شی اوکه پوزیشن رانشی نوپه اُستاذانوبدگمانی نه کول بلکه په خپلو خامیانوباندے نظراچول چه زه ددومره نمبروهم لائق نه اُوم او دپوزیشن اخستونکوسره حسدنه کول بلکه هغوی لره مبارکی ورکول او دائنده امتحان دپاره همت نه بیلل بلکه په نوی عزم سره محنت کول، ددے ټولو خبروسره سره اصل نظردآخرت په امتحان وی چه اصل پاس اوفیل خوبه هلته وی اودمسنون دعاگانواودصلوة الحاجت کولو اهتمام وی، مزیدکارامدخبرے، ته به امتحان څنگه ورکوے؟عنوان لاندے ذکرشوی دی۔

## په امتحان وغیره کښې د کامیابۍ دپاره مُجرَّبُ عمل

دفتحے او کامیابۍ دپاره، یا په امتحان کښې دآسان پرچو دپاره دتللو نه مخکښې اوه ځل دا ایت ووئیل "فَاِنَّ حَسْبَکَ اللّٰهُ هُوَ الَّذِیْ اَیَّدَکَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِیْنَ" (الانفال ۶۲)

## د صِحت دحِفاظت نه مه غافِله کیږه

طالب علم لره پکاردی چه دخپل صحت دحفاظت نه غافله نشی، دتحصل علم په زمانه کښې دِ په ډیر محنت، کوشش سره خپل صحت په خطره کښې نه اچوی بلکه معتدل لاره دِ اختیاروی، ځکه "خَیْرُ الْاُمُوْرِ اَوْسَاطُهَا" په کارونو کښې بهترین هغه مینځ حاله دی صحت داسے یو نعمت دے چه ددے په وجه انسان په هرقسم کارونو قادره وی او کله چه صحت نه وی نو هر قسم سهولیاتو کښې انسان هیڅ هم نشی کولے، نو دخپل دماغو، سترګو، معدے او دټول بدن خیال ساتل، چه کوم څیزونه دصحت دپاره فائده مندوی دهغے دحصول او چه کوم نقصان ده وی دهغے نه بهرصورت خوښ ناخوښ مخ اړول پکاردی، دصحت حفاظت په شریعت کښې هم مطلوب دے ځکه چه صحت دالله تعالیٰ نعمت دے او ددے قدردانی کول بهرحال پکار دی، ارشادنبویؐ دے چه پنځه څیزونه رومبے له پنځونه غنیمت اوګنړه، په هغه پنځو کښې یو "وَصِحَّتَکَ قَبْلَ سَقَمِکَ" چه جوړوالے دے رومبے له ناجوړتیا نه غنیمت وګنړه، نو دصحت نه فائده

اخستلو سره ددے عزم هم کول چه زبات نه زبات خپل ځان الله تعالیٰ ته نزدے کړے، چه صحت وی نو دخپل کارونو کولو سره به دبل په کار هم راشے ورنه په نورو به بوج یے، ځکه خونبی علیه السلام فرمائی "اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِیُّ خَیْرٌمِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِیْفِ" قوی اومضبوط مؤمن دکمزوری مؤمن نه بهتردے نو حفاظتِ صحت دخپل ځان په کار راتللو سره دالله تعالیٰ دخوښیدلو سبب هم دے، ځکه خوسرکاردوعالمؐ دصحت دحفاظت دپاره دعا کړے ده "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ الصِّحَّةَ الخ اے الله زه ستانه دصحت سوال کوم، نوامت ته هم تعلیم دے چه د اسبابِ صحت داستعمال سره ددُعاء اهتمام هم اوکړی ابوذرؓ فرمائی: چه شپږ کارونه جمع کړه چه دټولے دنیا سره برابر دی[۱]هضمیدونکے طعام [۲]نیک عمله اولاد[۳]دطبعیت موافق ښځه[۴]محکمه خبره [۵]کمال عقل[۶] "وَصِحَّةُ الْبَدَنِ" اوجوړوالے دبدن (منبهات ابن حجر) ابو درداءؓ چه کله په عبادت کښ دزیات مشغولیدو په وجه دبدن اودکوروالو دحقوقو نه غافل شو نو سلمان فارسیؓ ورته اوفرمائیل "اِنَّ لِنَفْسِکَ عَلَیْکَ حَقًّا" چه په تا باندے ستادنفس حق هم شته دے چه دے له لګ راحت ورکوے اوډیر مشقت پرے نه اچوے، نودخپل صحت خیال ساتل داپه انسان باندے دنفس حق دے اوددینه غافله کیدل ندی پکار ځکه خوزمونږه مشرانو دخپل صحت خیال ساتلو اوددے دپاره یے مستحسن تدابیر اختیار کړی اوددے اهمیت بیانولو دپاره یے موقع په موقع ارشادات فرمائیلی دی۔

## دحفاظتِ صحت تدبیر اختیارول دمستحب نه مقدم دے

حضرت مولانا تھانویؒ فرمائی دحفظ صحت دمصلحت تدبیر د مستحب دتحصیل نه مقدم دے مثلا دسحرپه وقت کښ هوا خوری دپاره ځنګل ته وتل افضل دی په جمات کښ داشراق دمانځه دپاره دنمر راختلو پورے دناستے نه (کمالات اشرفیه ۲۴۴) زماپه نیزدصحت حفاظت ضروری دے خواکه داعمال نافله توفیق نه وی۔

(کمالات اشرفیه ۲۱۴)

## د صِحت فَارمُولَه

جہاں تک کام چلتا ہو غذا سے: وہاں تک چاہیے بچنا دوا سے
اگر تجھ کو لگے جاڑے میں سردی: تو استعمال کر انڈے کی زردی
جو ہو محسوس معدے میں گرانی: تو پی لے سونف یا ادرک کا پانی
بنے گر خون کم بلغم زیادہ: تو کھا گاجر، چنے شلغم زیادہ
جگر کے بل پہ ہے انسان جیتا: اگر ضعف جگر ہے کھا پپیتا
جگر میں ہو اگر گرمی دہی کھا: اگر آنتوں میں خشکی ہو تو گھی کھا
تھکن سے ہوں اگر عضلات ڈھیلے: تو فوراً دودھ گرما گرم پی لے
زیادہ گردماغی ہے ترا کام: تو کھا لے شہد کے ہمراہ بادام
اگر ہو قلب پر گرمی کا احساس: مربہ آملہ کھا اور انناس
جو دکھتا ہو گلا نزلے کے مارے: تو کر نمکین پانی کے غرارے
اگر ہے درد سے دانتوں کے بیکل: تو انگلی سے مسوڑھوں پر نمک مل
جو بدہضمی میں چاہے تو افاقہ: تو دو ایک وقت کا کر لے تو فاقہ

## د جسمانی صحت د پاره صفائی نهایت ضروری ده

طلباء کرامو له پکاردی چه د خپلے صفائی ډیر اهتمام کوی۔ اسلام خصوصی طور باندے د صفائی تاکید فرمائیلے دے لکه داخترونو، جُمعے دمانځه د پاره غسل اونوے یازرے اینځلے شوے جامے اغوستل، ارشاد نبویؐ دے "نَظِّفُوْا اَفْنِيَتَكُمْ وَلَا تَشَبَّهُوْا بِالْيَهُوْدِ" یعنی خپل غُولی وغیره صفا کوئ او دیهو دوسره مشابهت مه اختیاروئ، حضورؐ به د صفائی ډیر خیال ساتلو یو ځل یے یو سړے ولیدو چه جامے یے خیرنے وے نووے فرمائیل چه ددینه دومره نه کیږی چه خپلے جامے وینځی، نو په دے وجه د صفائی ډیر اهتمام پکار دے ځکه چه دا د صحت د پاره ډیره ضروری ده، دغوږونو صفائی، دغاښونو صفائی په مسواک سره، دستر کو صفائی او حفاظت په رنجو سره، دویختو حفاظت په وینځلو او تیل لګولو سره ځکه ارشاد نبویؐ دے "مَنْ كَانَ لَهُ شَعْر فَلْيُكْرِمْهُ" چه دچاویخته وی نو دهغے دے صفائی کوی او دغه شان صفا او پاکے جامے، پړګئ، رومال استعمالول، چه یو طرفته دا د صحت د پاره معین او مددګاردی نو بل طرفته اُستاذ، هم درس ملګری او عام مسلمانان دخپل ضرر نه بچ کول دی، ځکه چه خیرن او سیدلو سره د اختلاط په وجه دوی ته هم تکلیف رسی۔ حکماء فرمائی چه څوک د صفا جامو اغوستلو عادت جوړ کړی نو ددے په فکر کښې به انتشار کم وی او که دخوشبو لګولو عادت یے جوړ کړو نو عقل به ئے زیاتیږی۔

اودد ے سره سره دخپلے درسگاه، کمرے اومدرسے صفائی کول لیکن دصفائی په معامله کښې دتکلفاتو نه ځان ساتل هسے نه چه اکثر اوقات په دے کښې خرچ کړے شي بلکه په میانه روئ سره دد ے خبرولحاظ ساتل پکاردی۔

## دصحت دپاره ورزش

یادساتئ چه دصحت دحفاظت دپاره روزانه په فارغ اوقاتو کښې لګ شان جائزلوبه، ورزش، پیدل مزل اوڅه کاریاخدمت کول ډیر ضروری دی، ورنه دډیرے ناستے په وجه انسان په قسماقسم بیماریانو کښې مبتلا کیږی او ډیر زر دبوډاتوب سرحدته رسی حالانکه علماء طلباء دامت مسلمه غم خواردی نودوی لره دهر قسم حالاتو دپاره ځان تیارول پکاردی، عمومی طورپه طلباؤ کښې دد ے احساس نشته دے، کوم طلباء چه څه نه څه ورزش کوی نوهغوی اکثرپه سبق کښې دلچسپی نه لری او کوم چه قابل طلباء دی نوهغوی دے طرفته متوجه کیدل ضیاع وقت ګڼړی حالانکه اسلام دد ے تعلیم ورکړے دے، حضورؐ اوصحابوؓ داسونو مقابلے منعقدکړی دی، نبی ﷺ دغشو ویشتلوپه مقابله کښې شریک شوے دے، دغه شان کُشتی کول اومنډه وهل دنبی کریم ﷺ نه ثابت دی، حضرت عمرؓ به اس ته په توپ وهلوسره ختو، دنبی کریمؐ ارشاددے "عَلِّمُوْا صِبْيَانَكُمْ الرَّمْيَ، وَالسِّبَاحَةَ، وَالْفُرُوْسِيَةَ" چه خپلو ماشومانوته

غشي ويشتل، لامبو او په اس باندے سوريدو طريقه وښائے، دنن زمانے مطابق موټرسائکل، کارے او په توپک سره دنښے ويشتلو طريقه يادول، ارمان! چه داخبرے مونږه هيرے کړی دی اونن کافرپه دے ارشاد نبویؐ باندے کاربندی، دبدهـ مت مذهب مشرک په خپل مذهبی ادارو کښې د جسمانی ورزش تعليم ورکوی، په دے وجه دهغوی داويا کالو مذهبی مشرپه دے عمر کښې هم التما(سرو کونه) توپ وهی، نو دانسانی صحت دپاره لوبه ضروری ده او تعليم دپاره صحت اهم دے، په دے وجه په اسلام کښې دصحت هم اهميت دے او دلو بو هم اجازت ورکړے شوے دے ليکن بقدرضرورت، حضورؐ فرمان دے "اَعْطِ الْوَقْتَ حَقَّهٗ مِنَ اللَّهْوِ الْمُبَاحِ بِقَدْرِ مَايُعْطَى الطَّعَامَ مِنَ الْمِلْحِ" جائزلو بو ته دومره وقت ورکړئ څومره چه په خوراک کښې مالګه وی۔ (محمد نبویؐ کا تعلیمی نظام)

ددے حکمت نه ډکه وينا کښې دِ حقيقت طرفته دخلقو توجه راړولے ده چه څنګه دخوراک مزه او خوندپه مالګه منحصردے دغه شان په ژوندکښې لوبے کول هم ضروری دی ليکن څنګه چه دخائسته خوراک دمزے او خوندختمولو دپاره دمالګے زياتول کافی دی، دغه رنګ دلوبے تناسُب هم په ژوندکښې دقدرضرورت نه زيات نشی، ددے مزيدوضاحت امام غزالیؒ کوی چه ماشوم دتعليم ګاه نه راواپس شی، نو دلګ لوبے کولو اجازت ورکول پکاردی چه هغه دسبق وئيلو ستومانی لرے کړی ليکن دالوبه دومره نوی چه ماشوم په لوبه

کولو کښې ستړے شي (امام غزالیؒ ۱/۱۲ وفاق المدارس ۱۴۲۳ھ)

بهرحال که ډیر مصروفیت ولے نه وي نو معمولي شان مباح سیرو تفریح د صحت دپاره مستحسن ده په حدیث کښې راځي "ان النبي ﷺ کَانَ یُحِبُّ اَنْ یَنْظُرَ اِلَی الْخُضْرَةِ وَاِلَی الْمَاءِ الْجَارِیْ" حضورﷺ به شنه ځائنو او روانو اوبو ته کتل خوښول، مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائي "فِیْهِ اَنَّ الْاِسْتِمْتَاعَ بِالْمُبَاحِ مَالَمْ یَغْلُ فِیْهِ لَایُنَافِیْ کَمَالَ الزُّهْدِ کَمَا یَزْعَمُهُ الْمُتَقَشِّفُوْنَ" مباح نه نفع حاصلول د کمال ذهد منافي نه ده ځو پورے چه دے کښې غلو نه وي بخلاف د بے علمه خلقو۔

## د صحت دارومدار په دوه څیزونو باندے دے

د معدے ډیر خیال ساتل چه د دینه په بے غورئ سره ډیرے بیماریانے پیدا کیږي، د صحت حفاظت او مزه په ډیرو خوراکونو باندے نه دے چه د پوزے پورے ځان موړ کړے بلکه په کم خوراک کښې دے، لکه حامد لفافؒ فرمائي چه مونږه څلور څیزونه په څلور څیزونو کښې ولټول نو لارے مو خطا کړے نو بیا مو ندل مونږه په څلورو نورو کښې یو په هغو کښې داد دے "وَطَلَبْنَا اللَّذَّاتَ فِی النِّعْمَةِ فَوَجَدْنَاهَا فِی الْبَدَنِ الصَّحِیْحِ" چه مونږه لذتونه په خوراکونو او نعمتونو کښې طلب کړل، نو دا مونږه بیا موندل په صحت د بدن کښې۔

عبدالله بن مبارکؒ د یو حکیم حال بیانوي چه هغه د ډیرو آحادیثو نه څلویښت زره آحادیث منتخب کړل او بیائے د دینه څلور زره او بیایے

څلورسوه اوبيايې ددينه څلوېښت اوبيايې ددينه څلور کلمې غوره کړې،يوه له هغونه داچه اعتبارمه کوه په ښځه په هيڅ حال کښې اودويم چه مه مغروره کيږه په مال باندې په هيڅ حال کښې اودريم داچه "لاتُحَمِّلْ مِعْدَتَکَ مَالاتُطِيْقُهُ"مه باروه په معده خپله باندې هغه چه طاقت يې نه لرې اوڅلورم داچه مه جمع کوه له علم نه هغه چه فائده نه رسوی تاته (منبهات ابن حجر)۔

حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی د دوه څيزونو هميشه خيال ساتئ،دمعدې اودماغو، ددې ډيرحفاظت کول،دصحت دار ومدارپه دې باندې دې،بغيردصحت نه انسان هيڅ هم نشی کولے اوکه صحت وی نوهرڅه کولے شی (حسن العزيز۱/۱۴۶) نو صحت ډيراهم دې ددينه چه انسان په شروع کښې غفلت اختيار کړی، نوبياروستودپريشانئ سره مخامخ وی اودابياپه دوايانوسره نه حاصليږی،لکه ابوبکرصديقؓ فرمائی چه درې څيزونه په درې کارونوسره نه حاصليږی په هغوکښې يو "اَلصِّحَّةُ بِالْاَدْوِيَةِ" صحت په درُو سره نشي حاصليدې۔

## دحافظې د تيزولواسباب اومُفيدې نُسخې

دحضرت علیؓ نه روايت دې چه ده فرمائيلي دی "ثَلٰثَةٌ يَزِدْنَ فِي الْحِفْظِ وَيَذْهَبْنَ الْبَلْغَمَ،اَلسِّوَاکُ،وَالصَّوْمُ،وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ" درې څيزونه دی چه زياتوی قوت حافظه اوختموی بلغم، مسواک، روژه اودقرآن

لو ستل (منبهات ابن حجر) محمد بن ابی حاتمؒ دچانه واوریدل چه امام بخاریؒ بلاذر (خاص قسم دوائی) خوړلے ده په دے وجه یے حافظه قوی ده نو دوی دامام بخاریؒ نه تپوس او کړو چه د حافظے څه دوائی شته؟ نو امام بخاریؒ اوئیل ماته نده معلومه بیائے اوفرمائیل "لاَاَعْلَمُ شَیْاً اَنفَعُ لِلْحِفْظِ مِنْ نَهْمَةِ الرَّجُلِ وَمُدَاوَمَةِ النَّظَرِ" (سیر اعلام النبلاء، صفحات من صبر العلماء ۱۷ حاشیة) د حافظے دپاره دسړی انهماک، دائمی نظر او د مطالعے نه بهتر بل څه زماپه علم کښ نشته۔

د حافظے دتیزولو داسبابو نه قوی سبب په خپل میدان کښ محنت، کوشش، همیشوالے، کم خوراک او دشپے دتهجدو مونځ او دقرآن تلاوت دے۔ وئیلی شوی دی په کتلو سره دقرآن دتلاوت نه زیات بل شے حافظه تیزونکے نشته، دد ے سره سره مسواک، دشهدو شربت استعمالول او یو یشت سرے وشکے هره ورځ په نهره خوړل حافظه تیزوی او دډیرو بیمارینو او مرضونو دپاره شفاده او هغه غذا استعمالول چه بلغم او دبدن رطوبات کموی (تعلیم المتعلم ۱۷) ☆امام غزالیؒ فرمائی: دا قاعده ده چه دکم عقلو داختلاط دوجے نه عقل ضعیف کیږی لکه چه دعقلمندو سره دناستے په وجه عقل زیاتیږی (احیاء ۲/ ۱۳۹)

☆بل طرفته دشپے پاتی شوی روټئ علی الصبح په ناشته کښ دشهدو سره خوړل او د اُوده کیدو په وخت څلوردانے بادام، څلوردانے تُورمرچ، څلوردانے لوئ وشکے او څلورماشے سپینه مِصری خوړلو سره دماغوته ډیره فائده رسی۔ (مولانامسعود اظهر)۔

☆دتجربے او مشاهدے او دبزرگانو دارشاداتو نه داخبره واضحه ده چه کوم خلق دګناه او معصیت نه ځان ساتي او تقویٰ او پرهیزګاري اختیاروي، دهغوی قوت حافظه زیاته مضبوطه وي او چه کوم خلق په ګناهونو کښې ډیر ملوث وي هم دغومره دهغوی حافظه زیاته خرابه وي او دومره په هغوی نسیان غالب وي۔

☆دتقویت دماغ دپاره تهانویؒ دانسخه ښودلے ده "مغزبادام" لس عدد نه ترشل عددپورے "وره الائچي" لس عدد دا دواړه پس دمازیګر په چټو کښې ښه وره کړه او په ځائے داُوبو "غواپاؤپانیم سیر شوده" (څومره چه استعمالونکے خوړلے شي) پکښې واچوه دابه شیره غوندے شي بیادادکپړے نه چڼ کړه اولګه "خوږه" ورسره مِلاؤ کړه او په صفالوښي کښې یے کیږده اولګ شان "شلومبے یاپي" پکښې واچوه او صباپورے یے محفوظ کړه صباپکښې "تازه اُوبه" واچوه او کاشوغے سره یے حل کړه اووے څکه دادوه هفتوپورے متواتر استعمالولو سره خاص فائده ورکوي انشاء الله ډیرضعیف الدماغ خلقوته یے فائده رسیدلے ده (بیاض اشرفی۱۰۹)

☆دذهن او حافظے دقوی کولو دپاره اوه سوه شپږ اتیا ځل بسم الله الرحمٰن الرحیم په اوبو باندے دم کړه اودنور راختلوپه وخت کښې وڅکه نو ذهن به دے کولاؤشي او حافظه به دے قوي شي۔

☆سورة الم نشرح لیکل اوبیاپه اوبو کښې هل کولو سره څکل دحفظِ قرآن اوتحصیل علم دپاره خاص دے۔

☆ چه دچا حافظه کمزورے وی هغه دے د اوه ورځو پورے دا ایات کریمه دروتې په تکره باندے لیکی او بیا دے خوری، په داسے طریقے چه دهفتے په ورځ دے دا آیت ولیکی او ودے خوری "فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِکُ الْحَقُّ" (سورة المؤمنون ۱۱۶) او داتوار په ورځ دا ایت لیکل "رَّبِّ زِدْنِیْ عِلْمًا" (سورة طه ۱۱۴) دګل په ورځ دا لیکل "سَنُقْرِئُکَ فَلَا تَنْسٰی" (سورة الاعلیٰ ۶) دسه شنبے په ورځ دا لیکل "اِنَّهٗ یَعْلَمُ الْجَهْرَ وَمَا یَخْفٰی" (سورة الاعلیٰ ۷) دچارشنبے په ورځ "لَا تُحَرِّکْ بِهٖ لِسَانَکَ لِتَعْجَلَ بِهٖ" (سورة القیمة ۱۶) دپنج شنبے په ورځ "اِنَّ عَلَیْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ" (القیمة ۱۷) دجمعے په ورځ "فَاِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ" (القمية ۱۸) دسحر په وقت په او داسه لیکل او خوړل ۔ (خزانه اعمال ۸۱)

☆ دقوت حافظے مجربه نسخه داهم ده، روزانه سل ځل دا وایه "رَبِّ اِنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ" داعمل ددشمنانو دشرنه دحفاظت دپاره هم مفیددے او دقوت حافظے دپاره لاجواب دے۔

☆ دمانځه نه بعد ښے لاس په سر باندے کیخودو سره یوولس ځل په یوه ساه یَاقَوِیُّ ووایه (الطف اللطیف ۹۶)

☆ وَعَلَّمَکَ مَالَمْ تَکُنْ تَعْلَمُ ۔ وَکَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَیْکَ عَظِیْمًا (سورة النساء ۱۱۳) که چرے ستاسو بچے کندذهن وی، یا یے طالب علم ته ۱۲۱ ځله په اُوبو باندے دم کړئ او روزانه یے پرے څکوئ، انشاء الله ددے په برکت سره به عالم فاضل شی۔

☆که کم ذهن والا دچینئ په لوښی باندے "الْفَتَّاحُ"، اُولیکی او په ژبه یے اُوختی، نو ذهین به شی۔(خورے ملغلرے ۲،۳/۱۳۲،۳۰)

☆چه څوک د "یَاعَلِیْمُ" وظیفه ډیره کوی الله تعالیٰ به په هغه باندے انشاء الله د علم او معرفت دروازے پرانزی او څه چه د الله تعالیٰ نه اُوغواړی زر به ورته مِلاویږی او حافظه به یے قوی وی۔(خورے ملغلرے ۳/۳۰)

☆شیخ سهرورديؒ فرمائی: چه څوک کورته داخلیدو په وخت "یَاقَیُّوْمُ" اووائی نو هغه به د هر قسم تعرُّض نه محفوظ وی او که کمزوری ذهن والا روزانه سل ځله په خلوت کښ دد ے ورداوکړی نو الله تعالیٰ به دا د نسیان نه ساتی او دد ے حافظه به قوی او زړه به ورله منّور کړی۔(درمنثور، لطف اللطیف ۱۳۹)

## دحافظے، قُوتِ باه او بدنی طاقت دپاره مُجرّبه نسخه

دخپل اوس مطابق پاؤ، سیر یا کم زیات "مغز بادام شیرین" دبادامو په اندازه "تازه کهجوره" بنه په چټو کښ وتکوه او که بادام پاؤ وو نو یوه "تُوله شنه لاچی" ورسره ځانله تکو لُوسره واچوه، دادر ے واړه څیزونه دومره وتکوه چه سمه جاؤلا شی او غُوړی راپریږدی نو په یو انداز ے سره دا نسخه تیاره شوه سحر ترینه یوه چمچ خُوره۔

او که ډیره یے بنه جوړو ے، نو د دغه مقدار په اندازه د "چیلئ شُوده" او "اصلی غُوړی" پکښ واچوه او په اُوربے کیده چه کله بنه اُوخوټ

کیږي او غوړي او شوده جذب شي نو یوه حلوا به تیاره شي کله چه یخه شي نو بیا پکښې د پاؤ بادامو په اندازه پاؤ د "بیرے شهد" واچوه نو دا نسخه تیاره شوه او اوس یې سحر د شو دو سره په نهره خوره۔ ☆ گاؤ خمیره زبان همدرد یا قرشي هم ډیره مفیده ده داد بازار نه تیاره مِلاویږي۔

## یو کامیاب ترین نسخه

امام شافعیؒ فرمائي: چه څلور څیزونه په قوت جماع کښې اضافه کوي، د چینچړو غوښه، اطریفل اکبر، بادام او پسته۔ او څلور څیزونه عقل زیاتوي، دلایعني خبرونه پرهیز، د مسواک استعمال، د صلحاو مجلس او په خپل علم باندے عمل کول۔ او څلور څیزونه بدن مضبوط او طاقت ورجوړوي، غوښه خوړل، خوشبو بوئي کول، ډیر لامبل (د جماع او صُحبت نه بغیر بلا ضرورت) او د کتان لباس اغوستل۔ څلور څیزونه بدن کمزورے او بیمار جوړوي، کثرت جماع، په نهره په کثرت سره او به څکل، تروه څیزونه په کثرت سره استعمالول او افکار و هموم۔

## د کثرتِ جماع او بوقتِ تقاضا د متیاز و حِصارولو نقصانات

چه کوم سړے کثرتِ جماع خپله وطیره او شِعار جوړه کړي نو د هغه په بدن کښې خارش، په قوت کښې ضعف او په نظر کښې کمزوري راولي او داسے سړے د جماع د حقیقي لذت نه محرومه شي او په دے باندے ډیر زر بوډاتوب راشي۔

چه کوم سړے وازه یالوئ بول بوقت تقاضا حصاروی نو دهغه مثانه کمزورے کیږی او پُوتکے یے سختیږی او په متیازو کښې ورته دسوزیدو مرض لاحق کیږی او په مثانه کښې دکیتهئ سبب هم جوړیږی، چه کوم سړے همیشه په خپلو متیازو دلاړو غور خولو عادت جوړکړی نو هغه به دملاد دردنه محفوظ وی، قزوینیؒ ددے خبرے نقل کولونه بعد لیکلی دی چه څو ځل دانسخه تجربه شوے ده او هرځل فائده منده ثابته شوے ده۔(حیات الحیوان۲/۴۵۵)

## دنِسیان اودحافِظے دکمزوریدو اَسباب

اوکوم څیزونه چه حافظه کمزورے کوی او نسیان راولی نو په هغو کښې دالله تعالیٰ نافرمانی، گناهونه، لکه امام شافعیؒ فرمائی ۔

شَكَوْتُ اِلٰی وَكِيْعٍ سُوْءَ حِفْظِيْ : فَاَوْصَانِيْ اِلٰی تَرْکِ الْمَعَاصِيْ
فَاِنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ مِنْ اِلٰهٍ : وَنُوْرُ اللهِ لَايُعْطٰی لِعَاصِيْ

ما خپل اُستاذ وکیعؒ ته دحافظے دکمزورئ شکایت اوکړو هغه راته وصیت اوکړو چه گناهونه پریږده ځکه علم دالله تعالیٰ نُوردے او الله تعالیٰ خپل نُور گناهګارله نه ورکوی۔

علی بن خشرمؒ وائی ما دوکیعؒ په لاس کښې کله کتاب ندے لیدلے هغه پخپله دحفظ نمونه وو۔ علی بن خشرم ترے تپوس اوکړو چه دقوت حفظ څه دوائی وی نو ماته یے وښائے، وکیعؒ اوفرمائیل که درته وے وائم نو استعمال به یے کړے؟ علی بن خشرمؒ اوئیل والله ولے نه،

وے فرمائیل "ترک معاصی "دقوت حفظ دپاره ددینه زیاته مجربه دوائی مانده لیدلے (تهذیب الکمال) دتیرے اوراوانے زمانے فکراوسوچ حافظه خرابوی، ډیر مصروفیت، ډیر تعلقات او د دنیافکراوغم اوهرهغه شے چه بلغم زیاتوی نوهغه دنسیان سبب دے، دعقلمنددپاره پکار دی چه هغه د دنیافکرونه اوسوچونه نه کوی، ځکه دانفع مندنه وی بلکه زړه کښ ظُلمت راولی، دخیرکارونونه انسان منع کوی، ددے په نسبت دآخرت غم وفکرپه زړه کښ رڼړا راولی، په مانځه اثرکوی، دخیرپه کارونوراتیزوی اوددنیافکرونه، سوچونه په تحصیل علم او خشوع خضوع مونځ کولوسره ختمیږی۔

دغه شان نسیان راولی تروه منړه خوړل، پهانسی شوی کس ته کتل، دقبرونوتختے لوستل، داوښانوپه قطارکښ تیریدل، ژوندئ سپږے پریخوستل، (تعلیم المتعلم ۳۷) دسحرمانځه نه بعددنمر راختلونه مخکښ اوده کیدل، تریوځیزونه لکه نیمبووغیره استعمالول، تصویرونه او کانے اوریدل، نظرغلط استعمالول، یا عشق مجازی کښ مبتلا کیدل، په ولاړواوبوکښ متیازے کول، شنه دهنړیاخوړل او دچا د قدمونوپه نښو باندے تلل، په څټ باندے ښکرلکول۔

د جالینوس وینا ده چه په انارکښ سراسرفائده ده اوپه مهی کښ سراسرنقصان دے، خولړشان مهی خوړل ددیرزیات انارو خوړلونه بهتردی۔ (تعلیم المتعلم)

ابن وهب دلیث په حواله سره نقل کړی دی چه ابن شهاب زهریؒ به

دمړے جُوتے اوتروے منړے خوړلوته مکروه وئیلے اوفرمائیل به نے چه ددے سره نسیان پیدا کیږی اوشات به یے په کثرت سره څکل اوفرمائیل به یے چه دشاتوسره ذهن ترقی کوی (حیات الحیوان ۲/۵۵۲)

## دا ځیزونه باعثِ غم دی۔

کتاب المحکم اوغایات کښې لیکلی دی چه دتجربه کاروخلقو دقول مطابق دا ځیزونه باعث غم کرځی۔

دبزو په مینځ کښې تلل، په ناسته پټکے تړل، په ولاړه پرتُوګ اغوستل، په غابښونو سره ګیره کټ کول، ددروازے په درشل کیناستل، په چپ لاس خوراک، په لمن سره مخ صفاکول، دا ګُو په پُوستکو ګرځیدل، په ښی لاس سره استنجا کول، په قبرستان کښې په زوره خندل۔ (حیات الحیوان ۲/۵۴۱)

## تیزه یا کمه رنړا او د لاټین استعمال دستر ګو د پاره مضر دے

تهانویؒ فرمائی: چه کومه رنړا تیزه وی هغه دستر ګو دپاره مضروی، برقی رنړا هم (چه ډیره تیزه وی) دستر ګو دپاره مضرده، زه خو (بطور لطیفه) وائم چه "یَکَادُالْبَرْقُ یَخْطَفُ" کښې دے طرفته هم اشاره ده چه برقی (تیزه) رنړا ستر ګوله مضرده، خومره چه رنړا تیزه وی نو دابه ستر ګوله مضروی، یو صاحب عرض اوکړو چه په دے کښې صفائی ډیره وی، وے فرمائیل داسے صفائی ده چه نورځیزونه (یعنی دستر ګو نظر) بالکل صفاکوی، دخاورو تیل سوزول هم دستر ګو دپاره دطبی

اصولو مطابق مضردی، خطرناک هم دی زماپه سترګو کښې خوپه لیدلو سره خارخ پیداکیږی، چه چرته ددے رنړالګی نومالہ خوب نه راځی (حسن العزیز۲۵۲)

## دمحنت په دوران کښې نفس لره لګ راحت ورکول

حضرت ابو درداء فرمائی زه خپل نفس لره لګ شان لوبے سره راحت ورکوم په دے ماته په حق باندے ډیر مدد مِلاویږی۔ حضرت علی کرم الله وجهه فرمائی خپل زړونوته راحت ورکړئ که دا مجبورکوئ نونسکوربه شی،دغه شان فرمائی زړه آزادهم پریږدئ،خوشحاله کونکی نکتے هم سوچ کوئ ځکه دبدن پشان زړه هم ستړے کیږی۔ابو خالدوالبیؒ فرمائی مونږه به دصحابوؓ په صحبت کښې کیناستلواو هغوی به اشعاراو دخپل ایام جاهلیت قصے هم اورولے۔ ابن شهابؒ به وئیل لګ وخت دپاره خپل زړه هم منوئ،دابن شهابؒ دستوروو چه کله به یے ډیر حدیثونه بیان کړل نوشاګردانوته به ئے اُوئیل لګ خپل اشعارووائے اخوادیخواخبرے اوکړئ،غوږونه ستړی شی زړه ستومانه شی (جامع بیان العلم وفضله ۸۶) مطلب دادے چه دنفس نه په کاراخستلو کښې میانه روئی کول،دومره بو ج په ځان ندی راړول پکارچه بلے ورځے ته دانسان شوق پاتی نشی بلکه په مختلفو طریقو سره دخپل نفس نه کاراخستل چه ستړے شے نولګ شان پاځه،دچاسره لګے خبرے اترے اوکړه،څه خوراک څکاک اوکړه،

تلاوت په اُوچت آوازسره یادبل فن کتاب راواخله اودغه شان په نوروطریقوسره خپل نفس ته لګ راحت ورکړه اوبیاخپل محنت شروع کړه ځکه داخودیوے ورځے کارنه دے بلکه "اُطْلُبُوْا الْعِلْمَ مِنَ الْمَهْدِ اِلَی اللَّحَدِ" چه دځانګونه تردقبرپورے داسلسله جاری وی۔

## په یوفن کښې مهارت حاصِلَول

زمونږه اکابرینوپه درس نظامی کښې تقریباً دحالاتوپیش نظرهرفن له ځائے ورکړے دے، لهذادهرفن په اصولواومبادیاتوباندے ځان پوهه کول، چه دوران مطالعه کښې داصطلاحاتوپه راتللوسره ذهن نه مُشوش کیږی ځکه کوم فن نه چه انسان جاهله وی هغه سره بغض ساتی، لکه یحیٰ بن خالدبرمکیؒ خپل ځوی ته نصیحت کوی چه دهرعلم نه یوبنه حصه حاصله کړه ځکه سړے چه دکوم علم نه جاهل وی دهغه سره بُغض ساتی اوماته دامنظورنه ده چه ته دیوعلم سره بُغض ولرے یعنی نفرت ترینه وکړے، البته یوفن کښې مهارت حاصلولوسره علم پخیږی، لکه مشهوره مقوله ده "که عالم جوړیږے نویوفن منتخب کړه اوکه ادیب جوړیږے نودهرفن نه ملغلرے چنړ کړه" ابوعبیدبن قاسم بن سلامؒ اوئیل ددیروفنونوپه عالم باندے زه په مناظره کښې غالبه شوے یم لیکن دیوفن ماهرهمیشه زمانه مناظره کټلے ده (جامع بیان العلم وفضله ۱۰۰)

# تکبر د فهمِ قرآن نه مانع دے

الله تعالیٰ د خپل کتاب په ډیرو مقاماتو کښې د تکبر مذمت بیان کړے دے او د هر جابر او متکبر بدی ئے بیان کړے ده، فرمائی "سَاَصْرِفُ عَنْ اٰیٰتِیَ الَّذِیْنَ یَتَکَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ" (اعراف ۱۴۶) یقینا وابه ئے اړوم د پوهے د آیتونو خپلونه هغه کسان چه تکبر کوی په زمکے کښې په ناحقه سره۔

علماء کرامو نهه صفات ذکر کړی دی چه هغه منع کونکی دی د پوهے د قرآن نه یو د هغونه داچه په زړه کښې ئے تکبروی او گوره تفصیل د پاره برهان ص ۱۸۰ (فتح الرحمٰن ص ۲۲۶ لفضیلة الشیخ محمد عبدالجبار حفظه الله)۔ "کَذٰلِکَ یَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰی کُلِّ قَلْبِ مُتَکَبِّرٍ جَبَّارٍ" (المؤمن ۳۵) دغه رنگے مُهر لگوی الله تعالیٰ په هر زړه د متکبره سرکشی کونکی باندے "اِنَّهٗ لَایُحِبُّ الْمُسْتَکْبِرِیْنَ" (نحل ۲۳) یقینا الله تعالیٰ مینه نه ساتی دلوئ کونکو سره۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی "لَایَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ کَانَ فِیْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ کِبْرٍ" چه د چا په زړه کښې درائی د دانے برابر هم تکبروی هغه به جنت ته نه داخلیږی، نبی صلی الله علیه وسلم د تکبر نه پناه غوښتلے ده "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ نَفْخَةِ الْکِبْرِیَاءِ" یاالله تعالیٰ ما د تکبر د بوئ نه وساته۔ او دغه شان فرمائیلی چه د چا د جسم نه روح په داسے حالت کښې جداشی چه هغه د درے څیزونو نه بری وی نو هغه به جنت ته داخلیږی تکبر، قرض، خیانت۔ عیسیٰ علیه السلام

فرمائی "طُوبىٰ لِمَنْ عَلَّمَهُ اللّٰهُ كِتَابَهُ ثُمَّ لَمْ يَمُتْ جَبَّاراً" خوش قسمت دے هغه سړے چه هغه ته الله تعالیٰ خپل کتاب اوښودو او بیا دتکبر په حالت کښې مړنشو۔

امام غزالیؒ فرمائی: چه دعلم په سلسله کښې دطلباؤ دتکبریو صورت دا هم دے چه هغوی صرف دمعروف اومشهورعلماؤ نه استفاده کوی، دغیرمعروف علماؤمخے ته زانوے تلمذنه شرم محسوسوی، دایواحمقانه کاردے ځکه چه علم دنجات اودسعادة اخروی ذریعه ده، که یوسړی ته دلیوهٔ خطره وی اوهغه ددے خطرے نه په روغه وتل غواړی نوهغه به دافرق نه کوی چه دلیوه نه دبچکیدو تدبیرښودونکے مشهورسړے دے که غیرمشهور، ظاهره ده چه ددنیاوی ځناورو په مقابله کښې د دوزخ ځناورډیرخطرناک دی نو بیاددینه دبچکیدوتدبیرښودونکو کښې ولے فرق کیږی؟ حکمت دمؤمن ورکه شوے خزانه ده دکوم ځائے نه چه مِلاؤشی غنیمت کنړل اوپه زړه سره ئے حفاظت کول دچاپه ذریعه چه حکمت راورسی د هغه احسان مندکیدل خوا هرڅوک وی (احیاء العلوم)

ـهرچه لانِدخپل وجودترخپل قدم کا
عرش یے لاندِترقدم شی آسمان څه دے۔

## دتکبردرجات

[۱] کبرپه زړه کښې وی افعالونه ظاهرنه وی دااستکباردے "اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

الْمُسْتَكْبِرِيْن" [۲] په زړه کښې هم وي او د افعالو نه هم ظاهروي دامختال
دے[۳] په زړه کښې وي د افعالو نه ئے ظاهروي او په ژبے سره ئے هم
وائي نو دا فخور دے "اِنَّ اللّٰهَ لَايُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ"۔

## په کِبر او عُجب کښې فرق

که په طبعيت کښې صرف ځان غټ ګڼړي (نو عُجب دے) او که
نور هم حقير او ذليل ګڼړي نو کبر دے۔

## حقيقي بَالِغ

طبعي بالغ هغه دے چه دهغه نه مِني اُوځي او حقيقي بالغ هغه دے
چه دهغه نه مِنّي او ځي (يعني عُجب او کِبر)۔ (مجالس مفتي اعظم ص۲۹۸)۔
جاحظ ليکلي دي چه په قريشو کښې بنومخزوم، بنوامیه او دعربو نه
بنوجعفر بن کلاب، بنوزراره بن عدي په تکبر کښې مشهور وو او
بنوکسریٰ خو ټول خلق حقير غلامان او خپل ځان يے ددوي مالک او
رب ګڼړلو۔
نو دا سے تکبر نه وي لکه مسورين هنديو سري ته اُوئيل ته ما پيژنے؟ هغه
اوئيل نه، وے وئيل زه مسورين هنديم هغه سړي اوئيل زه تا نه پيژنم
نو دے وئيل "فَتَعْسًا لِمَنْ لَمْ يَعْرِفِ الْقَمَرَ" هلاکت دے هغه چاله چه
سپوږمئ نه پيژني۔

## که غلیدل غواړې نو تواضع اختیار کړه

ـ تَوَاضَعْ تَکُنْ کَالنَّجْمِ لَاحَ لِنَاظِرٍ : عَلٰی صَفْحَاتِ الْمَاءِ وَهُوَ رَفِيْعٌ

فَلَاتَکُ کَالدُّخَانِ يَعْلُوْبِنَفْسِهِ : عَلٰی طَبَقَاتِ الْجَوِّ وَهُوَ وَضِيْعٌ

تواضع اختیار کړه ته به دهغه ستورې پشان شے، چه داوبو په ویخ کښې معلومیږي حالانکه هغه اوچت وي او دلو کې پشان مه کیږه چه خپله تیاره په فضاء کښې خوروي، حالانکه هغه خکته او لاندے وي.

ـ مباش غره بعلم وعمل که شد ابلیس : بدین سبب ز درگاه عزت دور

ـ ذرے ہوئے بلند ہوا ان کو لے اڑی : قطرے ہوئے جو پست گہر ہو کے رہ گئے

ـ چار چیز آوردہ ام شاہا کہ در گنج تو نیست : نیستی وحاجت وعجز ونیاز آوردہ ام

یو بزرګ یو سړے ولیدو چه په تکبر سره یے مزل کولو نو تنبیه ئے ورکړه نودے سړي اوئیل "هَلْ عَرَفْتَ مَنْ اَنَا" ته ما پیژنے زه څوک یم؟ نو بزرګ ورته اُوئیل "نَعَمْ اَوَّلُکَ نُطْفَةٌ قَذِرَةٌ وَاٰخِرُکَ جِيْفَةٌ قَذِرَةٌ وَاَنْتَ بَيْنَ ذَالِکَ تَحْمِلُ الْعَذِرَةَ" ولے نه! ابتداء دے دګنده قطرے نه ده او انتهاء دے هم ګندګي او په دے مینځ کښې ته ګندګي له اوچتونکے ئے.

ـ سر هوا سر هوا مه څه و آسمان ته: ته په اصل کښې له زمکے یے پیدا

عَنْ عُمَرَ قَالَ وَهُوَ عَلَی الْمِنْبَرِ: يَاَيُّهَا النَّاسُ تَوَاضَعُوْا فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم يَقُوْلُ مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ فَهُوَ فِیْ نَفْسِهٖ صَغِيْرٌ وَفِیْ اَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيْمٌ وَمَنْ تَکَبَّرَ وَضَعَهُ فَهُوَ فِیْ اَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيْرٌ وَفِیْ نَفْسِهٖ کَبِيْرٌ حَتّٰی

لَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ اَوْخِنْزِيْرٍ (مشكوة، باب الغضب والكبر)
دعمرؓ نه روايت دے چه په منبرئے داخبره اوکړه، اے خلقو! تواضع اختيارکړئ ځکه مادنبی کریم ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلے چاچه اللہ تعالیٰ دپاره تواضع اختیارکړه نوهغه الله اوچتوی نوهغه دخپل نفس په نیزوړوکے وی اودخلقوپه سترګوکښ لوئ وی اوڅوک چه تکبراوکړی نوهغه ذلیله کړی نوهغه دخلقو په نظرکښ سپک وی اودخپل نفس په نیزلوئ وی تردپورے چه هغه دخلقوپه نیزدسپی اوخنزیرنه هم زیات سپک وی۔ عبدالرحمٰن باباوائی:

ځ وندے ځان په زمکه خښ کړه لکه تخم
که لوئی غواړے دخاوروپه مقام شه

## دتَواضُع حقیقت

مولانااشرف علی تهانویؒ فرمائی تواضع داده چه په حقیقت کښ هغه خپل ځان لاشئ ګڼړلوسره تواضع اختیارکړی اوخپل ځان درفعت اهل نه ګڼړی اوپه رشتیاؤسره دخپل ځان دمټاوولو قصد اوکړی، دتواضع دامعنی نه ده چه خدائے کوم نعمتونه ورکړی دهغے دخپل ځان نه نفی اوکړی بلکه دامعنی چه خپل کمال ئے نه ګڼړی محض فضل اورحمتِ حق ئے ګڼړی (انفاس عیسیٰ ۲۷۲)۔ تواضع داده چه تاڅوک بے مقداره خاکساره اوګڼړی، بدے ردے درته ووائی او حقیرذلیل دے اوګڼړی اوپه دے سره دانتقام جوش پیدا نشی اونفس

داسے پوهه کړے چه ته واقعي داسے ئے بیاولے خفه کیږے او دچاد بدو ردو وئیلو سره غم او څه اثرنه وی نو دادتواضع اعلیٰ درجه ده چه مدح اوذم برابرشی مطلب دادے چه عقلاً برابرشی ځکه طبعاً خومساوات نشی کیدے (انفاس عیسیٰ ۱۸۲) ـ تواضع دتکبراوذلت اوعفت په مینځ مینځ کښې ده (یعنی کچرے په دوی کښې دحدودو رعایت اُونشی نوتواضع نه به ذلت جوړشی اوعفت (خودداری) به تکبرجوړشی ـ (تعلیم المتعلم ۱۲)

ـ تواضع کا طریقہ سیکھ لو لوگو صراحی سے: کہ جاری فیض بھی ہے اور جھکی جاتی ہے گردن بھی

## د حضور ﷺ دخشوع اوتواضع حالت

ووګورئ دحضورؐ څه حالت ووفرمائی "اِنِّیْ اٰکُلُ کَمَا یَاْکُلُ الْعَبْدُ" چه زه خوراک داسے کوم څنګه چه ئے یوغلام کوی (شرح السنه للبغوی) چه پکښې دتکبر اوتجبرنوم نوی، دحدیثونونه معلومیږی چه حضورؐ به نیغ کیناستلو حالت کښې روټئ خوړله ـ دتګ راتګ ئے داحالت ووچه حضورؐ به کله مخکښې نه تلو بلکه څه صحابهؓ به مخکښې وو او څه به یوځے او څه به شاته تلل اوداد چاشاته اومخکښې تلل دڅه خاص نظم اوترتیب سره نه وو، لکه چه دنن صبا د بادشاهانو او دغټو خلقو عادت دے چه باقاعده څه خلق ددوی دعزت دپاره مخکښې او څه شاته روان وی نو داطریقه نه وه بلکه څرنګ چه دوستان بے تکلف یوځے کدوډ ځی چه کله یو مخکښې شی کله بل داسے به تلل ـ دلباس ئے

داحال ووچه یوه جامه کښ به ئے څو څو پیوندونه لګیدلی وو۔ د اُوده کیدونے داحالت ووچه دتاټ دبره به ئے آرام کولو۔ دمعاشرت ئے داحالت ووچه خپل کاربه ئے پخپله کولو، بازارته به تللو او دضرورت څیزونه به ئے په خپله راوړل۔ یو ځل دحضورؐنه یو قاصد ویریدو نو دویؓ او فرمائیل زمانه مه ویریږه زه دغریبے ښځے خوی یم چه وچه غوښه به ئے خوړله، دحضورؐ دے حالت ته او ګورئ او بیاخپل ته نومعلوم به شی۔

ع ببین تفاوت رہ از کجا تا بکجا (دعوات عبدیت ۳۰/ ج ۱۳)

حضرت مولانا قاسم صاحبؒ به چه په کوم طالب علم کښ تکبر لیدلو په هغه باندے به ئے کله کله چپلے اوچتولے اوچه په کوم طالب علم کښ به ئے تواضع لیدله نو دهغه چپلے به ئے پخپله اوچتولے (ارواح ثلاثه ص ۲۷۳)۔

حضرت مولانا ګنګوهیؒ یو ځل دحدیث درس ورکووچه باران شو طالبانو کتابونه راخستل او دننه ئے منډے وهلے مګر حضرت مولانا دټولو طلباؤ چپلے راجمع کولے چه دننه ئے ویسی، خلقوچه داحالت ولیدونو سم دشرم نه کټ شو (اکابر دیوبند کیا تھے ص ۸۹)

## دابوبکر صدیقؓ او حسن بصریؒ تواضع او خوف الهی

هسے خوټول صحابهؓ دتواضع په کمال درجه کښ وولیکن دحضرت ابوبکر صدیقؓ تواضع او خوف الهی نبی کریم ﷺ په خپله

بیانوی، فرمائی "مَنْ اَرَادَ اَنْ یَنْظُرَ اِلٰی مَیِّتٍ یَمْشِیْ عَلٰی وَجْهِ الْاَرْضِ فَلْیَنْظُرْ اِلٰی اِبْنِ اَبِیْ قُحَافَةَ" کہ څوک مړے لیدل غواړی چه په مخ دزمکے باندے گرځی نودابوقحافهؓ ځوی ته دِ اوگوری۔

حسن بصریؒ به داسے مزل کولو چه کتونکی به داخیال کوو چه داهغه سړے دے چه پلارئے اوس دفن کړواودمقبرے نه واپس شواوچه خبرے به ئے کولے نوداسے به محسوسیدله چه داهغه قیدی دے چه دپانسئ حکم ورکړے شوے دے۔

جو اہل وصف ہوتے ہیں ہمیشہ جھک کے رہتے ہیں: صراحی سرنگون ہوکر بھرا کرتی ہے پیانہ

اِنَّ التَّوَاضُعَ مِنْ خِصَالِ الْمُتَّقِیْ: وَبِهِ التَّقِیُّ اِلَی الْمَعَالِیْ یَرْتَقِیْ
وَمِنَ الْعَجَائِبِ عُجْبُ مَنْ هُوَجَاهِلٌ: فِیْ حَالِهِ اَهُوَالسَّعِیْدُاَمِ الشَّقِیْ
اَمْ کَیْفَ یَخْتِمُ عُمْرُهُ اَوْرُوْحُهُ: یَوْمَ النَّوٰی مُتَسَفِّلٌ اَوْمُرْتَقِیْ
وَالْکِبْرِیَاءُ لِرَبِّنَاصِفَةٌ بِهِ: مَخْصُوْصَةٌ فَتَجَنَّبَنْهَاوَاتَّقِیْ

تواضع دپرهیزکاره سړی خوئی دے اوددے په وجه پرهیزگار سړے اُوچتے مرتبے حاصلوی اوداخبره دعجائبونه ده، چه چاته دخپل حال پته نه وی، چه نیک بخته دے اوکه بدبخته دے اوبیاهم په خودپسندئ کښی مبتلاوی اونه ورته دامعلومه وی چه خاتمه به م ِ څنگه وی اودروح تِکهانه به م په عِلیین کښی وی اوکه په اسفلِ سافلین کښی، اولوئی زمونږه درب خاص صفت دے نومه یے اختیاروه اوځان ترے اوساته(تعلیم المتعلم۱۲)

## ضرورتِ تقویٰ وعمل اودے کښې دطلباؤ کوتاهي

حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ فرمائی یادساتئ!دعلم حقیقت چه داحکامو صحیح صحیح فهم حاصل شی بقسم وائم چه بغیرد تقوی نه نه نصیب کیږی، که دوه ملګری هم عمروی اودیو اُستاذنه ئے سبق وئیلے وی اوپه فهم او حافظے کښې هم برابروی لیکن فرق داوی چه یومتقی وی اویو نه وی، نودمتقی په علم کښې چه کوم برکت اونُوروی اوڅنګه فهم چه دده صحیح وی اوڅنګه حقائق چه دده په ذهن کښې راځی نوداخبره به په غیرمتقی کښې هرګزنه وی، اګرچه اصطلاحی عالم دے، کتابونه هم درس کولے شی مګرخالی په دے څه کیږی که تقوی وی نو علوم حقه به په زړه واردیږی، اوس هم که دکوم طالب علم زړه غواړی تجربه دِ او کړی اوتقوی دِ اختیار کړی، ودے ګوری چه څنګه علوم حاصلیږی که خلوص سره تقوی اختیار کړے شی نو ددے دبرکت څه حدنشته او که خلوص نه وی نودامتحان دپاره ئے اختیارکړئ نوددے برکت به هم څه نه څه اُوګورئ، طلباؤ له خصوصیت سره تقوی اختیارول پکاردی(دعوات عبدیت ۱۵/۱۲۶)۔

تقوی دزیادت علم سبب دے طلباء ددے بالکل اهتمام نه کوی په دے کښې هغوی بالکل کوتاهیانے کوی ددے کوتاهیانو تفصیل دڅوپورے اوکړم اوکومه کومه خبره وښائم، لګ خودے یو کس د دوه هفتو دپاره دیو محقق سره پاتی شی اودهغه نه دے داصلاح

درخواست او کړی او هغه محقق هم داسې وی چه بې تکلف جرحه کوی نو بیابه ددې کوتاهیانو حقیقت ورته معلوم شی، په طلباؤ کښې چه دتقوی کمی ده ددې سبب دادې چه دالله نه خوف نشته اوس خو داحالت دې چه کوم کارکول غواړی نو هغه په اخوادیخوا تاویلاتو سره جائز کړی اګرچه زړه کښې پوهیږی چه ناجائز دې۔

(التبلیغ ۱۳۴/۱۲کوثرالعلوم، تحفة العلماء ۱/۱۷۳) ۔

## د تقوٰی پیدا کولو طریقه

۔چه تقوٰی او دیانت یې شی په برخه
دهغو دسعادت ستورې قرین دې

دتقوی دپاره دټول معاصی نه اجتناب ضروری دې او داهله کیږی چه مامورات هم په ځائې راوړې شی، ځکه ترک مامور به هم معصیت دې، ددې ترک هم دتقوی دپاره ضروری دې، ځه دتقوی دپاره تاسو ته یوه طریقه بنائم دایاده کړئ هغه داچه نوافل او ذکرشغل دِزیات نه وی مګر ورع یعنی دترک معاصی ومناهی زیات اهتمام وی، په حدیث کښې دی "وَلَاوَرَعَ کَالْکَفِّ" (مشکوٰة، باب الحذروالتانی فی الامور) دګناهونو نه بچکیدل دتولو نه لویه تقوی ده۔

(التبلیغ ۱۳۲/۱۴۱، تحفة العلماء ۱۷۶)۔

یوقلم دواپس کولودپاره ابن مبارکؒ په سوُنومیله سفر او کړو عبدالله بن مبارکؒ یو ځل په شام کښې دیو کس نه قلم اُوغوختلو

اتفاقاً هغه کس ته قلم واپس کول ترے هیرشو، چه کله "مرو" ته وُرسیده نو په قلم یے نظرپریو ته د "مرو" نه شام ته بیا واپس لاړو او قلم یے هغه کس ته واپس کړو یواځے دا واقعه دهغه داخلاقی ژوند بهترین مظهر دے او ددنیا داخلاقی تاریخ غیرمعمولی واقعه ده "مرو" دشام نه په سوُنو میله لرے دے او بیا دا واقعه دهغه زمانے ده چه دتګ راتګ ذریعے صرف اسُونه اُوښان او قچرے وے۔

(سیر صحابه ۸ /۳۱۸، خورے ملغلرے ۳/۵۸)

## دمدرسے دڅیزونو متعلق کار آمد خبرے

علم نوردے، دے سره به محتاط طالب علم منورکیږی چه حرام خو حرام دی دمشتبه څیزونو نه هم ځان ساتی چه په هغه کښې دخپل کوردیاردوست او خپل خپلوانو دکوموسره چه ډیر اختلاط وی په ذریعه امدن جوړنظروی چه مُفتُوکښې حراموکښې واقع نشی، دغه شان مدرسه کښې اکثر دزکوٰة مال وی، نوکه طالب علم صاحب نصاب وی یا ذی استطاعت وی نو ددینه هم ځان بچ وساتی، ددینه علاوه دمدرسے دڅیزونونه احتراز، دڅومره حده پورے چه دیوشی اجازت وی دهغه نه تجاوزنه کول، مثلاً دمدرسے دطرفه دهرطالب علم دپاره دوه روټئ مقرروی او داپه خپل تعلق سره ډیرے واخلی، دغه شان دمدرسے دبجلی استعمال دے چه بے ضرورته پکے یا بلب استعمال نشی، استری یا په بجلی پخلے کول نهایت لوئ خیانت دے څنګه چه طالب علم په خپل کورکښې دبجلئ سره احتیاط کوی نو دغه شان

دامدرسه هم دطالب علم كوردے ډيروخت يے دلته تيرېږي نودے كښې ډيرزيات احتياط كول،چه په اهل مدرسه باندے دبجلئ دبِل بوج زيات نه راځي،دغه شان كه طالب علم په جمات كښې قيام پزيروي نود اهل مسجدطرف نه چه څومره داستعمال اجازت وي دهغے نه زياتے نه كول اوكه لاټين يابل څه ذرائع رڼړاوي نوهغه هم دمونځ گزاروډتلونه پس نه استعمالول۔

يوطالب علم دماسخوتن مانځه نه بعديوه ډيوه مړه كړه اوبله ئے د مطالعه كولودپاره ولگوله نوحُسنِ اتفاق سره يوبزرگ موجودوونوهغه ترينه سبب معلوم كړو،نوطالب علم اُوئيل دادجمات ډيوه ده څومره چه ددے اجازت دے هغومره يے استعمال كړم اوبياخپله ډيوه استعمالوم ،نودے بزرگ تپوس وكړوچه ستادچاسره اصلاحي تعلق شته؟نوطالب علم اُوئيل دحكيم الامت سره ،نوبزرگ اُوئيل چه ددے اثرپكاردے۔

په اكثرمدارسواومساجدوكښې ديخواُوبوانتظام وي نودے سره هم احتياط كول،دے سره لاس يالوخي وينځل يادضرورت نه زياتے اخستل خيانت دے،دغه شان دگرمواُوبوانتظام كه وي نودكوم مقصددپاره چه وي دهغه نه غيربل څه كښې نه استعمالول كه صرف داودسونودپاره وي نودغسل اوجامووينځلونه احترازكول، اوكه دضرورت دپاره اوبه واخستلے شي اوزياتے شي نوهغه واپس كول چه دبل چاپه ضرورت راشي۔

دمولنااشرف علی تهانویؒ دخصوصیاتو خاصه ؤ نه دادی چه کله هم دجمات کرمے اُوبه داودس نه زیاتی شی نو دوباره یے تینکئ، درم ته اچوی چه دجمات دومره مال هم ضائع نه شی۔ (اشرف السوانح) که اوبه ختمے شی نو نلکے کولاؤنه پریخوستل ځکه اوبه راشی نو بیاهسے بهیږی او ډیرے اوبه ضائع شی۔ بهرحال داحقوق العبادسره تعلق ساتی او دا الله تعالیٰ نه معاف کوی حتی چه شهیدته هرڅه معاف دی لیکن حقوق العبادورته معاف نه دی، داډیره سنجیده معامله ده نو دادبے شماره عوامو مال دے چه بیادهریو نه معافی غوختل هم ناممکن دی او دا د اهل مدرسه په معاف کیدلو سره هم نه معاف کیږی۔

لهذا په دے باره کښ ډیراحتیاط پکاردے هسے نه چه طالب علم د الله تعالیٰ سره دتعلق جوړولو دپاره راغلے وی او په ځائے ددے د الله تعالیٰ سره بُعدیے نورهم زیات شی۔ نو دمدرسے ټول څیزونه دطالب علم سره امانت دی نو ددے حفاظت ورله پکاردے خو اکه هغه کتابونه وی، تپایانے وی، حتی دمدرسے قلم، سیاهی، یانور داسے اسباب په خپل ذاتی کارکښ داستعمال نه نهایت پرهیزکول پکار دی، دمدرسے په دیوالونو لیکل یااستیکر لګول، یادمدرسے یو څیز خپلے کمرے ته راوړل، یادجمات قرآن وغیره مدرسے ته راوړل ټول په خیانت کښ راځی۔ په مدرسه کښ دتعلیم نه علاوه بل څه سرګرمی کول هم ناروادی۔ الغرض که طالب علم په صحیح معنو کښ ددین

خدمتگار جوړیدل غواړی نو هغه دے ددے خبرونه احتراز کوی او چه
کله هغه احتیاط شروع کړی نو اللہ تعالیٰ به دهغه وخت په وخت
نگرانی کوی۔

## دمدرسے دخوراک څکاک متعلق مفید ے خبرے

څنگه چه دمدرسے دټول څیزونو متعلق احتیاط ضروری دے
نودغه شان په کومو مدارسو کښ چه دخوراک انتظام وی نو دے
کښ هم داهل مدرسے دمقرر مقدار نه زیات خوراک حاصلولو نه ځان
ساتل، بعض طلبه دناظم مطبخ داجازت نه بغیر روټئ او سالن په څه
طریقه سره راؤباسی او بیائے په کمره کښ خوری چه مدرسے دطرف
نه په کمره کښ خوراک ممنوع وی او یا میلمه راشی نو دهغه دپاره یے
راؤباسی نو دخپل ځان سره سره میلمه هم گناهگار کړی، نو په داسے
صورتونو کښ چه میلمه راشی یا بیماری وی یا بل څه عذر، نو دمطبخ
دناظم په اجازت سره روټئ، سالن حاصلول پکاردی، چه یو ملگرے
موجود نه وی نو دهغه په نوم روټئ حاصلول ندی پکار۔ دغه شان د
مدرسے چائے، مصالحه، چینی، لرگی او گیس وغیره استعمالول د
طالب علم دشان نه خلاف دی او دے سره به دعلم دنُور نه محرومه
شی، ددے سره که طلبه زیات وی او په قطار کښ مطبخ ته
داخلیږی نو دقطار په مینځ کښ نه ورننوتل، ددے سره بسا اوقات
خبره بحث مباحثے یا جنگ ته رسی او کم از کم ایذاء مسلم او د مروت

نه هم خلاف ده۔

دغه شان دمطبخ دعملے سره نهایت په اخلاقو سره پیش راتلل، دخوراک په وخت کښې دآدابو لحاظ کول، دومره روټئ او سالن راخستل چه څومره استعمالولے شے، دخپل مقدارنه زیات اخستلو سره دنورو طلباؤ حق هم ضائع کیږی او اسراف هم دے۔ دمشتبه څیزونو داستعمال نه پرهیزکولو کښې مونږه د خوږ نبی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دصحابه کرامو او ائمه کرامو واقعات باربارلوستلی او وئیلی دی چه داپه خپله عملی ژوند کښې راولو۔

## طالب علم دپاره دنیادارونه کناره کشی او سادګی اختیا رول

بعض کم فهم طلباء دنوی فیشن نه متاثره شی او دغیروپشان لباس، پیزار، ویخته وغیره اختیارولو سره په دے کوشش کښې وی چه زه په هیڅ طریقے سره دمدرسے طالب علم ښکاره نشم بلکه خلق راباندے دیو کالجی کمان کوی، داڅومره دناپوهئ خبره ده چه یو کارته تاخپل ځان وقف کړے دے په هغه کښې ستاتول صلاحیتونه لګی، مور، پلار، خپلوان او دوستان په طمع وی چه دا به دمستقبل رهبرو رهنماجوړیږی او بل طرفته دده داحساس کمتری داحال دے، دانورڅه نه دی بلکه دادخپل منصب، مرتبے، عظمت، رفعت او علوشان نه ناخبره دے حالانکه دټولے دنیا "سرۀ او سپین" دټولے دنیا صدران، وزیراعظمان، ممبران او غټان دطالب علم دخپو خاوروته نشی

رسيدلے، دالوئ دخسارے او دمحرومئ خبره ده خپل ځان صورةً او سيرةً طالب علم جوړول پکاردي او هم په دے کښې دطالب علم عزت، شرافت او رفعت مضمر دے۔

درسول الله ﷺ فرمان دے "الاتَسْمَعُوْنَ الاتَسْمَعُوْنَ انّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيْمانِ انّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيْمانِ (رواه ابوداؤد، مشكوة، كتاب اللباس، الفصل الاول) يعنې دجامو په جوړولو او ددنيا په زيب زينت کښې غلو ديو مسلمان کار نه دے چه هر وخت دښځو پشان ډول سنګار کوي، که چا ته الله تعالىٰ دښو جامو اغوستلو طاقت ورکړے وي نو په هغه کښې هم سادګي اختيارول، په داسے طريقے سره نه جوړول چه يو امتيازي شان پيداشي او خبره عُجب او شهرت ته ورسي، ځکه حديث کښې راځي "مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِيْ الدُّنْيا اَلْبَسَهُ اللهُ ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ" (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه) چه په دنيا کښې څوک دشهرت جامے واغوندي الله به ورته دقيامت په ورځ دذلت جامے واغوندي او بيا دفُساقو، فُجارو مشابهت دګناه سبب هم دے، نبي کريمؐ فرمائي "مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ" (ابوداؤد) چه څوک دکوم قوم مشابهت اختياروي هغه به دهغوی نه شماروي، صاحب مظاهر حقؒ فرمائي: دمشابهت مفهوم د عموميت حامل دے که مشابهت خو اخلاق و اطوار کښې وي، يا افعال و کردار کښې وي او خو لباس، طرز رهائش کښې وي او يا په خوراک څکاک، ناسته پاسته، او سيدلو راوسيدلو، خبرو اترو کښې وي، دتولو

داحکم دے، دغه شان په سراو گیره کمنځولو کښې هم ډیره غُلونده پکار چه هروقت شیشے ته نیغ ولاړوی اوقسماقسم کریمونه او دوائیانے دمخ دپاره استعمالوی اوهروقت بس دمیک اپ اهتمام وی،نوداهم طالب علم دمقصدنه روستوپاتی کوی،په حدیث کښې دروزانه سراوکیرے کمنځولونه منع راغلے ده "نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم عَنِ التَّرَجُّلِ اِلاَّ غِبًّا" حضوردسراوکیرے کمنځولونه منع فرمائیلے ده مگر کله ناکله،حاصل داچه دبدن اوجامودصفا ساتلوسره سره سادګی اختیارول دایمان علامت دے اوکه څوک دعمده لباس طاقت لری نواستعمال کښې څه حرج نشته مگرچه سادګی سره جوړشوے وی چه غُلوشان اوامتیازپیدانشی۔

حضرت امام ابوحنیفهؒ خپلوشاګردانوته نصیحت فرمائیلے وو چه "خپلے پګړئ غټے کړئ اولستونړی پلن کړئ"دائے په دے وجه فرمائیلی ووچه (داجامه په هغه زمانه کښې دُوچتوخلقووه چه ددے دخلاف په صورت کښې)څوک علم اوعالمانوته په سپک نظرسره اُونه ګوری(تعلیم المتعلم ۱۳)

## طالب علم لره سادګی پکارده

څماپه خیال کښې چه څومره غوروکړے شی په مونږه کښې دسادګئ پته هم نه لګی، نهایت افسوس ددے خبرے دے چه په دوخت په اکثراهل علموکښې دبنځوپشان زینت راغلے دے،صاحبو!دازمونږه

دپاره ددین په اعتبارسره هم اوپه دنیاکښې هم سخت(قسم عیب)نقص دے ،ددینه په ځائے دعزت ذلت زیاتیږی،زمونږه دپاره کمال داد ے چه نه په لباس کښې څه شان وشوکت وی،نه په نورسامان کښې ،مگر داوخت داحالت دے چه اکثرطالب علمان اوگورے نودانه معلومیږی چه داطالب علم دے یادیونواب خوی اودادیندار دے یا دنیادار،اول خوډ سرے په یو جماعت کښې نه داخلیږی چه داخل شی نوبیاتوله وضع قطع هم هغه شان پکارده،دادعلم زینت دے چه د اهل علم په وضع سرے وی،زه وائم که ددے خبرے خیال نه وی نوکم ازکم ددے خیال خوضرورو کړئ چه ته دچا د وارث کیدومُدعی ئے اودهغه مورث څه حالت وو،والله زمونږه دحالت نه صفامعلومیږی چه اوسه پورے په مونږه باندے ددین کامل اثرنه دے شوے،دین زمونږه په قلب کښې پوره ځائے ندے کړے(دعوات عبدیت ۲۱/ ۳،تحفة العلماء ۱/۱۷۷)

## دتصنّع ، تکلُّف نه احتراز

بعض اهل علم خپل ځان ښه په ډول سنگارسره ساتی چه دشان علم نه خلاف ده اودضروری خدمات علم نه دبے فکرئ علامت دے ،ځکه ددے فکرسره لباس اوطعام وغیره تکلفاتوطرفته التفات نوی، دغه شان په مجلس کښې صدریاممتازځائے باندے دناستے شوق ، په مزل کښې دتقدم فکر،په مجمع کښې دامام کیدوخیال داتولے دریا

او کبر شعبے دی تواضع، بے تکلفی اوسادگی کښې د علم دین شان دے۔ (حقوق العلم ص۹۶، تجدید تعلیم ۱۱۶، تحفة العلماء ۲۷۹)۔

حضورؐ په لباس، خوراک، څکاک، ناسته پاسته، خبرواترو او نورو اخلاقو او افعالو کښې په ترک تکلفات باندے قائم او عامل ووچه د اهل عربو عادت وو ځکه خو حضورؐ فرمائی "اَنَا وَاَتْقِيَاءُ اُمَّتِیْ بُرَاءُ مِنَ التَّكَلُّفِ" زه او زما دامت متقی خلق د تکلف نه بیزاره دی (حاشیه مشکوٰة، باب القیام، الفصل الثانی نه بعد اولنے حدیث)۔

قطع نظر دینه چه دا دسادگئ نه خلاف ده یو لوئ مضرت دا هم دے چه کله بروقت دا شغل وی نو بقاعده "اَلنَّفْسُ لَاتَتَوَجَّهُ اِلٰى شَيْئَيْنِ فِیْ اٰنٍ وَّاحِدٍ" ضروری ده چه علم طرفته به ئے توجه نه وی او علم نه به کونک پاتی شی لکه مشاهده ده چه کوم خلق هر وقت په ډول سنګار کښې لګیاوی نه په هغوی کښې استعدادوی نه مناسبت او دا یقینی ده چه کوم کس امور عظام (اهم کارونو) کښې مشغول وی د هغه نظر امور صغار (معمولی کارونو) باندے نه وی (تحفة العلماء ۲۷۹)

۔ لَاتَعْجَبَنَّ الْجُهُوْلَ حُلَّتَهٗ : فَذَاکَ مَيْتٌ وَّثَوْبُهٗ كَفَنٌ

## علم په ښائسته جامُونه دے

ابومسلم بن فهدؒ ته محمدبن حسن زبیدیؒ دا اشعار اوئیل

۔ اَبَامُسْلِمٍ اَنَّ الْفَتٰى بِجَنَانِهٖ : وَمَقُوْلِهٖ لَا بِالْمَرَاكِبِ وَاللُّبْسِ

وَلَيْسَ ثِيَابُ الْمَرْءِ تَغْنِیْ قُلَامَةً : اِذَا كَانَ مَقْصُوْرًا عَلٰى قَصْرِ النَّفْسِ

وَلَيْسَ يُفِيْدُ الْعِلْمَ وَالْحِلْمَ وَالتُّقٰى : اَبَامُسْلِمٍ طُوْلُ الْقُعُوْدِ عَلَى الْكُرْسِيِّ

ابو مسلم! سړے په زړه اوږيے سره ذے، نه چه په ښائسته جامو او سوارلو سره، قيمتي جامے انسان ته څه فائده ورکولے نه شي، کله چه هغه دني الطبع وي او اے ابو مسلم! په کرسئ باندے ډيرے ناستے سره علم، عقل او تقوىٰ نشي حاصليدے (جامع بيان العلم ۷)

په ظاهر لباس غلط دسړي مه شه

مينځ يے گوره له چغزي اوله متاكه

د طالب علم عزت او شرافت په دے کښې دے چه په خپل مقصد کښې بُخت وي او په دے کښې کمال حاصل کړي لکه عليؓ فرمائي: ع

"وَقِيْمَةُ الْمَرْءِ مَاقَدْ كَانَ يُحْسِنُهُ" "د انسان قدر کمال په دے کښې دے چه کوم کار کښې لگياوي هغه په ښائسته طريقے سره او کړي او کمال پکښې حاصل کړي، په ښائسته جامو کښې عزت نشته. شيخ سعديؒ ډيرښه فرمائي:

بني آدم از علم يابد کمال: نه از حشمت وجاه ومال ومنال

لَيْسَ الْجَمَالُ بِاَثْوَابٍ تُزَيِّنُهَا: اِنَّ الْجَمَالَ جَمَالُ الْعِلْمِ وَالْاَدَبِ (قاله عليؓ) د زينت ورکونکو جامو جمال هيڅ نه دے، په حقيقت کښې جمال او ښائست د علم او ادب جمال او ښائست دے.

يَاخَادِمَ الْجِسْمِ كَمْ تَسْعٰى لِخِدْمَتِهٖ: وَتَطْلُبُ الرِّبْحَ مِمَّافِيْهِ خُسْرَانُ

عَلَيْكَ بِالنَّفْسِ فَاسْتَكْمِلْ فَضَائِلَهَا: فَاَنْتَ بِالنَّفْسِ لَابِالْجِسْمِ اِنْسَانُ

اے د جسم خدمتگاره! څو پورے به د جسم خدمت او د تاوان په شي

کښې کتـه لـتوے ته دنفس فضائل پوراکړه ځکه ته په جسم سره نه بلکه دنفس په صحیح کیدوانسان یې

داهـل عـلـم اوعـوامو په نظرکښې هم هغه عالم اوطالب علم قدردان وی چه څه کمـال لـری اګرچـه دجامو،حسب نسب په اعتبارسره هرڅنګه وی۔

۔يَشِيْنُ الفَتىٰ فِيْ النَّاسِ قِلَّةُ عَقْلِهٖ :وَاِنْ كَرُمَتْ اَعْرَاقُهٗ وَمَنَاسِبُهٗ

دعـقـل اوعـلـم کـوتاهی دځوان دپاره په خلقو کښې باعث عیب وی، اګرچه دده حسب نسب اومرتبې معززوی۔

۔ کوئی خوبی ہوتو دشمن بھی کرے گا اعتراف: صرف کرو فر سے مل سکتا نہیں اونچا مقام
آب شیرین کوزۂ گل میں بھی شیریں ہی رہے: آب حنظل جام جم میں بھی کرے گا تلخ کام

## د سپینوجامو اغوستلو فضیلت

وَعَنْ سَمرة ان النبی ﷺ قال اِلْبَسُو الثِّيَابَ الْبِيْضَ فَاِنَّهَا اَطْهَرُ وَاَطْيَبُ وَ كَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ(رواه احمدوالترمذی والنسائی وابن ماجة)

دحضرت سمرهؓ نه روایت دے چه نبی کریمؐ اوفرمائیل سپینے جامے اغـونـدئ ځـکـه سپیـنـے جامے ډیرے پاکے اوپاکیزه وی دغه رنګ خپلو مړو ته دسپینو جامو کفن ورکوئ۔

طـالب علم چونکه هروقت په جمات،مدرسه اودعلماؤپه محفلونو کښې وی نودے ځائنو کښې سپینه جامه اغوستل افضل دی۔

## د پړکونه پینځې خکته کول حرام دي

دابوهریرةؓ نه روایت دے چه رسول اللهﷺ اوفرمائیل "لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِلٰى مَنْ جَرَّ اِزَارَهٗ بَطَرًا" (متفق علیه) دقیامت په ورځ به الله تعالیٰ هغه سړی ته درحمت په نظرسره نه ګوری چه غروراوتکبرپه وجه خپل لنګ (پرتوګ وغیره) لاندے دپړکونه ساتی۔

دایومذموم عمل دے اود دوزخیانو کاردے نورهم سخت وعیدونه دباره کښې منقول دی، یوځل نبی کریمﷺ په داسے حالت کښې یوسړے ولیدونوهغه ته ئے دیبااودس اومونځ کولو حکم ورکړو۔په یوروایت کښې راځی چه په پنځلسم شعبان دټولو مسلمانانو مغفرت کیږی علاوه دوالدینونافرمان، همیشه شراب څکونکے اودپړکونه پینځې خکته کونکے ته۔دبخاری په روایت کښې راځی چه یوسړے په داسے حالت کښې روان وونو "خُسِفَ بِهٖ" هغه زمکے راخکواودقیامت دورځے پورے به پکښې روان وی، په هغه زمانه کښې عام رواج دلنګ وو ورنه دے حکم کښې قمیص، دعمامے شمله، پرتوګ اولوپټه هم شامله ده چه هغه اسراف ته ورسی اودمسنون حدنه واوړی، دتکبرپه وجه داعمل حرام دے اوکه درواج په طوروی نومکروه۔

نوطالب علم لره ددینه احتراز پکاردے چه ددے سره دعلم نورختمیږی اوداعمل ورسره ډیربدهم ښکاری۔

## دښځو د پاره د نرئ جامو اغوستلو ممانعت

د حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه یو ځل اسماء بنت ابی بکرؓ د حضورؐ په خدمت کښې په داسے حالت کښې راغله چه په بدن ئے نرئ جامے وے نو حضورؐ ترینه مخ واړه وو او بیائے او فرمائیل چه اسماء! ښځه چه کله ایام حیض یعنی بلوغ ته ورسی نو هرګز جائز نه دی چه د هغے د جسم یو حصه اولیدلے شی۔

د عائشےؓ خواته یو ځل خپله وریره حفصه بنت عبدالرحمٰنؓ راغله "وَعَلَيْهَا خِمَارٌ رَقِيْقٌ" او د هغے لوپټه نرئ وه نو هغه ترینه عائشهؓ د ادب ورکولو د پاره وشلوله "وَكَسَتْهَا خِمَارًا كَثِيْفًا" او پیړه لوپټه ئے ورکړه (رواه مالکؒ، مشکوٰة کتاب اللباس) د عامو زنانو د پاره عموماً او مدرسے ته راتلونکو زنانو د پاره خصوصاً د نرئ جامو، لوپټو، فیشنی، جامو، لوپټو، برقعو نه په تګ راتګ او مدرسه کښې د ځان ساتل پکار دی، چه دے سره د دوی ذات مجروح کیږی او بیا د فراغت په وخت دیو کلاس بناتو لره یو قسم جامے، لوپټے، چپلے اغوستل په راتلونکو زنانو باندے به اثر نه اچوی، داسے نور قسم کچه ډولونو نه ځان ساتل، چه مدرسے ته راځی نو به "سرۀ سپین" او دغه شان هر قسمه فیشنی جامے، برقعے راوړل د مختلفو اغراضو د پاره به اثر نه اچوی۔

## بد نظری یو خوفناک مرض

د عبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ

فرمائیلی دی چه الله تعالیٰ ارشاد فرمائی "اَلنَّظْرُ سَهْمٌ مَسْمُوْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيْسَ مَنْ تَرَكَهَا مِنْ مَخَافَتِيْ اَبْدَلْتُهُ إِيْمَاناً يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِيْ قَلْبِهِ" (رواه الطبرانی) نظر دابلیس دغشونه زهریلا غشے دے چاچه زما دویرے نه نظر وارووو د دے عمل به په داسے ایمان سره بدله ورکړم چه د دے حلاوت او مزه به په خپل زړه کښ محسوسوی۔

دحضرت ابوامامہؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل "لَتَغُضُّنَّ اَبْصَارَكُمْ وَلَتَحْفَظُنَّ فُرُوْجَكُمْ اَوْ لَيَكْسِفَنَّ اللّٰهُ وُجُوْهَكُمْ" (رواه الطبرانی) چه خامخا تاسو خپل نظرونه خکته کړئ او ضرور تاسو دخپلو عورتونو حفاظت اوکړئ او یا به خامخا الله تعالیٰ ستاسو مخونه اپُوته کړی (الترغیب والترهیب، کتاب النکاح، باب الترغیب فی غض البصر ۲۳/۳) دغیر محارمونه په حفاظتِ نظر سره دبے شماره انعاماتو ترغیب او په بد نظرئ باندے دسخت وعیدونو ویره ورکړے شوے ده۔

## دبدنظرئ روحانی او جسمانی ډیر نقصانات دی

☆بدنظری کونکے دالله تعالیٰ نافرمان دے ځکه صریحی حکم دے، الله تعالیٰ شانه فرمائی چه اے نبی! ایمان والو ته ووایه چه خپل نظرونه خکته سائ او نور خو مره بے شماره نصوص دی ☆داسترکے د الله تعالیٰ امانت دے د دے بے ځائے استعمالول خیانت دے، الله تعالیٰ فرمائی "يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْاَعْيُنِ" الله تعالیٰ دسترګو په خیانت

خبر دارد ے ☆ دالله تعالیٰ دلعنت مستحق شی، حدیث کښ راغلی د الله
تعالیٰ لعنت دے په کتونکی او دیته خپل ځان پیش کونکی
باندے ☆ بدنظرئ کښ مبتلا انسان نهایت احمق او بے عقل وی چه
په مُفتُو کښ خپل زړه په غم باندے اخته کړی او څه پرے هسے هم
نه مِلاویږی ☆ او په دے سره زړه کمزورے کیږی چه هروقت زړه په
یو غم کښ پروت وی ☆ دبدنظرئ دوجے نه مثانه کمزورے کیږی چه
بیا بیاد متیازو دڅاڅکو راتلو شکایت وی ☆ او دے سره انسان دسرعت
انزال مریض جوړیږی، اگر چه ددے مرضونو دپاره نور اسباب هم شته
دے په دِوجه بدگمانی په چانده پکار ☆ داد الله تعالیٰ دنعمت ناشکری
ده ☆ دسترگو نظر کمزورے کوی ☆ شرمگاه محفوظ نه وی بدنظری
په وجه آخر په گناه کښ مبتلا شی یا دمشت زنئ مریض جوړ شی چه په
لاس سره ماده منویه اوباسی او دا هم "نَاکِحُ الْیَدِ مَلْعُوْنٌ" په بنا باندے
موجبِ لعنت کاردے۔ (بدنظری کے چودہ نقصانات، عارف باللہ شاہ حکیم اختر صاحب، بتغیر)
☆ شیخ زکریاؒ فرمائی دبدنظری په وجه په جامو کښ یو خاص قسم
بدبو پیدا کیږی او څوک چه ددینه ځان ساتی او د درود شریف ورد
کوی هغه ددینه محفوظ وی ☆ ددے سره حافظه کمزورے
کیږی ☆ علم هیریږی ابو عبدالله بن الجلاء وائی چه ما یو ځل
یو نصرانی هلک ته وکتل نو عبدالله بلخیؒ زه ولیدم ماته ئے اوئیل چه
ددے نتیجه به تاته معلومه شی نو څلویښت کاله بعد ځمانه قرآن
هیر شو، ابوالادیان وائی چه زه دخپل اُستاذ ابوبکر دقاق سره اوم

نومايو خانسته هلک ته او کتل نو اُستاذ راته اونيل چه د دے په نتيجه به پوهه شے نوشل کاله بعد څما نه قرآن هيرشو (تلبيس ابليس ۴۰۲/اردو) د اسلافو وينا ده "اَلْعَيْنُ عَيْنُ الْمَعَاصِيْ" بدنظرى د ګناهونو چينه ده۔ "اَلنَّظْرُ اَسَاسُ الذُّنُوْبِ" بدنظرى د ګناهونو بنياد ايخودل دى۔

په دے وجه د زنانو او امردانو د فتنے نه ډير احتياط کول پکار دى ځکه د دے ګناه سره به علم څه خوندا و کړى او څه به حاصل کړى بلکه ياد شوے علم به هم هير کړى۔

## د بدنظرئ علاج

په حديث کښ د دے علاج بنودلے دے "اِصْرِفْ بَصَرَکَ" فوراً خپل نظر واړوه، او د دے سره نور احتياطى تدابير اختيارول مثلاً په لاره نظر بقدر ضرورت لګول، د جهنم تصور، د مور، پلار، او اُستاذ تصور، داسے سزا په ځان باندے مقررول چه په نفس باندے ګرانه وى مثلاً نفلونه وغيره په تنهائى کښ ځانله په چوکه سزا ورکول که واده والا وى نو په خپله بى بى باندے د زيوراتو، جامو په اعتبار سره خرچه کول او هغه د ځان د پاره مزين کول، د هغے د صحت او تندرستى خيال ساتل او د بدنظرئ په وجه چه کوم شهوت راتيزشى هغه د خپلے ښځے سره په مِلاو يد ختمول، فتدبر۔

## د لايَعْنِيْ خبرو نه اِحتراز

الله تعالىٰ د مؤمنانو يو صفت دا بيان کړے دے "وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ

اللّغو مُعْرِضُوْن" (المؤمنون ٣) چه دادبے کار لایعنی خبرونه اعراض
کوی او الله تعالیٰ فرمائی "وَاِذَا سَمِعُوْا اللّغوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ" (القصص ۵۵) او کله
چه دوی څه بے هوده خبره واوری نو ددینه مخ اړوی۔

لایعنی خبره دیته وائی چه نه ئے دنیاوی فائده وی او نه اخروی، نن
طلباء خپل قیمتی لمحات څومره په آسانئ سره په فضول
مجلسونو کښې ضائع کوی ،دفضول خبرو او کارونو نه په منع کیدو
باندے اسلام څومره زور ورکړے دے۔

دابوهریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی "مِنْ
حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَالَايَعْنِيْهِ" (رواه الترمذی) دسړی داسلام خوبی
اوکمال دادے چه فضول کارونه او خبرے پریږدی۔ دانس بن مالکؓ
نه روایت دے چه یو صحابیؓ وفات شو نو یو سړی اووئیل "اَبْشِرْ
بِالْجَنَّةِ" تاته دے دجنت زیرے وی نو رسول الله ﷺ
اوفرمائیل داخبره ته څنګه کوے چه حقیقت حال تاته معلوم نه
دے کیدے شی ده بے فائدے خبره کړی وی یائے داسے شی کښې
بخل کړے وی چه ورکولو سره کمیږی نه، دحدیث مطلب دادے چه
دچا دجنتی کیدو حکم لګولو جرأت ندے پکار بلکه داعمال صالحه ؤ
په وجه اُمیدساتل۔

حسان بن سنانؒ دیوے نوے جوړے شوے کمرے خواته تیریدلو
وے وئیل "مَتٰى بُنِيَتْ هٰذِهٖ؟ داکله جوړه شوے ده نو بیا ځان ته وائی

اے نفسه! ته دداسے شی تپوس کوے چه تاته څه فائده نه در کوی "لاعَاقِبَنَّکَ بِصَوْمِ سَنَةٍ" زه به تاله دیو کال دروژے نیولو سزا درکړم او بیائے داروژے ونیولے (ذم الهوىٰ لابن الجوزیؒ ۵۴)

په دے باره کښ فرمودات ډیر زیات دی او دعاقل دپاره داکافی دی لهذا خپل ځان دهر قسم لایعنی کارونو، خبرونه بچ کول، دژبے حفاظت د دروغونه، غیبت نه، چغلئ نه، لعنت نه، فضول سوالاتو نه، د دروغو دقسم نه، دفضول شعروشاعرئ نه، د کنځلو نه او دابه هغه طالب علم ته نصیب کیږی چه دهغه سره دوقت اهمیت وی او دا ارشادات خپل مشعلِ راه جوړ کړی۔

## دخبرے په وخت دپنځه څیزونو لحاظ!

۔ اُصِیْکَ فِیْ نَظْمِ الْکَلَامِ بِخَمْسَةٍ: اِنْ کُنْتَ لِلْمُوْصِیْ الشَّفِیْقِ مُطِیْعًا

لاتَغْفَلَنْ سَبَبَ الْکَلَامِ وَوَقْتِهٖ: وَالْکَیْفِ وَالْکَمِّ وَالْمَکَانِ جَمِیْعًا

زه تاته په شعرکښ دپنځو څیزونو وصیت کوم، که چرے ته د مُشفق وصیت کونکی تابعدار یے [۱] دخبرے کولو وجه [۲] وخت [۳] دخبرے مقدار [۴] طرز [۵] او کوم ځائے خبره او کړے شی او کوم ځائے اونکړے شی ددے تولو نه غافل نشے۔ (تعلیم المتعلم ۴۳)

## دفرائضو، سنتو او مستحبا تو اهتمام

ارشادربانی دے "لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ" (الاحزاب ۲۱)

یقیناستاسو دپاره دحضورؐ په ذات کښ ښه نمونه ده، درابیداریدلو نه

واخلـه تـرد اُوده کیدوپورے په هرشعبه دژوند کښې د حضورؐ سیرت زمـونـږه راهـنـمـائی کوی او دهغه ژوندزمونږه مسلمانانو دپاره یولوئ نعـمـت دے. لهـذاپـه هـرلحظه کښې اولمحه کښې د حضورؐداتباع سـوچ اوفـکـراوددے مـطـابـق خپل عملی ژوند جوړول، څه چه په کتـابـونـو کښې وایو نو هغه فوراًپه خپله عملی ژوندکښې راولو، نوبیابه مـوپه علم اوعمل دواړو کښې کمال حاصل شي ورنه صرف په علم کښې کمال حاصلول مطلوب نه دے بلکه داد عالِم خلاف حجة او وبـال دے، دطـلـب عـلـم دور داخذ، استفادے اودحصول وقبول په اعتبار سره نهایت قیمتی دوراووخت وی لهذاپه دے کښې دخواب غفلت نه بیداریدل پکار دی اوخپل ځان په تقویٰ، اتباع شریعت، اتباع سـنـت سره اماده کول اودے جزبه پیداکول انتهائی سعادت دنیاوی او اخروی دے.

لهـذا دفرائضو اهتمام په جمعے سره، دفرائضو نه مخکښې اوروستو چه څومره سنن، مستحبات اونوافل دی حتی الوسع دهغے اهتمام اوخپل مـعـمـول کښې راوستـل ددینـه عـلاوه تحیة المسجد، تحیة الوضو، داشراق، څابنت آوابینو اهتمام وی.

الـغـرض حتی الوسع دتولو سننو، مستحباتواوآدابو لحاظ وساتلے شي، نـوپـه دے سـره به الله تعالیٰ دفرائضو داهتمام توفیق ورکوی. مروی دی چه څـوک دآدابـو اهـتـمـام نه کوی نو دسنتو نه محروم کیږی او چه دسـنتـو اهتـمـام نـه کـوی نو دفرائضو نه محرومه کیږی او چه څوک

دفرائضونه محرومه شی نو دآخرت دلوئ کتے نه محرومه شو۔
نو طالبانِ علم دپاره په هرحال کښې دمانځه پابندي پکارده، اکثر طلبه چه دأستاذانو دطرفه تنبیه وی نو مونځ کوی ورنه دومره اهتمام نه کوی او بیا خاص کردجُمعے په شپه چه داهل مدرسے دطرفه نګرانی نوی نو بیا خو ډیر غفلت وی۔

## دِاهتمام سنت برکت

دوه طالب علمو دتحصیل علم دپاره سفراو کړوچه دواړه هم سبق وو څو کاله پس چه کورته واپس راغلل نویو فقیه کامل او بل دعلم او کمال نه خالی وو، دښار فقهاؤ علماؤ دے باره کښې غوراو کړو چه داڅه وجه کیدے شی اودِسلسله کښې ئے د دواړو حالات اوپوښتل نومعلومه شوه چه کوم فقیه کامل دے هغه به دسنتو ډیراهتمام کولو یعنی تکرار وغیره دوران کښې به ئے قبلے ته نه شاکوله او دابل ملګرے داسے نه وو(تعلیم المتعلم)

## صلوةُ التهجد

الله تعالیٰ دخپلو نیکانو بندگانو یو صفت دابیان کړے دے "یَبِیْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِیَامًا" (الفرقان ۶۴) چه دخپل رب مخے ته په سجده کښې او په ولاړه شپه تیروی او په یو مقام کښې الله تعالیٰ جل شانه فرمائی "کَانُوْا قَلِیْلًا مِّنَ الَّیْلِ مَا یَهْجَعُوْنَ ۰ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ یَسْتَغْفِرُوْنَ" (الذریت ۱۵،۱۸) وودوی چه دشپے به ډیرکم اوده کیدل، (یعنی دشپے په اکثره حصه

کښې به په عبادت کښې مشغول وو)او دشپې په آخرې حصه کښې به ئې استغفار کولو)۔

ابو اُمامه باهلي د رسول الله ﷺ نه روايت کوي "عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِيْنَ قَبْلَكُمْ وَهُوَ قُرْبَةٌ لَكُمْ إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَمُكَفِّرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْإِثْمِ" (رواه الحاکم) تهجد ضرور کوئ داستاسو نه دمخکښې نيکانو عادت وو دے سره به ستاسو دالله تعالیٰ سره قرب حاصل شي، گناهونه به مومعاف کيږي او د گناهونو نه به بچ کيږئ، دمسلم روايت دے "وَأَفْضَلُ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ صَلٰوةُ اللَّيْلِ" (رواه مسلم باب فضل صوم المحرم) دفرض مونځونو نه روستو افضل مونځ دشپې مونځ دے۔

لهذا د تهجد واهتمام او عادت جوړول پکار دي ځکه چه ددے فوائد او خصوصيات دقرآن او حديث نه درنړاو رځے پرنګ ښکاره دي ددے اهتمام انسان دولايت درجے ته رسوي، دعالم او طالب دپاره ډير ښائست دے او دے سره په علم کښې الله تعالیٰ ترقي ورکوي، چه يو ځل عادت جوړشي نو بيا ډيرا سان وي په سفراو حضر کښې الله تعالیٰ توفيق ورکوي خبره صرف دهمت ده ۔

ضعف همت ہے، ورنہ اے ناداں! : ابن ادم سے کیا نہیں ہوتا

او بغير دڅه عذرنه ددے پريخوستل بنه نه دي، عبدالله بن عمرو بن العاص فرمائي چه ماته رسول الله ﷺ او فرمائيل عبدالله! د فلاني پشان مه کيږه چه هغه به دشپے تهجد کول او بيائے پريخودل، دحضرت امام احمد بن حنبل يو طالب علم ميلمه شونو دشپے ئے دهغه خواته

دُاُوبولُوته کیخوده، سحرچه راغلو نو لوته هغه شان ډکه وه نو وے فرمائیل چه ما خوستاخواته لوته ددے دپاره ایخے وه چه دتهجدو وخت کښ تاته داودس دپاره داُوبو تکلیف نه وی خو لوته هغه شان پرته ده معلومیږی چه ته د تهجدو پابندنه یے۔

حضرت تهانویؒ فرمائی چه ډیرافسوس خبره ده طالب علمولره ددے ډیرخیال ساتل پکاردی که علماء اوطلباء دتهجدوپابندنه وی نو نوربه څوک وی(العلم والعلماء)۔وئیلی کیږی چه علماء اوطلبه تهجدنه کوی نو عوامو کښ به دفرض مانځه سستی راځی۔ داوخت دمطالعه یاڅه یادولو دپاره هم بهترین وخت وی نو توله شپه په خوب تیرول دخسارے خبره ده۔

۔ اَلَیْسَ مِنَ الْخُسْرَانِ اَنَّ لَیَالِیا: تَمُرُّ بِلَانَفْعٍ وَتُحْسَبُ مِنْ عُمْرِیْ

آیا دا خساره نه ده چه شپے راباندے بے فائدے تیریږی، حالانکه داځما په عمرکښ حسابیږی یو بل شاعروائی:۔

۔ قُمِ اللَّیْلَ یَاهٰذَا الْعَلَّکَ تُرْشَدُ: اِلٰی کَمْ تَنَامُ اللَّیْلَ وَالْعُمْرُ یَنْفَدُ

اے طالبه! دشپے ویخ اُوسه شاید چه هدایت بیاموے، ترڅوبه دشپے اُوده یے حالانکه عُمردرنه ختمیږی۔

۔ سُرُوْرُ النَّاسِ فِیْ لُبْسِ اللِّبَاسِ: وَجَمْعُ الْعِلْمِ فِیْ تَرْکِ النُّعَاسِ

دخلقو خوشحالی په ښوجامواغوستلو کښ ده او دعلم حاصلیدل په خوب پریخودلو کښ دی۔

# اِصلاحی تعلق

دطالبئ دورنهایت نازک دوروی چه دهرطرف نه دعلم نه دمحرومئ هـواګـانـے چلیږی اوبل طرفته دطالب علم ذهن دکم عمرئ په وجه کچه هـم وی چه دمخالف سمت هواګانو سره دکګیدو ویره هروقت موجـودوی نوپه دے وجه دیوشیخ کامل سره اصلاحی تعلق قائمول پکار دی چه پـه هـرکـارکښ دهـغه سره مشوره وی اوخپل ظاهری اوباطنی اصلاح په ښه طریقے سره اوکړی اوخپل ځان د رذائل نه پاک کړی او پـه محـاسنو سره ئے ښائسته کړی ددے مقصدد پاره به دالله تعالیٰ والو پیزارسیده کول ضروری وی۔ مولانا رومی فرمائی:

؎ گر تو سنگ خارہ ومرمر بوی: چوں بصاحب دل رسی گوہر شوی

کـه تـه دکـټے پشان بے حس یے لیکن دیو اللہ والا سره چه کله کینے نوملغلره به شے۔

داصـلاحی تعلق رواج اوس لګ کم شوورنه زمونږه داکابرینو دور کښ بـه طـلبـاء دفـراغت سره صاحب نسبت هم وو،په دے وجه مولانا زکـریاؒ فـرمـائی چه طالب علم که دطالب علمئ په دورکښ صاحب نسبت نشـونـوهیـڅ هـم نشـوچـه دے تعلق قائمولو سره به عملی زندګی جوړیږی ځکه محض علم مطلوب نه دے بلکه علم مع العمل ځـکه خوبه نبی کریمؐ دادعا کوله "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ عِلْمٍ لَایَنْفَعُ" یـاالله! زه دداسے علم نه پناه غواړم چه ماته فائده رانکړی، که عملی

ژوندته توجه ورنکړے شی نو قرآن او حدیث باربارو ئیلو سره فائده نشته بلکه اُلټه به حجت جوړیږی، لکه غیرمسلم مستشرقینو په قرآن او حدیث کښې کمال حاصل کړے وی مگر دهغوی دا محنت صرف د دنیاوی اغراضو دپاره وی آخرت ئے مطلوب نه وی نو دهغوی داعمل هباءً منثورو کرځی۔ یو ځل شیخ ابوالبرکات او ئیل چه ابوعلی سینا اخلاق ندارد، بوعلی سیناله غیرت راغلو په اخلاقو باندے ئے یو لوئ کتاب ولیکو او دهغه په خدمت کښې پیش کړو نو شیخ ابوالبرکات او ئیل چه ما کله و ئیلی چه اخلاق نداند ما خو و ئیلی وو چه اخلاق ندارد۔

په آدم کښې دحیوان خویونه هم شته
بیا هاله یے آدم بوله چه آدم شی

په قرآن کریم کښې هم الله تعالیٰ تزکیه په تعلیم باندے مخکښې کړے ده "وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ" باید چه طالب علم خپل اصلاحی تعلق دیو شیخ کامل سره قائم کړی او دا سلسله ترمرگه پورے جاری اُوساتی نو الله تعالیٰ به ئے په درس تدریس په هر دینی خدمت کښې اخلاص، قیادت او سیادت ورنصیب کړی۔ زمونږه مخے ته دمشرانو تاریخ پروت دے چه هغوی ددے روحانی تعلق په وجه کوم حدته ورسیدل، ډاکټر عبدالحی پشان هستیانے چه باقاعده عالمان نه وو لیکن لوئ لوئ اکابرین به ددوی په خدمت کښې حاضریدل او خپل اصلاحی تعلق به یے قائم ساتلو، نو الله تعالیٰ ورله دخلقو په

زړونو بادشاهت ورنصيب کړو او دهغوی فيض تولے دنياته خورشو،
داخبره رشتيا ده وائی چه سړے اول دالله تعالیٰ والو غلام جوړيږی او بيا
د دنيا امام جوړيږی۔
امام غزالیؒ اخر کوم څيز مجبوره کړو چه درس وتدريس تصنيف
وتاليف، وعظ وتقرير محبوب مشغله کښې لګيا او مرجع خلائق
کيدلو باوجود ولے دهغه په طبيعت کښې يو قسم بے اطميناني،
بيقراری او بے چينی پيدا شوله، راځئ! په خپله د امام غزالیؒ نه واورو!
زما د ټولو نه افضل او محبوب مشغله تدريس او تعليم وو ليکن پس
دلته ون نه معلومه شوه چه زما ټوله توجُه په هغه علومو باندے ده
چه نه خو اهم دی او نه د آخرت په سلسله کښې فائده ورکونکی دی
ما د خپل تدريس نيت ته وکتل نو هغه هم خالص لوجه الله نه وو بلکه
ددغه باعث ومُحرک هم طلب جاه او حصول شهرت وو، نو هله ماته
يقين اوشو چه زه د هلاکت دغاړه په غاړه ولاړيم که ما د اصلاح حال
کوشش اونکړو نو زما دپاره سخته خطره ده (تاريخ دعوت وعزيمت)۔
تقريباً يو ولس کاله د نفس د تزکيه اخلاق نفس د درستګی، تهذيب
او خپل زړه د ذکر الله دپاره مصفیٰ کولو کښې مشغول شو، په دے موده
کښې چه څه ده ته حاصل شو دهغه متعلق پخپله فرمائی چه په دے
څانله والی کښې چه ماته کوم انکشافات اوشول او چه څه حاصل
شول ددے تفسير او استقصاء خو ممکنه نه ده ليکن د ناظرينو د نفعے
دپاره به دومره ضرور اوائم چه ماته يقينی طور باندے معلومه شوه چه

صوفياء كرام بس د الله تعالىٰ د لارے سالک دي او ددوی سيرت
بهترين سيرت دے ددوی طريق د تولو نه زيات مستقيم او ددوی
اخلاق د تولو نه زيات تربيت يافته او صحيح دي که دعقلاؤ عقل
د حکماؤ حکمت او دشريعت د رمزشناسو علم هم مِلاؤشي نو ددوی
پشان سيرت واخلاق راوړل ممکن نه دي ددوی تول ظاهری وباطنی
سکنات وحرکات د مشکوة نبوت نه ماخوذ دي او د نورنبوت نه زيات
په مخ دزمکے بل نُورنشته چه دهغے نه رنړا حاصله کړے شي۔
(تاريخ دعوت وعزيمت)
په خلوت کښ ددے نُور حاصلولو نه بعد يے بيا د مدرسه نظاميه
مسند درس سنبال کړو او بيائے دتدريس او افادے کارشروع کړو
ليکن په اولني او روستني حالت کښ چه کوم فرق وو دهغے باره کښ
پخپله فرمائي: چه زما داولني اوروستني حالت کښ دزمکے او آسمان
فرق دے، ما به اولاً دهغه علم اشاعت کولو چه دحصول جاه ذريعه ده
او مادخپل قول وعمل نه هم ددے دعوت ورکولو او دا زما مقصود
او نيت وو ليکن زه اوس دهغه علم دعوت ورکوم چه هغے کښ دجاه
نه دست بردار کيدل دي او دخپل ځان او دنورو اصلاح غواړم۔
اصلاحي تعلق که چاته نصيب شي نو خوش قسمتي ده ورنه ددے
نعم البدل جماعت التبليغ دے چه دطالب علمئ دورنه دے سره
نسبت پيداشي، نو الله تعالیٰ ترينه ديني خدمت ډيرپه احسن طريقے
سره اخلي اګرچه په هرحال کښ ددے جماعت سره تعلق نهايت

ضروري دے، د روحاني ترقي سره الله تعالىٰ علمي ترقي هم ورکوي علم پکښې ژوندے کيږي، عالم سره دخپل علم قدرو قيمت احساس پيدا کيږي او عالم خوذي استعدادوي نو دهغه دمحنت ميدان توله دنيا او کرځي او الله تعالىٰ ترينه ډيرکارواخلي په خپل گردپيش باندے نظر انصاف اچولو سره داخبره درنړا ورځے پشان ښکاره ده۔

حضرت مولانا قاري محمدطيبؒ فرمائي چه نن مونږه په کوم دورکښې يونو په دے کښې دمسلمانانو دپاره دوه پناه ګانے دي يو ديني مدرسے اوبل داتبليغي کار (خطبات حکيم الاسلام ۴/ ۴۹۴) او فرمائي داصلاح نفس څلوراجزاء اوطريقے دي او په تبليغ کښې په حُسن اتفاق سره داڅلور طريقے جمع شوي دي، صحبت صالح پکښې هم دے، ذکروفکر پکښې هم دے، مواخاة في الله پکښې هم دے (ددشمن نه عبرت وموعظت هم) اومحاسبه نفس پکښې هم ده اوددے څلورونوم تبليغي جماعت دے دعام خلقو داصلاح نفس دپاره ددينه بهتره طريقه نشته۔

(خطبات حکيم الاسلام ۴/ ۵۱۳)

## تعليم، تبليغ اوتدريس د قرآن په نظر کښې

دعلم فضيلت واضحه دے نوچه کوم شے افضل وي نو دهغے حاصلول اوبل ته رسول به هم افضل اوبهتروي۔ دمُعلِّمْ ډيره لوئ مقام اومرتبه ده چه الله تعالىٰ داچاخوش قسمت ته نصيب کړي ځکه مُعلِّمْ اوّل پخپله ربُّ العلمين دے، په قرآن کريم کښې دعلم اودتعليم نسبت الله تعالىٰ ته شوے دے، لکه "الرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ"

(سورة رحمن ۱) او د الله تعالیٰ اولنی شاګردان انبیاء علیهم السلام دی او بیا دوی امت ته تعلیم ورکړونو په دوی بنیاددوی هم مُعلِمیْن او ګرځیدل، نبی کریم ﷺ فرمائی "بُعِثتُ مُعَلِّمًا" (مشکوة) او دنبی کریم ﷺ نه دا علوم صحابه کرامؓ په خپلو سینو کښ محفوظ کړل او راروان امت ته یې رهنما اصول اُوبنودل او پریخوستل نو دوی هم مُعلِمیْن او ګرځیدل او ددینه بعددامت مُعلِمیْن علماء کرام دی۔ دمُعلِمُ الخیر دپاره دکائنات هرڅیز ترډ پورے چه دسمندر مهیان او په هوا کښ الوتونکی مارغان دعائے خیر کوی۔ الله جلّ جلالُهُ فرمائی:

"وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ" (التوبه ۱۲۲) او چه ویروی قوم خپل کله چه واپس شی دوی ته دپاره ددے چه دوی ځان بچ کړی دګناهونو نه، په دے ایت کښ دعالم او دقوم ذمه داری بیان کړے ده۔

"وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ" (العمران ۱۸۷) او کله چه واخستله الله تعالیٰ مضبوط لوظ دهغه کسانو نه چه ورکړے شوے وو کتاب چه خامخا یقینا واضحه به ئے بیانوئ خلقوته او نه به پټوئ تاسو هغه۔

حسن بصریؒ او قتادهؒ فرمائی چه دا ایت عام دے دهر عالم دپاره (فتح القدیر ۱/۴۶۸) او مدارک په ص ۱/۱۹۹ کښ لیکی چه دا دلیل دے په دبانده چه واجب دی په علماؤ باندے چه بیان کړی حق لره

دغرض فاسده نه چه خلقوته اونه پټوی ددغه نه څه شی لره دوجے دغرض فاسده نه چه آسانی راوستل په ظالمانو دی او دهغوی زړونه خوشحالول دی یادفع دضرر دهغوی ده اویابخل په علم باندے دے۔

"وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَآ اِلَی اللّٰہِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَّقَالَ اِنَّنِیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ" (حم السجده ۳۳) اوڅوک دے ډیر ښائسته په دنیاکښې دهغه چانه چه بلنه کوی الله تعالیٰ ته اوعمل کوی نیک اووائی یقینازه دډلے دمسلمانانونه یم۔

## تعلیم، تبلیغ اوتدریس د احادیثوپه رنړاکښې

"عَنْ اَبِیْ هُرَیرة قال قال رسُولُ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم اِذامَاتَ ابْنُ اٰدَمَ اِنْقَطَعَ عَمَلُهُ اِلاَّ مِنْ ثَلاثٍ: صَدَقَةٍ جَارِیَةٍ اَوْعِلْمٍ یُنْتَفَعُ بِهِ اَوْوَلَدٍ صَالِحٍ یَدْعُوْلَهُ" (رواه مسلم) رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی چه کله ابن ادم وفات شی نوعمل یے منقطع شی مګر درے قسمه اعمالوثواب ورته برابررسیږی صدقه جاریه، یاعلم چه نفع حاصله کړے شی په دے سره، یانیک ولدچه روستو ورته دعاکوی۔

"عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صلی اللہ علیہ وسلم یَقُولُ: نَظَّرَ اللّٰہُ اِمْرَءً سَمِعَ مِنَّا شَیْئاً فَبَلَّغَهُ کَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ اَوْعیٰ مِنْ سَامِعٍ" (رواه ابوداود، والترمذی، وابن حبان فی صحیحه) رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم فرمائی هغه سړے دِ الله تعالیٰ تروتازه لری چه زمونږه څه خبره واوری اوبیائے هغه شان ورسوی ډیرهغه چه خبره ورته ورسی ښه یادونکے وی داوریدونکی نه۔

"وَعَنْ اَبِیْ هریرة انّ رسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قال: مَثَلُ الَّذِیْ یَتَعَلَّمُ الْعِلْمَ ثُمَّ لَایُحَدِّثُ بِهٖ کَمَثَلِ الَّذِیْ یَکْنِزُ الْکَنْزَ ثُمَّ لَایُنْفِقُ مِنْهُ" (رواه الطبرانی فی الاوسط) رسول الله ﷺ فرمائی چه څوک علم حاصل کړی او بیائے خلقوته نه بیانوی دهغه کس پشان دے چه خزانه راجمع کړی او بیائے نه خرچ کوی۔

دبیهقی په یو حدیث کښ دالله تعالیٰ او درسول ﷺ نه بعد د ټولو نه زیات سخاوت کونکے یے هغه عالم ته وئیلے دے چه علم دین شائع کوی په کومه طریقه سره چه وی خواه تدریس سره وی یا وعظ وتلقین سره او یا تصنیف وتالیف سره۔ عبدالرحمن بابا فرمائی:

خزانه په سخاوت سره زیاتیږی : دکوهی اُوبه چه او کاږی بسیارشی۔

"مَا اَفَادَ الْمُسْلِمُ اَخَاهُ فَائِدَةً اَفْضَلَ مِنْ حَدِیْثٍ حَسَنٍ بَلَغَهُ فَبَلَّغَهُ" (ابن عبدالبر، ابونعیم) مسلمان خپل وروړته ددے بهترین خبرے نه بله فائده نشی رسولے چه دیته رسیدلی وی او هغه ئے ده ته ورسوی۔

## تعلیم، تبلیغ اوتدریس دصحابهؓ، تابعینوؒ داقوالو په رنړا کښ

مشهوره مقوله ده چه "علم یو ونه ده او درس ددے اُوبه دی۔ سفیان ثوریؒ به وئیل زمانه په علم کښ ددینه زیات افضل څه عبادت نشته چه دعلم اشاعت وکړے شی۔ ابن قاسمؒ فرمائی درس نه روستو مونږه د امام مالکؒ نه رخصت اخستلو نو فرمائیل ئے دالله تعالیٰ نه ویریږئ او دا علم خورکړئ خلقوته ئے اوښائے او دهیچا نه ئے هم مه

پټوي۔ دحضرت انسؓ ارشاددے ماته معلومه شوے ده چه دقیامت په ورځ به دعلماؤنه داشاعتِ علم په باره کښې داسے تپوس کیږي څنګه چه دانبیاؤ نه دتبلیغ رسالت په باره کښې کیږي۔ فضیل بن عیاضؒ به وئیل دعلم اولنۍ پاتکے خاموشي ده، بیاتوجه سره اوریدل، بیاحفظ بیاعمل اوبیاددے اشاعت دے۔ عبدالله بن مبارکؒ به وئیل علم دنیت نه شروع کیږي بیابتوجه سماعت دے بیافهم دے بیاحفظ دے بیاعمل دے اوبیادعلم ترویج دے (جامع بیان العلم وفضله لابن عبدالبرؒ ۹۲،۹۲، اردو) اصمعیؒ ته اُوئیلے شوتاته علم څنګه یاددے حالانکه ستاملګروهیرکړو؟نووے فرمائیل:ماتدریس اوکړواوهغوی تدریس پریخودو (حوالابالا ۱/ ۱۳۳)

ذَاكِرِ النَّاسَ بِالْعُلُوْمِ لِتُحْيَا: لَاتَكُنْ مِنْ اُوْلِی النُّهٰی بِبَعِيْدٍ

اِنْ كَتَمْتَ الْعُلُوْمَ اُنْسِيْتَ حَتّٰی: لَاتُرٰی غَيْرَ جَاهِلٍ وَّبَلِيْدٍ

ثُمَّ اُلْجِمْتَ فِی الْقِيَامَةِ نَاراً: وَتَلَهَّبْتَ فِی الْعَذَابِ الشَّدِيْدِ

خلقوسره په علم کښې مذاکره کوه چه علم دِباقي اُوسي اود عقلمندو خلقونه لرے مه اُوسه، که چرے علم دِپټ کړونو درنه به هیرشي، تر دے پورے چه دجاهل اوغبي نه علاوه به څوک باقي پاتے نشي، بیابه په قیامت کښې ستاپه خُله کښې دأوروا کي واچولے شي اوپه سخت عذاب کښې به اُوسوزولے شے۔

"وَقَالَ اَبُوْنَصْرٍ اَلْعِلْمُ مَيِّتٌ وَحَيٰوتُهُ الطَّلَبُ فَاِذَا حَيَّ فَهُوَضَعِيْفٌ وَقُوَّتُهُ الدَّرْسُ فَاِذَاقَوِيَ فَهُوَمُحْتَجِبٌ وَكَشْفُهُ الْمُنَاظَرَةُ مَعَ الْمُوَافِقِ وَالْمُخَالِفِ

فَاِذَااِنْكَشَفَ فَهُوَعَقِيْمٌ وَنِتَاجُهُ الْعَمَلُ وَهُوَالْمَقْصُوْدُالْاَصْلِيُّ مِنْهُ (فتاوى النوازل فقيه ابوالليث سمرقندى ۳۸۱، اخر الكتاب) علم پشان د مږې دے، دد ے ژوند طلب كول دى كله چه ژوندے شى نو ضعيف وى قوت ئے درس دے او كله چه قوى شى نو پرده كښې وى او ښكاره كيدل ئے د موافق او مخالف سره مناظره كول دى او كله چه ښكاره شى نو شنډ دے او ددے زياتيدل عمل دے او هم دا مقصود اصلى د علم دے۔

## دسلف واكابرو د تدريس طَرز وطريقه

حضرت تهانوىؒ فرمائى: چه كله ما په كانپور كښې تدريس كولو او طالب علم به په كتاب شبهات كول او زما سره به لانداُوت نو ما به ورته صفا اوئيل چه زه ناقِل يم او ناقِل هم دا سے چه د كتاب د تصحيح ذمه دارنه يم۔ دارانه اُوائے چه په كتاب كښې څه دى ددے مطلب هغه نه دے كوم چه ما بيان كړو، طالبانو به اُوئيل چه كتاب كښې څه دى هغه خو تابيان كړه نو ما به اُوئيل چه بس مخكښې ځئ، ماد كتاب د حل كولو اهتمام كړے دے بس كتاب حل شو، وس په كتاب كښې غلطى، د مصنف لغزش ممكن دے، نه زه ددے ذمه دارنه تاسو، سوچ اوكړئ! سبق ولے خرابوئ (فريدالمجيد ۳۶) ما د تدريس طريقه دا مقرر كړے چه نفس كتاب حل كوم، زوائدِ كله نه دى بيان كړى او حل هم په دے طرز چه سخت مقامات هم كله طالب علمو ته مشكل نه دى معلوم شوى۔ زما داول نه دا قاعده وه چه طالب علم نه به م مقدمات

اُوپوښتل بس هغه مقام به په خپله حل شو، خلق په ځائے ددے چه په دے طرزخوشحاله شي ښه يے نه ګڼرو- زما دا هم معمول ووچه په کومه خبره به م شرح صدرنه ووفوراًبه م اُوئيل چه دلته زه پوهه نشوم تاسوهم غوراو کړئ اوزه به هم غوراو کړم- (اُستاذ اور شاگرد کے حقوق ۸۳/۸۴)

## داِنشاءِ عربی / اردو اهميت اوطريقه

ديوروايت مفهوم دے چه فارسئ ژبه کښې خبرے کول مکروه دی چه عربئ باندے قدرت وی اودبيهقي روايت دے " وَتَعَلَّمُوْا الْعَرَبِيَّةَ مَاتُعْرِبُوْن بِهٖ كِتَابَ اللهِ ثُمَّ اِنْتَهُوْا" دومره قدرے عربيت ايزده کړئ چه کتاب الله پرے ولولئ بيامنع شئ (مصنف ابن ابی شيبه، باب ماجاء فی اعراب القرآن ج۱۰، ۴۵۷)- ابن تيميه فرمائی: چه عربئ ژبه ددين يوه حصه ده اوددے يادول په هرمسلمان باندے فرض دی- داهل جنت اودقرآن دپاره الله تعالیٰ عربی ژبه منتخب کړے ده، ددين ډير داسے احکامات دی چه په هغو کښې دعربی ژبے دخل اوضرورت دے لکه مونځ اوداسے نورشعائر، دعربئ ژبے سره ممارست لرنکوته ښکاره ده چه دنوروژبوپه نسبت په دے کښې الله تعالیٰ ډيروسعت اوفصاحت ايخے دے، نوعربئ ژبے باندے عبورحاصلول ضروری دی اودا هله کيږی چه طالب علم دابتدانه ددے اهتمام شروع کړی ځکه په دے وخت کښې هرقسم غلطی کولوسره طالب علم بدنه ښکاری ليکن کله چه فارغه شي اوبيادعربئ وئيلوموقع راشي نوپه هغه وخت کښې

غلطي بنه نه محسوسيږي، اگرچه دعلم په حصول کښې هیڅ قسم
حیأ په یو وخت کښې هم نده پکار! لیکن بیا هم قابل افسوس خبره
وي چه دیوے ژبے سره دانسان لس دولس کاله تعلق پاتی شي او بیا هم
په هغه کښې اظهار مافي الضمیر نشي کولے، دعدم توجُه په وجه نن
یو عالم لس منته په عربۍ ژبه کښې بیان نشي کولے او ددینه ځان په
ړده کوي ولے؟ چه په شروع کښې محنت نه دے شوے، دطالب علم
ذهن چه عالمي وي هغه به ضرور په عربۍ ژبه کښې محنت
کوي، دپاکستان نه چه څومره جماعتونه باهر ممالکوته ځي په هغه
کښې عالم ضروري وي او هغه ته بیا دعربو سره دهمکلام کیدلو،
هغوي ته دترجمه کولو او په مراکزو کښې عربوته دبیان کولو موقع راځي
نو څه نه څه محنت چه شوے وي نو بیا هیڅ قسم تکلیف نه وي۔
ددے دپاره ضروري ده چه نحو او صرف کښې به اجرأ وشي دِ سلسله
کښې چه کوم کتابونه داخل نصاب دي مثلاً "الطریقة العصریة، معلم
الانشاء، عربي کا معلم" وغیره کښې به محنت او دمصنف دطرز
مطابق اُوئیلی شي، زیات نه زیات دعربي کتابونو مطالعه کول، کوم
ماهانه جرائد چه عربۍ ژبه کښې دمدارسونه شائع کیږي هغه کښې یوه
دځان دمطالعے دپاره جاري کول، دمطالعه په وخت دمضمون نګار
دمضمون په سیاق وسباق، تعبیراتو او اسلوب و اندازبانده به غور
کول، منضامینو کښې چه کوم ادبي جملے، اشعار یا جدید الفاظ راشي
هغه یادول او بیا په عربي تکلم کښې وئیل، ددے سره یو کتاب، رساله

چه اردو یا پښتو کښې وی عربئ ته ترجمه کول اوبیا هغه وقتاً فوقتاً یو ماهر اُستاذ ته ښکاره کول او یا په یو موضوع باندے په عربئ کښې لیک کوی او بیا هغه اُستاذ ته ښائی، ددے دپاره دِ دالقاموس الجدید نه استفاده او کړے شی، دخپل کلاس دملګرو سره په عربئ ژبه کښې خبرے کول دتولونه اهمه خبره ده، دے سره تلفظ صحیح کیږی د عربی وئیلو ویره ختمیږی، ژبه ورسره آزادیږی او دالفاظو ذخیره ورځ په ورځ زیاتیږی۔

نن صبا دور کښې اُردو هم ډیره ضروری ده ځکه دعلم ډیره حصه په اُردو ژبه کښې ده، داکابرینو ښکلی تصانیف، دعربی کتابونو شروحات وغیره او داسے نور اهم علمی کارونه په اُردو کښې شوی دی، دے له هم په دغه مذکوره طریقے سره محنت او کړے شی، دتلفظ صحیح کولو، دالفاظ ذخیره کولو دپاره یو اُردو کتاب دیو ماهر نه شروع کړے شی چه دائے وائی او هغه یے اوری، داهل لسانو په تکلّم باندے غور کول چه کوم الفاظ څنګه اداکوی او کوم الفاظ مونث او یا مذکر استعمالیږی، دغه شان اهتمام داُردو او عربئ دواړو دپاره دمطالعے په وخت کښې پکار دے۔

## د دینی مدارسو فُضَلاؤ یو څو ذِمه داریئے

یو طالب علم چه کله دخپل عمر په اهم ترین حصه کښې خپله طویل تعلیمی دورانیه ختمه کړی او دژوند په یو نوی او نسبتاً اجنبی منزل

کښې قدم کیږدي، نو دده په زړه او دماغو باندې دمستقبل خدشات تاویږي راتاویږي او دده دمستقبل سرک ددې دماضي ډېو لونه او ځې او دطلب علم دهر مسافر ماضي او تیر ژوند، عمل او کردار دمقصد په لاره کښې دجلوجهد په حوالې سره مختلف وي، څوک په خپله تیره شوې تعلیمي دورانیه باندې نظرا چوي نو ددې ضمیر او زړه مطمئن وي چه ددې لارې ټولې تقاضې که نوي اکثرو تقاضو پوراکولو سره ئې دا دورانیه مکمل کړې ده، په دې باندې دده زړه دشکر دجزباتو نه پرُ مامورشي لیکن دچا دپاره یادِ ماضي عذاب وي چه هغه دخپلې تیرې شوې تعلیمي زندګۍ په کهړکو کښې سر دننه کړي نو هغه ته دسختې تیارې نه سوا هیڅ په نظر نه راځي هغه دګلونو ددې عهدزرین جائزه اخلي نو ددې په لمن کښې نه علم ومعرفت ګُلان وي او نه ددې په عمل کښې حسین کردار او دنیکۍ خوشبووي لیکن دماضي دمختلف پس منظر لرنکو ددواړو قسمو دراه علم دمسافرو چه مستقبل کښې کومې ذمه دارئ دي هغه بهرحال یو شان دي، دا کابر علماؤ دتجرباتو د هغوی دبیاناتو او تحریرونو په رنړا کښې دهغونه یو څو ذمه دارینو طرفته په دې مختصر مضمون کښې څه اشارات کولې شي۔

دیني تعلیم نه فارغیدونکې باندې دټولو نه اوله ذمه داري دده دخپل نفس، دخپل عمل او دخپلو اخلاقو داصلاح په اعتبار سره ده، حقیقت دادې چه دیني مدارسو کښې څه ونیلې او یادولې شي بنیادي طور

باندې دهغه مقصد داوى چه د اسلامى تعليماتو سره مُنوّر كيدلو نه بعد پخپله هم په دې عمل پيراوى او نورو ته هم ددې د اختيارولو او په دِ دعمل كولو طرفته ددعوت فريضه سرانجام كړى زمونږه اكابرو رحمهم الله په علومو كښې پوخ والے او په معلوماتو كښې وسعت ضرور پيش نظر ساتلے او دائے مستحسن گڼړلے ليكن دائے اصل مقصد كله هم نه دے جوړ كړے، دهغوى مطمح نظر هميشه داخبره وه چه په علومو كښې دې بقدر ضرورت استعداد پيداوى ليكن د كردار اوچتوالے، داخلاقو صفائى، نيک عمل، اخلاص وللّهيت، اتباع سنت، د الله تعالىٰ رضا او دفكر اخرت صفات په خپل ځان كښې پيدا كولو باندې اصل توجه ضرور مركوز كيدل پكاردى چه داددې تعليم اصل مقصد دے، داصفات په خپل ځان كښې پيدا كولو او مستحكم كولو دپاره څه مختلف ذرائع اختيارولے شى، داذرائع جمع كولے هم شى او دخپل طبعيت او دزندگئ دمصروفيت په اعتبار سره ددينه صرف يو هم اختيارولے شى، اونن په دې پُرفتن دور كښې ددينى تعليم نه فارغيدونكى هر فاضل لره ددينه يوه ذريعه ضرور اختيارول پكاردى، هغه ذرائع دادى[1] ديو الله والا سره وابسطه كيدل او خپل اصلاحى تعلق قائمول، ددې تفصيلات او ددې آداب وشرائط حضرت تهانوىؒ پخپله رساله ''قصد السبيل'' كښې ليكلى دى داذريعه اختيارونكے دې ضرور هغه رساله مطالعه كړى[2] ديو تبليغى او اصلاحى جماعت سره وابستگى، په دې وخت كښې تبليغى

جماعت بس يو داسے جماعت دے چه ددے ديني آثارپه توله دنيا
کښې په نظرراځي ددے سره په وابستگۍ کښې هم داشرط دے چه د
جماعت داصولو او ضوابطو پابندي اوکړے شي، داصول او
ضوابطو اوددے دطريقه کار دپابندۍ نه بغيرددے دبرکاتونه فيضيابي
مشکله ده البته داخبره يادساتل پکاردي چه ديو شخصيت يا جماعت
سره دتعلق باوجود که دهغه تفردات يادجمهورامت نه ځانله يوه رائے
وي هغه هرگز قبلول نه دي پکاربلکه دهغے اصلاح ديو عالم دين
دمنصبي ذمه دارينو نه ده۔[۳] ددينې او اصلاحي کتابونو په پابندۍ
سره مطالعه! دادريمه او داولو دووپه مقابله کښې نسبتاً دکمے درجے
ذريعه ده ليکن داکابرو دتجربے نه ثابته ده چه ددينې او اصلاحي
کتابونو په پابندۍ سره مطالعه دمتذکره بالاصفاتو سره په متصف
کيدلو کښې مُمِدا ومُعاون ده، په دے سلسله کښې دحضرت حکيم
الامت تهانويؒ ملفوظات ومواعظ ددوی "تربيت السالک"
دحضرت مدنيؒ "اصلاحي مکتوبات" دشيخ الحديث مولانا زکرياؒ "آپ
بيتي" دمولاناعلي ميان "تاريخ دعوت وعزيمت" دامام غزاليؒ "احياء
علوم الدين" دعلامه ابن قيمؒ "زادالمعاد" وغيره کتابونو نمونه
اخستلے شي۔
تعليمي او علمي نقطه نظر سره ددرس نظامي کتابونه صرف د
استعداد يوه کنجي فراهم کوي چه ددے په ذريعه سره دعلم بند ے
دروازے کولاؤ کړے شي، لهذا دفراغت نه بعدداصل مطالعه

کولو او په معلوماتو کښې دوسعت پیداکولو مرحله راځي په دے وجه
دمطالعه په سلسله کښې ددرس نظامي په څو ګڼو باندے دقناعت
کولو په ځائے ددینه چه څه استعداد چا څومره حاصل کړے دے
ددے په ذریعه داسلامي کتب خانے دوسیع ذخیرے نه داستفادے
کولو دپاره مخکښې کیدل پکاردي۔
دیني مدارسونه فارغیدونکي فضلاء عموماً درس وتدریس، خطابت
وامامت اوتصنیف وتالیف یااسلامي صحافت سره وابسطه کیږي په
دے کښې دخطابت اوامامت سره دوابسطه کیدونکوتعدادنسبتاً زیات
وي، یوامام اوخطیب ته دخپلے محلے په سطح ددین دکارکولودیره
ښه موقع مِلاویږي هغه که په اخلاص اومحنت سره کاراوکړي نوداهل
محله په ژوندکښې ددین یوانقلاب راوستلے شي په دِوجه که هغه په
هفته کښې یوورځ درس قرآن، یوورځ درسِ حدیث اویوورځ
دفقهي رسائلودرس مقررکړي نوددینه چه یو طرفته په اهل محله کښې
ددین بنیادي اوضروري تعلیم عام شي نوبل طرفته به ددے استعداد
زیات اوچت شي۔
دیني تعلیم حاصلولو په دوران کښې عموماً عصري علوموطرفته
دتوجوموقع نه مِلاویږي یاکم مِلاویږي دفراغت نه بعددخپل
وسائلو اودحالات مطابق عصري علوموطرفته هم څه التفات پکار
دے، مثلاً انګریزي ژبه، جدیدعربي اسلوب اواصطلاحات، دملکي ژبے
مرَوجه اسلوب، صحافت، جدیدمعاشیات اودعصرحاضرپیداکرده

نوی فقهی مباحثو نه دیر نوی نو بقدر ضرورت دیو عالم دین دپاره واقفیت بهر حال ضروری دے۔

دتعلیم او کده نیته تیرولو نه بعد دیو طالب علم سره دخپل مادر علمی دده دأستاذانو او دردیوارسره یو خاص محبت او أنس پیدا شی چه کله هغه دفراغت په چوکاټ قدم کدی، دمادر علمی نه دجدائی او درفقائے همسفرنه دبیلتون وخت راشی نو یقینا دده په جزباتو کښې لوی ماتوالے موندلے شی او بزبان حال وائی

؎ چمن سے جاتے ہیں یہ سوچ کر کہ پھر نکہت

گزر بھی ہوگا سوئے آشیاں نہیں معلوم

لیکن دوقت دتیریدلو سره سره دجزباتو ددے ماتیدو صرف حسین او ښائسته یادپاتی شی او روُ روُ دایادهم محو او متاوشی، په دے وجه دخپلے مادر علمی او اُستاذانو سره چه چرته هم یوئ په څه نه څه طریقے سره تعلق ضرور قائمول پکاردی۔

داځو خبرے دزره دغم سره لیکلے شوی دی الله تعالیٰ دے او کړی چه دلوستونکو دپاره فائده مندے شی (دینی مدارس، ابن الحسن عباسی)

☆☆☆☆☆☆
☆☆☆☆
☆☆☆

دا دخورو وروملغرو هارد الله تعالىٰ زمونږه دپاره سبب دهدايت
ورهنمائي اوسبب دعلمي ارتقاء اوګرځوي-آمين

صاف دِلانولره لږ نصيحت بس دے
دګوهرو پيوستون په نرۍ تارشي

اَللّٰهُمَّ عَلِّمْنَا بِمَا يَنْفَعُنَا وَانْفَعْنَا بِمَا عَلَّمْتَنَا

☆

فرغت من تسويدهذا الكتاب وتبيضه وطباعته بالكمبيوتر ٢١ رمضان ١٤٣١ هـ
الموافق ١ ستمبر ٢٠١٠ء يوم الاربعاء
ابوحمّاد عبدالسبحان ظهيرابن الحاج عبدالصمد سلمه الصمد
خادم الدرس والافتاء فی جامعة تعليم القرآن توحيدآبادترخوباجوړايجنسی باکستان

☆

نظرثانی ٢٦رمضان ١٤٣٥هـ بمطابق ٢٧جولائی ٢٠١٤ء ونظرثالث ١٢ذی القعده ١٤٣٩هـ بمطابق ٣١ جولائی ٢٠١٨ء برائے طبع دوم-

## تمت بالخير





0333-9173398
0300-9187770